# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی
عمومي پلټونکی

اپریل ۳۰
۲۰۱۰






د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی راپور

**د سرپاڼې انځورونه (د بره چپ نه ښي لور ته):**

**یو افغان** خپله سودا په کندهار کې د خرڅلاو لپاره برابروي. (انځور د کوري سمیتهـ، د "افغانستان ته باید ولې پاملرنه وکړو" د ناټو په مرسته د انځورونو د مقابلې برخه)

**تر ۶۰۰ زیاتو مېرمنو** د ۲۰۰۹ د مارچ په ۸مه د مېرمنو د نړیوالې ورځې په لمانځنه کې ګډون وکړ، چې د فراه د والي لخوا د ولایت په مقام کې جوړه شوې وه. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک انځور، تراسي ډیمارکو)

**د افغانستان د ملي پوځي اکاډمۍ فارغین** د ۲۰۱۰ د ټولګي لپاره خوښي ښیي. د ملي اردو لخوا ۲۱۲ نویو بریدمنانو د افغانستان د ولسمشر حامد کرزي څخه د فراغت شهادتنامې ترلاسه کړې. دا اکادمي په ویسټ پواینټ کې د متحده ایالاتو د اکادمۍ په موډول جوړه شوې ده. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک انځور، سارا براون)

**افغان کروندګر** په خپلو پټیو کې د پسرلي د نویو کرل شویو بوټو د غټېدو لپاره ځای جوړوي. سږکال ژمي کې د وچکالۍ د ډار له امله افغانانو په دې پسرلي کې نورمال ته نږدې تولیداتو ته هرکلی وواېه. (د برتانیې د دفاع د وزارت انځور، تورن پاول سمیت)

# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

اپریل ۳۰
2010

## د ملي د فاع د صلاحیت ورکولو قانون (پي. ایل. ۱۸۱- ۱۱۰)
## د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار) بنسټ کیښود.

د سیګار د نظارت مشن، لکه چې د قانون په جوړولو کې تعریف شوی، په خپلواک او مقصدي ډول لاره برابرول دي لپاره

- د هغو پلټنو او معاینو ترسره کول او نظارت چې د هغو پروګرامونو او عملیاتو سره تړلي وي چې د پیسو بودیجې ورته د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس ورکړل شوې وي.
- په هغو تګلارو کې مشرتابه او انسجام، او سپارښتنې پرې، چې د پروګرامونو او عملیاتو په اداره کې اقتصاد، استعداد، او اغېزمنتیا ته د ودې ورکولو لپاره جوړې شوې وي؛ او په داسې پروګرامونو او عملیاتو کې د ضیاع، دوکې او ناسم استعمال مخنیوی وکړي او معلوم يې کړي.
- د داسې پروګرامونو او عملیاتو د ادارې سره تړلیو ستونځو او بې کفایتیو په اړه او د پرمختګ او اصلاحي اقدام د ضرورت لپاره د بهرنیو چارو د سکرتر او د دفاع د سکرتر د بشپړ او تازه معلوماتو ځخه د خبر ساتلو ذریعې.

د افغانستان په بیا رغونه کې هر هغه ستر قرارداد، مبلغ، تړون، او یا د بودیجې هر هغه میکانزم شامل دی چې د متحده ایالاتو د حکومت د کوم داسې ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوی وي چې د هغو پیسو په استعمال کې ګډون لري چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس کې ورکړل شوې وي؛ د افغانستان سیاسي یا ټولنیزې ادارې تاسیس او یا یې بیا رغوي؛ او د افغانستان خلکو ته تولیدات یا خدمتونه برابروي.

سرچینه: پی. ایل. ۱۱۰ -۱۸۱، "د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو قانون،" ۱\۲۸\۲۰۰۸.

# د افغانستان اسلامي جمهوریت



د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

اپریل ۳۰، ۲۰۱۰

زه خوښ یم چې په افغانستان کې د بیا رغونې د هڅې په اړه کانګرس ته د سیګار اوم درې میاشتنی راپور وړاندې کوم. دا راپور د هغو مهمو پرمختیاو لنډیز وړاندې کوي چې د افغانستان بیا رغونه اغېزمنوي، د متحده ایالاتو په بودیجو د روانو پروګرامونو یو تازه حال وړاندې کوي، او د هغې درې میاشتنۍ لپاره د سیګار د فعالیتونو تفصیل ورکوي چې د ۲۰۱۰ د مارچ په ۳۱مه پای ته رسېدلې.

په دې درې میاشتنۍ کې درې مهمې پرمختیاوې چې د راتلونکي کال د بیا رغونې د پروګرام څېره به جوړه کړي:

- ولسمشر اوباما د داسې بودیجو غوښتنې وړاندې کړې چې ټول شاوخوا ۲۰ میلیارده ډالر جوړوي تر څو په افغانستان کې د متحده ایالاتو د لا تېزو هڅو لپاره بودیجې برابر کړي. دا به پر هغو نږدې ۵۱.۵ میلیارده ډالرو ۳۸% زیاتوالی وي چې کانګرس د افغانستان د بیا رغونې لپاره له ۲۰۰۲ راهیسې اختصاص کړې دي.
- د بهرنیو چارو وزارت خپله نوې ستراتیژي خپره کړه چې د افغان ادارو ظرفیت به لوړوي، د لوړ اغېز اقتصادي مرسته به رسوي، روزګارونه به زیاتوي، د کوکنارو کر به کموي، او یاغیان به د جګړو د سیمو څخه وباسي. د دې ستراتیژۍ یو مهم قدم په سمدستي توګه په ټول افغانستان کې د ملکي ماهرانو او مشاورانو شمېر درې برابره کول دي.
- متحده ایالاتو او نورو نړیوالو مرستندویانو اساساً په دې موافقه وکړه چې د افغانستان د عامه ادارو په لاس کې نورې مالي سرچینې ورکړي تر څو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په دې وتوانوي چې د خپلې دفاع او بیا رغونې لپاره لا زیات مسوولیت پر غاړه واخلي. د دې ملاتړ اتکاء د افغانستان پر دولت ده چې خپل د عامه مالي سمبالښت سیستمونه قوي کړي، د خپلې بودیجې عملي کول بهتر کړي، او اداري فساد کم کړي.

د متحده ایالاتو د هغې نوې ملکي-نظامي ستراتیژۍ چې اوس د تطبیق په حال کې ده د بریالیتوب اتکاء د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د زیاتولو په چټکتیا ده څو متحده ایالات په جولای ۲۰۱۱ کې د خپلو سرتېرو ویستل پیل کړای شي. تر دې نېټې د بیا رغونې لپاره د اختصاص شویو ټولو ډالرو نیمه برخه د ANSF په جوړولو کې تللې دي، او نږدې درې برخې د نوې غوښتل شوې بودیجې — ۱٤.۲ میلیارده ډالر — به د افغانستان ملي اردو او افغان ملي پولیسو د روزلو، تجهیزولو او سرپرستۍ کولو لپاره ځي، چې دې سره به ANSF لپاره د متحده ایالاتو د پیسو ټوله مرسته ٤۰ میلیارده ډالرو ته ورسېږي.

د دې راپور ورکولو په موده کې، سیګار څلور د پلټنې راپورونه خپاره کړل، په ګډون د دریو متحده ایالاتو په بودیجو د انفراسټرکچر د پروژو او یوه د فساد-ضد پلټنه. د انفراسټرکچر د پروژو څخه دوه د افغان ملي اردو لپاره مرکزونه دي. دې پلټنو وموندله چې د داسې ودانیو د جوړولو لپاره دا مهال داسې کوم اساسي پلان نشته چې د یو مخ په زیاتېدونکي پوځ د ځای کولو لپاره جوړېږي؛ دوی همداراز د پام وړ ساختماني ستونځې هم معلومې کړې چې د معیار د یقیني کولو د نشتوالي پایله وه.

د سیګار لخوا د افغانستان د قرارداد او پلټنې د دفتر (CAO) په اړه پلټنه پنځمه پلټنه ده چې مونږ یې د فساد پر ضد د خپل روان پروګرام د برخې په توګه خپروو. سیګار د افغان دولت د بېلابېلو ادارو په ملي او ولایتي کچه د کاري وړتیا او د هغوی د دې توانمندۍ ارزونه کوي چې داخلي کنټرولونه تطبیقولی شي، د فساد خطرې کمولی شي، او د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو د بودیجو احتساب بهترولی شي که نه. د افغانستان د عامه مالیاتو د پلټنې لپاره د اساسي مسوولې ادارې په توګه، CAO په ځانګړي ډول د دې لپاره جوړه شوې ده چې په ټول دولت کې فساد معلوم کړي او مخه یې ونیسي. سیګار د CAO د استعدادونو او دې لپاره د نړیوالې مرستې معاینه وکړه؛ مونږ ته معلومه شوه چې CAO د خپلې وظیفې د ترسره کولو لپاره هغه خپلواکي، واک، او بااستعداده عمله نه لري چې دا ورته اړتیا لري.

د سیګار فساد-ضد کار مثبت اغېز لري. په تېره درې میاشتنۍ کې، مونږ د نظارت د عالي دفتر (HOO) یوه پلټنه خپره کړه، چې

دا افغان دولت لپاره د فساد د مخنیوي په لړ کې اساسي اداره ده، او ګڼ شمېر سپارښتني مو وکړي چې دې سره د دې د اغېزمنتیا په بهترولو کې مرسته وکړي. په مارچ کې، ولسمشر کرزي یو فرمان لاسلیک کړ چې زمونږ د سپارښتنو په تسلسل سره یې HOO ته لا زیاته خپلواکي او واک ورکړ.

د سیګار له ۱۲ روانو پلټنو څخه، ٤ د ANSF د جوړولو لپاره د متحده ایالاتو د بودیجو د مشن د اړخونو معاینه کوي. یوه د کاري وړتیا د معیار د درجه بندۍ د سیستم تکاملي ارزونه ده، دا د ارزوني هغه مهمه آله ده چې مېدان ته د لېږل شویو ANSF یونټونو د پرمختیا د نظارت لپاره کارول کېږي. د ANSF د کاري وړتیا په سم ډول د معلومولو توان لرل د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ د بریالي تطبیق لپاره مهم دی. د سیګار دا پلټنه، چې د درجه بندۍ د دې سیستم لومړنی تکاملي جاج دی، به په یو څو اونیو کې خپره شي. برسېره پر دې، د سیګار د قرارداد کولو دوه پلټني اوس رواني دي چې په کندهار او فراه کې د ANSF د مرکزونو د رغوني د کاري وړتیا او نظارت تکاملي جاج اخلي.

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، سیګار د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجې یوه ساینسي کتنه هم پیل کړه. مونږ د دې بودیجې په اړه د مالي کال ۲۰۰۵ راهیسې تر مالي کال ۲۰۰۹ د اختصاصونو او مصرفونو د ډاټا معاینه کوو.

سیګار په تعرضي ډول د هغو جنایي تورونو څېړنه کوي چې د بیا رغوني د بودیجو په اړه دي. د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، سیګار ۱۹ جنایي قضیې پرانستلې او د نورو مرکزي قانون تنفیذوونکیو ادارو سره په شریکه یې ګډې څېړني ترسره کړې چې پایله یې تر ۲ ملیونه ډالرو زیات راستنول شول. سیګار اوس ٤۲ قضیې لري چې تر څېړني لاندې دي. زمونږ څېړونکي له نږدې د نورو ادارو سره کار کوي څو څېرنیزې سرچینې زیاتې نه زیاتې کړای شي.

سیګار لا هم په افغانستان کې د بیا رغوني د هڅو د نظارت چارې پراخوي. برسېره پر هغو پلټنو او څېړنو ترسره کولو چې ضیاع، دوکه او ناسم استعمال معلوموي او مخه یې نیسي، د دې ارزونه کول مهم دي چې ایا د متحده ایالاتو په بودیجو روان د بیا رغوني پروګرامونه د متحده ایالاتو ستراتیژیک اهداف پر مخ وړي که نه. برسېره پر دې، زمونږ مسوولیت مونږ ته د داسې کولو لاربښودنه کوي. د ولسمشر اوباما لخوا د بیا رغوني په بودیجو کې د ستر زیاتوالي غوښتنه او هغه ستراتیژي چې داسې نورې سرچینې دې د افغان ادارو له لارې ورکړل شي به د سیګار د نظارت مسوولیتونه زیات کړي. سیګار د داسې پلټنو او څېړنو ترسره کولو ته ژمن دی چې کانګرس سره د دې خبرې په یقیني کولو کې مرسته وکړي چې د متحده ایالاتو د بیا رغوني هڅه خپل اهداف ترلاسه کوي او دا چې دا بودیجې د ضیاع، دوکې، او ناسم استعمال سره مخ شوې ندي.

په ډېر درناوي



ارنلډ فیلډز

د افغانستان د بیا رغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

2221SOUTH CLARK STREET, SUITE 800 ARLINGTON, VIRGINIA 22202

SPECIAL INSPECTOR GENERAL

AFGHANISTAN RECONSTRUCTION

# د منځپانګې فهرست



## لومړۍ برخه
### د افغانستان عمومي کتنه


٣ د ولسمشر د بیا رغونې لپاره د ٢٠ ملیارده ډالرو غوښتنه
٤ د بهرنیو چارو د وزارت د بیا رغونې لپاره نوې ستراتیژي
٥ د نړیوالې ټولنې د واک لېږدولو ستراتیژي
٥ د بیا رغونې پروګرام
٩ مخ په وړاندې کتل




## دویمه برخه
### د سیګار نظارت


١٣ پلټنې
٢٩ څېړنې
٣٠ د سیګار بودیجه
٣١ د سیګار کارکوونکي




## دریمه برخه
### د بیا رغونې تازه حال


٣٥ عمومي کتنه
٣٩ د بودیجو حالت
٥١ امنیت
٧٣ حکومتداري
٩٥ اقتصادي او ټولنیز پرمختګ
١١٥ د مخدره موادو پرضد مبارزه

# د منځپانګې فهرست



## څلورمه برخه

### د نورو ادارو نظارت

۱۳۳ د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه
۱۳۶ د نظارت روان فعالیتونه
۱۴۸ د نورو ادارو څېړني
۱۴۹ د نورو ادارو معاینې

### ضمیمې او پایلیکونه

۱۵۲ ضمیمه ا: قانوني شرایطو سره د راپور د حوالو کتنه
۱۵۸ ضمیمه ب: د متحده ایالاتو د دولت اختصاص شوي بودیجې
۱۶۰ ضمیمه ت: د سیګار پلټني
۱۶۲ ضمیمه ث: د سیګار څېړنې او د تماس شمېره
۱۶۳ ضمیمه ج: مخففات او لنډیزونه
۱۶۸ پایلیکونه

**مرسته کول**

د غزني د ولايتي بيا رغونې ټيم يو غړی د ګېلان په ولسوالۍ کې د يو طبي مشن پر مهال د يو افغان ماشوم طبي علاج کوي. د دې مشن پر مهال افغان، امريکايي او پولينډي طبي مرسته کوونکيو د شاوخوا ۲۷۰ تنو علاج وکړ. (د متحده اياالاتو د هوايي ځواکونو انځور، سارا ار. ويب)

# 1 د افغانستان عمومي کتنه



"په شریکه مونږ داسې پیاوړې هڅې کولو ته ژمن
یو چې دا خبره یقیني کړي چې افغان دولت په مخ پر
زیاتېدونکې توګه دا توان ولري چې د خپلو ادارو او
سرچینو په جوړولو د خپلو خلکو
اړتیاو ته ځواب ووایي."

- د افغانستان په اړه
د لندن کنفرانس، بیانیه

سرچینه: په افغانستان د لندن کنفرانس، "بیانیه،" ١\٢٨\٢٠١٠.

# د افغانستان عمومي کتنه

کانګرس ته دسیګار دوروستي راپور څخه راوروسته دری داسي نوي پرمختیاوې رامنځته شوي چي راتلونکي کال لپاره د بیا رغوني د پروګرام بڼه جوړوي: د بیا رغوني د بودیجي لپاره د متحده ایالاتو د ولسمشر لخوا د ۲۰ ملیارده ډالرو د اضافي بودیجي غوښتني، د افغانستان د ادارو د ظرفیت د لوړولو لپاره د بهرنیو چارو د وزارت (DoS) نوې ستراتیژي، او د نړیوالي ټولني ژمنتیا چي د افغانستان اسلامي او جمهوري دولت ته د دې د امنیت او پرمختیا د کنټرول انتقال تېز کړي.

## د بیا رغوني لپاره د ولسمشر د ۲۰ ملیارده ډالرو غوښتني

د ۲۰۱۰ د فبروري په ۱ نېټه، د متحده ایالاتو ولسمشر د مالي کال ۲۰۱۱ د بودیجي او د مالي کال ۲۰۱۰ د ضمیمه يي اختصاص لپاره خپلي غوښتني وړاندې کړې. که منظوري شوې، نو دا غوښتني به شاوخوا ۲۰ ملیارده ډالر – نږدې ۴۰% - په نږدې هغو ۵۱.۵ ملیارده ډالرو کې اضافه وي چي کانګرس له ۲۰۰۲ راهیسي د افغانستان د بیا رغوني لپاره اختصاص کړي دي. د اوباما اداره د بودیجي د دې اضافي غوښتنه د دې لپاره کوي چي هغه ملکي-نظامي ستراتیژي تطبیق کړي چي دی د تېرو څو میاشتو پر مهال د دې لپاره جوړه کړې چي د افغان دولت سره د داسي ظرفیت په جوړولو کې مرسته وکړي چي د خپل ځان دفاع او په اغېزمن ډول پرې حکومت وکړي. په تېره دري میاشتنی کې، ولسمشر د دې ستراتیژۍ یوه پراخه خاکه وړاندې کړه، په کومه کې چي شامل وو د افغان امنیتي ځواکونو پراخول، یوه داسي ملکي ستراتیژي جوړول چي د افغان ادارو ظرفیت لوړ کړي، او د نړیوالي ټولني سره په لا زیاته همکارۍ کې کار کول.

د مالي کال ۲۰۱۱ د بودیجي په غوښتنه کې لاندې شامل دي:

- ۱۱.٦ ملیارده ډالر د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجي (ASFF) لپاره چي افغان امنیتي ځواکونه وروزي، مجهز يي کړي، سرپرستي يي وکړي او دایم يي وساتي
- ۱.۳ ملیارده ډالر د قوماندان د بیړني ځواب د بودیجي (CERP) لپاره
- ۳.۳ ملیارده ډالر د اقتصادي ملاتړ د بودیجي (ESF) لپاره، کومه چي د حکومتدارۍ او پرمختیا د ګڼ شمېر پروګرامونو ملاتړ کوي

د مالي کال ۲۰۱۰ په ضمیمه يي غوښتنه کې لاندې شامل دي:

- ۲.٦ ملیارده ډالر د ASFF لپاره
- ۱.٦ ملیارده ډالر د ESF لپاره

د ASFF لپاره غوښتني ټولې ۱٤.۲ ملیارده ډالر جوړوي – چي د بیا رغوني د وړاندیز شوي بودیجي نږدې ۷۰% جوړېږي. د دفاع وزارت (DoD) د وړاندیز شوي بودیجي لپاره په خپل جواز کې ویلي چي ASFF لپاره له اضافي بودیجي پرته به د افغانستان دولت په دې ونه توانیږي چي د ښه مسلح او مخ په زیاتېدو

یاغیتوب مقابله وکړي. د دفاع وزارت له مخې، "افغان دولت تراوسه داسې مناسبې سرچینې، اداري ظرفیت، یا خپلواک مهارت نه لري چې پوځ او پولیس جوړ کړي."[1] د ESF لپاره غوښتنې به نږدې ۵ ملیارده ډالر د دې لپاره ورکړي چې په افغانستان کې د دفاع وزارت لخوا د بیا رغونې نویو پروګرامونو ته بودیجې ورکړي.

## بیا رغونې لپاره د بهرنیو چارو د وزارت نوې ستراتیژي

په دې درې میاشتنی کې، د بهرنیو چارو وزارت "د متحده ایالاتو د مرستې په فعالیتونو کې پراخ بدلون" اعلان کړ تر څو په افغانستان کې اقتصادي پرمختیا، حکومتداري، او د قانون حاکمیت پیاوړی کړي.[2] د افغانستان او پاکستان د سیمییز ثبات په ستراتیژۍ کې شامل دي د متحده ایالاتو ملکي پرسونل ځای پر ځای کول تر څو افغانانو سره په ملګرتیا کې کار وکړي. دا ستراتیژي د افغان دولت له لارې د نیغ په نیغه مرستې د زیاتولو، د متحده ایالاتو د مرستې د پروګرامونو په ټولو اړخونو کې د افغانانو شاملول، په کار لګولو او ترلاسه کولو د افغان کاروبارونو لومړی کول، د سیمییز حکومت ترجیحاتو ته زیاته پاملرنه کول، او د متحده ایالاتو د بیا رغونې د پروګرام احتساب بهترولو غوښتنه کوي. دا ملکي ستراتیژي د دې لپاره جوړه شوې وه چې د نظامي فشار سره یو ځای کړای شي د دې لپاره چې په لنډمهاله توګه افغانستان خوندي کړای شي او د افغانانو سره داسې پیاوړې اړیکې جوړې کړای شي چې د متحده ایالاتو او نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته زیات دوام ومومي.

د متحده ایالاتو ملکي-نظامي ستراتیژي همدا راز نړیوالې ټولنې سره په همکارۍ لا زیات ټاکید کوي. په جنوري کې، متحده ایالاتو او نورو نړیوالو مرستندویانو په لندن کې ولیدل څو د افغانستان د بیا رغونې په هڅه بیا تمرکز وکړي چې د افغان دولت ظرفیت داسې لوړ کړي چې د ځان نه دفاع وکړای شي او خپلو خلکو ته اساسي خدمتونه وړاندې کړي.



**افغان ولسمشر حامد کرزی** د لندن په کنفرانس کې د نړیوالو مشرانو سره وینې چې په افغانستان کې د امنیت، حکومتدارۍ، او پرمختیا ترجیحات بحث کړي. (د بهرنیو چارو وزارت انځور)

## د نړیوالې ټولنې د واک لېږدولو ستراتیژي

د لندن په کنفرانس کې افغان دولت او نړیوالې ټولنې خپل ځانونه د واک لېږدولو د یوې داسې ستراتیژۍ سره ژمن کړل چې افغان دولت په دې وتوانوي چې خپلو ادارو او سرچینو ته په وده ورکولو سره د خپل ځان دفاع وکړي او د خپلو خلکو اړتیاوې پوره کړي. ۷۸ هغو ملتونو او ادارو چې په دې کنفرانس کې یې ګډون کړی و یوه داسې بیانیه خپره کړه چې په امنیت، حکومتدارۍ، او پرمختیا کې یې د بیا رغونې د ترجیحاتو خاکه وړاندې کوله. په دې ترجیحاتو کې، چې د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ انځورګري کوي، لاندې شامل وو:

- د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) وړتیاوې جوړول
- لا زیاتي اغېزمني او احتساب لرونکي ملي ملکي اداري جوړول
- د لا ښو سرچینو او ښه اهتمام ملکي هڅې کول چې افغانستان سره د مهمو پرمختیایي چیلنجونو په ځوابولو کې مرسته وکړي

د کنفرانس ګډونوالو د افغانستان په مشرۍ د روغې جوړې او بیا خپلولو د یوې داسې پروسې هرکلی هم وکړ چې هغو دولت ضد عناصرو ته به "په ټولنه کې د یو باعزته ځای وړاندیز کوي" کوم چې غواړي تشدد پرېږدي او د افغانستان د اساسي قانون درناوی وکړي.[3]

افغان دولت په دې موافقه وکړه چې په کابل کې د مرستندویانو یو تعقیبي کنفرانس دایر کړي، په کوم کې چې به دا د پروګرام داسې واضح وړاندیزونه وړاندې کوي چې هغه پراخ اهداف لاس ته راوړي د کومو بنسټ چې د لندن په کنفرانس کې ایښودل شوی و. د کابل کنفرانس، چې وروسته په دې کال کې ټاکل شوی، به د لوړې کچې لومړنی کنفرانس وي چې د افغان دولت لخوا یې کوربه توب کېږي.

## د بیا رغونې پروګرام

په افغانستان کې د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو د بودیجو تمرکز په درېو سترو سکټورونو دی: امنیت، حکومتداري، او پرمختیا. سیګار د هغې نظارت برابرولو ته ژمن دی چې کانګرس او تطبیقوونکو ادارو سره په دې تکاملي جاج کې مرسته وکړي چې ایا د متحده ایالاتو د بیا رغونې هڅه په دې هره یوه برخه کې خپل اهداف لاس ته راوړي که نه.

### امنیت

افغان ولسمشر حامد کرزي تېر نومبر کې د پرانستې په وینا کې دا هدف مخې ته کېښود چې ANSF به د پنځو کلونو دننه د امنیت بشپړ مسوولیت په غاړه واخلي. د دې لپاره چې دا هدف لاس ته راوړل شي، افغان دولت او نړیوالې ټولنې موافقه کړې چې تر اکتوبر ۲۰۱۱ پورې په افغان ملي اردو (ANA) کې د دې د اوسنۍ کچې نږدې ۱۱۳۰۰۰ څخه ۱۷۱۶۰۰ ته په پراخولو سره ۵۲% او افغان ملي پولیس (ANP) د نږدې ۱۰۰۰۰۰ څخه ۱۳٤۰۰۰ ته په لوړولو سره شاوخوا ۳۵% زیاتوالی راولي.

افغان دولت ته د امنیت د مسوولیت د لېږدولو په اړه د متحده ایالاتو د پلان زیاته اتکاء پر وړاندیز شوي قوت پورې د استعداد لرونکیو افغان ځواکونو جوړول دي. د دې هدف لپاره، د افغان ځواکونو د ځای پر ځای کولو، روزلو او د مرکزونو ورکولو لپاره به اضافي اسانتیاو ته اړتیا وي. په دې درې میاشتنۍ کې، سیګار د متحده ایالاتو د بودیجو د دوو قراردادونو چې د لغمان او کندز په ولایتونو کې د ملي اردو لپاره د مرکزونو د جوړولو په اړه وي خپرې کړې دي. دې پلټنو ګڼ شمېر ستونځې وموندلې، په ګډون د لاندې:

- د اسانتیاو د پرمختیا لپاره د ملي اردو د اساسي پلان نشتوالی
- د پروګرام نامناسب سمبالښت
- د معیار ناکافي کنټرول

متحده ایالات غواړي چې ملکي" پرمختګ
ودي ورکولو ته دوام ورکړي چې د کرنیز تولید، د انرژي تولید، ښه حکومتداري، د قانون حاکمیت، د مخدره موادو پر وړاندې مبارزه هڅو په اړه ډاډمن شي ... په پایله کې داسې یو افغانستان وي چې لا نیکمرغه، لا امن، او لا خپلواک وي ..."

ولسمشر باراک اوباما -

سرچینه: سپینه مانۍ، مطبوعاتي اعلامیه، "له لیدنې وروسته د ولسمشر اوباما او د افغانستان ولسمشر کرزي څرګندونې"، ۲۰۱۰\۲۸\۳.

دا ستونځې په سمدستي توګه حل کول غواړي که متحده ایالات او نړیواله غواړي چې د وړاندیز شوي قوت پورې د ملي اردو په جوړولو کې بریالي واوسي.

متحده ایالاتو د افغان امنیتي ځواکونو د بودیجې له لارې د ANSF د روزلو او تجهیزولو په لور تر ۲۵ ملیارده ډالرو زیاته پانګونه کړې – چې دا تر دې نېټې بیا رغونې لپاره د ټولو اختصاص شویو پیسو قریباً نیم ډالر دي. باوجود د دې پانګونې، سیګار وموندله چې د ناټو د روزنې مشن – افغانستان\د ګډ امنیت د قوماندې انتقال – افغانستان (NTM-A/CSTC-A) دا مهال د هغو اسانتیاو د جوړولو لپاره کوم اساسي پلان نلري چې د دې ځواکونو ساتلو او روزلو ته یې اړتیا ده. برسېره پر دې، د NTM-A/CSTC-A چارواکیو سیګار ته وویل چې هغوی د پلان جوړولو د داسې کومو اسنادو یا جواز څخه خبر نه دي چې د ملي اردو د ځواکونو د ستراتیژیکو ځای په ځای کولو، د مرکزونو د موقعیتونو، او یا عملیاتو په اړه کوم معلومات پکې وي. د NTM-A/CSTC-A چارواکي وایي دوی یوه داسې پروسه جوړوي چې د مرکزونو بدلېدونکي شرطونه ثبت کړي. د یوې داسې تازه حال ستراتیژۍ پرته چې د ملي اردو موجودې غوښتنې انځوروي، NTM-A/CSTC-A د داسې مرکزونو د جوړولو خطره په سر اخلي چې د ملي اردو اړتیاوې نه پورې کوي. سیګار دا اندېښنه هم لري چې افغان دولت داسې مالي یا تخنیکي وړتیا نلري چې د ملي اردو یا ملي پولیسو بشپړ شوي مرکزونه روان وساتي. اوسني پلانونه د متحده ایالاتو څخه غوښتنه کوي چې تر ۲۰۱۳ پورې د ANSF د ۶۵۰ څخه زیاتو مرکزونو د عملیاتو او انتظام قراردادونه وکړي، دغه هغه کال دی چې د پلان له مخې د ANSF ټول مرکزونه به د عملیاتو او انتظام لپاره افغان دولت ته سپارل کېږي. د سیګار د پلټنې کارونه به د ANSF د انفراسټرکچر د انتظام او دوامدارۍ لپاره د پلانونو د وړتیا معاینه کولو ته ادامه ورکوي.

د لغمان او کندز دواړو پوځي مرکزونو د جوړېدو کار له خپل وخته ځنډېدلی. د دواړو مرکزونو د قراردادونو د انتظام مسوولیت د متحده ایالاتو د پوځ د انجینیرانو په قول اردو (USACE) دی. هر څو که USACE د دې پروژو د نظارت کار بهتر کړی دی، بیا هم سیګار په دواړو ځایونو کې د ښلابېلو درجو ساختماني ستونځې وموندلې. تر ټولو زیاتې مهمې ستونځې په کندز کې د ملي اردو د مرکز په اړه دي، کوم چې په یو داسې ځای کې جوړ شوی دی چې د "پړسوتونکې خاورې" صفتونه لري – سسته، وچه، د ټیټې درجې مواد چې که اوبه پرې ولګي نو پړسوځي او کښته ځي. په دسمبر ۲۰۰۹ کې د یو باران له امله ښودیدلو خاورو ګڼ شمېر جوړښتونه له استعماله ویستلي.

له اکتوبر ۲۰۰۹ راپدېخوا، سیګار د وړتیا د معیار (CM) د درجه بندۍ د سیستم یوه پلټنه ترسره کوي، دا یواځینی معیار دی چې مېدان ته د اچول شویو ANSF یونټونو د پرمختیا د نظارت لپاره کارول کېږي. CSTC-A دا معیارونه په ۲۰۰۵ کې جوړ کړي، او دا په منظم ډول د پرېکړه کوونکیو سره شریک کړای شوي دي، په ګډون د متحده ایالاتو د ولسمشر او کانګرس. د دفاع وزارت لخوا د افغانستان د امنیت او ثبات په لور د پرمختګ په تازه راپور کې، کوم چې د سیګار د پلټنې د مودې پر مهال خپور شوی و، د درجه بندۍ د سیستم محدودیتونه په رسمیت پېژندل شوي، او ویل شوي چې "د CM درجه بندي د یو یونټ فقط فعالیت، روزنه او تجهیزات انځوروي."[4] دا زیاتوي، "د CM درجه بندۍ او فعالیتي وړتیا ترمنځ ګډ تعلق چې ورته ټاکل شوي کارونه بشپړ کړي ډېر ضعیف دی، او په دې توګه دا نتیجه ترې اخیستل چې د CM درجه بندي په فعالیتونو کې د ظرفیت د بریالیتوب ښودونکې ده کېدای شي چې خطاویستونکې وي."[5]

د ANSF د کاري وړتیا په سم ډول د معلوملو توان لرل د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ د تطبیق لپاره مهم دی. د سیګار دا پلټنه، چې د دې درجه بندۍ لومړنی تکاملي ارزونه ده، به په راتلونکې دري میاشتې کې خپره شي. د دې موندنې په پنځو برخو تمرکز کوي: ۱) د وړتیا د معیار د سیستم اعتبار، ۲) پیمانه او د اعتبار وخت، ۳) تحلیل او راپور کول، ٤) هغه چیلنجونه چې د ارزونې په برخو کې ورسره مخ دي، او ٥) د ANSF داسې سیستماتیکې کمزورۍ چې د یونټونو د وړتیاو د ودې هڅې خرابوي.



**د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما** د ۲۰۱۰ د مارچ په ۲۸مه افغانستان ته د هغه د وروستي سفر پر مهال د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې د افغان ولسمشر حامد کرزي سره ويني. (د سپینې ماڼۍ انځور)

## حکومتداري

د متحده ایالاتو نوې ستراتیژي د افغان دولت د ادارو سره په داسې مرسته تاکید کوي چې دا لا زیاتې اغېزمنې او د احتساب لاندې شي. د بهرنیو چارو وزارت د ظرفیت د لوړولو د هڅې د برخې په توګه اراده لري چې د دې کال تر پای د هغو مرستو اندازه چې دا یې د افغانستان د دولتي او نادولتي ادارو له لارې ورکوي د ۱۳.۵% څخه ۴۰% ته لوړه کړي.[6] د لندن د کنفرانس ګډونوالو اصولاً د افغان دولت دا غوښتنه ومنله چې مرستندویان دې د دراتلونکو دوو کلونو پر مهال په هغه پرمختیايي مرسته کې ۵۰% زیاتوالی وکړي چې د افغان دولت د وزارتونو له لارې ورکول کېږي. خو، نړیوالې ټولنې په دې موافقه وکړه چې د دې مرستې اتکاء به د افغان دولت په دې هلو ځلو وي چې د عامه مالي سمبالښت سیستمونه لا پسې په پیاوړي کولو کې پرمختګ وکړي، د بودیجې عملي کول بهتر، او اداري فساد کم کړي.[7]

مرستندویان، نړیوال سازمانونه، افغان دولت، او – تر ټولو زیات مهم – افغان ولس په افغانستان کې اوج ته رسېدلي اداري فساد اندېښمن کړي دي. د ۱۲ ولایتونو یوې اوسنۍ سروې چې د ملګرو ملتونو د نشه یي توکیو او جرمونو د کنټرول د دفتر لخوا خپره شوې وايي چې زیات افغانان د اداري فساد په اړه اندېښمن دي (۵۹%) په نسبت د امنیت (۵٤%). په سروې شویو خلکو کې نیمو وویل چې د تېرو ۱۲ میاشتو پر مهال هر یو تن یې لږ تر لږه یو ځل دې ته اړ شوی چې یوه دولتي چارواکي ته د څه کار لپاره پېسې ورکړي.[8]

رشوت د اداري فساد فقط یو اړخ دی. نړیوال بانک د دوی په وینا د "د فساد د شبکو" د یو جنايي کولتور په اړه راپور ورکړی چې په هغې کې یواځې د دولتي منصبونو اخیستل او خرڅول ندي شامل بلکې د قراردادونو د ساتلو او ورکولو لپاره غوړې معاملې هم پکې دي.[9] اداري فساد غریبان چور کوي، سرچینې تباه کوي او د خصوصي سکټور وده ضعیفوي. تر دې ټولو زیاته بده دا چې دا پر دولت اعتبار کموي.

لدې امله چې د فساد کمول د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ یو توکی دی او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره مهم دی، سیګار تېر کال یو پروګرام پیل کړ چې د دوو مهمو مسلو ارزونه کوي:

- متحده ایالات او نور مرستندویه هېوادونه د دې لپاره څه کوي چې د افغان ادارو داسې ظرفيت جوړ کړي چې فساد معلوم کړي او د قانون حاکميت پياوړى کړي
- هغه حد تر کومه چې بېلابېلې ملي او محلي اداري داسې سيستمونه په کار لري چې د مرستندويه بوديجو لپاره داخلي کنټرول وکاروي او احتساب وښيي

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، سيګار د افغانستان د کنټرول او پلټنې د دفتر (CAO) کار ته يوه کتنه خپره کړه، دا هغه اداره ده چې د دې هېواد د عامه مالياتو د پلټنې مسووليت په غاړه لري. CAO د افغانستان د تر ټولو لوړې د پلټنې د ادارې په توګه داسې قوي مسووليت لري چې په ټول دولت کې د بوديجو احتساب وکړي او اداري فساد معلوم کړي او مخه يې ونيسي. د سيګار ارزونې وموندله چې قانون دې ادارې ته دومره کافي خپلواکي او واک نه ورکوي چې په اغېزمن ډول د افغانستان د تر ټولو سترې پلټنې د ادارې په توګه کار وکړي. برسېره پر دې، CAO د باستعداده افغان محتسبينو او پلټونکو د کمې سره مخ ده؛ لدې امله د دې زياته اتکاء د بهرنيو مشاورينو په ملاتړ ده.

د CAO د ظرفيت پياوړي کول به په افغانستان کې شفافيت پراخ او اداري فساد کم کړي. سيګار سپارښتنه وکړه چې افغان دولت بايد د قانون جوړوني داسې ريفورمونه په لاره واچوي چې CAO ته مناسبه خپلواکي او واک ورکړي، او دا چې نړيواله ټولنه په دوامي ډول داسې مرسته ورته برابره کړي چې تمرکز يې د CAO د کارکوونکو د ظرفيتونو په لوړولو وي.

د CAO په اړه د سيګار پلټنه د دې د فساد ضد پروګرام پنځمه ارزونه ده، د کومې مثبت اغېز چې لا د مخه پېل شوى دى. په تېره درې مياشتنى کې، سيګار د افغانستان د نظارت د عالي دفتر (HOO) په اړه يو راپور خپور کړ، چې دا د فساد پر وړاندې د مبارزې مسووليت لرونکې اساسي اداره ده. له هغه راهيسې چې دغه پلټنه خپره شوې وه، نړيوالې ټولنې او افغان دولت داسې اقدامات کړي دي چې د سيګار ډېرې سپارښتنې تطبيق کړي. د متحده ايالاتو د سفارت په وينا، د نړيوالې ټولنې او HOO ترمنځ يو پراخه ډيالوګ افغان دولت سره د لندن کنفرانس لپاره د فساد ضد مقالې په جوړولو کې مرسته وکړه. د کنفرانس پر مهال، ولسمشر کرزي د فساد پر وړاندې مبارزې لپاره د دولت يوه مجموعي مفکوره اعلان کړه او وې ويل چې هغه به HOO ته واک ورکړي چې د فاسدو چارواکيو تحقيق وکړي او بندېز پرې ولګوي. سيګار په دې يادونه خوشحاله دى چې د ۲۰۱۰ د مارچ په ۱۸مه ولسمشر کرزي يو فرمان صادر کړ چې له مخې يې HOO ته لا زياته خپلواکي او واک ورکړاى شو. USAID سيګار ته وويل چې دوى به په درېو کلونو کې HOO ته ټول د ۳۰ مليونه ډالرو مرسته ورکړي. دا دواړه اقدامات د سيګار د سپارښتنو سره سم دي.

د مهمو افغان ادارو د داخلي کنټرولونو او احتسابي پروسيجرونو د ارزونې د هڅې د يوې برخې په توګه، سيګار د معاشونو د هغه ملاتړ يوه کتنه ترسره کوي چې د متحده ايالاتو حکومت يې د افغان دولت چارواکيو ته برابروي. سيګار همداراز د افغانستان د ملي پيوستون د پروګرام يوه پلټنه هم پېل کړې ده، کوم چې له ۹۰۰ مليونه ډالرو څخه زياته د مرستندويانو مرسته د دې لپاره ترلاسه کړې چې د انفراسټرکچر کوچنيو پروګرامونو ته بوديجې ورکړي.

## پرمختيا

د متحده ايالاتو د حکومت د بيا رغونې تر ټولو لومړی ترجيح د افغانستان د يو وخت ځلانده زراعتي سکټور بېرته نوي کول دي چې روزګار پيدا کړي او "د جنګياليو ياغيتوب او د اپيمو د کرنې عايد ضعيف کړي."[10] د نوې ستراتيژۍ سره سم د متحده ايالاتو حکومت دې ته هم ژمن دى چې د افغانستان د راتلونکې لپاره يو اقتصادي بنياد جوړ کړي له دې لارو ۱) په خصوصي سکټور کې د دوامي وظيفو په پيدا کولو؛ ۲) د عامه خدمتونو د رسولو لپاره د افغان دولت ظرفيت لوړول چې په روغتيا او زده کړه کې د دوامي ودې مرسته وشي؛ ۳) د انفراسټرکچر د

سکټورونو پراخول او بهترول، په ګډون د انرژی، ترانسپورت، مخابراتو، او اوبو؛ او ٤) افغان دولت سره مرسته کول چې د خپلو فعاليتي لګښتونو لپاره پر مرستندويه ټولنه کم متکي شي.[11]

د متحده ايالاتو د بيا رغوني د نوې ستراتيژی د تطبيقولو لپاره، د بهرنيو چارو وزارت د متحده ايالاتو د حکومت د ٨ وزارتونو او ادارو څخه د ملکي ماهرانو ځای پر ځای کولو کې همکاري کوي. د ملکي ماهرانو د دې زياتوالي هدف په سمدستي توګه د هغو ملکي ماهرانو شميره درې هومره کول دي چې د افغان وزارتونو، ولايتي بيا رغوني د ټيمونو او نظامي يونټونو سره کار کوي – د ٣٢٠ تنو نه چې په جنوري ٢٠٠٩ کې يې په ميدان کې کار کاوه شاوخوا ١٠٠٠ تنو ته. د بهرنيو چارو وزارت اراده لري چې د ملکي ماهرانو په دې کارکوونکو کې د دې کال تر پای ٢٠% يا ٣٠% نور زياتوالی وکړي. دا ملکيان افغانانو سره ملګرتيا کوي نه يوازې د دې لپاره چې د دولتي ادارو ظرفيت لوړ کړي، بلکې د دې لپاره هم چې د مهمو اقتصادي ادارو په ښه کولو کې هم مرسته وکړي.

په مارچ ٢٠١٠ کې، سيګار يوه پلټنه پيل کړه چې د ملکي ماهرينو د دې زياتوني د تطبيق ارزونه وکړي. دا کتنه به ١) د ځای پر ځای شوي پرسونل شمېر او ډولونه وپېژني، ٢) د هغه حد جاج به واخلي تر کومه چې دې ملکيانو ته ضروري سرچيني برابرې کړای شوي دي، او ٣) هغه حد به معلوم کړي تر کومه چې په ميدان کې موجود ملکي ماهران په اغېزمن ډول د دې لپاره کارول کېږي چې ښودل شوي پروګرامي او ستراتيژيک مقاصد لاس ته راوړل شي. سيګار د دې کتني په حدودو کې د حکومت د احتساب د دفتر (GAO) سره په ارتباط کې دی. GAO د دې معاينه کوي چې د متحده ايالاتو حکومت څرنګه خپل لوازمات برابروي؛ سيګار د زياتو ملکيانو د ځای پر ځای کېدو د پروګرام د تطبيق ارزونه کوي.

## مخ په وړاندې کتل

د لندن په کنفرانس کې نړيوالي ټولني د واک د لېږد د يوې داسي ستراتيژی سره خپله ژمنتيا وښودله چې افغانانو ته به د هغوی راتلونکی په کنټرول کې ورکړي. افغان دولت هم بايد خپله برخه کار پکې وکړي. د راتلونکي راپور په موده کې به افغان دولت د دوو غونډو کوربه وي په کومو کې چې به دا د لا زيات مشرتابه د ترسره کولو په لړ کې د خپل توان څرګندونه وکړي. لومړنی غونډه، چې په دې دوبي کې ټاکل شوې، به د ګرد هېواد څخه افغانانو يو ځای ته د هغه څه لپاره راغونډ کړي چې د "سولې جرګه" نوم ورکړای شوی، چې د طالبانو د هغو غړيو سره د خبرو اترو او راخپلولو موضوع بحث کړي کوم چې له القاعده جلا کېږي، تشدد ته د پای ټکی ږدي، او د هېواد اساسي قانون مني. په دې پسي به په دې کال کې وروسته د کابل کنفرانس دايرېږي، په کومه کې چې تمه ده افغان دولت نړيوالي ټولني ته د بيا رغوني په لړ کې مشخص وړانديزونه ورکړي. د کابل کنفرانس به افغان دولت ته موقع ورکړي چې په لندن کنفرانس کې شوې نړيوالي ژمني په داسي پروګرامونو کې بدلې کړي چې په ټول افغان دولت کې ظرفيت لوړ کړي او د دوامي اقتصادي ودې لپاره بنياد کېږدي.

**ټولنیزه توسعه**

د افغان ملي امنیتي ځواکونو یو سرتېرى په پروان ولایت کې د ګزمې د مشن پر مهال یو ماشوم ته خواږه ورکوي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور، لورینزو ویر)

# 2 د سیګار نظارت



"په هره کچه – د لوړپوړو چارواکيو څخه د يوې
ليرې پرتې ولسوالۍ د دفتر د پوليس پورې – د
احتساب بهترول بايد د بيا رغونې لپاره زمونږ. د هڅو
زړه وي. نه نظامي ځواک او نه په نړۍ کې د بيا
رغونې ټول ډالر – که پروژې
هر څومره هم ښې جوړې شوې او پلي شوې وي –
تر هغې په افغانستان کې
امنيت او ثبات نشي راوستلی تر څو چې افغانان په
خپل دولت باور ونلري."

- ځانګړی عمومي پلټونکی ارنلډ فيلډز

سرچينه: ځانګړی عمومي پلټونکی ارنلډ فيلډز، "د احتساب کولتور پيدا کول،" د افغانستان د هوانوردۍ او دفاع په دويمه سرمشريزه کې وينا، ۲۰۱۰\۲٦\۳.

# د سیگار نظارت

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، سیگار په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیا رغونې د پروگرام د نظارت پراخولو ته ادامه ورکړه. سیگار ٤ د پلټنې راپورونه خپاره کړل او ٢ نوې پلټنې یې پیل کړې، چې د ټولو روانو پلټنو شمېره یې ١٢ ته راوستله. سیگار همداراز د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجې (ASFF) د ساینسي پلټنې په توگه د ډاټا راغونډول هم پیل کړل. د سیگار تحقیق کوونکیو ١٩ جنایي تحقیقات پیل کړل او په داسې قضیو یې د نورو قانون نافذوونکو سازمانونو سره نږدې کار وکړ چې د ٢ ملیونه څخه زیاتو ډالرو د راستنولو نتیجه یې ورکړې ده. سیگار ١٢ تنه نوې عمله په کار ونیوله، چې په دې توگه یې مالي کال ٢٠١١ کې د ١٣٢ تنه پرسونل د هدف په لور نور پرمختگ هم وکړ. سیگار په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت سره په تماس کې دی چې په افغانستان کې د سیگار د پلټونکو او تحقیق کوونکو لپاره د موجودو ځوکیو شمېره لوړه کړې، څو دا خبره یقیني شي چې سیگار په مېدان کې کافي عمله لري چې په اغېزمن ډول د متحده ایالاتو د بیا رغونې په ډالرو کې ضیاع، دوکه، او ناسم استعمال معلوم او مخنیوی یې وکړای شي.

## پلټنې

په دې درې میاشتنی کې، سیگار د افغانستان د کنټرول او پلټنې دفتر (CAO) ته کتنه وکړه، دا اداره د دې هېواد د عامه مالیاتو د پلټنې مسوولیت پر غاړه لري، او د انفراسټرکچر د درې پروژو ارزونې یې ترسره کړې. سیگار همداراز د دوو نوو پلټنو اعلان وکړ. سیگار د ساینسي پلټنې د پروگرام د برخې په توگه د دفاع وزارت (DoD) د مالي کال ٢٠٠٥-٢٠٠٩ پر مهال د ASFF په اړه د اختصاصونو او لگښتونو د ډاټا معاینه پیل کړه.

### د پلټنو بشپړ شوي راپورونه

د CAO پلټنه د سیگار د روان فساد ضد پروگرام پنځم راپور دی چې د هغه څه ارزونه کوي چې متحده ایالات او نور نړیوال مرستندویان یې د هغه ظرفیت د جوړولو لپاره کوي چې د افغان ادارو دننه د فساد مخه ونیسي او د قانون حاکمیت پیاوړی کړي. دې پلټنې وموندله چې د CAO قانوني چوکاټ CAO ته هغومره کافي خپلواکي او واک نه ورکوي چې په اغېزمن ډول د افغانستان د تر ټولو لوړې پلټیزې ادارې په توگه کار وکړي.

د انفراسټرکچر په اړه د دریو څخه دوو پلټنو تمرکز د قرارداد د کاري ورتیا او نظارت په هغو پروژو و چې د متحده ایالاتو د پوځ د انجینرانو د قول اردو (USACE) لخوا سمبالېدلې چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) لپاره مهم انفراسټرکچر جوړ کړي. د انفراسټرکچر دریمې پلټنې د یو داسې قرارداد معاینه وکړه چې د قوماندان د بیړني ځواب د پروگرام (CERP) لخوا بودیجه ورکړل شوې وه چې په فراه ولایت کې یو پولچک جوړ کړي. دې ارزونو گڼ شمېر د قرارداد، پروگرام د سمبالښت، او د معیار د کنټرول مسلې وپېژندلې. لاندې ضمني برخې د دې څلورو پلټیزو راپورونو لنډیز وړاندې کوي.

### پلټنه ۱۰-۸: د کنټرول او پلټنې دفتر

دافغانستاندکنټرولاوپلټنيدفترفعالیتياوبودیجهيېخپلواکي،پراخهواک،اومتمرکزهنړیوالهمرستهغواړيچېپه اغېزمن ډول فساد معلوم کړي او مخه يې ونیسي.

متحده ایالاتو، نړیوالي ټولنې، او د افغانستان اسلامي جمهوریت په ټول افغانستان کې پراخه اداري فساد د حکومتدارۍ د بهترولو په وړاندې د یو ستر خنډ په توګه پېژندلی دی. متحده ایالات، د نړیوالې ټولنې په ملګرتیا، غواړي د داسې هڅو ملاتړ وکړي چې افغان اداري داسې پیاوړې کړي چې فساد ضد اقدامات تطبیق کړي او نظارت يې وکړي. CAO چې په ۱۹۸۱ کې د کنټرول او پلټنې د قانون لخوا جوړ شوی، د مرکزي او ولایتي دولتي ادارو، او همداراز د عامه تجارتونو په اړه د پلټنې کولو واک لري. CAO د افغانستان د تر ټولو لوړې د پلټنې د ادارې په توګه داسې قوي مسوولیت لري چې په ټول دولت کې د بودیجو احتساب وکړي او اداري فساد معلوم کړي او مخه يې ونیسي.

#### اهداف

دا پلټنه د هغې سلسلې څخه یوه وه چې سیګار يې د دې لپاره ترسره کوي چې په افغانستان کې د فساد په وړاندې د مبارزې او د قانون د حاکمیت د پیاوړي کولو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو ارزونه وکړي. د دې پلټنې درې اهداف وو:

- د CAO د خپل واک په پوره کولو کې د دې د صلاحیت او کاري وړتیا ارزونه کول.
- هغې مرستې ته کتنه کول چې د نړیوالې ټولنې لخوا د CAO د داخلي ظرفیت د پیاوړي کولو لپاره ورکول کېږي.
- د هغې مرستې معاینه کول چې د متحده ایالاتو د حکومت لخوا د CAO د داخلي ظرفیت د پیاوړي کولو لپاره ورکول کېږي.

#### موندنې

دې پلټنې دوه مهمې موندنې لرلې:

1. سیګار وموندله چې اوسنی قانوني چوکاټ CAO ته کافي خپلواکي او واک نه ورکوي. دې ته د توان ورکوونکي قانون جوړوني لاندې، CAO د افغان دولت د اجراییه څانګې څخه د بودیجه يي او فعالیتي خپلواکۍ د کمبود سره مخ دی. قانون CAO ته هغه واک نه ورکوي چې ضروري ده لپاره د دې چې ۱) د هغو پلټونکو ادارو څخه د هغو اقداماتو په اړه پوښتنه وکړي چې د CAO د سپارښتنو په ځواب کې يې کړي؛ ۲) ضروري اسنادو، چاروکیو، او احاطو ته د لاسرسي غوښتنه وکړي؛ او یا ۳) د CAO څخه وغواړي چې ولسي جرګې ته راپور ورکړي او یا خپل د پلټنې راپورونه په عامه ډول خپاره کړي. برسېره پر دې، موجود قوانین د داخلي پلټنې په تړاو د CAO او د مالیې د وزارت د رول، مسوولیتونو او واکونو په اړه پوره واضح ندي، چې نتیجه يې متضاد مسوولیتونه رامخې ته کېږي.

   د ۲۰۰۹ په پای کې، د عدلیې وزارت په نړیواله توګه د ملاتړ شوي د جنايي قانون د ریفورم د کاري ډلې، د کومې مشرې چې د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جنایتونو دفتر کوي، د یوې نوې ملي پلټنې د قانون د مسودې د کتنې غوښتنه وکړه کوم چې به په موجود قانون کې یا بدلون راولي او یا به يې بدل کړي. دې کاري ډلې د داسې مهمو بیا کتنو وړاندیز وکړ چې CAO ته به هغه خپلواکي او واک ورکړي چې دا يې د ملت د عالي پلټنې د ادارې په توګه د فعالیت کولو لپاره ورته اړتیا لري. دغه قانوني مسوده بیا د عدلیې

وزارت ته د کتني لپاره ورکړل شوې وه. خو، په فبروري ۲۰۱۰ کې د سیګار لخوا د دغه قانوني مسودې په یوه کتنه کې ومونډل شوه چې په دې کې د کاري ډلې ډېر مهم وړاندیزونه نه وو شامل کړای شوي.

2. هر څو که د نړیوالې ټولنې لخوا د پام وړ مرسته ورکول کیږي، خو CAO د داخلي ظرفیت د کمبود له امله محدوده دی. د دې زیاته اتکاء پر بهرنیو مشاورینو ده. CAO د بااستعداده افغان محتسبینو او پلټونکو د کمې سره مخ ده. د دې اوسنی کارکوونکي مسلکي روزني، د انګلیسي ژبې روزنې، او د کمپیوټر روزنې ته عاجله اړتیا لري. د بااستعداده پرسونل نشتوالی د هغه ټیټو معاشونو سره یو ځای دی چې CAO یې خپلو ملکي کارکوونکو ته وړاندې کوي په پرتله د هغو معاشونو چې د خصوصي سکټور او نړیوالو سازمانونو لخوا ورکول کیږي.

CAO په رسمي توګه د عالي پلټنې د ادارو د نړیوال سازمان معیارونه خپل کړي دي. خو، لدې امله چې CAO بااستعداده مسلکي کارکوونکي نلري، د دې اتکاء پر نړیوالو مشاورینو ده. په دې توګه، دې د نړیوالو پلټونکو سره قرارداد کړی چې دا خبره یقیني کړي چې د مرستندویه بودیجو په اړه د دې پلټنه، په ځانګړي توګه د هغو بودیجو په اړه چې د نړیوال بانک لخوا د افغانستان د بیا رغونې د اعتبار د بودیجې له لارې ورکړل شوې، د نړیوالو معیارونو سره سم ترسره شي.

له ۲۰۰٤ راهیسې، نړیوال بانک CAO ته تقریباً ۱۳.۳ ملیونه ډالر ورکړي دي. دا مهال، دا بانک د CAO د ټولې بودیجې ٦٦% او د CAO د پرمختیایي بودیجې ۸۰% ورکوي. دا بانک CAO سره د افغانستان د عامه مالي سمبالښت د ریفورم د پروژې له لارې مرسته کوي، کوم چې په مې ۲۰۰۷ کې پیل شوه او ټاکل شوې چې تر دسمبر ۲۰۱۰ په روانه وي. خو، بانک او CAO د دې بودیجو زیاته برخه د CAO د ظرفیت د جوړولو په ځای نړیوالو پلټونکو ته د ورکولو لپاره کارولې ده چې د مرستندویه بودیجو نظارت وکړي.

برسېره پر نړیوال بانک، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د CAO د ظرفیت د لوړولو لپاره محدوده نېغه مرسته ورکړې – چې په هغې کې رهبري، مشاورتي خدمتونه، او روزنه شامل دي. په همدې مهال کې، نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې، یا USAID (د متحده ایالاتو یوایځینی اداره چې د CAO مرسته کوي)، کمه مرسته کړې ده، چې په هغې کې اساساً د CAO د محدود شمېر چارواکیو لپاره د کنفرانسونو او روزنیزو پروګرامونو مرسته کول شامل دي.

**سپارښتنې**

د دې لپاره چې افغان دولت افغان ولس ته حساب ورکړي او د مرستندویانو د هغو بودیجو په نظارت کې د مرستې لپاره چې نېغ په نېغه افغان ادارو ته ورکړل شوې، مهمې فساد ضد اداري داسې لکه CAO پیاوړي کولو ته اړتیا لري. د CAO د ظرفیت او وړتیا پیاوړي کول به په افغانستان کې شفافیت پراخ او اداري فساد کم کړي. خو، د CAO دننه د وړتیا او ظرفیت د لوړولو زیاتره اتکاء په دې خبره ده چې CAO د یو داسې قانوني چوکاټ د لاندې کار وکړي چې خپلواکې او مناسب واک ورکوي. د قانون جوړونې د ریفورمونو په ملګرتیا کې، متحده ایالات او نړیواله ټولنه باید داسې دوامداره مرسته برابره کړي چې تمرکز یې د افغانستان د پلټنو د مسلکیانو د ظرفیت په لوړولو وي. د یو خپلواک او باصلاحیته CAO ملاتړ کول به د افغان دولت په فعالیتونو کې عامه څرګندتیا زیاته کړي، شفافیت او احتساب ته به وده ورکړي، او اتباعو ته به د دې قوت ورکړي چې د ریښتونې بدلون غوښتنه وکړي.

د CAO د وړتیا او ظرفیت د قوي کولو لپاره، سیګار په اپریل ۲۰۱۰ کې سپارښتنه وکړه چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر دې دا دوه اقدامات وکړي:

- د افغان دولت څخه غوښتنه وکړي چې داسي قانون جوړ کړي چې CAO ته کافي خپلواکي او واک ورکړي تر څو هغه په نړیواله توګه د پلټنې د پېژندل شويو معیارونو سره سم خپل مسوولیتونه سر ته ورسوي.
- د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د حکومت د فساد ضد پروګرام د برخي په توګه، د CAO او نورو نړیوالو شریکوالو په همکارۍ، د ظرفیت لوړولو د یو پلان د جوړېدو او تطبیق نظارت وکړي. په دې ډول پلان کې باید د متحده ایالاتو د حکومت دننه د موجودو روزنیزو غوراېو په کارولو، او د پلټنې د ماهرو سرپرستانو او مشاورینو په ټاکلو سره، د ظرفیت د پرمختیا او روزنې لپاره د بودیجو د سرچینو او د مرستندویانو مسوولیتونه پېژندل باید شامل وي.

**د اداري تبصري**

په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت او د افغانستان لپاره د USAID مشن د سیګار د موندنو او سپارښتنو سره موافقه وکړه. د متحده ایالاتو سفارت وویل چې دا مسله به د افغان دولت د چارواکیو سره راپورته کړي او دا چې USAID به د CAO او نړیوالو مرستندویانو سره د دې لپاره کار وکړي چې د CAO لپاره یو د ظرفیت د لوړولو پلان جوړ او تطبیق کړي. د متحده ایالاتو سفارت وویل دا پلان به تر جون ۳۰، ۲۰۱۰ پورې بشپړ شي.

## پلټنه ۱۰-۰۹: په کندز کې د ملي اردو مرکز

په کندز کې د افغان ملي اردو مرکز د معیار او نظارت ټولې غوښتنې نه پوره کوي؛ د خاورې جدي مسلې حل کول غواړي



**د خاورې سخت خرابوالی** د دې سبب شوی چې دا د څوکیدارۍ ځای وښوییږي او ترې چاپېرو دېوالونو کې درزونه وشي. سیګار په دې وروستیو کې د کندز د افغان ملي اردو د مرکز د جوړېدو په ځای کې د خاورې د ثبات مهمي ستونځې پېژندلي دي. (د سیګار انځور)

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ اتکاء د دې هېواد ظرفیت داسې جوړول دي چې د ANSF په روزلو او تجهیزولو سره دا د ځان لپاره امنیت برابر کړي. له ۲۰۰۲ راهیسې، د متحده ایالاتو کانګرس د ASFF لپاره شاوخوا ۲۵ ملیارده ډالر اختصاص کړي دي، چې دا د بیا رغونې د ټولو ډالرو نږدې نیمايي دي، کوم چې د ANSF د روزنې، تجهیزوني، او دوامدارۍ مالي ملاتړ دی. د ASFF په هدف کې د داسې مرکزونو جوړول شامل دي چې د افغان ځواکونو د روزنې، ځای پر ځای کولو او ساتلو لپاره ضروري دي. اوسنې پلانونه غوښتنه کوي چې افغان ملي اردو (ANA) دې په جون ۲۰۰۹ کې د شاوخوا ۱۰۳۵۰۰ ځواک څخه تر اکتوبر ۲۰۱۱ پورې ۱۷۱۶۰۰ ته ورسول شي. د دې زیاتونو په پایله کې، د افغان ځواکونو د روزنې، ځای پر ځای کولو او ساتلو لپاره د اضافي اسانتیاو اړتیا ده.

په دې درې میاشتنۍ کې، سیګار په کندز کې د متحده ایالاتو په بودیجه د ملي اردو لپاره جوړ شوي یوه مرکز معاینه وکړه. دا مرکز چې په شمالي ولایت کندز کې واقع ده، د دې لپاره جوړه شوې چې د ملي اردو ۱۸۰۰ تنه پرسونل او ورسره د متحده ایالاتو د وصل یو روزنیز ټیم ته به ځای ورکوي. د ناټو د روزنې مشن – افغانستان\د امنیت د انتقال ګډه قومانده – افغانستان (NTM-A/CSTC-A) ۷۲.۸ ملیونه ډالر ورکوي چې دا مرکز په دوو پړاوونو کې جوړ شي:

- ۱ پړاو: بیرکونه، د ذخیره کولو اسانتیاوې، د خوړو ځای، او ورسره وصل روزنیز ټیم ځای چې د ایتلافي ځواکونو برخه ده[12]
- ۲ پړاو: اضافي بیرکونه، یو طبي کلینک، او یوه قېدخانه

د USACE افغانستان د انجنیر ولسوالۍ-شمال (AED-شمال) دوه د ټاکلې بیې قراردادونه ډاین کورپ انټرنیشنل ایل ایل سي (DynCorp International LLC) ته د دې دواړو پړاوونو د پروګرام د سمبالښت او نظارت لپاره ورکړي.

# د سيګار نظارت

**اهداف**

دې پلټنې درې اهداف بحث کړل:

- دا معلومول چې ايا د کندز مرکز د قراردادونو د شرايطو له مخې جوړ شوی که نه، په ګډون د وخت او لګښت.
- دا معلومول چې ايا USACE د مرکزي ترلاسه کولو د قاعدې، د USACE د شرطونو، او په قرارداد کې د نظارت د مادو له مخې د مرکز د جوړولو نظارت ترسره کړې که نه.
- د دې مرکز لپاره د NTM-A\CSTC-A د عمومي جواز او هغو پلانونو پېژندل چې دا يې د ANSF د مرکزونو د دوامدارۍ لپاره لري.

**موندنې**

1. سيګار وموندله چې ۱ پړاو ۲۰ مياشتې د خپل وخت نه شاته دی، او ۲ پړاو د يو کال نه زيات د خپل وخت نه شاته دی. AED شمال اوس تمه لري چې دا مرکز به تر اګست ۲۰۱۰ پورې بشپړ شي. د ۱ پړاو لګښتونه د ۳۰ مليونه ډالرو څخه ۴۹.۲ مليونه ډالرو ته لوړ شول څکه چې AED-شمال په قرارداد کې د کار د غځولو غوراوي ورکړي وو. د ۲ پړاو قرارداد په ۲۳.۳ مليونه ډالرو ورکړل شوی و او لګښتونه يې زيات شوي نه دي.
2. سيګار د ساختمان ستونځې، د خاورې د ثبات جدي مسلې (په ګډون د مرکز د ګڼ شمېر جوړښتونو د لاندې د خاورې سختې ښوييدنې)، او په هغه ځای کې داسې نابرابره درجه بندي معلومه کړه چې په دغه مرکز کې يې د متحده ايالاتو پانګونه په خطر کې اچولې وه.

   سيګار معلومه کړه چې په بېلابېلو مرکزونو کې هغه د چت د ملاتړ د پايو د ستيل برخې چې يو بل سره په ويلډنګ پيوست شوې وې نابرابرې وې، په سورو ډکې وې، او لازم دوام يا د برخې جوړېدنه يې نه لرله. که يو درونډ بار پرې راغلی وای نو دغه پايې ناکامېدای شوې چې له امله يې چت کښته کېدای او يا غورځېدای شو. سيګار همداراز په بېلابېلو ځايونو کې هغه وقايوي رنګ هم په ماتېدو وليد چې د چت ملاتړو پايو ته ورکړل شوی و. دغه زيان ښايي د ستيل ارتباط تخريب کړي چې هغه ښايي د چت د کښته کېدو او يا غورځېدو سبب شي.

   د معيار د کنټرول تر ټولو زياته جدي مسله چې د سيګار د جنورۍ ۲۰۱۰ د مرکز د جوړېدنې د ځای په يوه معاينه کې وليدل شوه په دسمبر ۲۰۰۹ کې د يو باران څخه وروسته د ډېرو جوړښتونو لاندې څخه د خاورې ښوييدل وو. د AED-شمال په يو راپور کې راغلي چې په مرکز کې او شاوخوا ته يې په ۴۸ ځايونو کې د خاورې د ښوييدو نښتې ليدل شوې دي. د خاورې دې ښوييدو ډېر جوړښتونه له استعماله ويستلي، چې په هغوی کې د محافظينو يو برج، يو ورسره جوخت د ډېرو ديوال، او يو د سرک ښخ شامل دي. هر څو که AED-شمال او ډاين کورپ دواړه دا خبره مني چې د دغه ځای د لاندې خاوره ښوييدو والا ده، هغوی د سموونکي اقدام په کومه طريقه ندي موافق شوي. دا حالت د نامناسبې درجه بندۍ له امله لا پسې خراب شوی چې پکې د اوبو جمع کېدو او سېلاب سبب به جوړېږي.
3. AED-شمال د قرارداد د دوسيو د نظارت د ترسره کولو او سمبالولو لپاره د USACE ځيني خاص شرايط ترسره نه کړل. هر څو که د پرمختګ د پيسو برابر سندبندي شوې وه، ځيني خاص اسناد، لکه د معيار د يقيني کولو راپورونه، په دغو دوسيو کې لکه چې پکار وه موجود نه وو. هر څو که د دې پروژې د لومړنيو پړاوونو پر مهال د AED-شمال د معيار يقيني کول ښه نه وو، سيګار وموندله چې د دې خپل کار د وخت په

تېرېدو سره د نوي پرسونل په رارسېدو بهتر کړی و.

4. هر څو که په اکتوبر ۲۰۰۵ کې د دفاع د سکرتر دفتر ته د مالي کال ۲۰۰۸ د افغانستان د امنيتي بوديجې په غوښتنه کې د اسانتياو د پرمختيا لپاره د ANA يو اساسي پلان جواز ته اشاره شوي وه، خو /NTM-A CSTC-A د دې سند يا د پلان جوړوني د نورو اسنادو يا بل داسې جواز نقل ونه موندله چې د ANA د سرتېرو د ستراتيژيک ځای پر ځای کولو، د مرکزونو د موقعيتونو، يا د عملياتو په اړه يې معلومات ورکولی. د يوې داسې تازه ستراتيژۍ پرته چې د ملي اردو اوسنی غوښتنې انځوروي، NTM-A/CSTC-A د داسې مرکزونو د جوړولو خطره په سر اخلي چې د ملي اردو اړتياوې نه پورې کوي.

5. افغان دولت د کندز د مرکز او يا د ANSF د نورو مرکزونو د هغو له بشپړېدو وروسته د دوامي ساتلو ظرفيت نلري. له ۲۰۰۲ راهيسې متحده ايالاتو او نړيوالي ټولنې د ANA د مرکزونو د دوامداري لپاره بوديجې ورکړې دي. په سټمبر ۲۰۰۶ کې، AED-شمال د ANSF د مرکزونو لپاره د فعاليتونو او انتظام يو د ۲۰۰ مليونه ډالرو قرارداد ورکړ. د اوسني قرارداد سره چې ټاکل شوې په اپريل ۲۰۱۰ کې ختم شي، AED-شمال سيګار ته وويل چې په شمالي او جنوبي افغانستان کې به د ANSF د مرکزونو لپاره دوه نوي قراردادونه ورکړل شي. د شمالي قرارداد ارزښت به تر ٤٥٠ مليونه ډالرو وي؛ په داسې حال کې چې جنوبي قرارداد به تر ۳۵۰ مليونه ډالرو وي. دواړه قراردادونه به د يو بنسټيز کال جمع څلورو غوراوي کلونو لپاره وي او د افغان کارګرانو لپاره به د فعاليتونو او سمبالولو يو روزنيز پروګرام لازمي کوي.

### سپارښتنې

متحده ايالاتو په کندز کې د ملي اردو د عملياتو د ملاتړ لپاره د دې مرکز د جوړولو د اوسنيو قراردادونو د ارزښت د ۷۲.۸ مليونه ډالرو څخه تر ٥١ مليونه ډالرو زيات ورکړي دي. د دې لپاره چې د کندز د مرکز جوړښتي استحکام يقيني کړای شي، سيګار سپارښتنه وکړه چې د USACE د قوماندې جنرال دې AED-شمال ته لارښوونه وکړي چې د دې ساختماني مسلو د حل کولو لپاره دوه اقدامات وکړي:

- ويلډنګونه دې ترميم کړي او په اغېزمنو شويو جوړښتونو کې دې د سټيل د ملاتړو وقايو خطره کمه کړي.
- د خاورې د ثبات مسله دې حل کړي او ودې ګوري چې د کوم سموونکي يا د خطرې د کمولو اقدامات کېدای شي (په ګډون د ځای د درجه بندۍ) د ډاين کروپ لپاره چې دا پروژه بشپړه کړي.

د دې لپاره چې د قرارداد د نظارت مسلې حل شي، سيګار دا سپارښتنه هم وکړه چې د USACE د قوماندې جنرال دې AED-شمال ته لارښوونه وکړي چې د کندز د مرکز د قرارداد دوسيې د USACE د لارښوونې سره سم سمبال کړای شي.

### د ادارې تبصرې

په هغه وخت چې دا خپرونه مطبعې ته لاړه، دې ادارو لا بيا هم د راپور په مسوده د رسمي تبصرو کولو لپاره چمتووالی نيوه. د پلټنې په اخري راپور کې د موندنو او سپارښتنو په ځواب کې تبصرې او ځواب موجود دی (www.sigar.mil).

### پلټنه ۱۰-۱۰: د ملي اردو د ګمبيري مرکز

په ګمبيري کې د افغان ملي اردو مرکز په عموم کې ښه جوړ شوی ښکاري، خو يو څه ساختماني مسلې حل کول غواړي

# د سیگار نظارت

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ اتکاء د دې هېواد ظرفیت داسې جوړول دي چې د ANSF په روزلو او تجهیزولو سره دا د ځان لپاره امنیت برابر کړي. له ۲۰۰۲ راهیسې، د متحده ایالاتو کانګرس د ASFF لپاره شاوخوا ۲۵ ملیارده ډالر اختصاص کړي دي، چې دا د بیا رغونې د ټولو ډالرو نږدې نیمايي دي، کوم چې د ANSF د روزنې، تجهیزونې، او دوامدارۍ مالي ملاتړ دی. د ASFF په هدف کې د داسې مرکزونو جوړول شامل دي چې د افغان ځواکونو د روزنې، ځای پر ځای کولو او ساتلو لپاره ضروري دي. اوسنې پلانونه غوښتنه کوي چې افغان ملي اردو (ANA) دې په جون ۲۰۰۹ کې د شاوخوا ۱۰۳۵۰۰ ځواک څخه تر اکتوبر ۲۰۱۱ پورې ۱۷۱۶۰۰ ته ورسول شي. د دې زیاتونو په پایله کې، د افغان ځواکونو د روزنې، ځای پر ځای کولو او ساتلو لپاره د اضافي اسانتیاو اړتیا ده. سیګار په ګمبیري کې د متحده ایالاتو په بودیجه د ملي اردو د جوړ شوي مرکز معاینه وکړه.

د ختیځ افغانستان د لغمان ولایت په ګمبیري کې دغه مرکز به د ملي اردو شاوخوا ۴۰۰۰ سرتېرو ته ځای ورکړي. په یو اټکل د متحده ایالاتو ۲۵۰ سرتېري به ملي اردو سره په دې مرکز کې شامل وي. NTM-A/ CSTC-A په دې درېو پړاوونو کې د دې مرکز د جوړولو، او همدراز د وسلو د روزنې د سلسلې لپاره ۱۲۸.۸ ملیونه ډالر ورکوي.

- ۱ پړاو: بیرکونه، د ذخیرې ځایونه، د خوړو ځای، او ورسره یو ځای د روزنیز ټیم ودانۍ چې د افغان ملي اردو د سرتېرو او ورسره د وصل متحده ایالاتو د روزنیز ټیم لپاره به جوړېږي
- ۲ پړاو: بیرکونه، یو د کنډکونو مرکز، او یو د مخابراتو د برقي ویش سیستم د افغان ملي اردو د سرتېرو او ورسره د وصل متحده ایالاتو د روزنیز ټیم لپاره
- ۳ پړاو: درې د افسرانو بیرکونه، شپږ لیست شوي د خلاص ټاپو بیرکونه، یو د کنډکونو مرکز، د وسلو ذخیره ځای، د عامه شیانو ګودام، او د فرقې د ملاتړ کنډک لپاره یو ماشیني حوض



**یو افغان قراردادي** د افغان ملي اردو د ګمبیري د مرکز د بهرنی دېوال شاوخوا یو موټر ضد خندق کارې چې د اوبو د ویالې په توګه هم کار کوي. (د سیګار انځور)



**په لغمان ولایت کې** د افغان ملي اردو د ګمبیري په مرکز کې د ځای تیارول او د خاورې درجه بندي روانه ده. (د سیګار انځور)

AED-شمال د ۱ او ۲ پړاو د سمبالښت او نظارت د پروګرام لپاره دوه د ټاکلي بيي قراردادونه ډاين کورپ انټرنیشنل ایل ایل سي ته ورکړې، او د ۳ پړاو لپاره يي درېمه د ټاکلي بيي يو قرارداد BYA انکارپوريشن ته. دي همداراز د وسلو د روزني لپاره یو د ټاکلي بيي قرارداد د لیکشور انجینرنګ سرویسز شرکت ته هم ورکړو. په هغه وخت چي سیګار دا پلټنه ترسره کوله، NTM-A/CSTC-A د ٤ پړاو قرارداد د ۲۰۱ لمبر قول اردو د مرکز د جوړولو لپاره چا ته نه و ورکړی.

**اهداف**

دي پلټني دري اهداف بحث کړل:

- دا معلومول چي ایا د ګمبیري مرکز د قراردادونو د شرایطو له مخي جوړ شوی که نه، په ګډون د وخت او لګښت.
- دا معلومول چي ایا USACE د مرکزي ترلاسه کولو د قاعدي، د USACE د شرطونو، او په قرارداد کي د نظارت د مادو له مخي د مرکز د جوړولو نظارت ترسره کړي که نه.
- د دي مرکز لپاره د NTM-A\CSTC-A د عمومي جواز او هغو پلانونو پېژندل چي دا يي د ANSF د مرکزونو د دوامداری لپاره لري.

**موندني**

1. سیګار وموندله چي ۱ پړاو نږدې ۲ کاله د ټاکلي وخت نه شاته دی، او ۲ پړاو ۱٤ میاشتي د ټاکلي وخت نه شاته دی. د روزني سلسله شاوخوا ٦ میاشتي د ټاکلي وخت نه شاته ده، خو ۳ پړاو د ټاکلي وخت نه مخکي دی. دا ټول پړاوونه او د روزني سلسله اوس ټاکل شوي چي تر سپتمبر ۲۰۱۰ بشپړ شي، د ۳.٤ ملیونه ډالرو د زیاتوالي سره – د ۱۲٦.٥ ملیونه ډالرو څخه ۱۲۹.۸ ملیونه ډالرو ته – ځکه چي AED-شمال د قراردادونو لپاره غوراوي ورکړي وو، په ګډون د روزني د سلسلي د بي ماینه کولو.
2. په عمومي ډول دا مرکز ښکاري چي ښه جوړ شوی، خو ځیني ساختماني مسلي حل کول غواړي. سیګار ولیدل چي کنکریټي بنیادونه او پخوانی ودانی د معیارونو له مخي جوړ شوي او په مرکز کي ضمني قراردادیانو د معیار د کنټرول سمي طریقي کارولي دي. خو، سیګار یو څه د ساختماني معیار مسلي هم وموندلي، په ګډون د سیلابونو د کنټرول د خرابو تدابیرو، نامناسبي درجه بندی، او د یو خرابېدونکي پول، او همداراز د وسلو د روزني د سلسلي په امنیت کي د مهمو مشکلاتو.
3. له سپتمبر ۲۰۰۹ راهیسي، د AED-شمال پرسونل د ۱، ۲، او ۳ پړاوونو، او همداراز د روزني د سلسلي لپاره هغه سمبالښت او نظارت برابره کړي چي د USACE لخوا لازمه وه. لدي نېټي وړاندي، امنیتي مسلو د AED-شمال د پرسونل مخه نیولي وه چي د کار ځای ته لاړ شي او ورځنی نظارت وکړي، او افغان کاروونکیو چي د AED-شمال لخوا په کار اخیستل شوي وو داسي کافي روزنه نه درلوده چي ضروري نظارت برابره کړي. د دي راپور ورکولو په موده کي، ډاين کورپ ته د پروژې د ځنډېدنو له امله دوه ځل په منځ کي د نااطمینانی درجه ورکړله، خو AED-شمال سیګار ته وویل چي دي شرکت له هغه وخته بیا سموونکي اقدامات کړي دي.
4. هر څو که په اکتوبر ۲۰۰٥ کي د دفاع د سکرتر دفتر ته د مالي کال ۲۰۰۸ د افغانستان د امنیتي بودیجي په غوښتنه کي د اسانتیاو د پرمختیا لپاره د ANA یو اساسي پلان جواز ته اشاره شوي وه، خو NTM-A/CSTC-A د دي سند یا د پلان جوړوني د نورو اسنادو یا داسي جواز نقل ونه موندلو چي د ANA د سرتېرو د ستراتیژیک ځای پر ځای کولو، د مرکزونو د موقعیتونو، یا د عملیاتو په اړه معلومات

ورکړي. د یوې داسي تازه حال ستراتیژۍ پرته چي د ملي اردو اوسنی غوښتني انځوروي، NTM-A/ CSTC-A د داسي مرکزونو د جوړولو خطره په سر اخلي چي د ملي اردو اړتیاوې نه پورې کوي. افغان دولت د ګمبیري د مرکز او یا د ANSF د نورو مرکزونو د هغو له بشپړېدو وروسته د دوامي ساتلو ظرفیت نلري. له ۲۰۰۲ راهیسي متحده ایالاتو او نړیوالي ټولني د ANA د مرکزونو د دوامداری لپاره بودیجي ورکړي دي. په ستمبر ۲۰۰٦ کي، AED-شمال د ANSF د مرکزونو لپاره د فعالیتونو او انتظام یو د ۲۰۰ ملیونه ډالرو په ارزښت قرارداد ورکړ. د اوسني قرارداد سره چي ټاکل شوي په اپریل ۲۰۱۰ کي ختم شي، AED-شمال سیګار ته وویل چي په شمالي او جنوبي افغانستان کي به د ANSF د مرکزونو لپاره دوه نوي قراردادونه ورکړل شي. د شمالي قرارداد ارزښت به تر ٤٥۰ ملیونه ډالرو وي؛ په داسي حال کي چي جنوبي قرارداد به تر ۳۵۰ ملیونه ډالرو وي. دواړه قراردادونه به د یو بنسټیز کال جمع څلورو غوراوي کلونو لپاره وي او د افغان کارګرانو لپاره به د فعالیتونو او سمبالولو یو روزنیز پروګرام لازمي کوي.

### سپارښتني

متحده ایالاتو په لغمان ولایت کي د ملي اردو د عملیاتو د ملاتړ لپاره د مرکزونو د جوړولو د دوو قراردادونو د ارزښت د ۱۲۹ ملیونه ډالرو څخه تر ۸۷ ملیونه ډالرو زیات ورکړي دي. د دې لپاره چي د ساختمان معیار یقیني کړای شي، سیګار سپارښتنه کړې چي د USACE د قوماندې جنرال دې AED-شمال ته لارښودنه وکړي چي د ساختماني مسلو د حل لپاره دا اقدامات وکړي:

- په موټر ضد خندق او د اوبو په ویاله کي دې د ځای راغونډېدل کم کړي.
- دا خبره دې یقیني کړي چي د ځای په سم ډول درجه بندي شوې.
- د مرکز د مرکزي دروازې سره نږدې پول دې ترمیم کړي.
- د وسلو د روزنې سلسله دې خوندي کړي.

### د اداري تبصرې

په هغه وخت چي دا خپرونه مطبعې ته لاړه، دې ادارو لا بیا هم د راپور په یوه مسوده د رسمي تبصرو کولو لپاره چمتووالی نیوه. د پلټني په اخري راپور کي د موندنو او سپارښتنو په ځواب کي د اداري تبصرې او ځواب موجود دی (www.sigar.mil).

### پلټنه ۱۰-۷: د توخ پول جوړونه

د توخ پول د جوړولو کار تقریباً بشپړ دی، خو د قرارداد ګڼ شمېر مسلې حل کول غواړي

د ولایتي بیا رغوني ټیمونه (پي ار ټیمونه) په ټول افغانستان کي ښې حکومتدارۍ ته په وده ورکولو او اقتصادي پرمختیا تېزولو کي د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ لپاره ډېر مهم دي. د دې لپاره چي د عاجلي بشري مرستي او بیا رغوني غوښتنو ته ځواب وویل شي، د متحده ایالاتو په مشرۍ پي ار ټیمونه زیاتره وخت د CERP څخه د DoD بودیجي کاروي. په سپتمبر ۲۰۰۷ کي د فراه PRT یو د ۱.۷۵ ملیونه ډالرو د CERP لخوا ورکړل شوي پیسي، د ټاکل شوې بیې قرارداد د ګڼ شمېر افغان شرکتونو یوې مجموعې ته ورکړ چي د فراه ښار شاوخوا ۲۸ مایله جنوب لویدیځ ته د توخ د کلي سره نږدې د فراه د سیند د پاسه یو ۳۰۰ میتره اوږد پول جوړ کړي. دا پول د دې هدف لپاره جوړ شوی و چي د فراه د مرکز او یو شمېر ولسوالیو ترمنځ لاره لنډه کړي. فراه ښار ته د سفر کم

شوی وخت به اقتصادي فعالیتونه تشویق کړي، افغان امنیتي ځواکونو ته به د ولسوالیو ښه لاسرسی برابر کړي، او دولتي خدمتونو ته به د افغانانو لاسرسی زیات کړي.

### اهداف

دې پلټنې لاندې اهداف درلودل:

- د راپور حالت معلومول.
- د قرارداد په اړه د PRT د سمبالښت ارزونه کول.
- افغان دولت ته د پول د سپارلو په لړ کې د PRT د پلانونو جاج اخیستل.

### موندنې

1. دا پول تر سپتمبر ۲۰۰۹ پرانیستل کېده، خو دا د یو کال لپاره ځنډول شوی. په مارچ ۲۰۰۸ کې PRT بدله شوه؛ یوه میاشت وروسته د نوي PRT قوماندان دا نتیجه راوویسته چې دا پول به د فراه خلکو ته کومه د پام وړ ګټه ورنکړي او دا هسې د پیسو بېځایه استعمال و. تر اګست ۲۰۰۸ پورې، هغو افغان شرکتونو ته چې د پول په جوړولو اخته وې ۵۷۶۰۰۰ ډالر او یا د قرارداد د ارزښت ۳۳% برخه ورکړل شوې وه خو د پول یوازې ۱% کار بشپړ شوی و. د PRT قوماندان سپارښتنه وکړه چې دا پروژه دې ودرول شي. په کندهار هوايي ډګر کې د متحده ایالاتو د ملي قوماندې جزوتام (USNCE)، کومه چې فراه کې د CERP په پروژو د نظارت مسوولیت په غاړه لري، د دې پروژې د ځېړنې امر ورکړ.



**افغان ساختماني کارکوونکي** هغه تونلونه د یو بل سره پیاوړي کوي چې د فراه په سیند د توخ پول د ملاتړ لپاره اچول کېږي. سیګار د دې پروژې د ځنډېدنې په تړاو د سمبالښت، نظارت او د معیار د کنټرول موندنې سند کړې دي. (د سیګار انځور)

په نومبر ۲۰۰۸ کې د USNCE قوماندان د فراه PRT ته لارښودنه وکړه چې دا پروژه بشپړه کړي او لا زيات نظارت ورته برابر کړي. د ۲۰۰۹ په پسرلي کې قراردادیانو د سېلابونو له امله د نور وخت غوښتنه وکړه، خو PRT د دې غوښتني ځواب تر هغه وخته ورنکړ تر څو چې سیګار يې په دسمبر ۲۰۰۹ کې پوښتنه وکړه. په دغه وخت کې پول ۸۰٪ بشپړ شوی و. د کار په ځای کې وروسته د نورو سېلابونو له امله د دې د بشپړولو نېټه نوره هم سپتمبر ۲۰۱۰ ته ځغول شوې. PRT د دې دواړو بدلونونو منظوري په داسې حال کې ورکړې چې د قرارداد په پېسو کې يې تغيير ندی راوستلی.

2. په جون ۲۰۰۹ کې د ځای د یوې معاينې پر مهال، سیګار داسې ستونزې وپېژندلې چې د دې پول د حفاظت او کار اخيستلو د ورتيا په اړه يې پوښتنې راولاړې کړې. ساختماني شرکتونو د ساختماني موادو مناسبې معاينې ندي ترسره کړې، په ګډون د کنکريټو، او د معيار د کنټرول هغه اونيز راپورونه يې ندي ورکړي چې په قرارداد کې غوښتل شوي وو.
3. د هغې ځمکې ملکيت چې د پله په لور ځي په واضح ډول نه دی اخيستل شوی. د هغې ځمکې حقونه چې د پله سره ځي به د پله د کارولو لپاره مهم وي.
4. یو شمېر مسلې ناحل پاتې دي چې هغه په تړاو د شګو او تيږو د ايستلو هغه ځای دي چې د پله ته د موادو وړلو لپاره جوړ شوی دی. په نومبر ۲۰۰۸ کې، د USNCE قوماندان پریکړه وکړه چې دا ځای د پول د پروژې يوه "رسمي" برخه ده او د افغان دولت مناسب اړوند مقام ته ورستون کړای شي. په دې ځای کې کار په مې ۲۰۰۸ کې پيل کړای شوی او له هغه وخته د دې پله د جوړولو او په ټول ولايت کې ډېرو نورو پروژو ته شګه او تيږې ورکوي. PRT د شګې او تيږو د دې ځای او ورسره د تړلي سامان حساب ندی کړی، کوم چې لږ تر لږه د ۳۰۰،۰۰۰ ډالرو د ارزښت دي.
5. د CERP لارښودونې د يې ار ټيمونو څخه غواړي چې پروژې دې د مناسبو اړوندو افغان مقاماتو له لارې وپېژندل او تطبيق کړای شي څو دا خبره يقيني شي چې دا پروژې دوام وموميږ؛ خو په دې خبره کې شک نشته چې د فراه د پله په پروژه کې افغان دولت ولايتي چارواکي تر هغې شريک نه وو چې سیګار په جون ۲۰۰۹ کې د کار د ځای څخه وکتل. په دسمبر ۲۰۰۹ کې، د PRT قوماندان سیګار ته وویل چې له اکتوبر ۲۰۰۹ راهيسي له پله څخه د PRT د هرې کتنې پر مهال د فراه د ولسواليو د عامه کارونو د رياست يو استازی موجود و. PRT دا خبره ياداشت کړې چې دې رياست کوښښ کاوه چې د بوديجو، تجهيزاتو، او پرسونل د کمي له امله د مرستي لپاره انجينيران ورکړي.
6. د فراه PRT د قرارداد دوسيې د CERP د لارښودنو له مخې منظم کړې ندي. د سیګار هره اندېښنه د اسنادو د نابشپړتيا له امله وه.

**سپارښتنې**

د دې يقيني کولو لپاره چې د متحده ايالاتو د سرچينو سم احتساب شوی وي او دا چې د توخ پول خوندي او د کارولو وړ وي، سیګار سپارښتنه وکړه چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ځواکونو (USFOR-A) قوماندان دې د فراه PRT ته لارښودنه وکړي چې په دې ځلورو برخو کې اقدام وکړي:

- د شګو او تيږو د ځای او ورسره د تړليو سامانونو مسووليت دې جوړ کړي څو د دې ځای دوامداري يقيني کړای شي.
- دا دې يقيني کړي چې د معيار د کنټرول او د معيار د يقيني کولو ضروري پروسيجرونه ترسره شوي او سم ثبت شوي دي، په ګډون د دې يقيني کولو چې ۱) د مهمو ساختماني موادو ازموينه بشپړه شوې، ۲) جوړښتي

کنکریټ د ډیزاین د غوښتنو سره سم دي، او ۳) د انجینیرۍ هغه اونیز راپورونه چې د معیار کنټرول او سموونکي اقدامات ثبتوي تیار شوي دي.

- دا ډې یقیني کړي چې د هغې ځمکې حقونه چې د پله سره ملګرې ده ثبت شوي او افغان دولت ته انتقال شوي.
- د قرارداد په دوسیو کې دې کمزورۍ هغسې جوړې کړي چې په تطبیقي لارښودنه کې یې غوښتنه شوې.

**د ادارې تبصرې**

USFOR-A د دې سپارښتنې سره موافقه وکړه چې دا خبره یقیني کړای شي چې د هغې ځمکې حقونه چې د پله سره ملګرې ده ثبت شوي او افغان دولت ته انتقال شي؛ دې د نورو سپارښتنو سره هم یو څه موافقه وکړه. USFOR-A یادابښت کړې چې د فراه PRT د افغان دولت د اندېښنو د حل کولو لپاره ګڼ شمېر اقدامات کړي وو؛ د بېلګې په توګه، USACE د پله د جوړولو د پروسیجرونو یوه ارزونه ترسره کړه او تصدیق یې کړه چې دا مناسب وو.

USFOR-A د USNCE د قوماندان د نومبر ۲۰۰۸ د دې پرېکړې سره موافقه ونکړه چې د شګې او تیږو د ایستلو ځای د قرارداد ضروري برخه ده او افغان دولت ته دې وسپارل شي. USFOR-A وویل چې دې د افغان ساختماني شرکتونو لپاره داسې کوم قانوني لزوم ندی لیدلی چې ګنې دغه ځای او سامان دې افغان دولت ته ورکړي. هر څو که د دې پلټنې په ټوله موده کې PRT دا خبره کوله چې د شګې او تیږو دغه ځای به افغان دولت ته ورکول کیږي، خو سیګار د USFOR-A خبره نه رد کوي.

## نوې پلټنې چې دې درې میاشتنۍ کې اعلان شوې

په دې درې میاشتنۍ کې، سیګار دوه نوې پلټنې پیل کړې. د خپل د فساد ضد پروګرام د برخې په توګه، سیګار د افغانستان د ملي پیوستون د پروګرام یوه پلټنه پیل کړه، کوم ته چې بودیجې د نړیوالو مرستندویانو لخوا ورکړل شوې. سیګار همداراز په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیا رغونې د هڅو د ملاتړ لپاره د ملکیانو د زیاتولو ارزونه هم کوي.

### په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیا رغونې د هڅې د مرستې لپاره د ملکي ماهرانو د ملاتړ د زیاتولو کتنه

سیګار د دې معاینې په حدودو کې د حکومت د احتساب د دفتر (GAO) سره اړیکې نیولې دي. GAO د دې معاینه کوي چې د متحده ایالاتو حکومت څرنګه خپل لوازمات برابروي؛ سیګار د زیاتو ملکیانو د ځای پر ځای کېدو د پروګرام د تطبیق ارزونه کوي. د سیګار پلټنه درې اهداف لري:

- د هغه پرسونل شمېر او ډول معلومول چې د ملکیانو د زیاتولو د تطبیق لپاره ورکړل شوی.
- د هغه حد ارزونه تر کومه چې په افغانستان کې د دې اضافي پرسونل د فعالیتي او ملاتړي ضرورت د مرستې لپاره لازمي سرچینې ورته برابرې کړای شوې.
- د هغه حد ارزونه تر کومه چې د کار په ساحه کې د ملکیان په اغېزمن ډول کارول کیږي تر څو ښودل شوي ستراتیژیک او پروګرامیک اهداف لاس ته راوړل شي، په ګډون د نظامي او نړیوالو شریکوالو سره د همکارۍ او د قرارداد د نظارت په مسوولیتونو کې مرسته کول.

### د افغانستان د ملي پیوستون د پروګرام کتنه

دا پلټنه د پلټنو د هغې سلسلې سره تړلې ده چې سیګار يې د دې لپاره ترسره کوي چې د افغان دولت د فساد ضد ورتیاو د ملاتړ لپاره د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو د مرستې معاینه وکړي. دا پلټنې د هغو داخلي کنټرولونو ارزونه هم کوي چې د افغانستان عامه اداري یې دې لپاره د ترسره کولو توان لري چې دا خبره یقیني کړي چې افغان دولت ته د بودیجو په شکل کې ورکړل شوې نړیواله مرسته د ضیاع، دوکې، او ناسم استعمال څخه په معقولیت ساتل شوې.

په ۲۰۰۳ کې، د افغانستان د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ملي پیوستون پروګرام جوړ کړ څو افغان ټولنو سره مرسته وکړي چې خپلې پرمختیايي پروژې په خپله وپیژني، پلان یې کړي، سمبال یې کړي، او نظارت یې وکړي. له هغې راوروسته، دې پروګرام له ۹۰۰ ملیونه ډالرو زیاتې نړیواله مرسته ترلاسه کړې او انفراسټرکچر د نږدې ۴۰،۰۰۰ کوچنیو پروژو د بشپړولو راپور یې ورکړی دی. دا پلټنه دوه اهداف لري:

- دې پروګرام سره د متحده ایالاتو او مرستندویانو مرسته معلومه کړي او هغه اقدامات وپیژني چې د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو لخوا د دې خبرې د یقینین کولو لپاره اخیستل شوي دي چې د هغوی د مالي ورکړو مناسب احتساب شوی، په مناسبه توګه یې پروګرام جوړ شوی، او په پای کې د هغو اهدافو لپاره استعمال شوي د کومو لپاره چې ورکړل شوي وې.
- دکلیودبیارغونې‌اوپراختیادوزارت‌ددې‌ظرفیت‌معاینه‌کول‌چې‌ددې‌پروګرام‌دپلان،سمبالونې،اونظارت‌کارکولی شي‌چې‌داسې‌معقوله‌یقینداري‌ورکړي‌چې‌مناسب‌داخلي‌کنټرولونه‌په‌کار‌اچول‌شوي‌او‌دپروګرام‌دټاکل‌شویو‌نتیجو د لاس ته راوړلو لپاره په سم ډول کارول کېږي.

## رواني پلټنې

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، سیګار په ۱۰ نورو پروژو کار کولو ته ادامه ورکړه، په ګډون د قرارداد د ارزونو، پروګرام د ارزونو، او د سیګار د فساد ضد پروګرام سره تړلیو کتنو. دا پلټنې د بیا رغونې هغه مسلې بحث کوي چې د امنیت، حکومتدارۍ، او پرمختیا سره تړلې دي.

### د قرارداد پلټنه: په فراه ولایت کې د ملي اردو د کنډک د چونۍ جوړونه

سیګار په فراه ولاي کې د متحده ایالاتو په بودیجه د ANA د کنډک د چونۍ د ۱ او ۲ پړاو د جوړولو لپاره د USACE د قراردادونو معاینه کوي. دا پلټنه دا اهداف لري:

- دا معلومول چې ایا دا چونۍ د قرارداد د شرایطو له مخې بشپړه شوې که نه، په ګډون د وخت او لګښت.
- دې ته کتنه کول چې د قرارداد د بدلونونو او د قراردادي د لګښتونو او پیسو لپاره کومه مرسته او اسناد داخل کړای شوي وو، او یا دا داخلونې د تطبیقي غوښتنو سره سمې وې که نه.
- د دې ارزونه کول چې ایا د متحده ایالاتو د قرارداد اداره او نظارت د تطبیقي غوښتنو سره سم دي او که نه.
- دا معلومول چې ایا افغان ملي اردو، چا چې د دې چونۍ ملکیت اخیستی، دا مرکزونه چلولی او ساتلی شي که نه.

### د معاشونو د هغې مرستې کتنه چې د متحده ایالاتو د دولتي ادارو لخوا افغان دولتي چاراواکیو ته ورکول کیږي

دا پلټنه د سیګار د هغې هڅې برخه ده چې د مهمو افغان دولتي ادارو د داخلي کنټرولونو او د احتساب د

پروسیجرونو ارزونه وکړي. دا د افغان دولت د چارواکیو لپاره د متحده ایالاتو د حکومت د معاش د تولو مرستو کتنه کوي، پرته د ANSF د نظامي چارواکیو. دا کتنه دا اهداف لري:

- د افغان دولت چاروکیو ته د متحده ایالاتو د حکومت د معاش ټوله مرسته معلومول.
- د معاشونو د ترلاسه کوونیکو او ورکړل شویو پیسو د معلومولو لپاره د داخلي کنټرولونو او نورو احتسابي میکانزمونو معاینه کول.
- د معاش د مرستې په ورکولو کې چیلنجونه، که کوم وي، معلومول.

## په افغانستان کې د بیا رغونې د قراردادونو د سترو ترلاسه کوونکیو معلومونه

سیګار دا پلټنه د متحده ایالاتو د بیا رغونې د تر ټولو غټو قراردادونو د پېژندلو او تشریح کولو لپاره پیل کړې؛ دا معلومات به د سیګار د قرارداد په پلټنه کې د لارښودنې مرسته وکړي. د حکومت د احتساب دفتر (GAO) سیګار ته د هغه ډاټابیس لاسرسی ورکړی چې دې د مالي کال ۲۰۰۷، مالي کال ۲۰۰۸، او د مالي کال ۲۰۰۹ د لومړنیو شپږو میاشتو پر مهال د هغو راپورونو په تیارولو کې راجوړ کړی دی چې افغانستان کې په قرارداد کولو بحث کوي. سیګار د GAO ډاټا د دې لپاره تحلیل کړې چې د دې مودې پر مهال د مرستو د ورکړو په حساب سره د مرستو ستر ترلاسه کوونکي وپېژندل او درجه بندي یې وشي. دا پلټنه د دې لپاره جوړه شوې چې لاندې درې اهداف بشپړ کړي:

- دا خبره یقیني کړي چې مرسته ترلاسه کوونکي او ورسره تړلي قراردادونه چې پېژندل شوي د افغانستان د بیا رغونې لپاره دي (نه د متحده ایالاتو د حضور د ملاتړ لپاره).
- د پېژندل شویو قراردادونو ارزښت او هدف معلومول.
- په مالي کال ۲۰۰۹ کې د هر راپور شوي قرارداد ټولې ورکړل شوې پیسې او لګښتونه ثبتول.

سیګار به د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، او نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري سره د دې لپاره کار کوي چې داسې ستر قراردادیان معلوم کړي چې د افغانستان د بیا رغونې په مرسته کې یې فعال او مهم قراردادونه اخیستي او د GAO په ډاټابیس کې نه ښکاري. د دې لپاره چې نقل پکې ونشي، سیګار دا کار د مالي کال ۲۰۰۹ د تېرو شپږو میاشتو لپاره د پیسو د ورکړو په لړ کې د GAO د روان کار سره مربوط کړی دی.

## په افغانستان کې د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو د ټاکنو د تیارۍ او سرته رسولو لپاره د متحده ایالاتو د مرستو کتنه

دا پلټنه، چې د ټولټاکنو په پروسه د راپورونو د سلسلې دریمه ده، د ۲۰۰۹ د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو او هغو اقداماتو په اړه د خپلواکو ارزونو کتنه کوي چې د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستندویانو لخوا د ۲۰۱۰ د ټولټاکنو د ملاتړ لپاره اخیستل شوي دي. دا کتنه به هغه تجربې وپېژني چې د ۲۰۰۹ د ټولټاکنو او هغو اقداماتو څخه زده شوي چې د دې لپاره اخیستل شوي وو چې د انتخابي ریفورمونو ترجیحاتو او مسلو ته ځواب ووایي.

## په افغانستان کې د بیا رغونې د پروګرامونو لپاره د امنیت برابرولو لپاره د متحده ایالاتو د ادارو لخوا د قراردادیانو د استعمال کتنه

سیګار دا پلټنه د دې لپاره ترسره کوي چې د هغو قراردادیانو شمیر او اندازه معلومه کړي چې په افغانستان کې د

امنيتي خدمتونو لپاره په کار اچول شوي دي. دا پلټنه دا اهداف لري:

- د هغو امنيتي قراردادیانو او پرسونل شمېره معلومول چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د مرکزي ادارو لپاره کار کوي.
- د امنيتي قراردادیانو او ضمني قراردادیانو په اړه د ادارو د سمبالښت او نظارت ارزونه کول.
- دا پریکړه کول چې GAO او د عمومي پلټونکو ټولنې تر کومې کچې پورې د شخصي امنيتي قراردادونو پلټنې ترسره کړې دي

## د قرارداد پلټنه: د ګلوبل سټراټیجیز انکارپوریشن لخوا د بیا رغونې د امنيتي مرستې خدمتونه

دا پلټنه، کومه چې د سیګار لخوا په افغانستان کې د شخصي امنيتي قراردادیانو په اړه د پلټنې سره تړلې ده، د دې خبرې معاینه کوي چې ایا USACE هغه امنيتي خدمتونه په معقول لګښت لاس ته راوړل چې دې د قراردادي څخه ورته اړتیا لرله. دا پلټنه دا اهداف لري:

- دا معلومول چې ایا د قرارداد غوښتنې د قرارداد د شرایطو سره سم بشپړېږي که نه، په ګډون د وخت او لګښت.
- د دې ارزونه کول چې د قرارداد د بدلونونو او د قراردادي د لګښتونو او ورکړل شویو پیسو لپاره کوم ملاتړي اسناد داخل کړای شوي وو، او ایا دا د تطبیقي غوښتنو سره سم وو.
- د دې معلومول چې ایا د متحده ایالاتو د قرارداد اداره او نظارت د تطبیقي غوښتنو سره سم دي او که نه.
- دا معلومول چې ایا د ستر قراردادي لخوا کوم ضمني شخصي امنيتي قراردادیان کارول شوي وو او که نه، او که داسې شوي وي نو، ایا د ستر قراردادي غوښتنې په ضمني قرارداد کې شاملې کړای شوې وې که نه.

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو د کاري وړتیاو د ارزولو سیستم

سیګار دا پلټنه د دې لپاره ترسره کوي چې د کاري وړتیا د هغو درجو د اعتبار جاج واخلي چې د ANSF د کاري وړتیاو د پیمانه کولو لپاره کارول کېږي. دا پلټنه دا اهداف لري:

- هغه معیارونه پېژندل چې د ANSF د کاري وړتیاو د پیمانه کولو او تصدیقولو لپاره کارول شوي.
- هغه پراخوالی ارزیابي کړي چې د هغوی په اساس د چمتوالي د ارزیابي میتود د افغان ملي اردو (ANA) او افغان ملي پولیس (ANP) تر منځ او د هغوی په دننه کې سره توپیر لري.
- د هغې درجې معلومول چې د وړتیا د اندازه کولو سیستم د افغان د ملي امنيتي ځواکونو د وړتیاوو په اړه د باور وړ معلومات په لاس ورکوي
- د هغه حد معلومول تر کومه چې چیلنجونو د متحده ایالاتو د حکومت د دې توان مخه نیولې چې د ANSF د کاري وړتیاو ارزونه وکړي.

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) د پرسونل د سمبالښت کتنه

سیګار دا پلټنه د دې لپاره ترسره کوي چې د هغه حد جاج واخلي تر کومه چې ANSF د پرسونل د حساب لپاره دقیق سیستمونه جوړ کړي دي. دا د څلورو عناصرو ارزونه کوي:

- هغه کچه چې د هغې په اساس د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو پرسونل شمېرل شوي او تصدیق شوي دي
- د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستندویانو لخوا د ANSF د پرسونل د شمیر سیستمونو د ملاتړ لپاره ترسره شوي اقدامات

- د پرسونل د شمیرلو لپاره د عادي سیستمونو د بشپړولو او څارني سره اړوند ننګوني
- د هغې کچې معلومول چې د پرسونل ناسمو شمیرو له اضافي ننګونو سره مخ کړي دي، په ټګي سره د ANSF د معاشونو د تولولو په شمول

### د کندهار هوایي ډګر څخه بهر د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د ګډې سیمییزې ودانۍ د جوړولو د قرارداد کتنه

سیګار د ANSF په ګډه سیمییزه ودانۍ کې د متحده ایالاتو په مرسته د جوړو شویو مرکزونو د قراردادونو معاینه کوي. دغه مرکزونه بشپړېدو ته نږدې دي. دا پلټنه دا اهداف لري:

- دا معلومول چې ایا د انفراستیرکچر پروژې د قراداد د شرطونو سره سم بشپړیږي که نه، په ګډون د وخت او لګښت.
- د دې ارزونه کول چې د قرارداد د بدلونونو او د قراردادي د لګښتونو او ورکړل شویو پېسو لپاره کوم ملاتړي اسناد داخل کړای شوي وو، او ایا دا د تطبیقي غوښتنو سره سم وو.
- د دې معلومول چې ایا د متحده ایالاتو د قرارداد اداره او نظارت د تطبیقي غوښتنو سره سم دي.
- دا معلومول چې د ANA لپاره کوم پلانونه موجود دي چې د دغو مرکزونو ملکیت په لاس کې واخلي، انتظام یې سمبال کړي، او د دوامدارۍ لګښتونه یې ورکړي.

### د افغاني ښځو او نجونو لپاره د بیل شویو بودیجو د کارولو کتنه

سیګار دا پلټنه ترسره کوي چې دا خبره څرګنده کړي چې د افغاني ښځو او نجونو لپاره بیل شوي بودیجې څه ډول کارول شوي دي او دا چې د دې بودیجو استعمال د متحده ایالاتو له قانوني مقرراتو او غوښتنو سره تر کومې کچې مطابقت درلود. سیګار همدا رنګه دا خبره ارزیابي کوي چې اداري د دې بودیجو په کارولو سره د پروګرامونو اغیزمنتوب څه ډول اندازه کوي، او دا چې د هغوی د د دې پروګرامونو د جاري ساتلو څخه د اطمینان ترلاسه کولو لپاره څه ترسره کوي.

## ساینسي پلټنه

د دې کال په سر کې سیګار د ساینسي پلټنې یو داسې پروګرام پیل کړ چې د ډاټا د کتلو داسې تخنیکونه کاروي چې د پیسو په ورکړو کې هغه توپیرونه پیژني کوم چې کولی شي دوکه او ضیاع معلوم کړي، او همداراز خراب داخلي کنټرولونه او د احتساب نشتوالی هم. په دې درې میاشتنۍ کې، سیګار د ASFF لپاره د ډاټا د راغونډولو پروسه پیل کړه. ASFF ته د مئ په ۱۱مه په عامه قانون ۱۰۹-۱۳ کې واک ورکړای شوی د "دفاع، د تروریزم په وړاندې نړیوالې جګړې، سونامي مرستې، ۲۰۰۵، لپاره د بیړني ضمیمه یې اختصاصونو د قانون." دې قانون ASFF لپاره د ابتدایي بودیجې اختصاص د تجهیزاتو، اکمالاتو، خدمتونو، او روزنې، او همداراز د ANSF د مرکزونو د ترمیم، نوي کولو، او جوړولو لپاره وکړ. سیګار به د مالي کال ۲۰۰۵ نه تر مالي کال ۲۰۰۹ ASFF سره د اړوندو اختصاصونو او لګښتونو د ډاټا یوه تفصیلي معاینه ترسره کوي. د دې مودې پر مهال، کانګرس تقریباً ۱۸.٦۷ ملیارده ډالر ASFF ته ورکړي. دا ساینسي پلټنه به د دې په چارو کې ګډوډۍ وپیژني، په ګډون د پیسو د غلطو ورکړو، نامعلومو مرسته ترلاسه کوونکیو، او د پیسو د لیږدولو په فعالیت کې د توپیرونو.

## پلان شوې پلټنې

سیګار به د یو غټ شمېر پلټنو ترسره کولو ته ادامه ورکړي، په ګډون د بیا رغونې د هڅې د بېلابېلو اړخونو د قرارداد او کاري ورتیا د پلټنو. سیګار به د اضافي پلټونکو په نیولو او د روان کار په بشپړولو سره نوې پلټنې هم پیل کړي. سیګار لاندې پلټنې د ترجیحاتو څخه ګڼي او پلان لري چې په راتلونکو شپږو میاشتو کې پرې کار پیل کړي:

- د افغانستان د زرعي سکټور د مرستې لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستندویانو د پروګرامونو یوه کتنه
- اکمالاتو لپاره د ANSF د لوژیستیکي سیستم یوه کتنه
- MPRI سره د متحده ایالاتو د قراردادونو د قرارداد د کاري ورتیا، لګښت او د اداري د نظارت یوه کتنه
- په افغانستان کې نړیوالې اسانتیا او پرمختیا سره د متحده ایالاتو د حکومت د همکارۍ د موافقې د کاري ورتیا، لګښت او د اداري د نظارت یوه کتنه
- د متحده ایالاتو د هوایي ځواک لخوا د انفراسترکچر د پروژو لپاره د بیا رغونې د پروژو د استعمال یوه کتنه
- د قراردادي د بیمې د دعوو یوه کتنه

## څېړنې

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، سیګار ۱۹ جنایي قضیې پرانستلې او داسې ګڼې څېړنې یې ترسره کړې چې نتیجه یې د ۲ ملیونه نه زیاتو ډالرو راستنول شوه. د ۲۰۱۰ د جنوري د ۳۰مې د راپور څخه راپدېخوا، سیګار ٤ اضافي څېړونکي په کار ګومارلي، چې د څېړنې ټوله عمله یې ١٤ تنو ته رسولې. سیګار ۳ نور څېړونکي په افغانستان کې ځای پر ځای کړل او اوس ۷ څېړونکي په افغانستان کې په ٤ ځایونو کې لري – په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت کې، په کمپ ایګرز کې، په باګرام هوایي ډګر کې، او په کندهار هوایي ډګر کې.

انځور ۲.۱

تر څېړنې لاندې قضیې د ډول په اساس




سرچینه: د سیګار د څېړنو ریاست، 4\13\2010.

## د قضیو حالت

د جنوري ۲۰۱۰ د درې میاشتنې راپور څخه راپدېخوا، سیګار ۱۹ جنایي قضیې پرانستلې او ۱۰ یې وتړلې، ځکه چې زیاترې یې د محاکمې ور نه وې.[13] سیګار دا مهال د ٤۲ قضیو څېړنه کوي، چې اساسي تمرکز یې د قرارداد په دوکه، رشوت، د دوکې لاس ته راوړلو دی، لکه چې په انځور ۲.۱ کې ښودل شوي.

### د دوکې او غلا څېړنه د ۱.۹ ملیونه ډالرو د راستنولو سبب شوه

د یوې جنایي څېړنې په نتیجه کې د سیګار سره په شریکه ترسره شوې،د متحده ایالاتو د پوځ د جنایي څېړنې قوماندې (CID)، او د قرارداد د فساد نړیوال هدف ځواک (USACE ، ICCTF) یوه د "پرېکړې موندنه" او رسمي غوښتنه خپره کړه چې د یو افغان شرکت او یو کوریایي شرکت څخه یې وغوښتل چې د متحده ایالاتو حکومت ته ۱.۹ ملیونه ډالر بېرته ورکړي. څېړونکو معلومه کړه چې دې شرکتونو درواغ دعوې کړې وې او د رغونې د یو ځای نه یې د متحده ایالاتو د حکومت شتمنۍ غلا کړې وې. سیګار د ICCTF له لارې نورې داسې څېړنې ترسره کوي چې دا خبره یقیني کړي چې اړوندې جنایي عدلي پروسې دننه د تورنو سره حساب وشي.

### په چارو کې د ګډوډیو معلومېده د ۲٤۰،۰۰۰ ډالرو د راستنولو سبب شو

د سیګار، د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر، او د ICCTF لخوا یوه څېړنه د متحده ایالاتو د یو قراردادي لخوا د تقریباً ۲٤۰،۰۰۰ ډالرو د راستنولو سبب شوه چې لامل یې د پټو پیسو ورکولو او رشوت یو سکیم

و چې د هغې په وجه د قرارداد زیاتې پیسې او درواغ کریډیتونه ورکړل شوي وو. قراردادي ومنله چې دا ګډوډۍ رامنځته شوې وې، او څېړنه لا روانه ده.

## څېړنې د تېلو او ترانسپورت په قراردادونو کې رشوتونه څرګند کړل

د ICCTF د غړیو یوې ګډې څېړنې، چې سیګار او CID پکې شامل وو، څرګنده کړه چې د متحده ایالاتو د بحریې یو غړي چې په کابل کې د متحده ایالاتو د قراردادونو په دفتر کې کار کاوه د دې لپاره رشوت قبول کړی و چې د متحده ایالاتو د تېلو او رغونې قراردادونه ورکړي. د بحریې افسر ومنله چې په افغانستان کې یې د ترانسپورت د قراردادیانو څخه ۱۰،۰۰۰ ډالر ترلاسه کړي، د قراردادونو په ورکولو کې یې د رشوت کوونکو طرفداري کړې، د خپلو عملونو د پټولو لپاره یې څېړونکو ته غلط بیانونه ورکړي، او ۱۰،۰۰۰ ډالر یې د یو داسې قراردادي څخه ترلاسه کړي چې په تجارتي ټرکونو کې یې لار درلود. څېړونکو دغه ۱۰،۰۰۰ ډالر رشوت وموند، او د متحده ایالاتو بحریې خپل ډسپلنري اقدام کړی دی.

## د سیګار ځانګړي شمیره

د تماس شمېره اوس هم د سیګار د څېړونکي ټیم لپاره د یوې ګټورې آلې په توګه کار کوي. په دې درې میاشتنۍ کې، سیګار په دې شمېره د ترلاسه شویو ۳۵ شکایتونو څخه د ۱۷ څېړنه پیل کړه. سیګار ۸ شکایتونه نورو ادارو ته ولېږل او ۹ نور چې څېړنې ته یې اړتیا نه وه وتړل. سیګار د یوه شکایت کتنه اوس هم کوي.

## د سیګار بودیجه

کانګرس له جولای ۲۰۰۸ څخه سیګار ته ٤٦.۲ ملیونه ډالر اختصاص کړي، لکه چې په چوکاټ ۲.۱ کې ښودل شوي. سیګار د مالي کال ۲۰۱۱ لپاره د ۳۵.٦ ملیونه ډالرو د بودیجې غوښتنه ورکړې چې هغه فعالیتي لګښتونه پوره کړي چې د هغو ۵۱.۵ ملیارده ډالرو د څارلو او مقصدي نظارت لپاره ورته اړتیا لري چې د افغانستان د

چوکاټ ۲.۱

د سیګار د بودیجې لنډیز (په میلیونونو ډالر)

| اختصاصي | عمومي قانون | اختصاص شوي | ورکړل شوي | له وخته تیرې | مبلغ |
|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره ضمیمه یي اختصاصونه، H.R. 2642 | پی. ایل. ۱۱۰-۲۵۲ | 6/30/2008 | 6/30/2008 | 9/30/2009 | $2.0 |
| د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره ضمیمه یي اختصاصونه، H.R. 2642 | پی. ایل. ۱۱۰-۲۵۲ | 6/30/2008 | 10/1/2008 | 9/30/2009 | $5.0 |
| د غښتلي امنیت، د مصیبت مرستي، او دوامداره اختصاصونو قانون، ۲۰۰۹ | پی. ایل. ۱۱۰-۳۲۹ | 9/30/2008 | 9/30/2008 | 9/30/2010 | $9.0 |
| د ۲۰۰۹ مالي کال لپاره ضمیمه یي اختصاصونه، H.R. 2346 | پی. ایل. ۱۱۱-۳۲ | 6/24/2009 | 6/24/2009 | 9/30/2010 | $7.2 |
| د پیاوړي اختصاصونو قانون، ۲۰۱۰، H.R. 3288 | پی. ایل. ۱۱۱-۱۱۷ | 12/16/2009 | 10/1/2009 | 9/30/2010 | $23.0 |
| **ټول** | | | | | **$46.2** |

بیا رغوني لپاره اختصاص شوې دي. د بودیجې دا غوښتنه به د سیګار لپاره سرچیني برابرې کړي چې هغه ۱۳۲ چوکۍ په بشپړه ډول ډکې کړي کومې چې د دې لپاره ضروري پېژندل شوې چې د کانګرس هغه واک پوره کړي چې د متحده ایالاتو د بیا رغوني په بودیجو کې د دوکې، ضیاع، او ناسم استعمال د معلومولو او مخنیوي لپاره پلټنې او څېړنې ترسره کړي.

## د فساد ضد پروګرام لپاره د بودیجې غوښتنه

سیګار د مالي کال ۲۰۱۰ او مالي کال ۲۰۱۱ لپاره د ۱۴ ملیونه ډالرو یوه اضافي غوښتنه ورکړې چې خپل د فساد ضد پلټنې پروګرام پراخ کړي. دا پروګرام د فساد پر وړاندې خپله مبارزه کې د دوو مهمو عناصرو ارزونه کوي:

- متحده ایالات او نور مرستندویه هېوادونه د دې لپاره څه کوي چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ادارو داسې ظرفیت جوړ کړي چې فساد معلوم کړي او د قانون حاکمیت پیاوړی کړي
- هغه حد تر کومه چې بېلابېلې ملي او ولایتي اداري داسې سیسټمونه په لاره اچولي چې د مرستندویه بودیجو سم حساب وکړي

سیګار د دې فساد ضد پروګرام د برخې په توګه پنځه پلټنې خپرې کړې دي.

اداري فساد په ټول افغانستان کې د یو خور، پوخ، او سیستماتیک مشکل په توګه پېژندل شوی دی. لدې امله چې اداري فساد د دولت مشروعیت له منځه وړي او د پرمختیا لپاره نړیوالو هڅو ته ضربه رسوي، نو د متحده ایالاتو نوې ستراتیژۍ دا خپله ترجیح کړې چې د افغان دولت ظرفیت داسې قوي کړي چې د فساد پر ضد کار وکړي. دا نوې ستراتیژي همدارازغوښتنه کوي چې د متحده ایالاتو نورې مرستې دې د افغان دولت د ادارو له لارې ورکړل شي. د دې ستراتیژۍ بریالیتوب به تر ډېره حده د هغو ادارو په ظرفیت وي چې د مرستندویانو بودیجې سمبال کړي او هغه د ضیاع، دوکې، ناسم استعمال او د فساد د نورو بڼو نه وساتي. دا اضافي بودیجې به سیګار په دې وتوانوي چې په مالي کال ۲۰۱۰ او مالي کال ۲۰۱۱ کې په ملي او ولایتي کچو د افغان ادارو په اړه پلټنې ترسره کړي. دا پلټنې به د متحده ایالاتو د هغو فیصله کوونکیو لپاره یوه مهمه آله وي چې د نوې ستراتیژۍ د تطبیقولو مسوولیت پر غاړه لري.

## د سیګار کارکوونکي

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، سیګار په مالي کال ۲۰۱۱ کې د ۱۳۲ تنه کارکوونکو د لرلو په لور پرمختګ وکړ. په هغه وخت کې چې دا راپور مطبعې ته تللو، سیګار ۷۹ مامورین لرل: په دوی کې ۷۴ د ۳۱۶۱ د واک لاندې نیول شوي، ۳ د دفاع وزارت په تفصیل، او ۲ په کابل کې د بهرني خدمت اتباع.  دا شمېرې د ۱۲ نویو مامورینو او د کارکوونکو د کمزورۍ څخه د لیرې وتلو انځور وړاندې کوي.

سیګار یو دفتر په کابل او درې د افغانستان په دربو نورو ځایونو کې لري. په هغه وخت کې چې دا راپور مطبعې ته تللو، سیګار د کارکوونکو ۲۲ غړي په افغانستان کې لرل. سیګار په عارضي توګه د عملي لېږلو ته ادامه ورکوي چې پلټنې او څېړنې ترسره کړي.

**افغان بیا جوړونه**
ساختماني کارکوونکي د وردک ولایت په یو ښوونځي کې د انفراسټرکچر د بهترۍ د یوې پروژې ملبه لیرې کوي.
(د متحده ایالاتو د پوځ انځور، روسل ګلخرسټ)

# 3 د بيارغوني وروستي معلومات



"زمونږ تمرکز د افغان ادارو د ظرفیت په جوړولو دی چې د هغې خطرې په وړاندې ودرېږي او له منځه یې یوسي چې د بنسټپالنې لخوا رامخې ته شوې، او چې د لوړ اغېز اقتصادي مرسته ورسوي – په ځانګړي ډول د کرنې په سکټور کې – تر څو کارونه پېدا کړي، هغه بودیجې کمې کړي چې طالبان یې د کوکنارو د کر څخه ترلاسه کوي، او یاغیان د جګړې د مېدان څخه وباسي."

- افغانستان او پاکستان د سیمییز ثبات ستراتیژي

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، "د افغانستان او پاکستان د سیمییز ثبات تازه ستراتیژي،" ٢\٢٤\٢٠١٠.

# عمومي کتنه

دریمه برخه د دې راپور ورکولو په موده کې د افغانستان یوه بشپړه کتنه وړاندې کوي. د لاسته راوړنو، ننګونو، او محلي پروګرامونو په اړه تازه حال د هغو لاسته راوړنو او ننګونو یوه پراخه نقشه وړاندې کوي چې د افغانستان د بیا رغونې هڅې ورسره مخ دي. دا برخه په پنځو نورو ضمني برخو ویشل شوې ده: د بودیجو حالت؛ امنیت؛ حکومتداري، د قانون حاکمیت، او بشري حقونه؛ اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا؛ او د مخدره موادو ضد هڅې. د امنیت، حکومتدارۍ، او اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا ضمني برخې هغه درې ستنې انځوروي چې د ۲۰۰۸ د افغانستان د ملي پرمختیا په ستراتیژۍ کې ټاکل شوې وې. د مخدره موادو ضد ضمني برخه په هغه یوه مهمه مسله تمرکز کوي چې په دغه ستراتیژۍ کې پېژندل شوې وه.

## موضوعات

دریمه برخه پنځه پراخه موضوعات بحث کوي: د بودیجو تاریخي او اوسني معلومات، امنیتي شرایط، د حکومدارۍ فعالیتونه، د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا پروګرامونه، او د مخدره موادو ضد اقدامات. درې میاشتنۍ ښکارونې چې په دې ټوله برخه کې خورې ورې دي د یوې مشخصې ضمني برخې دننه د بیا رغونې د هڅو په تړاو یوه واحده موضوع په نښه کوي.

د بودیجو حالت ضمني برخه هغو پیسو په اړه جامع بحث وړاندې کوي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره یې ژمنه شوې او لګول شوې دي. دا همداراز د متحده ایالاتو په سترو بودیجو، نړیوالو ورکړو، او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د بودیجو په اړه مشخص معلومات شاملوي.

د امنیت ضمني برخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو د فعالیتونو په اړه تفصیلات ورکوي، په ګډون د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو، او په افغانستان کې د امنیت د بهترولو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو هڅو بحث کوي. د درې میاشتنۍ مهم ټکي په نویو پروګرامونو تمرکز کوي: د ټولنې پر بنسټ امنیت او بیاراخیلونه.

د حکومتدارۍ، د قانون د حاکمیت، او د بشري حقونو ضمني برخه د ښې حکومتدارۍ د لاس ته راوړلو په لور د افغان دولت د هڅو او پرمختګ یوه عمومي کتنه وړاندې کوي. دا د ټولټاکنو، عامه ادارې، عدالت، او د محبسونو په ریفورمونو، د فساد ضد هڅو، او د بشري حقونو په اړخونو، په ګډون د جنسي برابرۍ او مذهبي ازادۍ په برخو کې د پرمختګ عمومي کتنه وړاندې کوي.

د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا ضمني برخه په هغو برخو کې د بیا رغونې په فعالیتونو باندې تمرکز کوي چې د زراعت او ترانسپورت نه تر روغتیایي خدمتونو رسیږي. دا د اقتصاد د حالت یو انځور او د هغه پرمختګ تازه حال ورکوي چې د اساسي خدمتونو په رسولو، د زراعتي لاسته راوړنې په بهترولو، او د خصوصي سکټور په وده کې شوی دی. یوه درې میاشتنۍ ښکارونه د قیمتي کانو تولید په افغنستان کې د اقتصادي ودې د مهمې سرچینې په توګه بحث کوي.

د مخدره موادو په خلاف د جګړې ضمني برخه د افغانستان په اقتصاد کې د مخدره موادو د اثر د کمولو هڅې تشریح کوي. دا د کوکنارو نه پاکو ولایتونو په ترلاسه کولو، په متبادلو پرمختیایي پروګرامونو، او د مخدره موادو خلاف کار د ترسره کولو لپاره د ظرفیت په لوړولو کې د پرمختګ تازه حال وړاندې کوي. دا ضمني برخه د

متحده ایالاتو او افغانستان هغه ګډې هڅې ښکاره کوي چي د مخدره موادو پر خلاف یې کړې دي او هغه ننګونې بحث کوي چي د دې هڅو د بریالیتوب په لاره کې خنډ دي. یوه درې میاشتنی ښکارونه په افغانستان کې د نشه يي توکيو د کارولو په اړه معلومات ورکوي.

## کړندود (میتودولوژي)

دريمه برخه د عامه سرچينو د معلوماتو او ډاټا د کارولو تر څنګ د هغو اضافي معلوماتو نه جوړه شوې ده چې د متحده ایالاتو د ادارو لخوا ورکړل شوي دي. استثنا له هغو ځايونو چېرته چي د سيګار د پلټنو يا تحقيقاتو مشخصي حوالې ورکړل شوي، سيګار د دې ډاټا پلټنه نده کړې؛ دا معلومات د سيګار د نظرونو څرګندونه نه کوي. ټوله ډاټا او معلومات د متن په پايليکونو او يا د چوکاټونو او شميرو د انځورونو په يادونو کې هغې ادارې ته نسبت شوي دي کوم چې یې راپور ورکړی دی. د دې درې میاشتنی پر مهال د سيګار د پلټنو او تحقيقاتو په اړه د يو بشپړ بحث لپاره وګورئ برخه ۲.

### د معلوماتو پوښتنه

د معلوماتو پوښتني د پوښتنو يوه لړی ده چې د متحده ایالاتو د ادارو څخه د بيا رغونې په پروګرامونو، او د افغانستان په چارو کې د هغوی د ګډون يا ورکړو په اړه ترې شوې دي. د متحده ایالاتو په هغو ادارو کې چې د دې درې میاشتني راپور د معلوماتو په پوښتنو کې يې ګډون کړی دا لاندې شامل دي:

- د بهرنيو چارو وزارت
- د دفاع وزارت
- د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ایالاتو اداره
- د خزانې وزارت
- د سمبالښت او بوديجې دفتر
- د سمندرپورې خصوصي پانګه اچونې کارپوريشن

د دې راپور يوه لومړنۍ مسوده له خپرولو وړاندې دغو ادارو ته ورکړل شوې وه څو اړوندې ادارې د دې برخې منځپانګه تاييد او تصحيح کړي.

### د پرانستې-سرچينې تحقيق

د پرانستې-سرچينې تحقيق د اتباري سرچينو څخه ترلاسه شوی ډېره تازه، او په عامه ډول ترلاسه کېدونکې ډاټا اتکاء کوي. د هغو سرچينو چي په دې درې میاشتني راپور کې کارول شوي په يوه نمايند ليست کې لاندې سرچينې شامل دي:

- د متحده ایالاتو هغه ادارې چې د معلوماتو په پوښتنه کې استازيتوب ورکړل شوی
- د امنيت نړيوال مرستندويه ځواک (ايساف)
- د حکومت د احتساب دفتر
- ملګري ملتونه (او اړوندې څانګې)
- د پيسو نړيوال صندوق
- نړيوال بانک
- د افغان دولت وزارتونه او د افغان دولت نور سازمانونه

د پرانستې-سرچينې زیاتره تحقيق د دې راپور په ابتدايي مسوده کې شامل کړای شوی و کومه چې د معلوماتو د پوښتني ادارو ته د کتنې لپاره له خپرېدو مخکې ورکړای شوی وه.

# په ګرافونو پوهېدنه

ټول انځورونه او چوکاټونه د دې درې میاشتنۍ لپاره د معلوماتو راپور ورکوي، په استثنا د هغو ځایونو چې په سرلیکونو او یادونو کې پېژندل شوي.

## د ولایتونو نقشې

د ولایتونو نقشې هغه ځایونه ښیي چې په متن کې بحث شوي. هر رنګ د ډاټا د یو سیټ استازیتوب کوي، چې په تشریح کې ښودل شوی؛ توربخن رنګونه زیاتې شمېرې ښیي، سپین بخن رنګونه کمې شمېرې ښیي.




## د پټې چارټونه

دا راپور د یو شمېر هغو بودیجو او پروژو څخه د ډالرو پر ارزښت بحث کوي چې د ملیونونو څخه ملیاردونو ته رسېږي. د دې شمېرو په ګرافونو کې د دقیق استازیتوب د وړاندې کولو لپاره، د ګرافونو ځینې پټې ماتې ښکاري (د یوې کرښې وړې کربښې سره) چې د صفر او یوې جیګې شمېرې ترمنځ توپ ښیي.




د پټې چارټ په پیمانه
کې له ماتېدنې پرته




د پټې چارټ په پیمانه
کې د یوې ماتېدنې سره

## بودیجې ښودونکي

بودیجې ښودونکي هغه انفرادي بودیجې ښیي چې په متن کې بحث شوې وي. د دغې بودیجې د انتظام مسوولیت لرونکي اداره د بودیجې د نوم نه لاندې په خړ بکس لیست شوې وي.




## د ملیاردونو او ملیونونو توپیر کول

لدې امله چې دا راپور د بودیجو جزییات په ملیاردونو او ملیونونو ډالرو کې ښیي، دا د پیمانې د دواړو یونټونو د جلا کولو لپاره یوه کتنیزه اشاره کاروي. هغه ډالر چې په ملیاردونو کې راپور شوي په ابي رنګ کې وړاندې کېږي، او هغه ډالر چې په ملیونونو کې راپور شوي په شنه رنګ کې انځورېږي.



پایي چارټ په ملیونونو کې



پایي چارټ په ملیاردونو کې

# د بودیجو حالت

تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې متحده ایالاتو د مالي کال ۲۰۰۲ راهیسي په افغانستان کې د اسانی او بیا رغوني لپاره نږدې ۵۱.۵۰ ملیارده ډالر اختصاص کړي وو. د دې بودیجو د ټوټل بنسټ پر هغو ډاټا دی چې د ادارو لخوا ورکړل شوې او هغو پیسو چې په مالي کال ۲۰۱۰ کې اختصاص شوي، لکه چې په ضمیمه ب کې ښودل شوي. دا ټولې پیسې په لاندې ډول ټاکل شوي:

- نږدې ۲۶.۷۵ ملیارده د امنیت لپاره
- تر ۱٤.۷۵ زیات د حکومتدارۍ او پرمختیا لپاره
- نږدې ٤.۲٤ ملیارده د مخدره موادو ضد هڅو لپاره
- نږدې ۲.۰٤ ملیارده د بشري مرستې لپاره
- تر ۳.۷۲ ملیارده زیات د نظارت او فعالیتونو لپاره

انځور ۳.۱ د متحده ایالاتو د هغو غټو بودیجو یوه کتنه وړاندې کوي چې دې هڅو ته ورکړل شوي دي. د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم ټولیزې اختصاصي بودیجې (۵۱.۵۰ ملیارده ډالر) د مخکې راپور شوې ټولیزې بودیجې د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹، سره سم (۵۱.۰۱ ملیارده ډالر) څخه زیاتې دي. دا بدلون د ادارو د تازه معلوماتو نتیجه ده.

انځور ۳.۱

د افغانستان د بیا رغوني د هڅو د مرستې لپاره د متحده ایالاتو بودیجې (په ملیاردونو ډالرو)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي.

[a] په ګڼ شمېر ادارو کې شامل دي USAID، DoS، DoJ، خزانه، USDA.

سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\19\2010؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 4\15\2010 او 10\9\2010؛ د فاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 4\14\2010، 4\13\2010 او 10\1\2010؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\9\2010 او 1\8\2010؛ مالي کال 2010 د دفاع وزارت د اختصاصونو د قانون تشریحي بیان؛ خزانه، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\15\2010؛ د عدلیې وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7\7\2009؛ د متحده ایالاتو د زراعت وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\2009.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

**CERP:** د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

**DoD CN:** د دفاع وزارت د مخدره موادو د مخنیوي او مخدره موادو سره د مبارزې فعالیتونه

**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بودیجه

**INCLE:** د نړیوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ

**نور:** نوري بودیجې

## د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو بودیجې




**هغه پیسې چې د پنځو سترو امریکایي بودیجه ورکوونکیو ادارو لخوا ورکړل شوي د مالي کال ۲۰۰۲ راهیسې افغانستان سره د بیا رغونې په لړ کې د شوې مرستې تقریباً ۸۱.۰% ده (نږدې ۴۱.۷۲ ملیارده ډالر). د دې پیسو نه، تقریباً ۷۹.۰% (د ۳۲.۹۳ ملیارده څخه زیات) منل شوي، او تقریباً ۶۷.۰% (د ۲۷.۹۴ ملیارده څخه زیات) لګول شوي. راتلونکې پاڼې د دې بودیجو په اړه لا زیات معلومات ورکوي.**

تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې د افغانستان د اسانۍ او بیا رغونې لپاره مجموعي اختصاصونه ټول نږدې ۵۱.۵۰ ملیارده ډالرو ته ورسېدل. دا ټولې پیسې د بیا رغونې د بودیجو په پنځو سترو کټګوریو ویشل کېدای شي: امنیت، دولتداري او پرمختیا، د مخدره موادو ضد مبارزه، بشري، او نظارت او فعالیتونه. د ادارو لخوا تازه معلومات د مالي کال ۲۰۰۹ او مالي کال ۲۰۱۰ لپاره د ټولو مجموعي اختصاصونو اندازه لا زیاته کړه. د متحده ایالاتو د اختصاصونو په اړه د بشپړه معلوماتو لپاره، وګورئ ضمیمه ب.

لکه چې په انځور ۳.۲ کې ښودل شوي، د مالي کال ۲۰۱۰ مجموعي اختصاصونه د ۲۰۰۹ په مجموعي اختصاصونو تقریباً ۳۰.۰% زیات شول، چې نږدې ۵۱.۵۰ ملیارده ډالرو ته ورسېدل. له مالي کال ۲۰۰۲ راهیسې، امنیتي هڅو تر ټولو زیات مجموعي اختصاصونه ترلاسه کړي دي. د امنیت لپاره اختصاصونه (نږدې ۲۶.۷۵ ملیارده ډالر) د متحده ایالاتو د بیا رغونې مرستې تر ۵۱.۹% زیات تشکیلوي. په مالي کال ۲۰۱۰ کې، امنیت د مالي کال ۲۰۰۹ نه په مجموعي اختصاصونو کې ډېر مخکې شو (تر ۳۲.۲% زیات)، ورپسې حکومتداري او پرمختیا (تر ۲۷.۶% زیات)، او د مخدره موادو ضد هڅې (تر ۲۰.۸% زیات).

لکه چې په انځور ۳.۳ کې په مخامخ مخ ښودل شوي، د مالي کال ۲۰۱۰ لپاره اختصاصونه نږدې ۱۱.۸۹ ملیارده ډالرو ته ورسېدل، چې د مالي کال ۲۰۰۹ د اندازې نه تقریباً د ۱۴.۷% په اندازه واوړېده. دا په یو واحد کال کې د بیا رغونې د هڅې لپاره اختصاص شوی تر ټولو ستر رقم دی.

امنیت لپاره د مالي کال ۲۰۱۰ اختصاصونه د مالي کال ۲۰۰۹ په اختصاصونو تر ۱۷.۰% زیات اضافه شول، د ۶.۵۶ ملیارده ډالرو نه زیات. د مالي کال ۲۰۱۰ د ټولو اختصاصونو څخه، د امنیت پروګرامونو ته تر ۵۵.۲% زیات لاړل، ورپسې د حکومتدارۍ او پرمختیا لپاره نږدې ۲۶.۹%. په مالي کال ۲۰۱۰ کې د امنیت اختصاصونه (تر ۶.۵۶ ملیارده ډالرو زیات) په یو واحد کال کې دویم تر ټولو غټ رقم دی؛ تر ټولو زیات (تقریباً

انځور ۳.۲

د بودیجې په کټګورۍ مجموعي اختصاصونه، د مارچ 31، 2010 سره سم (په ملیاردونو ډالرو)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي. تازه شوي معلومات د مالي کال 2009 او مالي کال 2010 لپاره د اختصاصونو د جیګې شمېرې سبب شوې په نسبت د هغو چې په 2009\31\12 کې یې راپور ورکړل شوی و.

سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\19\2010؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 4\15\2010 او 10\9\2010؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب 4\14\2010، 4\13\2010 او 10\1\2010؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\9\2010 او 1\8\2010؛ مالي کال 2010 د دفاع وزارت د اختصاصونو د قانون تشریحي بیان؛ خزانه، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\15\2010؛ د عدلیې وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7\7\2009؛ د متحده ایالاتو د زراعت وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\2009.

۷.٤۱ مليارده ډالر) په مالي کال ۲۰۰۷ کې شوي وو.

انځور ۳.۳ د مالي کال ۲۰۰۲ نه تر مالي کال ۲۰۱۰ د بوديجو په کټګورۍ کلني اختصاصونه ښيي. دا پټې د هغو ډالرو اندازه ښيي چې اختصاص شوي. پايي چارټونه د کټګورۍ په ترتيب د ټولو اختصاص شويو اختصاصونه ښيي. دا شمېرې هغه ارقام انځوروي چې د اړوندو ادارو لخوا راپور شوي او هغه ارقام چې په لاندې قانون سازيو کې اختصاص شوي:

- د مالي کال ۲۰۱۰ د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون (مالي کال ۲۰۱۰ د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون)
- د مالي کال ۲۰۱۰ د ترانسپورت او د کور جوړونې او د ښاري پراختيا څانګو، او د اړوندو ادارو د اختصاصونو قانون (مالي کال ۲۰۱۰ د پياوړو اختصاصونو قانون)

په مخکنيو درې مياشتنيو راپورونو کې، د هرې بوديجې لپاره مجموعي پرتليزو ګرافونو هغه اختصاص شوې پيسې انځورولې چې د اړوندو ادارو لخوا يې راپور ورکړای شوی و. په تېره درې مياشتنۍ کې، دې ګرافونو د مالي کال ۲۰۱۰ لپاره د اختصاص شويو بوديجو هغه ټولې پيسې هم انځورولې چې د سمبالښت او بوديجې د دفتر (OMB) لخوا يې راپور ورکړای شوی و. په دې درې مياشتنۍ کې ټولې اختصاص شوې پيسې هغسې راپور شوي څرنګه چې د OMB لخوا په هغو مثالونو کې ورکړل شوي چيرته چې د ادارې معلومات په لاس کې نه وو او يا يې د کال د يوې برخې د پېسو راپور ورکړی و. د دې بدلون د ښکاره کولو لپاره، د مخکې راپور شوې ډاټا استازيتوب په راتلونکو مخونو د مجموعي پرتليزو ګرافونو په لړ کې ورکړل شوې.

انځور ۳.۳

د مالي کال، رقم، او سلنې په ترتيب اختصاصونه (په مليارډونو ډالرو)




يادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي. تازه شوي معلومات د مالي کال 2009 او مالي کال 2010 لپاره د اختصاصونو د جيګې شمېرې سبب شوې په نسبت د هغو چې په 12\31\2009 کې يې راپور ورکړل شوی و.

سرچينې: OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 4\19\2010؛ USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب 4\15\2010 او 10\9\2010؛ د دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب 4\14\2010، 4\13\2010 او 10\1\2010؛ د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 4\9\2010 او 1\8\2010؛ مالي کال 2010 د دفاعوزارت د اختصاصونو د قانون تشريحي بيان؛ خزانه، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 4\15\2010؛ د عدلېې وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7\7\2009؛ د متحده ايالاتو د زراعت وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 4\2009.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

د ناټو د روزني مشن – افغانستان\د ګډ امنیتي انتقال قومانده – افغانستان (NTM-A/CSTC-A) د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د جوړولو مسوولیت لرونکي اساسي اداره ده.[14] د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجي (ASFF) څخه پیسي د دي لپاره کارول کېږي چي ANSF ته تجهیزات، اکمالات، خدمتونه او روزنه برابر کړي، او د مرکزونو او انفراسټرکچر د ترمیم، نوي کولو، او رغولو چارې هم.[15]

## د بودیجو حالت

تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پوري، نږدي ۲۵.۲۳ ملیارده ډالر (په افغانستان کي د متحده ایالاتو د بیا رغوني د مرستي تقریباً ۴۹.۰%) د دفاع وزارت ته د ANSF د جوړولو لپاره ورکړل شوي وي. د دفاع وزارت راپور ورکړی چي د دي پیسو نه، تقریباً ۲۰.۲۷ ملیارده ډالر منل شوي وو، د کومو نه چي ۱۸.۴۲ ملیارده ډالرو نه زیات لګول شوي. انځور ۳.٤ هغه پیسي ښیي چي ANSF ته د مالي کال په ترتیب ورکړل شوي دي.[16]

د دفاع وزارت راپور ورکړی چي د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم د مجموعي اختصاصونو په منلو کي د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ د مجموعي اختصاصونو په منلو نږدي ۲.۵۱ ملیارده ډالر زیاتوالی راغلی. برسېره پر دي، د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم د مجموعي اختصاصونو په مصرف کي د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ د مجموعي اختصاصونو په مصرف تر ۰.۸۷ ملیارده ډالرو زیاتوالی راغلی. انځور ۳.۵ د هغو پیسو یوه مجموعي پرتلنه وړاندي کوي چي د ASFF لپاره ورکړل شوي، منل شوي، او لګول شوي.[17]

انځور ۳.۵

د افغان امنیتي ځواکونو بودیجي ، مجموعي پرتلنه (په ملیاردونو ډالرو)




یادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. پیسي هغسي راپور شوي چي د دفاع وزارت لخوا ورکړل شوي.
سرچینه: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 4\13\2010.

انځور ۳.۴

افغان امنیتي ځواکونو بودیجي ته ورکړل شوي بودیجي په مالي کال (په ملیاردونو ډالرو)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي.
سرچینه: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 4\13\2010.




### د ASFF د بودیجو اصطلاحات

د دفاع وزارت د ASFF بودیجې د موجودې، منل شوې، یا لګول شوې په توګه راپور کړي.

**موجودي:** د ژمنتیاو لپاره موجودي ټولې پیسې
**منل شوې:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې
**لګول شوې:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۱۳\۴.

## د ASFF د بوديجې فعاليتونه

د دفاع وزارت د ASFF دننه د بوديجې د فعاليت دې درېو ډلو ته پېسې ټاکي:

- دفاعي ځواکونه (افغان ملي اردو، يا ANA)
- داخلي ځواکونه (افغان ملي پوليس، يا ANP)
- اړوند فعاليتونه (اساساً د بنديانو فعاليتونه)

د بوديجې د فعاليت هرې ډلې ته بوديجې د ضمني فعاليټه څلورو نورو ډلو کې ټاکل کېږي: انفراسټرکچر، تجهيزات او ترانسپورت، روزنې او عمليات، او دوامداري.[18]

### د بوديجې د فعاليت د ډلې په ترتيب بوديجې

د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم، د دفاع وزارت د ANSF د پروګرامونو لپاره تر ۱۸.۴۲ مليارده ډالر زيات لګولي. د دې پيسو نه، نږدې ۱۲.۰۵ مليارده ډالر په افغان ملي اردو لګول شوي، او تقريباً ۶.۳۰ مليارده ډالر په افغان ملي پوليسو؛ پاتې ۰.۰۷ مليارده ډالر نورو ورسره تړليو فعاليتونو ته ورکړل شوي.[19]

لکه چې په انځور ۳.٦ کې ښودل شوي، افغان ملي اردو لپاره د لګول شويو بوديجو څخه، تر ټولو غټې برخې (۵.۳٦ مليارده) د تجهيزاتو او ترانسپورټ مرسته کړې. د هغو بوديجو څخه چې په افغان ملي پوليسو لګول شوي، تر ټولو غټې برخې (تر ۱.۸۱ مليارده زياتو ډالرو) د دوامدارۍ د فعاليتونو مرسته کړې، لکه چې په انځور ۳.۷ کې ښودل شوي.[220]

**د بوديجې د فعاليت ډلې:** د اختصاص يا بوديجې د هر حساب دننه هغه درجې چې د هغو فعاليتونو اهداف، پروژې او ډولونه پېژني چې د اختصاص يا بوديجې لخوا يې مالي ملاتړ کېږي.

**د ضمني-فعاليت ډلې:** هغه حسابي ډلې چې د قوماندې لګښتونه په فعاليتي برخو کې وېشي.

سرچينې: د دفاع وزارت، "لاربنود ۷۱۱۰۱-ايم د دفاع وزارت د بوديجې د لاربنودنې لاربنوونې،" وکتل شو په ۲۰۰۹\۲۸\۹؛ د سمندرې ځواک څانګه، "د طبي اسانتيا د منتظم کتابچه،"، وکتل شو په ۲۰۰۹\۲\۱۰، مخ ۵.

انځور ۳.۷

د افغانستان د ملي پوليسو لپاره افغان امنيتي ځواکونو د بوديجې مصرفونه د ضمني فعاليت د ډلې لخوا، مالي کال ‎-2005‎مارچ 2010 (په ملياردونو ډالرو)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. شمېرې د 3\31\2010 سره سمې دي.
سرچينه: د دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\13\2010.

انځور ۳.۶

د افغانستان د ملي اردو لپاره د د افغان د امنيتي ځواکنو د بوديجې مصرفونه د ضمني فعاليت د ډلې لخوا، مالي کال 2005 -مارچ 2010 (په مليارډونو ډالرو)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. شمېرې د 3\31\2010 سره سمې دي.
سرچينه: د دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\13\2010.




## د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

د قوماندان بیړني ځواب پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانان په دې توانوي چې د هغو پروګرامونو په ملاتړ کولو سره چې د سیمییزې ابادۍ سمدستي مرسته وکړي، د خپل مسوولیت په برخو کې بیړنیو بشري مرستو او د بیا رغونې غوښتنو ته ځواب ووايي. د دې پروګرام لاندې بودیجې هغه ورو پروژو لپاره په نیت کې نیول شوي چې اټکل کیږي هره یوه د ۵۰۰،۰۰۰ ډالرو څخه لږ لګښت ولري. د هغو پروژو چې د ۱ ملیونو ډالرو څخه زیات لګښت غواړي اجازه شته خو د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې د قوماندان منظوري یې شرط دی.[21]

## د بودیجو حالت

د مالي کال ۲۰۱۰ د DoD د اختصاصونو قانون د CERP لپاره ۱.۰۰ ملیارد ډالر ورکوي چې د پرمختیا فعالیتونو ته وده ورکړي او ملاتړ یې وکړي. دا د CERP لپاره ټوله جمع بودیجه ۲.٦٤ ملیارده ډالرو ته رسوي – په افغانستان کې بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو د ټولې مرستې تقریباً ۵.۱%.[22] د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم، DoD راپور ورکړی چې د دې پیسو څخه، تر ۱.٦۰ ملیارده زیات ډالر منل شوي، د کومو نه چې تر ۱.۱٤ ملیارده زیات ډالر لګول شوي دي. انځور ۳.۸ د مالي کال په ترتیب د CERP اختصاصونه ښيي.[23]

DoD راپور ورکړی چې د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره مجموعي منل شوي پیسې د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ د مجموعي منل شويو پیسو څخه د ۱۱.۳۷ ملیونه نه زیات یکې زیاتوالی راغلی. برسېره پر دې، د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم مجموعي مصرفونه، د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ د مجموعي لګښتونو په نسبت یکې نږدې ۸۲.۷۹ ملیونه ډالر زیاتوالی

### د CERP د بودیجو اصطلاحات

OMB د CERP بودیجې د اختصاص شویو په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې

**د دفاع وزارت د CERP بودیجې د اختصاص شوي، منل شوي، یا لګول شوي په توګه راپور کړي.**

**اختصاص شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې
**منل شوي:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې
**لګول شوي:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۹\٤؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱٤\٤.

**د دفاع وزارت له مخې، هغه پروژې چې د جنوري څخه تر مارچ ۲۰۱۰ پورې ورته د CERP لخوا بودیجې ورکړل شوي د ترلاسه کوونکیو دوو سترو کټګوریو ته یې مرسته ورکړې:**

- **۱٦% سیمییزو خلکو ته**
- **۸٤% افغان قراردادیانو ته**

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۶\۴.

انځور ۳.۸

په مالي کال د CERP اختصاصونه (په ملیونونو ډالرو)




یادونې: په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي. شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې دي.
سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\19\4؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\14\4، 2010\13\1، او 2009\14\10.

انځور ۳.۹

د CERP بودیجې، مجموعي پرتله (په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې دي. پیسې هغسې راپور شوې چې د دفاع وزارت او OMB لخوا ورکړل شوې.
سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\19\4؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\14\4، 2010\13\1، او 2009\14\10.

راغلی دی. انځور ۳.۹ د هغو پیسو یوه مجموعي پرتلنه وړاندي کوي چي د CERP د پروژو لخوا اختصاص شوي، منل شوي، او مصرف شوي دي.[24]

## د DOD د مخدره موادو د مخنيوي او مخدره موادو سره د مبارزې فعاليتونه

د DoD د مخدره موادو د مخنيوي او مخدره موادو سره د مبارزې فعاليتونه (DoD CN) بوديجه د DoD د هغو هڅو ملاتړ کوي چي د مخدره موادو د کاروبار او ورسره تړليو فعاليتونو په وړاندي مبارزې کولو سره افغانستان ته ثبات ورکوي. د DoD CN په لاندې لارو د مخدره موادو ضد هڅې ته مرسته ورکوي:[25]

- د مخدره موادو د قاچاقبرو خلاف د نظامي عملياتو مرسته کول
- په افغانستان کې د مخدره موادو د مخنيوي عمليات پراخول
- په مشخصو روزنو، تجهيزاتو، او مرکزونو سره د افغانستان د قانون تنفيذوونکو ظرفيت لوړول، په ګډون د افغانستان د سرحدي پوليسو

د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم، نږدې ۱.۴۳ ملیارده ډالر د DoD لپاره په افغانستان کې د مخدره موادو ضد هڅو لپاره اختصاص شوي – چي دا په دې هېواد کې د متحده ایالاتو د بیا رغوني د ټولې مرستې تقریباً ۲.۸% جوړېږي. انځور ۳.۱۰ د مالي کال په ترتیب د DoD CN اختصاصونه ښيي. د دې پیسو نه، نږدې ۱.۴۰ ملیارده ډالر (تقریباً ۹۸%) لګول شوي.[26] انځور ۳.۱۱ هغه جمع ارقام ښيي چي د DoD CN د پروګرامونو لپاره اختصاص شوي، منل شوي، او لګول شوي دي.



**د دفاع وزارت د مخدره موادو سره د مبارزې د بوديجو اصطلاحات**

د دفاع وزارت د DoD CN بوديجې د اختصاص شوي، منل شوي، یا لګول شوي په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې
**منل شوي:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې
**لګول شوي:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۱۳\۴.

انځور ۳.۱۱

د دفاع وزارت د مخدره موادو پرضد د مبارزې بوديجې، جمع (په ملیاردونو ډالرو)




یادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. پیسې هغسې راپور شوي چې د دفاع وزارت لخوا ورکړل شوي. درې میاشتنۍ پرتلنه نده شوې ځکه دا لومړنۍ درې میاشتنۍ موده ده چې معلومات پکې ورکړل شوي. د منل شویو ډاټا نه ده ورکړل شوې؛ په دې توګه، منل شوې پیسې د مصرفونو سره برابر ګڼل شوي.
سرچینه: د فاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\13\2010.

انځور ۳.۱۰

په مالي کال د دفاع وزارت د مخدره موادو پرضد د مبارزې اختصاصونه (په ملیونونو ډالرو)




یادوني: په معلوماتو کې ښايي بین الاداري لېږدوني شاملې وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي.
سرچینه: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\13\2010.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د اقتصادي ملاتړ بودیجه (ESF) پروګرامونه هیوادونو سره د هغوی د لنډمهاله او اوږدمهاله سیاسي، اقتصادي او امنیتي اړتیاو په ترلاسه کولو کې په مرسته کولو د متحده ایالاتو ګټې پر مخ بیايي. د ESF پروګرامونه تروریزم پر خلاف د جګړې ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه بهتروي؛ او د یو لا ښه شفاف او مسوول حکومت لپاره د اغېزمنو، د لاسرسي وړ، او خپلواکو حقوقي سیستمونو د پرمختیا لپاره مرسته کوي.[27]

## د بودیجو حالت

د مالي کال ۲۰۱۰ د جاري اختصاصونو قانون ESF ته تقریباً ۲.۰٤ ملیارده ډالر ورکوي. دا د ESF ټوله جمع بودیجه نږدې ۹.۷٤ ملیارده ډالرو ته رسوي – د افغانستان د بیا رغونې د هڅې لپاره د متحده ایالاتو د ټولې مرستې تقریباً ۱۸.۱%.[28] د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم، USAID راپور ورکړی چې د دې پیسو څخه تر ۷.۵۷ ملیارده ډالر منل شوې، د کوم نه چې ۵.۳۹ ملیارده ډالر لګول شوي.[29] انځور ۳.۱۲ په مالي کال د ESF اختصاصونه ښیي.

USAID راپور ورکړی چې د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم په مجموعي منل شویو پیسو کې د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ د مجموعي منل شویو پیسو په نسبت تر ۳٦.۸۱ ملیونه ډالرو زیات زیاتوالی راغلی دی. برسېره پر دې، په مجموعي لګښتونو کې د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ د مجموعي لګښتونو په نسبت نږدې ٤۱۹.٦۵ ملیونه ډالر زیاتوالی راغلی دی.[30] انځور ۳.۱۳ د هغو پیسو یوه مجموعي پرتلنه وړاندې کوي چې د ESF د بودیجو لپاره اختصاص شوې، منل شوې، او لګول شوې دي.




**د ESF د بودیجو اصطلاحات**

OMB د ESF بودیجې د اختصاصو شویو په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې

**USAID د ESF بودیجې د اختصاص شوي، منل شوې، یا لګول شوې په توګه راپور کړي.**

**اختصاص شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې

**منل شوې:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې

**لګول شوي:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۹\٤؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۵\٤.

**هغه بودیجې چې د ESF لپاره اختصاص شوي بېلابېل ډول ترلاسه کوونکو ته مرسته ورکوي. د هرې ترلاسه کوونکې کټګورۍ اختصاصونه په لاندې ډول دي:**

- ۰.۲۱% سیمییزو افغان قراردادیانو ته
- ۰.۸٤% د افغان دولت وزارتونو ته
- ۱.۹۵% غیر امریکایي او غیر افغان قراردادیانو ته
- ۲٦.۲۰% نړیوالو سازمانونو ته
- ٦۹.۵٦% د متحده ایالاتو داخلي قراردادیانو ته
- ۱.۲٤% د متحده ایالاتو دولت ته

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۱۰\٦\۱۰.

انځور ۳.۱۳

**د ESF بودیجې، مجموعي پرتلنه (په ملیاردونو ډالرو)**




یادونې: په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لېږدونې شاملې وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. پیسې هغسې راپور شوي چې د USAID او OMB لخوا ورکړل شوي.
سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\19\2010؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\15\2010 او 10\9\2009.

انځور ۳.۱۲

**په مالي کال د ESF اختصاصونه (په ملیاردونو ډالرو)**




یادونې: په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لېږدونې شاملې وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.
سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\19\2010؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\15\2010 او 10\9\2009.




## د نړيوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ

د نړيوالو مخدره موادو او د قانون د تنفيذ (INL) لپاره د متحده ایالاتو دفتر يو داسې حساب سمبالوي چې د قانون حاکميت پياوړی کړي او د مخدره موادو د توليد او قاچاق پر وړاندې مبارزه وکړي – د نړيوالو مخدره موادو د کنټرول او د قانون د تنفيذ (INCLE) حساب. د INCLE بوديجې د INL د ګڼو پروګرام ډلو ملاتړ کوي، په ګډون د پوليسو، مخدره مواد ضد، د قانون حاکميت او عدليه.[31]

## د بوديجو حالت

د مالي کال ۲۰۱۰ د جاري اختصاصونو قانون د INCLE لپاره ۰.۴۲ ملیارده ډالر ورکوي. 6دا د INCLE لپاره د ټوله جمع بوديجه تر ۲.۶۹ ملیارده نه زياتو ډالرو ته رسوي – په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بيا رغونې د مرستې تقريباً ۵.۲%.[32] د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم، INL راپور ورکړی چې تر ۲.۰۹ ملیارده زيات ډالر منل شوي، د کومو نه چې تقريباً ۱.۵۹ ملیارده ډالر مصرف شوي.[33] انځور ۳.۱۴ د مالي کال په ترتيب INCLE ته ورکړې ښيي.

INL راپور ورکړی چې د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم د جمع منل شويو پيسو په اندازه کې د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ سره سم د جمع منل شويو پيسو په نسبت نږدې ۶۹.۹۲ ميلونه ډالر زياتوالی راغلی.[34] انځور ۳.۱۵ د هغو پيسو يوه جمع پرتلنه ښيي چې د INCLE د بوديجو لپاره ورکړل شوې، منل شوې، او مصرف شوې دي.

## د افغان دولت د بيا رغونې بوديجې

برسېره پر هغو نړيوالو مرستو چې د افغانستان اسلامي او جمهوري دولت يې د بيا رغونې د هغو لپاره ترلاسه

انځور ۳.۱۵

د INCLE بوديجې، مجموعي پرتلنه (په ملياردونو ډالرو)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدونې شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د مالي کال 2010 ارقام اختصاص دی نه ټاکنه. د دفاع وزارت تازه معلومات د مالي کال 2009 د هغو اختصاص څخه د جيګ حساب سبب شو چې د 12\31\2009 سره سم يې راپور ورکړل شوی و.
سرچينې: OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\19\2010؛ د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\9\2010 او 1\8\2010.

انځور 3.14

په مالي کال د INCLE اختصاصونه (په مليونونو ډالرو)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدونې شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د مالي کال 2010 ارقام اختصاص دی نه ټاکنه. د دفاع وزارت تازه معلومات د مالي کال 2009 د هغو اختصاص څخه د جيګ حساب سبب شو چې د 12\31\2009 سره سم يې راپور ورکړل شوی و.
سرچينې: OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\19\2010؛ د دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\9\2010 او 1\8\2010.

**د INL د بوديجو اصطلاحات**

OMB د INL بوديجې د اختصاص شويو په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوې:** د ژمنتياو لپاره موجودې ټولې پيسې

**INL د INCLE او د INL د نورو بوديجو راپور د ټاکل شويو، منل شويو او مصرف شويو په توګه ورکړی.**

**ټاکل شوې:** د ژمنتياو لپاره موجودې ټولې پيسې

**منل شوې:** د پيسو د ورکولو ژمنتياوې

**مصرف شوې:** هغه پيسې چې لګول شوې دي

سرچينې: OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۱۹\۱\۲۰۱۰؛ د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۴\۹\۲۰۱۰.

کوي، افغان دولت هم د دې هدف لپاره بودیجې ورکوي. د افغانستان د مالیې وزارت (MoF) د دغې بودیجې د سمبالښت او پلي کولو مسوولیت پر غاړه لري، په کوم کې چې د بیا رغونې د هڅو لپاره د افغانستان بودیجې شاملې وي. د مالیې وزارت همداراز د نړیوالو بودیجو مسوولیت هم پر غاړه لري چې دغه د دولتي وزارتونو له لارې ورکول کېږي.[35]

## کورنۍ بودیجه او د بودیجې پلي کېدنه

خزانې راپور ورکړی چې د شمسي کال ۱۳۸۸ (مارچ ۲۱، ۲۰۰۹، تر مارچ ۲۰، ۲۰۱۰) لپاره د افغانستان بودیجه ټولټال ۷.۹ ملیارده ډالره وه. دا بودیجه په دوو سترو کټګوریو کې ویشل شوې ده: ۲.۹ ملیارده ډالر اساسي بودیجه او ۵ ملیارده ډالر بهرنۍ بودیجه.[36] انځور ۳.۱۶ په کټګورۍ د بودیجې د پیسو یوه نقشه ښيي.

### اساسي بودیجه

اساسي بودیجه پیسې د ډېرو سرچینو څخه ترلاسه کوي؛ خیراتي پیسې د اساسي بودیجې د نړیوالو ورکړو یوه د پام وړ برخه تشکیلوي. اساسي بودیجه بیا نوره په دوو ضمني کټګوریو ویشل شوې: فعالیتي بودیجه (۱.۹ملیارده ډالر) او پرمختیایي بودیجه (۱.۰ملیارده ډالر).[37]

د فعالیتي لګښتونو بودیجه دا مهال ۱.۹ ملیارده ډالرو ته رسي، څرنګه چې د خزانې لخوا راپور شوې. افغان دولت دا مهال تقریباً ۹۰% د فعالیتي بودیجې په وخت مصرفوي.[38] د خزانې له مخې، پرمختیایي بودیجه ۱.۰ ملیارده ډالر ده. د پرمختیایي بودیجې د مصرفولو شرحه د فعالیتي بودیجې څخه ډېره ټیټه ده. خزانه راپور ورکوي چې افغان دولت دا مهال د پرمختیایي بودیجې یواځې ۴۰% په خپل وخت مصرفوي.[39]

### بهرنۍ بودیجه

بهرنۍ بودیجې ته ټوله مرسته د نړیوالو مرستندویانو لخوا د یو شمېر میکانزمونو له لارې ورکول کېږي. دا مهال ټوله بهرنۍ بودیجه تقریباً ۵.۰ ملیارده ډالر ده. خزانې راپور ورکړی چې د بهرنۍ بودیجې د عملي کولو شرحه موجوده نده ځکه دا اصلاً داسې بودیجه نده چې د کوم واحد مقام لخوا سمبالېږي.[40]




۳.۱۶ انځور

د افغان دولت بودیجه، 2009-2010
(په ملیاردونو ډالرو)

یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د بودیجې معلومات د شمسي کال 1388 (3\21\2009-3\20\2010) سره سمه ده.
سرچینه: خزانه، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\12\2010.

## د بیا رغونې لپاره نړیوالې ورکړې

ډېرې نړیوال مرستندویان د اعتبار بودیجې افغانستان ته د مرستې ورکولو لپاره کاروي.[41] د اعتبار بودیجې سرچینې د افغان دولت فعالیتي او پرمختیایي دواړو لګښتونو ته د مالي مرستو ورکولو لپاره کارول کېږي. تر دې نېټې، ARTF د بودیجو د ورکولو تر ټولو ستره سرچینه ده.[42]

## د افغانستان د بیا رغونې اعتباري بودیجې ته ورکړې

نړیوال بانک راپور ورکړی چې د دسمبر ۲۱، ۲۰۰۹ څخه تر جنوري ۲۰، ۲۰۱۰ پورې نړیوالو مرستندویانو ARTF سره تر ۷۰۷ ملیونه زیاتو ډالرو ژمنې کړې. مرستندویانو د ټولو ژمنه کړې رقم څخه ۶۳۱ ملیونه ډالر ورکړي دي.[43] انځور ۳.۱۷ هغه پیسې ښیي چې مرستندویانو ورکړې دي.

نړیوال بانک راپور ورکړی چې د ۲۰۰۲ څخه تر فبروري ۱۹، ۲۰۱۰ پورې، د ۳۲ مرستندویانو لخوا تر ۳.۶ ملیارده زیات ډالر ARTF ته ورکړل شوي دي. دا ورکړې د بودیجو ورکولو د دوو میکانزمونو له لارې کېږي – د سلسله يي لګښت (RC) کړکۍ اود پانګوني کړکۍ. د RC کړکۍ له لارې تولې ۱.۹ ملیارده ډالر لګول شوي، کوم چې د افغان دولت د فعالیتونو د دوامدارۍ سره مرسته کوي. دا ضروري ده ځکه د افغان دولت عایدات ناکافي دي، څرنګه چې د نړیوال بانک لخوا راپور شوي. هغه ژمنتیاوې چې د پانګونې د کړکۍ له لارې

شوي، کومه چې د پرمختيايي بوديجې مرسته کوي، په تېرو دوو کلونو کې يکې د پام وړ زياتوالی راغلی دی. د نړيوال بانک د راپور سره سم، د فبرورۍ ۱۹، ۲۰۱۰ سره سم، د پانګوني د کړکۍ له لارې د ژمنتياو د مصرفولو کچه ۷۵% ته رسېدلې. ARTF ۱۹ فعالو پروژو ته بوديجې ورکوي. د ټولې ژمنتيا ارزښت ۹۸۶ مليونه دی؛ د دې پيسو نه، ۷۴۲ مليونه ډالر د فبرورۍ ۱۹، ۲۰۱۰ سره سم مصرف شوي دي.[44]

د افغان دولت د دې مسووليت په پېژندلو سره چې دا يې د خپلو خلکو د بنه والي لپاره لري، په لندن کنفرانس کې مرستندويانو په دې موافقه وکړه چې د ARTF لخوا ورکړې به د افغان دولت واضحه ستراتيژۍ تعقيبوي. د ۲۰۱۰-۲۰۱۳ لپاره به اټکل شوې مالي لفافه تقريباً ۲.۶ مليارده ډالر وي – چې دا د تېرو درېو کلونو پر مهال په موجودو بوديجو کې ۳۲% زياتوالی دی.[45]

## کورنی عايد

د IMF له مخې، افغان دولت پلان لري چې په ۲۰۰۹-۲۰۱۰ کې د کورني عايد راغونډول تقريباً ۸.۱% GDP ته لوړ کړي. دا په پرتله د هغه عايد راغونډولو بنه دی چې د تېرو دوو کلونو پر مهال اوسطاً تقريباً ۶.۹% GDP و. د خزانې له مخې، د کورني عايد د راغونډولو لپاره په سرچينو کې يو بدلون راغلی. په ۲۰۰۳-۲۰۰۴ کې، د افغان دولت ۵۴% عايد د گمرکاتو د فيسونو نه راته؛ په ۲۰۰۹-۲۰۱۰ کې دغه برخه ۳۴% ته لوېدلې، په داسي حال کې چې ۴۶% د ټول کورني عايد نيغ په نيغه په کاروبارو د ماليې، د ګمرک، او پانګې د ګټې نه راته. پاتې ۲۰% د ناټيکسه ماليو نه راته لکه د صنايعو ګټې، جوازنامې، او د هوانوردی فيسونه.[46]

انځور ۳.۱۷

د 2010 لپاره د ARTF ورکړې، د جنورۍ 20، 2010 سره سم (په مليونونو ډالرو)




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. EC/EU= اروپايي کميسيون\اروپايي اتحاديه. د نړيوال بانک لخوا ورکړل شويو معلوماتو د کاناډا او استراليا د ژمنتياو شمېرې تر هغې کمې وښودلې چې د 12\21\2009 سره سم راپور شوي وې.
سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: د جنورۍ 20، 2010 سره سم په مالي حالت د اداري راپور،" مخ 1.

# امنیت

په دې درې میاشتنۍ کې، د ملګرو ملتونو (م م) د عمومي منشي له مخې، په افغانستان کې امنیتي وضعه نوره هم خرابه شوې.[47] د نړیوال سوله ساتي ځواک ګډې قوماندې (IJC) د بریدونو تر هغې دېره لوړه شمېره راپور کړې چې په تېره درې میاشتنۍ کې راپور شوې وه.[48] د م م عمومي منشي راپور ورکړی چې په جنورې ۲۰۱۰ کې د امنیتي پېښو شمېره د جنورې ۲۰۰۹ څخه ۴۰% لوړه وه. هغه په امنیتي پېښو کې د دې زیاتوالي غټ لامل په مېدان کې د نړیوالو ځواکونو د شمېرې زیاتېدل او په دېرو ځایونو کې د کال په دې وخت کې د موسم نسبتاً کم بد شرایط په ګوته کړل. په دې درې میاشتنۍ کې د امنیتي پېښو زیاتره برخه وسله والي نښتې او خښ کړای شوي ماینونه وو.[49]

د افغانستان د ملي پولیسو د ستراتیژۍ له مخې، چې د کورنیو چارو د وزارت لخوا جوړه شوې او په مارچ ۲۰۱۰ کې خپره شوې، افغانستان د امنیت په برخه کې د دې پنځو سترو خطرو سره مخ دی: [50]

- د بهر لخوا ملاتړ شوې تروریستي خطره او د دولت وسله وال مخالفت
- غیر قانوني حکومتداري او اداري فساد
- د مخدره موادو غیر قانوني کاروبار
- منظم جرمونه
- غیر قانوني وسله والې ډلې

ځانمرګي بریدونه د ۲۰۰۹ په پای کې کم شول. د ملګرو ملتونو عمومي منشي د دې لامل په غټو ښارونو کې د امنیت بهتري وښودله.[51] د دې باوجود، دېرې سیمې کمزورې پاتې دي، چې له امله یې د بیا رغونې او پرمختیا پرمختګ محدود شوی. د نړیوالو مرستندویه سازمانونو پر ضد بریدونو په دېرو سیمو کې د دې سازمانونو دا توان کم کړی چې پرمختیایي مرسته ورسوي. د افغانستان د ۳۶۴ ولسوالیو څخه نږدې نیمې امنیتي خطرې لرې: ۹۴ "بېخي زیاته" خطره ګڼل شوي، او ۸۱ "زیاته" خطره. د دولتي مامورینو په ازادۍ سره د ګرځېدو توان د تېر کال په نسبت په ۳۹ ولسوالیو کې کم شوی.[52]

د دې لپاره چې امنیتي خطره کمه کړي، متحده ایالات او نړیواله ټولنه د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د پرمختیا لپاره کار کوي چې په دې یې وتوانوي چې د یاغیتوب په وړاندې د مبارزې (COIN) د هڅې سره سم داخلي او بهرنۍ امنیت برابر کړي. د DoD له مخې، د یاغیتوب په وړاندې د مبارزې ستراتیژي د څلورو بالترتیب پړاوونو څخه جوړه شوې – قالب، تصفیه، تحکیم، او تعمیر.[53]

**قالب:** د معلوماتو غونډول؛ استخبارات، کشف، او نظارت؛ او د شړلو فعالیتونه چې د راتلونکي د عملیاتو لپاره تیاری وشي. افغان ملي اردو (ANA) رهبري کوي؛ افغان ملي پولیس (ANP) د ANA د هڅو د ملاتړ لپاره استخباراتي معلومات ورکوي.

**تصفیه:** تاکتیکي عملیات چې د یوې مرکزي برخې د خوندي کولو لپاره جوړ شوي وي په داسې حال کې چې د یاغیانو فعالیت او اثر له منځه یوړل شي. یاغیان ویستل کېږي، نیول کېږي، او یا له منځه وړل کېږي. ANA رهبري کوي؛ د افغانستان د ملکي نظم ملي پولیس (ANCOP) یې ملاتړ کولی شي.

**تحکیم:** کافي پرسونل په کار اچول چې دفاعي عملیات ترسره کړي چې د یاغیانو د راستنېدو مخه ونیسي، د دښمن پاتې ځواکونو ته ماتې ورکړي، او خلک وساتي. د زیاتي خطرې په سیمو کې، ANCOP یا افغان سرحدي پولیس (ABP) رهبري کوي. د اوسط نه تر ټیټې خطرې په ځایونو کې، د افغانستان یونیفورم پولیس یا ABP رهبري دي.

**تعمیر:** داسې پروګرامونه ترسره کول چې د یاغیتوب د اصلي لاملونو د لیرې کولو لپاره جوړ شوي، د خلکو ژوند بهترول، او د اغېزمنې حکومتدارۍ د شرط ملاتړ کول. ANP د امنیت د ساتلو لپاره رهبري کوي.

سرچینه: د کورنیو چارو وزارت، "د افغان ملي پولیسو ستراتیژي،" ۲۰۱۰\۳، مخونه 31–33.

## امنیتي اهداف

د جنورې ۲۰۱۰ د لندن په کنفرانس کې، ګډونوالو د افغان ملي اردو (ANA) او افغان ملي پولیسو (ANP) لپاره د اخرې قوت تازه اهداف بحث کړل. د ناټو د روزنې مشن – افغانستان\ګډ امنیتي انتقال د قوماندې – افغانستان

(NTM-A/CSTC-A) له مخې، د ANA لپاره د اخري قوت اندازه تر اکتوبر ۲۰۱۱ پورې ۱۷۱۶۰۰ تنه پرسونل ټاکل شوې؛ د ANP لپاره، دا ټاکنه تر اکتوبر ۲۰۱۱ پورې ۱۳۴۰۰۰ تنه ده. د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ اهداف په چوکاټ ۳.۱ کې ښودل شوي.[54] په دې کنفرانس کې ګډونوال د يو داسې پلان په جوړولو هم موافقه وکړه چې د ۲۰۱۰ په پای يا د ۲۰۱۱ په پيل کې د امنيت انتقال د ايتلافي ځواکونو لخوا افغان امنيتي ځواکونو ته پړاو په پړاو او ولايت په ولايت پيل کړي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت دې ته ژمن دی چې د ملي امنيت يوه داسې تګلاره جوړه او تطبيق کړي چې د امنيتي انفراسترکچر او د امنيتي ادارو د رول او مسووليتونو خاکه به وړاندې کوي. دا تګلاره به په دې کال کې وروسته په کابل کنفرانس کې وړاندې کېږي.[55]

چوکاټ ۳.۱ د امنيتي اهدافو په وړاندې پرمختګ هم ښيي. افغان ملي اردو، په سرتېرو کې د ۱۲.۶% په زياتوالي سره، د تېرې درې مياشتنۍ څخه د خپل هدف په لور تر ټولو زيات پرمختګ ښودلی دی.[56]

## د امنيت تازه حال

د دسمبر ۲۸، ۲۰۰۹ څخه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې، IJC په ANSF، ايتلافي ځواکونو، او ملکي خلکو ۴۴۹۰ بريدونه ثبت کړي دي: ۲۶۵۳ نيغ په نيغ بريدونه، ۴۵۳ بالواسطه بريدونه، ۱۰۲۱ د سرک د غاړې چاودني، او ۳۶۳ پېچلي بريدونه. په دې درې مياشتنۍ کې د بريدونو شمېر په تېره درې مياشتنۍ کې د راپور شويو بريدونو څخه زيات دی.[57] په دې درې مياشتنۍ کې د ۲۶۵۳ نيغ په نيغه بريدونو څخه نيم په هلمند کې وو.[58]

هلمند په دې درې مياشتنۍ کې تر ټولو زيات امنيتي عمليات هم وليدل. په فبروري کې، افغان ملي اردو او نړيوال سوله ساتي ځواک (ايساف) مشترک عمليات پيل کړل، يو داسې ګوزار چې په مارجه کې د طالبانو په يو

چوکاټ ۳.۱

**د امنيت لپاره ستراتيژيک ترجيحات**

| ترجيح | د ANDS هدف | هدف | حالت | د ANDS د بشپړيدو نيته |
|---|---|---|---|---|
| افغان ملي اردو | ۸۰،۰۰۰ سرتېري (جمع ۶،۶۰۰ په روزنه کې) | ۱۳۴،۰۰۰ سرتېري (تر اکتوبر ۲۰۱۰ پورې)<br>۱۷۱،۶۰۰سرتېري (تر اکتوبر ۲۰۱۱ پورې) | ۱۱۲،۷۷۹ سرتېري (د ۲۰۱۰\۲۰\۱۳ سره سم) | د ۲۰۱۰ پای |
| افغان ملي پوليس | ۸۲،۱۸۰ پوليس افسران | ۱۰۹،۰۰۰ پوليس افسران (تر ۲۰۱۰\۱۰)<br>۱۳۴،۰۰۰ پوليس افسران (تر ۲۰۱۱\۱۰) | ۹۹،۵۷۷ پوليس افسران (د ۲۰۱۰\۲۱\۱۲ سره سم) | د ۲۰۱۰ پای |
| د غير قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کول | په ټولو ولايتونو کې ټولې غير قانوني وسله والې ډلې بې وسلې شوې | | د ډاياګ د هدف د ۱۴۰ څخه ۹۵ ولسوالۍ برابر اعلان شوي | 3/20/2011 |
| د ناچاودېدلو موادو ليرې کول | د ځمکې هغه برخه چې پر ماينونو او ناچاودېدلو موادو لړل شوې وه 70% کمه شوې | | ملګري ملتونه: د ځمکې هغه برخه چې پر ماينونو او ناچاودېدلو موادو لړل شوې وه ۳۹% کمه شوې | د ۲۰۱۰ پای |
| | ۹۰% هغه پېژندل شوې سيمې چې ماينونه او د جګړې پاتې ناچاودېدونکي توکي پکې وو پاکې شوې | | | 2012 |
| | ټول اېښودل شوي پرسونل ضد ماينونه تصفيه شوي | | د بهرنيو چارو وزارت: د لړل شوې ځمکې ۶۶۵ مليونه<br>مربع متره پاتې ده | 2013 |
| د مخدره موادو پرضد مبارزه | د کوکنارو د کر لاندې منطقې د ۲۰۰۷ د کچو په پرتله نيمې راکمې کړای شوې | | د کوکنارو د کر لاندې منطقې د ۲۰۰۷ د کچو په پرتله ۳۶% کمې شوې | 2013 |

يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې. د ډاياګ د هدف د ولسواليو شمېره له ۱۳۲ څخه ۱۴۰ ته لوړه شوې. د مخدره موادو ضد معيار په اړه د نورو معلوماتو لپاره، وګورئ د "مخدره موادو په وړاندې مبارزه" برخه. د ترجيحاتو بنسټ اصلاً د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژۍ (ANDS) پر اهدافو و.

سرچينې: افغان دولت، "د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي، عمومي لنډيز،" مخ. ۶؛ NTM-A/CSTC-A، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱\۱۴، ۲۰۱۰\۴\۱، او ۲۰۰۹\۲\۱۰؛ د دفاع وزارت، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لور پرمختګ،" ۲۰۰۹\۶، مخ ۲۸؛ افغان دولت، "د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژۍ لومړنی کلنی راپور ۱۳۸۷ (۲۰۰۸\۲۰۰۹)، برخه ۲ – ضميمې،" ۲۰۰۹\۱\۸، مخ ۳۶؛ د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۰۹\۲\۱۰، ۲۰۱۰\۶\۱، او ۲۰۱۰\۱\۱۴؛ UNODC، "د افغانستان د اپيمو سروې ۲۰۰۹: عمومي موندنې،" ۲۰۰۹\۱۲، مخ ۷؛ "د افغانستان د ماين اکشن پروګرام خبرپاڼه: فبروري ۲۰۱۰،" ۲۰۱۰\۱۲، مخ ٤.

معلوم مرکز باندې پکې شاوخوا ۱۵۰۰۰ سرتېري شامل وو.[59] مشترک عملیات د افغانانو په مشرۍ اقدام دی د دې لپاره چې د هلمند په منځ کې دولتي واک قایم کړي او د افغان دولت او د هلمند د ولایتي حکومت په غوښتنه د یاغیانو خلاف عملیات ترسره کړي.[60] ANA د دې عملیاتو په پلان او عملي کولو کې رهبري رول ترسره کړل، چې د ایتلافي ځواکونو په مرسته یې د ۲۰۵م قول اردو درې کنډکونه وکارول.[61]

**مشترک:** په دري ژبه کې "ګډ"

سرچینه: ایساف، مطبوعاتي اعلامیه، "مشترک عملیات،" ۲۰۱۰\۱۳\۲.

په دې درې میاشتنۍ کې په یوه بله ګډه هڅه کې، ANSF او ایتلافي ځواکونو، په ګډون د پاکستاني ځواکونو، د پولې د همکارۍ مرکزونو (BCCs) چلولو ته ادامه ورکړه. د BCCs هدف د افغان، ایتلافي او پاکستاني ځواکونو ترمنځ ارتباطات بهترول او په پوله باندې تاوتریخوالی کمول دي. د ایساف له مخې، د دوی په فعالیتونو کې شامل دي نګراني، استخبارات، د ځواکونو خورول، او د افغان دولت، ایساف ځواکونو، او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ د عملیاتو د منسجمولو لپاره تحریک.[62]

BCCs په موجودو مخ په وړاندې فعالیتي مرکزونو کې دي. دوه BCCs د تورخم په دروازه او سپین بولدک کې کار کوي؛ دوه نور په لواړه او ناوه پاس کې په اپریل ۱، ۲۰۱۰ کې فعالیت پیلوي. دوه نور BCCs په پاکستان کې تر جاج لاندې دي. دغه به د راتلونکي کال پر مهال جوړ شي او د پاکستان د دفاع د همکارۍ د قوماندې او کنټرول د لاندې به کار کوي. د هر BCC ملاتړ د متحده ایالاتو د پوځ د اتو سرتېرو لخوا کېږي، چې مشري یې د متحده ایالاتو د یو ډګرمن یا ډګروال لخوا کېږي. په هر BCC کې شاوخوا شپږ افغان یا پاکستاني ارتباطي افسران کار کوي، خو دا شمېره بدلېدلی شي. دا افسران د ANA یا د افغان سرحدي پولیسو (ABP) څخه او یا د پاکستاني پوځ او د پاکستان د سرحدي سکاوټس څخه وي.[63]

## ملکي تلفات

IJC راپور ورکړی چې د دسمبر ۲۸، ۲۰۰۹ نه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې، ټول ۱۷۱۶ ملکي تلفات رامنځته شوي – چې ۱۶۹٤ یې افغانان وو. په دې موده کې، ۷۳۷ ملکي کسان وژل شوي وو، او ۹۷۹ ټپیان شوي. دا د هغو ۹۰۳ ملکي وژنو څخه د پام وړ زیاتوالی دی چې په تېره درې میاشتنۍ کې راپور شوي وو. په دې درې میاشتنۍ کې د یادو شویو تلفاتو څخه، ۶۸٪ ملکي وو. د ملکي تلفاتو تر ټولو غټه شمېره په هلمند، کندهار، او پروان کې وه، څرنګه چې په انځور ۳.۱۸ کې ښودل شوي.[64]

انځور ۳.۱۸

ملکي تلفات د ولایت په ترتیب




یادونه: تلفات راپور شوي د 12\28\2009 څخه تر 3\31\2010.
سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\1\2010.

## د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د کاري وړتیاو ارزونې

د تېرو درې میاشتنیو په راپورونو کې، سیګار د ANSF د کاري وړتیا د معیار (CM) د درجه بندیو لنډیزونه پکې شامل کړي وو، څرنګه چې د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې (سینټکام) لخوا ورکړل شوي وي. د CM درجه بندۍ سیستم، کوم چې د میدان ته لیږل شویو ANSF یونټونو د پرمختیا د پرمختګ د معلومولو لپاره اساسي معیار دی، د CSTC-A لخوا په ۲۰۰۵ کې جوړ شوی و.[65] په اکتوبر ۲۰۰۹ کې، سیګار د ANSF د کاري وړتیا د ارزونو یوه پلټنه پیل کړه، په ګډون د CM درجه بندۍ د سیستم د اغېزمنتیا د یوې معاینې. د سیګار پلټنه، چې د دې درجه بندیو د لومړي ځل لپاره جاج اخلي، په راتلونکې درې میاشتنۍ کې د خپرېدو لپاره ټاکل شوې. د دې پلټنې د ترسره کولو پر مهال، سیګار په پنځو اساسي برخو کې لاندې اندېښنې معلومې کړې:

- د CM د درجه بندۍ د سیستم عمومي اعتبار
- پیمانه او اعتبار
- تحلیل او راپور ورکول
- د ارزونې د هڅو په وړاندې ننګونې

- د ANSF سیستمي کمزورۍ چې د یونټونو د کاري وړتیاو په پرمختیا اغېز کوي

د سینټکام له مخې، د CM درجه بندۍ په سیستم کې بدلون کېږي. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت (DoD) لخوا "د افغانستان د امنیت او ثبات په لور" وروستي راپور خبرداری ورکړی چې، "د CM درجه بندۍ او فعالیتي وړتیا ترمنځ ګډ تعلق چې ورته ټاکل شوي کارونه بشپړ کړي ډېر ضعیف دی، او په دې توګه دا نتیجه ترې اخیستل چې د CM درجه بندي په فعالیتونو کې د ظرفیت د بریالیتوب ښودونکي ده کېدای شي چې خطاویستونکي وي."[66] د افغان ملي پولیسو د ارزونو په اړه DoD زیاتوي، "د CM سیستم د افغان ملي پولیسو د کار معیار په اغېزمن ډول نه ناپ کوي. دا یوه مهمه خطره ده او په راتلونکي کال کې به ورته بیا کتنه کېږي."[67]

د CM درجه بندۍ د سیستم په اړه د سیګار د اندېښنو له امله او لدې امله چې دې سیستم ته اوسمهال بیا کتنه کېږي، دا درې میاشتنی راپور د CM معیارونو په اړه تازه حال نلري. د نورو معلوماتو لپاره وګورۍ ۱ او ۲ برخه.

## افغان ملي اردو

د مارچ ۲۰، ۲۰۱۰ سره سم، د NTM-A/CSTC-A له مخې، د ANA د پوځ قوت ۱۱۲،۷۷۹ و. دا په دسمبر ۲۰، ۲۰۰۹ د ۱۰۰،۱۳۱ ANA سرتېرو کې د ۱۲،٦٤۸ نورو سرتېرو زیاتوالی دی. د ANA هدف، څرنګه چې یې د ګډ انسجام د نګرانی د بورډ لخوا منظوري ورکړل شوې، تر اکتوبر ۲۰۱۰ پورې ۱۳٤،۰۰۰ سرتېرو ته او تر اکتوبر ۲۰۱۱ پورې ۱۷۱،٦۰۰ سرتېرو ته رسېده دی.[68] د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له مخې، ANA د دغه قوت هدف ته په رسېدو کې لږ څه شاته پاتې دی، خو دوه بدلونونه – د معاشونو لوړوالی چې مخکې تطبیق شوی و او په پاتې کېدو کې بهتري – ښایي د هدف په لور پرمختګ بهتر کړي.[69]

د دې لپاره چې د معاشونو رسول بهتر کړي، ANA خپل د ګرځنده بانکي پیسو ورکولو سیستم پراخوي، په کوم کې چې به دا نېغ په نېغه سرتېرو ته معاش ورکولی شي. د بهرنیو چارو د وزارت له مخې، د معاشونو ورکولو دا سیستم به د دسمبر ۲۰۱۰ نه مخکې په بشپړ ډول تطبیق کړای شي.[70]

هر څو که په ANA کې رشوت د دې په اړه عامه نظر منفي کوي، خو د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له مخې د ANA په اړه د عامه خلکو نظر یو څه مثبت دی. د دې مثبت نظر لامل زیاته اغېزمنه روزنه، د لوړې درجې داخلي ډسپلن، او بهتر تجهیزات ښودل شوي.[71]

## د افغان ملي اردو روزنې

د جنوري ۱ نه تر مارچ ۱۹، ۲۰۱۰، د ANA د روزنیزو سازمانونو څخه ۲۳،۱۷۲ سرتېري فارغ شوي دي، چې دا د تېرې درې میاشتنی څخه ۸٤% زیاتوالی دی. زیاتره یې د کابل د نظامي روزنې د مرکز څخه فارغ شوي لکه چې په انځور ۳.۱۹ کې ښودل شوي. د دې درې میاشتنی په نورو روزنو کې شامل دي د چاودېدونکو موادو بې کاره کول، د تروریزم په وړاندې مبارزه، لوژیستیک، او د قوماندې او عملي روزنه.[72] د ANA سرتېرو ته په جنس سره تړلیو موضوعاتو هم روزنه ورکړای شوې. د بهرنیو چارو د وزارت له مخې، د ANA زیاتره سرتېري به تر دسمبر ۲۰۱۰ د جنس سره په تړلیو موضوعاتو روزنې بشپړې کړي.[73]

د دې درې میاشتنی پر مهال، د افغانستان د دفاع وزیر او د NTM-A/CSTC-A قوماندان ANA لپاره د یو نوي روزنیز مرکز د بنسټ ډبره هم کېښوده چې د افغانستان د دفاع پوهنتون (ADU) ته به ځای ورکوي او د افغانستان د ملي نظامي اکادمۍ د نوي موقعیت په توګه به کار کوي. په ویسټ پواینټ کې د متحده ایالاتو د نظامي

اکادمۍ په نمونه جوړه شوې دا ملي نظامي اکادمي یو څلورکلن ښوونځی دی چې د دې لپاره جوړ شوی چې د ANA او د افغانستان د ملي پوځ د هوايي ځواک (ANAAC) لپاره به افسران روزي.[74]

د ایساف له مخې، ANAAC په خپله روزنه کې پرمختګ کوي. په اکتوبر ۲۰۰۹ کې د دې له جوړېدو راهیسې، د کندهار هوايي ځانګه ۵۷۲ تنه پرسونل ته رسېدلې، په ګډون د تجربه کارو پیلوټانو، روزل کېدونکیو پیلوټانو، انجینرانو، او لوژیستیکي او اداري عملې. هوايي ځانګه یې دا مهال څلور Mi-17 ترانسپورت هلیکوپټرې چلوي او پلان لري چې تر ۲۰۱۱ به یې ۱٤ کړي. په تېرو دوو کلونو کې، په انګلستان کې د هلیکوپټرو د ګډې قوماندې د برتانیې د درې خدمتي پرسونل لخوا ۱٦ تنه افغان پیلوټان او یو د ځمکې د عملې غړی روزل شوي. دا پیلوټان اوس په افغاني فضا کې روزل کېږي.[75]

د NTM-A له مخې، ANAAC په خپله روزنه کې په زده کړه ځانګړی تاکید کوي. په روزنه کې شامل دي د درېو میاشتو یو کورس د ANAAC په هوايي پوهنتون کې، چې پخوا د کابل د هوايي ځواک د روزنې مرکز و. دا کورس چې د زده کړو د وزارت لخوا یې منظوري ورکړل شوې، د دې لپاره جوړ شوی چې زده کوونکي په ژبه او حساب کې یوې بنسټیزې سطحې ته ورسوي. په دې کې دوه د درې زده کړې موډولونه شامل دي چې افغانان یې تدریس کوي.[76]

په دې درې میاشتنۍ کې، د ANA فارغان د ۲۳ څخه یو یونټ ته ټاکل شوي وو؛ د بل هر یونټ څخه ۲۱۵م قول اردو ته زیات فارغان ورکړل شوي. په دې درې میاشتنۍ کې د یونټونو په نورو ټاکنو کې شاملې وې د ANA د روزنې قومانده؛ ترلاسه کول، تکنالوژي، او لوژیستیک؛ د ANA د جلب و جذب قومانده؛ هوايي ځواک؛ د مرکز د ملاتړ د اکمالاتو کنډک؛ او د نظامي پولیسو کنډک.[77] د DoD له مخې، په ANA کې د پرسونل سمبالښت یا د یونټونو ځای پر ځای کول یو چیلنج دی. په دې درې میاشتنۍ کې یو ستر پرمختګ په فبروري ۲۰۱۰ کې په ملي نظامي اکادمۍ کې د ټاکنو د یو سیستم تطبیقول وو. دا سیستم په زیاته اغېزمنه توګه فارغان په هغو سیمو کې ځای پر ځای کول چې د فعالیت لپاره ورته اړتیا وي او فارغانو د دې توان په له منځه وړلو سره چې په خپلو سیمو کې ټاکنې اغېزمنې کړي.[78]

د جګړې پر عملیاتو برسېره، د ANAAC هلیکوپټرې د بشري مرستو لپاره هم کارول کېږي. په مارچ ۲۰۱۰ کې دا هلیکوپټرې د یو سخت باران د سېلاب نه د ۳۰ تنو د ژغورلو لپاره کارول شوې وې.

سرچینه: ایساف، مطبوعاتي اعلامیه، "د افغان هلیکوپټرو ځواک والوت"، ۲۰۱۰\۸\٤.



یوولس د افغان اردو فارغان زده کوونکي د هغوی د وظیفو ټاکنې ترلاسه کوي. په دې سیستم کې بهتري شوې ده چې فارغان د فعالیتي اړتیاو پر بنسټ وټاکل شي. (د NTM-A/ CSTC-A انځور)

۳،۱۹ انځور

د افغانستان د ملي اردو د روزنو فارغان د پروګرام په ترتیب




a. په راغونډ شوي ساحوي مرکز کې، د یونټونو یو ځای کېدل، تجهیزات، او لومړني مشترکې روزنې ترسره کوي
سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\1\4.

د ANA هر فارغ ته یوه ځانګړتیا ورکول کېږي. په دې درې میاشتنۍ کې، ۱۲،۲۲۶ سرتېرو ته ځانګړتیاوې ورکړل شوې وې؛ د دوی نه ۱۵۳۱ واره ظابطان او ۹۵۰ افسران وو.[79] د ANA د زیاتو فارغانو ځانګړتیا پیاده ځواک و، لکه چې په انځور ۳.۲۰ کې ښودل شوي.

## د افغان ملي اردو انفراسټرکچر

د NTM-A/CSTC-A له مخې، د ANA د انفراسټرکچر ۲ پروژې د ۱۵.۵ ملیونه ټول لګښت د جنوري ۱ څخه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ په موده کې بشپړې کړای شوې وې، په پرتله د ۱۱ هغو پروژو چې د ۱۶۰.۶ ملیونه ډالرو په ارزښت د هغې درې میاشتنۍ پر مهال بشپړې کړای شوې وې چې په دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ ختمېده. په دې درې میاشتنۍ کې، دوه قراردادونه د ۶۶.۶ ملیونه ډالرو ټول ارزښت ورکړای شوي دي؛ په تېره درې میاشتنۍ کې کوم قرارداد نه و ورکړای شوی.[80]

د انفراسټرکچر په بله پروژه کې، د ایساف له مخې، د ADU د جوړولو د لګښت اټکل ۲۰۰ ملیونه ډالره شوی دی. د لومړي پړاو بشپړېده، چې په اپریل ۲۰۱۰ کې بې پیل وشو، تر جون ۲۰۱۱ پورې اټکل شوی. د لومړي پړاو په جوړېدو کې به شامل وي د مرکز، ټولګیو، د خوړو د ځای، کتابتون، طبي کلینک، او د پوستي تبادلې جوړېدل؛ د دویم پړاو په جوړېدو کې، چې تراوسه لا د ډیزاین په پړاو کې دی، به شامل وي د واره ظابطانو د ښوونځي، د هوايي جګړې د پوهنځي، او د قوماندنې او عملي د پوهنځي جوړېدل.[81]

## د افغان ملي اردو تجهیزات

د NTM-A/CSTC-A له مخې، د جنوري ۱ نه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې، ANA ۱۸۹۰ راډیوګاني، ۱۵۱۲ موټرې، او ۱۹۸۶۱ وسلې په کار اچولي (وګورئ انځور ۳.۲۱). د نورې هرې وسلې څخه زیات M16A4

انځور ۳.۲۰

د افغانستان د ملي اردو د روزنې فارغان د ځانګړتیا په ترتیب




یادونه: هغه فارغان چې د ځانګړتیاو لپاره لیست شوي د افسرانو، NCO، او سرتېرو لپاره ګډ دي.
[a]. یوه په درې پایو ولاړه وسله.
[b]. په دې کې شامل دي هوانوردي، زغرې، هوموي، جاهدي\ناتعریف شوي MOS، مالي\حقوقي، مضبوطونه، سیاست، امنیت\نظامي پولیس، هوايي دفاع، موسیقي، او نقشه اخیستنه.
سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\1\2010.

ټوپکونه په کار اچول شوي. په دې درې میاشتنۍ کې د تجهیزاتو په پلان او ترلاسه کولو کې بدلونونه شوي دي. د تجهیزاتو تر ټولو غټ زیاتوالی چې پلان شوی د وسلو د شمېر زیاتول دي – د تېرې درې میاشتنۍ نه تقریباً درې ځله زیات. د تجهیزاتو په ترلاسه کولو کې تر ټولو ستر کمی په راډیوګانو کې راغلی، د تېرې میاشتنۍ نه ۱۳۷۷۸ کم. د دې درې میاشتنۍ پر مهال، ANAAC پنځه Mi-17 هلیکوپترونه، یوه C-27 ترانسپورت، او یو L-39 جیټ زیات کړل. ANAAC اوس لاندې تجهیزات لري:[82]

- ۲۵ Mi-17 او ۹ Mi-35 هلیکوپټرې
- یوه An-26، پنځه An-32، او درې C-27 ترانسپورتي
- درې L-39 جیټونه

په کابل کې مرکزي ورکشاپ د افغان ملي اردو د ټولو وسلو، او مخابراتي سامانونو د انتظامي ملي ریاست دی. د دې لپاره چې د دې مرستې وړتیا بهتره کړای شي، دا ورکشاپ به د ۱۳.۷ ملیونه ډالرو په بهترو شیانو ترفیع شي. د NTM-A/CSTC-A له مخې نوې کېدنې به په دې ټول کال کې ادامه وکړي.[83] د دې لپاره په مرسته کولو کې چې ANA په مخابراتو کې پر ځان زیات کفیل شي، نو سرتېرې د سامانونو ترمیمول زده کوي. په مرکزي ورکشاپ کې، زده کوونکیو ته د بېلابېلو راډیو معلومونکو او ازموینې د سامان د کارولو قدم په قدم لاربنودنه ورکول کېږي. ځینې د دې روزل شویو سرتېرو څخه په خپله هم روزونکي جوړېږي.[84] په هغو پروګرامونو کې چې د راډیو او مخابراتو د علم په زیاتولو کې مرسته کوي د انتینا تیوري اساسات او د ستونزو ته د حل لارې موندل شامل دي، او همداراز د طیف تحلیلوونکي کارول، سګنل پېدا کوونکي، او اوسیلوسکوپونه – چې دا ټول په راډیویي انتظام کې مهم آلات دي.[85]

ایتلافي ځواکونه هم د سامانونو په ترلاسه کولو کې د بدلونونو له لارې افغانان په خپل ځان بسیاکیدلو ته تشویقوي. د ایساف له مخې، یو هدف دا دی چې د ANA ځینې سامانونه د افغان تجارتونو له لارې راشي. د بېلګې په توګه، د تجهیزاتو د یو قرارداد کتنې وښودله چې د بوټانو لپاره شپږو قراردادونو شرط دا و چې بوټان دې راوارد کړای شي. په راتلونکي کې، د متحده ایالاتو او ناټو ځواکونه پلان لري چې ټول بوټان د افغان سرچینو څخه ترلاسه کړي.[86]

انځور ۳.۲۱

د افغان ملي اردو تجهیزات




سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\1\4.

انځور ۳.۲۲

د ملي اردو تلفات د ولايت په ترتيب




يادونه: تلفات راپور شوي د 12\28\2009 څخه تر 3\31\2010.
سرچينه: NTM-A/CSTC-A، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\1\2010.

## د ملي اردو تلفات

د IJC له مخې، د دسمبر ۲۸، ۲۰۰۹ نه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې ملي اردو ۳۲٤ تلفات ليدلي: ۲۳٤ عسکر په جګړه کې ټپيان شوي وو، او ۹۰ په جګړه کې وژل شوي وو. د دې درې مياشتنى تلفات تر هغې ۳٦% زيات وو چې په تيره درې مياشتنى کې راپور شوي وو. انځور ۳.۲۲ ښيي چې تر ټولو زيات تلفات په هلمند کې رامنځته شوي وو – چې په دې درې مياشتنى کې يکې تر ټولو زياتي امنيتي پيښې رامنځته شوي.[87]

## افغان ملي پوليس

د ګډې همکارۍ د نګرانى د بورډ په جنوري ۲۰، ۲۰۱۰ غونډه کې د کورنيو چارو وزارت د افغان ملي پوليسو ستراتيژي وړاندې کړه. په ستراتيژۍ کې ويل شوي وو چې افغان ملي پوليس په ټول هېواد کې فعال دي. د افغانستان د ۳٤ ولايتونو څخه، ۱۸ د لږ تر لږه تروريستي فعاليت سره د ټيټې خطرې ولايتونه ګڼل شوي؛ ٦ د يو څه تروريستي فعاليت سره د اوسطي خطرې ګڼل شوي، چې د ملي پوليس سيمييز سرتېري يې ساتلى شي؛ او ۱۰ د لوړې خطرې دي، چيرته چې د تروريستي ځواک په وړاندې د جګړې پيښې هره ورځ رامخې ته کېږي.[88] دې ستراتيژۍ افغان ملي پوليس په شپږو کټګوريو کې وويشل، چې په چوکاټ ۳.۲ کې ليست شوي. دې ستراتيژۍ د ANP لپاره دا اوه ترجيحات هم کېښودل:[89]

- د ولس اتبار ترلاسه کول.
- د افغانستان ملي ګټې ساتل.
- د اداري فساد له منځه وړل.
- د پوليسو وړتياوې بهترول – په ګډون د مشرتابه؛ قومانده، کنټرول، او مخابرات؛ روزنه؛ او تجهيزات او وسلې – د مشخصو خطرو د مقابلې لپاره.
- د ملي پوليس د تشکيل ريفورم او زياتول تر څو د پوليسو لخوا د وړاندې کېدونکې خدمت کيفيت او کميت بهتر شي.
- د پوليسو د پرسونل مورال او د ژوند معيار بهترول.
- د استخباراتو په مشرۍ د پوليسو د دندې تطبيقول.

چوکاټ ۳.۲

**د افغان ملي پوليسو کټګورى او دندې**

| د افغان ملي پوليسو کټګوري | لنډيز | دنده |
|---|---|---|
| افغان يونيفورم پوليس | AUP | د ملکي ځواک په توګه کار کوي او د ملي پوليسو د سيمييزو زونونو، ترافيکي پوليسو، او د اطفايي او ژغورني د رياست څخه جوړ دي. په مسووليتونو کې يې شامل دي د قانون حاکميت ساتل، بيړنيو حالتونو ته ورتګ، عامه امنيت ساتل، او د جرمونو سره جګړه. |
| د افغانستان د ملکي نظم ملي پوليس | ANCOP | په همکارۍ تروريزم ضد عمليات رهبري کوي، او د ملکي نظم د ساتلو لپاره ABP او ANA د امنيتي ځواک په توګه کار کوي، د کار کوي. |
| افغان سرحدي پوليس | ABP | ملي سرحدونه ساتي او د سرحدي امنيتي زون نګراني کوي، کوم چې ۵۰ کيلوميتره په افغانستان کې پراخيږي؛ په سرحد د خلکو دخول او خروج کنټرولوي او د قاچاقو مخه نيسي؛ او د هوايي ډګرونو امنيت ساتي. |
| افغان جرايم ضد پوليس | AACP | د تروريزم ضد، مخدره موادو ضد هڅو، جنايي تحقيق، ساينسي، او غټو جرمونو په تړاو په تحقيقي او استخباراتي ظرفيتونو کې مرسته کوي. نورو ټولو افغان ملي پوليسو ته ځانګړي مهارتونه ورکوي. |
| د افغانستان د عامه تحفظ ځواک | APPF | د مهمو انفراسټرکچرو، مرکزونو، ساختماني پروژو، او پرسونل حفاظت کوي، چې ځانګړى تمرکز يې تروريزم نه په حفاظت وي. |
| توانمنونکي ځواکونه | | پکې شامل دي طبي، لوژيستيکي، اداري، د جلب و جذب، روزنې او زده کړې، او مرکزونه. |

سرچينه: د کورنيو چارو وزارت، "د افغان ملي پوليسو ستراتيژي،" ۲۰۱۰\۳، مخونه 22–29.

د ستراتیژۍ په بهتر ترتیبولو برسېره، ANP نور پرسونل زیات کړ، د روزل شوي پرسونل شمېره يې بهتره کړه، او د IJC له مخې، د جنوري ۱ څخه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې يې په مشترک عملیاتو کې د پام وړ مرسته وکړه. د NTM-A/CSTC-A له مخې، تر فبروري ۲۱، ۲۰۱۰ پورې، ملي پولیس ۹۹،۵۷۷ پرسونل درلود – چې دا په دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ کې د ۹٤،۹۵۸ پرسونل څخه ٤،٦١٩ تنه زیات دی. د پرسونل هدف قوت ۱۰۹،۰۰۰ تر اکتوبر ۲۰۱۰ او ۱۳٤،۰۰۰ تر اکتوبر ۲۰۱۱ دی، لکه چې د ګډې همکارۍ د نګرانۍ د بورډ لخوا يې په جنوري ۲۰۱۰ کې منظوري ورکړل شوې.[90]

د کورنیو چارو وزارت په ملي پولیسو کې د کارکوونکي پرسونل په تعقیبولو کې بهتري راوستې ده. د پرسونل د شتمنۍ لست، چې د تېرې درې میاشتنۍ په راپور کې تشریح شوی، پرمختګ کړی – د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له مخې، د موجوده ځواک نږدې ۵۰% په لستونو کې معلوم شوی، په ګډون د هغو چې د هېواد په ناکراره سیمو کې کار کوي.[91] د دفاع وزارت له مخې، د بشپړولو هدف نېټه د اپریل ۱، ۲۰۱۰ څخه د مې ۲۰۱۰ پېل ته اړول شوې ده.[92] د پرسونل د شتمنۍ لست لپاره د بایومیتریک ډاټا راغونډېدل د روزنې په سیمییزو مرکزونو کې ترسره کېږي، چېرته چې د افغان ملي پولیس لپاره د یو کاندید د مناسبوالي روغتیايي ارزونه ترسره کېږي. د پېژندنې د معلوماتو – لکه نوم، خپلوان، او اصلي ولایت - په راټولولو برسېره، ملي پولیس د ګوتو ټاپې، د لاسو ټاپې، انځورونه او د سترګو سکین اخلي. دا معلومات د مجرمینو په یو ملي ډاټابیس کې پرتله کېږي. د بایومیتریک ډاټا راغونډول نه یواځې په ملي پولیسو کې دننه مجرمین نیسي بلکې د دې خلکو په ملي پولیسو کې د ورګډېدو مخه هم نیسي.[93]

د معاش ورکولو طریقې هم بهترې شوې: د ټول پرسونل ۹٤% د معاش ورکولو په برقي سیسټم کې راغلي، او ۷۳% د پیسو د لېږدولو په برقي سیسټم کې شامل دي. دا دواړه سیسټمونه د ملي پولیسو په معاشونو کې د رشوت مواقع کموي.[94]

د دې لپاره چې د زیاتې خطرې په سیمو کې د پرسونل لپاره د معاش ورکول زیات اسان کړي، یو نوی پروګرام به پرسونل په دې وتوانوي چې پیسې په ګرځنده تلیفون ترلاسه کړي.[95] د دې پروګرام هدف دا دی چې فساد کم کړي: په تاریخي ډول، د ANP شاوخوا درېمه برخه پرسونل خپله معاش نه ترلاسه کاوه. دا د دې لپاره جوړ شوی چې د پیسو ورکول زیات دقیق او په وخت کړي، (معاش لپاره) د سفر سره تړلې خطره کمه کړي، فساد له منځه یوسي، او د معاشونو د ورکولو یوه لا زیاته شفافه پروسه جوړه کړي. د NTM-A/CSTC-A له مخې، دا پروګرام د نهو میاشتو له ازمویني وروسته اوس په وردک او خوست کې د درېو نورو ولسوالیو ته غځول کېږي. د اپریل ۲۰۱۰ د پېل سره سم، د وردک ولایت په جلرېز ولسوالۍ کې د ANP ۵۳ تنه پرسونل داخل شوی دی؛ ډېر ژر به ۲۲۰ تنه نور هم پکې داخل شي. دا هڅه د CSTC-A، د کورنیو چارو د وزارت، او د مالیې د وزارت ترمنځ په ارتباط ترسره کېږي.[96]

د ANP د معاشونو او د دې د تعقیبي سیسټم د بهترولو باوجود، د دې ځواک معیار د تنازعې موضوع ده. د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي د دفتر او د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي د دفتر لخوا په ترسره شوې تازه پلټنه کې داسې ګڼ شمېر ننګونې پېژندل شوې چې د ANP پرمختګ ته يې لاره بنده کړې ده، په ګډون د لیک لوست د ټیټې شرحې، د جلب و جذب دوکه ورکوونکیو تاکتیکونو، تښتېدو، او اداري فساد، دا د کورنیو چارو د هغه پرسونل له مخې چې د دې پلټنې لپاره ورسره مرکې شوې دي. برسېره پر دې، د CSTC-A د روزنیزې قوماندې له مخې، ANP لپاره د روزنې د قوماندې د واحدې او مربوطې سلسلې نشتوالی وخت په وخت د دې پروګرام په غځولو کې د ګډوډۍ او ځنډونې لامل کېږي.[97] CSTC-A، د پلټونکو د موندنو په ځواب کې، سپارښتنه وکړه چې د ANP مشرتابه دې بهتره کړای شي او دا چې فساد چارواکي دې د دې ځواک څخه

وشړل شي.[98]

د ملګرو ملتونو سرمنشي هم د ANP د متنازعه معیار په اړه یو ورته راپور ورکړ، او وې ویل چې د ANP پرسونل په قاچاق، اختطافونو، او په چیک پوستو خلکو نه پیسو اخیستلو کې ککړ دی. په دې ځواک کې د سیمییزو قومونو سره په اتنیکي او قومي بې توازنی هم تاوتریخوالی شته چې د جلب و جذب د پوښتنې وړ تاکتیکونو د کارولو له امله رامنځته شوی کوم چې په خپله د ولایتي او ولسوالی د سیاسي ټرونونو په سبب راپورته شوي دي.[99]

دا ستونځې د ANP په اړه د ولس نظر نه ښه کوي.  د کورنیو چارو وزارت د افغان ملي پولیسو په خپله نوې ستراتیژۍ کې د دې ځواک داسې ګڼ شمېر اړخونه پېژندلي چې دې ته زیان رسوي: نظامي چلند، کوم چې ولس تهدیدوي؛ اتنیکي او جنسي بې توازنی، کوم چې خلکو سره د اړیکو پرمختیا درولی شي؛ د یاغیتوب ضد عملیاتو لپاره د روایتي پولیسو د فعالیتونو هېرول؛ او د پولیسو په ځواک کې فساد.[100] د دې لپاره چې ANP سره د ولس د اعتماد په ترلاسه کولو کې مرسته وشي، د کورنیو چارو وزارت دا شپږ اهداف ټاکلي دي:[101]

- د ANP وړتیا لوړول چې د امنیت، مرستي، جرمونو سره د جګړې، او اداري خدمتونو لپاره د خلکو غوښتنو ته په تېزۍ او ښه طریقه ځواب ووایي.
- پولیس داسې وروزي چې د بشري حقونو او انفرادي حقوقي حقونو درناوی وکړي او د خلکو سره د اسلامي او افغاني ارزښتونو پر بنسټ سم چلند وکړي.
- د پولیسو د ځواک دننه د ښځو لپاره مواقع جوړ کړي او په راتلونکو پنځو کلونو کې ۵،۰۰۰ ښځې په دې ځواک کې واخلي.
- د خلکو د جذبولو تنوع بهتر کړي چې د پولیسو د ځواک په جوړښت کې د ټولې افغان ټولنې نمایندګي وشي.
- داسې یو بې طرفه سیستم معرفي کړي چې د پولیسو د احتساب او عامه مسلو په اړه نظارت کوي.

انځور ۳.۲۳

د پروګرام په ترتیب د افغان ملي پولیسو د روزنې فارغان




یادونه: په نورو ماهرانه روزنو کې شاملې دي د تشریفاتو یونټ، د افغانستان د ملکي نظم ملي پولیس، روزونکی روزل (T3)، طبي، پرمختللی 8، محافظ ټریننګ، ښځینه استخبارات، ښځینه بنسټیز، او وسلې.
سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\1\4.

- د پوليسو د ځواک دننه د مخدره موادو د استعمال په وړاندې مبارزه وشي.

لدې امله چې د کورنيو چارو په وزارت کې اداري فساد په لوړه کچه موجود دی، NTM-A/CSTC-A، د اروپايي اتحاديې د پوليسو او د کورنيو چارو د وزارت سره په همکارۍ، يوه د پلان جوړونې ډله جوړه کړې ده چې د معياري رهبرۍ او د مسلکي پرمختيا چيلنجونه حل کړي او فساد سره د مبارزې لارې وپېژني. NTM-A/CSTC-A د کورنيو چارو د وزارت سره کار کوي څو د انتخاب او ترفيع يو داسې مقابلتي پروسه جوړه کړي چې شفافه او د کار پر بنسټ وي څو د منصب په جيګولو کې فساد کم کړي.[102]

## د افغان ملي پوليسو روزنه

د جنورۍ ۱ نه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰، د ANP د روزنيزو سازمانونو څخه ۴۹۰۸ سرتېري فارغ شوي دي، چې دا د تېرې درې مياشتنۍ څخه ۱۴.۵% زياتوالی دی. د دې درې مياشتنۍ د پای سره سم، ۲،۷۶۱ تنه د ANP پرسونل په روزنه کې دی. تر ټولو زياته شمېره د سرحد د تمرکزي پرمختيا څخه فارغ شوي، لکه چې په انځور ۳.۲۳ کې ښودل شوي.[103]

د دې درې مياشتنۍ پر مهال فارغان په ډېر زيات شمېر ولايتونو کې ټاکل شوي وو: په دې درې مياشتنۍ کې په ۲۷ کې، لکه چې په انځور ۳.۲٤ کې ښودل شوي، په پرتله د ۷ په تېره درې مياشتنۍ کې. تر ټولو زيات شمېر فارغان په کابل کې ټاکل شوي وو.[104]

د دې درې مياشتنۍ پر مهال، د ANP د روزنې پروګرام د تنازعې موضوع وه. د بهرنيو چارو او دفاع وزارتونو ګډې پلټنې وموندله چې د بهرنيو چارو د وزارت د ملکي پوليسو پروګرام د دفاع وزارت د دې غوښتنو سره سم نه دی چې يو داسې پوليس ځواک وروزي چې د ياغيتوب سره مقابله وکړای شي. نتيجتاً، د بهرنيو چارو وزارت او دفاع وزارت په دې موافقه وکړه چې دفاع وزارت د ANP د روزنې د اساسي پروګرام قراردادي مسووليت په غاړه واخلي. دې پلټنې سپارښتنه وکړه چې د CSTC-A د قوماندې جنرال د روزنې لپاره په واضح ډول تعريف شوې غوښتنې وټاکي، او همدارا ز د قراردادي د نظارت اغېزمن پروسيجرونه تطبيق کړي.[105]

د ANP د پرمختيا لپاره د قوماندې د جوړښت په اړه، دې پلټنې دا نتيجه راوويستله چې ANCOP د روزنې لپاره د DoS اوسنی قراردادي DoD ته اجازه نه ورکوي چې په هېواد کې د امنيتي وضعې د بدلېدو سره سم د روزنې په چارو کې سمدستي بدلونونه راولي، چې لدې امله د دې ځواک په تېزۍ سره د نويو حالاتو سره برابرېدل محدودي.[106] د اوسني سيستم لاندې، DoD بايد په روزنه کې د بدلونونو په اړه د مخدره موادو او د قانون د تنفيذ د چارو د نړيوالې بيورو (INL) سره په ارتباط کې وي، چې د روزنې تازه شرايط ۱۲۰ ورځې (څلور مياشتې) د هغوی له تطبيقېدو وړاندې ورکوي. خو INL د DoS\DoD پلټونکو ته وويل چې دا تطبيقېدل په اصل کې شپږ مياشتې نيسي.[107]

ANP نه د پرسونل وتل هم يو چيلنج دی، د ايساف له مخې د دې کچه ۲۵% ده. په ANCOP کې د پرسونل د وتلو شرحه تر ټولو زياته ده، د ۶۷% په کچه، باوجود د دې حقيقت چې ANCOP د ANP دننه تر ټولو ښه روزل شوی او زيات تعليميافته ځواک دی. د دې لپاره چې ANP نه د وتلو مخه ونيسي، NTM-A/ CSTC-A پلان لري چې په مې ۲۰۱۰ کې يو دوره لرونکی پروګرام پيل کړي کوم چې به د ارام داسې موده لري چې د ANCOP پرسونل ېکي نور د زده کړې او تعليمي روزنې ترسره کولی شي، او رخصتۍ اخيستلی شي.[108] د کورنيو چارو وزارت هم د دې ستونځې د کمولو لپاره کار کوي؛ دې دا هدف ټاکلی چې تر ۲۰۱۵

۳.۲٤ انځور

د ولايتي ټاکنې په ترتيب د افغان ملي پوليسو د روزنې فارغان




يادونه: د ورکړل شوې ډاټا نه د افغان ملي پوليسو د 272 د ټاکنو په معلومولو ونه توانېدو.
سرچينه: NTM-A/CSTC-A، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\1\4.

پورې د وظیفې د پرېښودو کلنۍ شرحه تر ۲۰% هم کمه کړي. یو ورسره تړلی هدف تر همدغې مودې د نوي پرسونل د دایم ساتلو شرحه ۶۰% ته لوړول دي.[109]

د هغې روزنې د عمومي معیار د بهترولو لپاره چې د ANP پرسونل یې ترلاسه کوي، د کورنیو چارو وزارت او ناټو د افغان پولیسو د روزنې ټیمونه (APTTs) جوړوي چې د ۲۰۱۲ تر پیله به په ټولو ولایتونو کې وي. د APTTs عمله هغه افغان روزونکي دي چې د ایساف د پولیسو د فعالیتي سرپرست او د ارتباط د ټیمونو او د سرپرستۍ د ټیمونو سره یو ځای کار کوي چې د روزنو لاس ته راوړل او پرمختیایي ظرفیت هغو ولسوالیو ته وغځوي په کومو کې چې روزنیزه مرسته نه وي. APPTs د یو افسر، دوو واړه ظابطانو (NCO)، او د یو ملکي تعلیمي روزونکي نه جوړ وي. دا ټیمونه د پولیسي روزنې، تعلیمي روزنې، سرپرستۍ، اداري (پرسونل کې د مخدره موادو ازموینه او احتساب، وسلو، او حقونو)، او فساد ضد روزنو مسوولیت په غاړه لري.[110] /NTM-A CSTC-A داسې لارې ګوري چې غیر دولتي سازمانونه په دې وتوانوي چې ANP ته په بشري حقونو او ټولنیزو اړیکو کې روزنې برابرې کړي.[111] د APTT روزونکي به فساد ضد چارواکیو په توګه هم کار کوي او که ضرورت شي نو د ANP یونټونو ته به په سمدستي کار ته هم ورځي. APTTا به د کورنیو چارو د وزارت دننه د خپلواکو چارواکیو په توګه کار کوي، او د روزنې او زده کړې مرستیال رییس ته به راپور ورکوي.[112]

د روزنې په معیار کې د بهتریو سره سره، د کورنیو چارو وزارت غواړي د ANP روزنه زیاته یونیفورمي او تسلسلي کړي، او د جذب او روزنې لپاره د مرکزي قوماندې او کنټرول د نشتوالي ستونځه حل کړي. د DoD له مخې، د کورنیو چارو وزارت په جنوري ۲۰۱۰ کې د ANP د جلب قوماندانه جوړه کړه چې د دې هدف په لاس ته راوړلو کې مرسته وکړي. دا نوې قوماندانه به په ټول ANP کې د جلب و جذب ټګلارې مربوطې او راغونډې کړي. د دې عمله به ۲۶۳ جلبوونکي وي، چې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې به کار کوي، او د جلب و جذب فعالیتونه به نېغ په نېغه د کورنیو چارو د وزارت د مرکز سره انسجاموي.[113]

## په افغان ملي پولیسو کې ښځې

په ANP کې جنسي برابري ترلاسه کول لا هم یو چیلنج دی. د کورنیو چارو وزارت دا هدف ټاکلی چې په راتلونکیو پنځو کلونو کې ۵۰۰۰ ښځینه افسراني په کار وګوماري.[114] د فبروري ۲۱، ۲۰۱۰ سره سم، ANP ۹۴۴ ښځینه پرسونل درلود، چې دا د دې ځواک ۱% دی. ښځې پکې لاندې چوکۍ لري: ۱۰۸ افسراني، ۳۶٤ ظابطانې (NCO)، ۲۳۷ د ګزمې افسرانې، او ۲۳۵ ملکي مامورینې.[115]

نولس تنه ښځې د مارچ ۲۰۱۰ په ۱۱مه د افسر د چوکۍ لپاره د کابل د پولیسو په ملي اکادمۍ کې د اتو اونیو د بنسټیز کورس (بنسټیز-۸) څخه فارغې شوې. دا د ښځینه افسرانو د روزنې شپږمه دوره وه؛ لومړنۍ دوره د ۲۰۰۸ په اکتوبر کې پیل شوه. د مارچ ۱۱ فارغانو په ګډون، ۱۵۰ ښځینه افسرانو د بنسټیز-۸ پروګرام څخه فراغت اخیستی.[116]

د ANP د روزنې په اړه د DoS\DoD پلټنې سپارښتنه وکړه چې CSTC-A او INL دې هغه سرچینې زیاتې کړي چې دوی د ښځینه پولیسو د ځواک د جوړولو لپاره وقف کړې دي. د ښځو جلب و جذب او په وظیفه ساتل د ډېرو خنډونو سره مخ دي.[117]

- په افغانستان کې ډېرې ښځې بې سواده دي او یا لیک لوست نشي کولی
- مذهبي او کولتوري ممانعتونه په ټولنه کې د ښځو رول ټاکي.
- د ښځو نه تمه کېږي چې روایتي رول ترسره کړي، لکه د کور یا پخلنځي کارونه کول، د ماشوم پالنه، او بنسټیز انتظامي کارونه.
- ښځې د تګ راتګ هغه ازادي نه لري چې د هغو ورځنیو مسوولیتونو د سر ته رسولو لپاره ضروري ده چې



**د افغان ملي پوليسو ښځينه زده کوونکې** د کابل په نظامي روزنيز مرکز کې په تاکتيکي تمرين کې برخه اخلي. د اتو اونيو د دې بنسټيز کورس پر مهال، زده کوونکې د افغانستان د قوانينو، بشري حقونو، او د لومړي ځواب ويلو د مسووليتونو په اړه زده کړه کوي. دوی د تاکتيکونو، سرک د غاړې ماينونو، کشف، استخباراتي معلوماتو راغونډولو، د ملکي ګډوډۍ د سمبالولو، او د ويشتلو د تخنيکونو په اړه هم روزنه ترلاسه کوي. (د متحده ايالاتو د هوايي ځواکونو انځور، سارا براون)

ANP داسې ۱۳۱ چوکۍ جوړې کړې دي چې بايد په ښځينه افسرانو ډکې کړای شي:

- د شکايتونو مرستياله افسره (۱ افسره)
- د پلان جوړونې مرستياله افسره (۱ افسره)
- د تليفوني مرکز چلوونکې (۷ ملکياني)
- د جنس د چارو مشره (۱ افسره)
- د مخابراتو او بېدارۍ افسره (۱ افسره)
- د شکايتونو مرستياله افسره (۱ ملکۍ)
- د مشرې مرستياله او د جنس سپروايزره (٦ افسرانې)
- د کورنۍ سپړلې افسره (۵ NCO)
- د فاميلي ځواب د يونټ مشره (۳۷ افسرانې)
- د فاميلي ځواب د يونټ څېړونکې (۳۷ NCO)
- د جنس د حقونو څېړونکې (٦ افسرانې)
- د ټريوال سامان افسره (۳ NCO، ۳ افسرانې)
- د څارنې او ارزونې افسره (۱ افسره)
- د څارنې او څېړنې د ټيم غړې (۱ ملکۍ)
- د پلان جوړونې افسره (۱ افسره)
- د تحقيق افسره (۱ افسره)
- د سکواډ کنټرولره (۱۸ NCO)

سرچينه: NTM-A/CSTC-A، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰/۱/۱۴.

د پوليسو د کار سره اړوند وي، لکه موټړې چلول او له ماښامه وروسته کار کول.

- په ټولنه کې د ښځو رول – کوم چې د فاميل د نارينه غړو، قومي مشرانو، او ملايانو لخوا ټاکل کېږي – عموماً ډېر محدود وي.
- د پوليسو په ځواک کې د ښځو د کار د مفکورې سره د ټولو افغانانو لخوا بشپړه مرسته نه کېږي.
- د ماشوم د پالنې ترلاسه کول او ورسره تړلې اسانتياوې محدودې دي.
- روزنه د يوې ښځې نه غوښتنه کوي چې شپه د خپل فاميل څخه ليرې په روزنيز مرکز کې تېره کړي، چې دا د کولتوري توقعاتو خلاف خبره ده.
- د ښځو لپاره د کار مناسب موقعيتونه بايد وپېژندل شي، او دغه بايد د ANP د سيميز قوماندان لخوا منل شوي وي. ټول قوماندانان دې ته لېواله نه وي چې په خپل يونټ کې ښځې ومني.

جنسي برابري ترلاسه کول به تش د ښځينه پرسونل د شمېر د زياتولو څخه زيات څه وغواړي. د ANP ټول پرسونل ته به د جنس سره تړليو مسلو په اړه روزنه ورکول کېږي. د بهرنيو چارو د وزارت له مخې، د ANP زياتره پرسونل به تر دسمبر ۲۰۱۰ دا روزنه بشپړې کړي.[118]

## د افغان ملي پوليسو انفراسټرکچر

د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم، NTM-A/CSTC-A راپور ورکړی چې د انفراسټرکچر ۲۵۰

انځور ۳.۲۵

د افغان ملي پولیسو تجهیزات




سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\1\4.

قراردادونه فعال دي، دا هماغومره دي چې په تېره درې میاشتنۍ کې وو؛ د دې قراردادونو تر ټولو زیاته شمېره په مرکزي سیمه کې د پروژو لپاره ده، چې یواځې یوه پروژه یې په لویدیځ کې ده. شپږ اویا قراردادونه چې په مجموعي ډول یې ۱٤۰.۲ ملیونه ډالر ارزښت درلود تاکل شوې وه چې په دې درې میاشتنۍ کې بشپړې شي. په دې درې میاشتنۍ کې، ۱۳ قراردادونه چې په مجموعي ډول یې ۱۷.۰ ملیونه ډالر ارزښت درلود فسخ کړای شوې – ۱۰ د امنیتي وضعې له امله او ۳ د ځمکې د شخړو له امله. دوه نوي قراردادونه چې د ۲.۶ ملیونه ډالرو وو ورکړل شول.[119]

## د افغان ملي پولیسو تجهیزات

د NTM-A/CSTC-A له مخې، د جنوري ۱ نه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې، ANP د ٥٤۹ راډیوګانې، ٤۷۸ موټرې، او ۲٤۰وسلې په کار اچولې (وګورئ انځور ۳.۲۵). د موټرچلوونکیو دوامي روزنه د دې توان ورکوي چې نورې موټرې په کار واچوي. NTM-A/CSTC-A تمه لرې چې په راتلونکو اوو میاشتو کې هره میاشت د ANP لپاره اوسط ۲٥۰ موټرې ترلاسه کړي.[120]

یواځینۍ وسلې چې د دې درې میاشتنۍ پر مهال ترلاسه شوې وې پي کې ماشینګنې وې. د NTM-A/ CSTC-A له مخې، د راتلونکې لپاره د پلان شویو وسلو په شمېره کې ډېر غټ بدلون و – په تېره درې میاشتنۍ کې د ۲٤٤۸ قلمه څخه په دې درې میاشتنۍ کې تر هیڅ. د ترلاسه شویو وسلو شمېره هم په دې درې میاشتنۍ کې کمه شوه، ۱۰۱۷ قلمه د تېرې میاشتنۍ څخه کمې. د NTM-A/CSTC-A له مخې، د دې کمې هدف دا و چې د کورنیو چارو وزارت وهڅوي څو د وسلو د زیاتوالي زیات احتساب تطبیق او نافذ کړي.[121]

تر ټولو غټ زیاتوالی چې د ترلاسه شویو تجهیزاتو په لړ کې راغلی و د راډیوګانو په شمېره کې و – نږدې ٤۹۰۰ په دې درې میاشتنۍ کې، په پرتله د تېرې درې میاشتنۍ د هیڅ.[122]

## د ملي پولیسو تلفات

د IJC له مخې، د دسمبر ۲۸، ۲۰۰۹ نه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې ملي پولیسو ٤۷٦ تلفات لیدلي: ۳۱۹ تنه پرسونل په جګړه کې ټپیان شوي وو، او ۱٥۷ په جګړه کې وژل شوي وو. د تلفاتو اندازه د تېرې درې میاشتنۍ په نسبت تر ۸۰% زیاته لوړه شوې. زیات تلفات په هلمند، کندهار، او خوست کې وو، لکه چې په انځور ۳.۲٦ کې ښودل شوي.[123]

انځور ۳.۲٦

د ملي پولیسو تلفات د ولایت په ترتیب




یادونه: تلفات راپور شوي د 12\28\2009 څخه تر 3\31\2010.
سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\1\4.

د DoS\DoD د پلټنې له مخې، د پرسونل اوسط شمېره چې په هره مياشت کې وژل شوي په تېرو څلورو کلونو کې په تېزۍ سره زياته شوې. پلټونکې په دې نتيجه رسېدلې چې د ANP پرسونل د جګړې پراخه وړتياو، لا زيات روزنيز ظرفيت، او د پوليسو لا زياتو ښوونکيو ټيمونو ته اړتيا لري چې د ANP نويو ځواکونو ته وده ورکړي.[124]

د کورنيو چارو د وزارت له مخې، د ANP د تلفاتو د لوړې شمېرې دليل د تروريستانو هغه بريدونه کېداى شي چې تمرکز يې ارادتاً د ايتلافي ځواکونو يا ANA په نسبت پر ANP وي. دا ځکه راپېښېږي چې د ANP پرسونل عموماً په کوچنيو ډلو کې ګزمه کوي، د ګزمو لارې يې په اسانى معلومېداى شي، او بريدونو ته د هغې تېزۍ په قوت ځواب نشي ورکولى لکه يو نظامي ځواک چې يې کولى شي. د دې بريدونو شمېره لوړه شوې ده. د ANP ډېر پرسونل په داسې بريدونو کې د ورته رسېدلو ټپونو له امله مري، چې لامل يې د طبي مهارت او د پېښې ځاى نه د انتقالولو د ظرفيت کمى دى.[125] د کورنيو چارو وزارت غواړي د تلفاتو دا لوړه شمېره له لاندې څو لارو کمه کړي:[126]

- د حفاظتي تدابيرو بهترول
- حفاظتي موټرې ورکول
- د استخباراتو په رهبرۍ عمليات پلې کول
- په ليرې موقعيتونو کې د ضعيفو يونټونو د ځاى پر ځاى کولو څخه ځان ساتل
- تاکتيکي روزنه پراخول
- د ولايت او ولسوالى په کچه د تېز غبرګون د ځواکونو بهترول
- د سرک د غاړې د ماينونو د مقابلې وړتياوې زياتول
- طبي مرستې ته لاسرسى بهترول

**د ۲۰۱۰ د فبرورى په ۲۳مه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې مشن (يوناما) راپور ورکړ چې د مجاهدينو اوو پخوانيو قوماندانانو خپلې وسلې په باميان ولايت کې ولايتي چارواکيو ته وسپارلې. دوى دا کار د دې لپاره وکړ چې د خپلې ولسوالى لپاره هغه پرمختيايي پروژې ترلاسه کړي چې د نړيوالې ټولنې لخوا يې مرسته کېږي.**

سرچينه: يوناما، مطبوعاتي اعلاميه، "پخوانيو قوماندانانو وسلې د پرمختيا لپاره ورکړې،" ۲۰۱۰،۲۳،۲.

## د غير قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کول

د ملګرو ملتونو د پرمختيايي مرستې لايحه حکومتدارۍ، سولې، او ثبات ته ترجيح ورکوي. د دې لايحې دوه مهم اړخونه د غير قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کول او په ملي او ولايتي کچه د ادارو پياوړې کول دي. د غير قانوني ډلو د بې وسلې کولو (ډاياګ) پروژه په ۲۰۰۵ کې پيل شوې وه چې د هغو غير قانوني وسله والو ډلو چې هېواد يې بې ثباته کړى و نبغ په نبغه په بې وسلې کولو سره د افغان دولت مرسته وکړي.[127]

د دې خبرې د يقيني کولو لپاره چې بې وسلې شوې ډلې بې وسلې پاتې شي، د ډاياګ سمبيز دفترونه او سيمييزې امنيتي ادارې په پرله پسې توګه د پخوانيو قوماندانانو او د هغوى د يونټونو نظارت کوي. شپږ مياشتې وروسته له هغې چې يوه ډله تابع ګڼل شوې وي، د ډاياګ د نظارت او جاجونې يوه ډله يوه پس له اطاعته سروې ترسره کوي، کومه چې د امنيت، حکومتدارۍ، او دولت لپاره د عامه ملاتړ په اړه د سيمييزو خلکو څخه سروې کول وي څو په يوه داسې سيمه کې په چاپېريال ځان وپوهول شي کومه چې مخکې د غير قانوني وسله والو ډلو په قبضه کې وه. يوه بله طريقه د پخوانيو غير قانوني وسله والو ډلو د نظارت د ډاياګ د سيمييزو دفترونو د منيجرانو، واليانو، د ډاياګ د ولايتي کواردينانورانو، او امنيتي ادارو سره د دوى په اړه د معلوماتو عادي تبادله ده.[128]

برسېره پر بې وسلې کولو او نظارت، د ډاياګ په چارو کې د عامه معلوماتو فعاليتونه هم شامل وي. د عامه معلوماتو يونټ د سولې او بې وسلې کولو په اړه د عامه خدمت اعلانونه جوړوي، په کومو کې چې د ملي شورا نوموتې غړي او نور معزز خلک راښکاره کېږي. دا اعلانونه په راډيو او تلويزيون نشرېږي.[129]

چوکاټ ۳.۳

| د بې وسلې کولو معیارونه، درې میاشتې-په درې میاشتې پرتله | | |
|---|---|---|
| **سرچینه** | **د وسلو شمېره، ۲۰۰۹\۱۹\۱۲** | **د وسلو شمېره، ۲۰۱۰\۱۳\۳** |
| د ډایاګ لخوا راغونډې شوې وسلې | 45,830 | 47,359 |
| د ملي امنیتي ادارو لخوا راغونډې شوې\نیول شوې وسلې | 11,815 | 12,419 |
| انفرادي وسلې چې د کورنیو چارو د وزارت لخوا ثبت شوي | 18,916 | 20,364 |
| د شخصي امنیتي شرکتونو ثبت شوې وسلې | 16,927 | 20,504 |
| د ایساف لخوا له منځه وړل شوې یا ساتل شوې وسلې، اټکل شوي | 14,000 | 14,000 |
| **د افغان دولت د کنټرول لاندې وسلې** | **107,533** | **114,646** |

سرچینې: یوناما، "د ډایاګ د تطبیقولو د پرمختګ راپور،" ۲۰۱۰\۱۳\۳؛ د بهرنیو چارو وزارت، سیګار ته د معلوماتو د پوښتنې ځواب، ۲۰۱۰\٦\۱.

## حالت

د مارچ ۱۳، ۲۰۱۰ سره سم، ډایاګ په افغانستان کې ۱٤۰ ولسوالۍ هدف کړې وې، د کومو نه چې ۹۵ تابع ګڼل شوي. د بې وسلې کولو په هڅه کې، ټول اعداد و شمار چې ډایاګ راپور کړي په دې درې میاشتنۍ کې زيات شوي، پرته له هغه شمېر وسلو چې د ایساف لخوا له منځه وړل شوي او یا ساتل شوي، د کومو شمېر چې هماغه دی کوم چې تېره درې میاشتنۍ و، لکه چې په چوکاټ ۳.۳ کې ښودل شوي.[130]

د دسمبر ۱۹، ۲۰۰۹ څخه تر مارچ ۱۳، ۲۰۱۰ پورې، د ډایاګ امنیتي ځواکونو ۱۵ غیر قانوني وسله والې ډلې منحل کړې، چې د دې ټوله شمېره یې ۷۰٤ ته ورسوله. ډایاګ هغه دولتي چارواکي هم هدف ګرځوي چې د غیر قانوني وسله والو ډلو سره ارتباط لري. د داسې ۷۲ چارواکیو څخه، ۳٤ تابع اعلان شوي، او ۳۳ د خپلو چوکیو څخه لیرې کړای شوي دي. امنیتي ځواکونه د ډایاګ لخوا ټول شوي مهمات د له منځه وړلو لپاره جمع کوي. د مارچ ۱۳، ۲۰۱۰ سره سم، ډایاګ راپور ورکړی چې ۳۰،۹۹۲ میټرک ټنه مهمات غونډ شوي دي. له کاره لویدلي مهمات له منځه وړل کېږي.[131]



**له عملیاتو وروسته د یاغیانو تجهیزات** او د مخدره موادو یوه ذخیره موندل شوې. غیر قانوني وسله والې ډلې د هېواد امنیت ته ګواښ دی. (د برتانیې د دفاع د وزارت انځور)

## امنیتي عملیات

ANSF د غیر قانوني وسله والو ډلو په بې وسلې کولو کې برخه اخلي. د افغان ملي پولیسو ستراتیژي وایي چې ANP به د غیر قانوني ډلو او نامسووله افرادو څخه وسلې او مهمات غونډ کړي. دا همداراز وایي چې ANP به د استخباراتو په رهبری عملیاتو ترسره کولو ته دوام ورکړي او د غیر قانوني وسله والو ډلو د منحل کولو لپاره پروګرامونه په لاره واچوي.[132]

## ننګونې

د ډایاګ پروګرام د تطبیق په لړ کې په دې درې میاشتنۍ کې هم د یو شمېر ننګونو سره مخ و. په ډېرو ولایتونو کې، خرابه امنیتي وضعه د ډایاګ د پروګرامونو مخه نیسي؛ په ځینو سیمو کې، د ډایاګ سره تړلې ټولې هڅې ممنوعې دي. دې نورو فاکتورونو دا هڅې ګرانې کړې دي:

- په درز کې د وسلو قاچاق
- د غیر قانوني وسله والو ډلو په اړه محدود معلومات
- د بې وسلې کولو د تنفیذ لپاره د ولایت او ولسوالیو په کچه ضعیفه دولتداري
- ډایاګ سره په سیاسي ژمنتیا کې کمی زیاتی

برسېره پر دې، د وسلو د سمبالښت يو مناسب سيسټم نشته: د دولت لخوا ورکړل شويو او په شخصي توګه لرونکو وسلو کوم مرکزي ډاټابيس نشته. د دې خراب نظارت له امله، په ډېرو پېښو کې ډاياګ د غير قانوني وسله والو ډلو څخه داسې وسلې ترلاسه کړي چې د دولت لخوا ورکړل شوي. برسېره پر دې، د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام له مخې، د امنيتي ادارو – داسې لکه د دفاع وزارت، د کورنيو چارو وزارت، او د ملي امنيت رياست – ترمنځ د هغو معلوماتو په اړه د اړيکو د بهترۍ امکان شته چې د ډاياګ په هڅو کې مرسته کوي.[133]

## د سرک د غاړې ماينونه

د DoD له مخې، د سرک د غاړې د ماينونو په شمېره کې د پام وړ زياتوالی راغلی، او ورسره د امريکايي تلفاتو په شمېره کې هم. د سرک د غاړې ماينونو ته د ماتې ورکولو ګډ سازمان معلومه کړې چې په افغانستان کې د سرک د غاړې زياتره ماينونه په کورونو کې جوړ شوي. طالب ياغيان هم د دې پروا نه کوي چې بريد په چا کوي، چې لدې امله د ملکي تلفاتو شمېره ايتلافي او افغان ځواکونو له هغو تلفاتو ډېره زياته ده چې په دې ماينونو کې مړه کېږي[134]

### حالت

IJC راپور ورکړی چې د دسمبر ۲۸، ۲۰۰۹ څخه تر مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ پورې د ايتلافي ځواکونو يا نړيوالو ملکي اهدافو خلاف د سرک د غاړې ۱۰۲۱ بريدونه ترسره شوي؛ چې تقريباً نيم يې په هلمند کې وو.[135] دا د سرک د غاړې د ماينونو په هغو ۸۳۶ بريدونو کې د پام وړ زياتوالی دی چې په تېره درې مياشتنۍ کې راپور شوي وو.[136]

### امنيتي عمليات

د IJC له مخې، په دې درې مياشتنۍ کې ANSF او ايتلافي ځواکونو د سرک د غاړې ۱۴۰۰ ماينونه موندلي.[137] د سرک د غاړې ماينونو د هغې خطرې تر ټولو غټه برخه تشکيلوي چې ANSF او ايتلافي ځواکونه ورسره مخ دي. د دې خطرې په ځواب کې، DoD داسې پروګرامونو ته ادامه ورکوي چې د سرک د غاړې ماينونو اغېز کم کړي:[138]

- د الي د چاودولو د اغېز کمول، په ګډون د بهترو موټرو او د شخصي تحفظ د بهترو سامانونو
- د سرک په غاړه اېښودل شويو ماينونو په معلومولو او پېژندلو کې بهتري
- د مقابلتي تدابيرو په کارولو د سرک د غاړې د ماينونو د چاودولو مخنيوی
- د سرک د غاړې د ماينونو د جوړولو او ويش د شبکو پېژندل او په نښه کول، په ګډون د مالي شبکو
- د پرسونل لپاره بهتر ټرېننګ

د مارچ ۲۰۱۰ په ۱۰مه، د ANSF يونټونو، چې د ايساف نه په خپلواکۍ سره کار کوي، په کابل کې د وسلو يوهستره زېرمه وموندله. په دې زېرمه کې تر ۱۰۰۰ زيات د ريموټ کنټرول يونټونو سره چاودوونکي او ۷۰۰ کيلوګرامه چاودېدونکي شامل وو، چې د سرک د غاړې د ۲۸ ماينونو د جوړولو لپاره کافي وو. دوه ياغيان دې وسلو سره د هغوی د تړاو له امله نيول شوي وو.

سرچينه: ايساف، مطبوعاتي اعلاميه، "افغان ملي امنيتي ځواکونو په کابل کې د وسلو مهمه زېرمه راوويستله،" ۲۰۱۰/۱۱/۳.

ايساف ANA لپاره د سرک د غاړې د ماينونو د مقابلې ټرېننګ ترسره کوي. د مارچ په ۲۰۱۰ په ۲مه، په يوه غونډه کې د ۲۰۵م قول اردو د سرک د پاکولو د شرکت د ۷۰ تنو غړيو د فراغت په درناوي کې جوړه شوه. دې فارغانو ته د ماينونو په لېرې کولو، د سرک د غاړې د ماينونو د مقابلې په تدابيرو، او د لارو د پاکولو په نورو مهارتونو کې د شپږو مياشتو کورس ورکړل شو. د ايساف له مخې، د ۲۰۵م قول اردو د لارو د پاکولو غونډ به په کندهار کې د ايساف ځواکونو د تهور هدف ځواک سره يوه فعاليتي ملګرتيا پيل کړي.[139]

ايتلافي ځواکونه د سرک د غاړې د ماينونو خلاف جګړه کې د يو داسې پروګرام له لارې هم مرسته کوي په کوم کې چې د

متحده ایالاتو د سمندري ځواکونو روزل شوي سپي د دې لپاره کاروي چې د سرک د غاړې ماینونه معلوم کړي او د هغوی ځایونه وښيي. د دې پروګرام د روزنیزو غونډو تمرکز سپو او د هغوی سمبالوونکو په دې ښودلو وي چې څرنګه په بهتر ډول د سرک د غاړې ماینونه او هغه مواد چې پکې کارول کېږي وپېژني.[140]

## ننګوني

DoD راپور ورکړی چې د سرک د غاړې د ماینونو په بریدونو کې د پام وړ زیاتوالي زیات لاملونه لاندې فاکتورونه دي:[141]

- په تاکتیکونو، تخنیکونو او داسې پروسیجرونو کې پرمختګونه لکه د مختلفو موادو کارول، غټې چاودنې جوړول، او د ماینونو معلومول زیات مشکلول
- مهارت ته د انټرنېټ له لارې لاسرسی
- د ماینونو جمع کول



**د ملي اردو یو سرتیری** د یوې لارې د پاکولو د مشن پر مهال اوسپنیز ماین پاکوونکی کاروي. ملګري ملتونه د دې لپاره روزنیزه مرسته برابروي چې د پنځو سیمیزو قوماندو څخه په هره یوه کې د لارو د پاکولو ورتیاوو ته وده ورکړي. (د NTM-A/CSTC-A انځور)

## د ناچاودېدلو موادو لیرې کول

د DoS له مخې، تقریباً ۶۴۳۴ خطرناکې سیمې د افغانستان اټکلاً ۶۶۵ مربع میټره جوړوي.[142] د ملګرو ملتونو د سرمنشي له مخې، په دې سیمو کې تر ۲۱۵۰ زیاتې افغان کورنۍ نیغ په نیغه د ناچاودېدلو توکو څخه اغېزمنې شوې دي. د DoS له مخې، ناچاودېدلې توکي هره میاشت اوسط ۴۰ تلفات رامنځته کوي، چې زیاتره یې ماشومان وي. ناچاودېدلي توکي د ژوند د وسیلو د چارو مخه هم نیسي، زراعتي ځمکې، د اوبو سرچینو، روغتیايي اسانتیاو، او تعلیمي اسانتیاو ته د لاسرسي په لار کې خنډ کېږي. نوې خطرناکې سیمې اوس هم راښکاره کولی شي.[143]

ملګري ملتونه په افغانستان کې د ماینونو د اقدام د انسجام د مرکز (MACCA) له لارې د ماینونو د لیرې کولو هڅې رهبري کوي. د ټولنې پر بنسټ د ماینونو د لیرې کولو هڅې هم کارول کېږي. د ټولنې پر بنسټ د ماینونو د لیرې کولو (CBD) پروګرام په محلي توګه داسې کاري ځواک نیسي چې د کومې افغان موسسې لخوا جذب شوي، روزل شوي، او په کار اخیستل شوي وي، کوم چې د عملیاتو د ټولو اړخونو نظارت کوي. د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم، DoS د CBD پروګرامونو ته په هلمند، کندهار، او کونړ ولایتونو کې مرستې ورکوي. د هلمند د نوزاد په ولسوالۍ کې هڅې د DoS او په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت لپاره د ځانګړې علاقمندۍ وړ دي ځکه چې دا د یاغیتوب ضد ستراتیژۍ د قالب، تصفیه، تحکیم، تعمیر د پراوونو یو نمونه عنصر دی. په نوزاد کې، ماین لیرې کوونکي د تحکیم په پړاو کې د جګړې له پای ته رسېدو سمدستي وروسته راورسېدل، او خلکو سره یې کورونو ته په ستنېدو کې مرسته وکړه.[144]

د راتلونکو ۱۲ نه تر ۱۸ میاشتو (د اپریل ۲۰۱۰ څخه)، DoS او مرستیال سازمانونه به وغواړي چې د CBD فعالیتونه پراخ کړي او په ولایتي کچه په پروژو کې د ملکي-نظامي-افغان دولت همکاري بهتره کړي. دوی به همداراز د افغان دولت د ماینونو د پاکولو د ریاست د ظرفیت د لوړولو مواقع هم وګوري، کوم چې متوقع ده چې په ۲۰۱۳ کې د ماینونو د لیرې کولو د پروګرام سمبالښت له ملګرو ملتونو څخه واخلي.[145]

**له ۱۹۸۸ راهیسې، د ماینونو د لیرې کولو اداري په افغانستان کې په پرله پسې توګه فعالیت کوي. له ۱۹۹۳ راهیسې، د متحده ایالاتو حکومت د ماینونو د لیرې کولو د هڅې د مرستې لپاره ۱۲۵ ملیونه ډالر ورکړي دي. دا په دې کال کې د ۳۵ ملیونه ډالرو د ورکولو پلان لري، چې د ۳۰۰۰ نه زیاتو افغانانو لپاره به وظیفې پیدا کړي.**

سرچینه: DoS، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱\۱۴؛ په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت، "د ماینونو په وړاندې د اقدام د نړیوالې ورځې پر مهال د متحده ایالاتو د سفیر ایکنبري خبرې،" ۲۰۱۰\۳\۱۴.

## حالت

د ملګرو ملتونو له مخې، په جنوري او فبروري ۲۰۱۰ کې، MACCA ۱۷۲۷ پرسونل ضد ماینونه، ۱۳۵ ټانک ضد ماینونه، او ۱۱۰،۱۹۴ د جګړې پاتې چاودېدونکي مواد لیرې کړي. په افغانستان کې په ماینونو د

لړل شوې سیمې کچه ۳۹% کمولو کې مرسته وکړه. نهه ویشت ځایونه د ماینونو او نورو ناچاودېدلو موادو نه پاک کړای شوي. د دغو دوو میاشتو پر مهال، MACCA او د ماینونو د لیرې کولو په هڅه کې یې نورو شریکوالو ۶۱،۰۹۹ ښځو او انجونو او ۸۷،۵۱۸ سړو او هلکانو ته په ټول هېواد کې د ماینونو د خطرو په اړه زده کړې وکړې.[146] د همدې مودې پر مهال، د ماینونو د ۷۴ پېښو راپور ورکړای شوی و؛ چې هره پېښه د یو جلا تن په اړه وه.[147]

له ۱۹۹۳ راهیسې، د ناچاودېدلو توکیو په لیرې کولو کې د DoS د بودیجو شریکوالو تر ۱۶۰ ملیونه مربع میتره څخه زیاته ځمکه پاکه کړې او شاوخوا ۳.۰۶ ملیونه ځمکني ماینونه او د جګړو نور پاتې شوني یې له منځه وړي دي. دې شریکوالو همداراز تر ۱۱،۵۸۵ میترک ټنه زیات ذخیره شوي، پرېښودل شوي، په خطره کې، بې کاره چاودېدونکي توکي او مهمات هم له منځه وړي یا لیرې کړي دي.[148]

ADU لپاره د ځای پاکول د ماینونو د لیرې کولو یوه مهمه هڅه وه چې په دې وروستیو کې بشپړه شوې. د دې ځای د تیارولو لپاره، ۱۵۰۰ ایکړه ځای نه ماینونه لیرې کړای شول. دا هڅه په ۲۰۰۸ کې پیل شوه او د ناچاودېدلو توکیو د پام وړ اندازه لیرې کول پکې شامل وو.[149]

## ننګونې

د ناچاودېدلو توکیو د لیرې کولو د هڅو لپاره بودیجې پیدا کول یوه ننګونه ده. په فبرورۍ ۲۰۱۰ کې ملګرو ملتونو راپور ورکړ چې بودیجې باید زیاتې کړای شي تر څو د ماینونو د لیرې کولو هغه اهداف لاس ته راوړل شي چې د افغانستان د ملي پرمختیا په ستراتیژۍ کې ټاکل شوي، لکه چې د "امنیت تازه حال" په برخه کې په چوکاټ ۳.۱ کې ښودل شوي. همداراز بودیجې باید په وخت ترلاسه شي، د کال له پیلېدا مخکې، تر څو چارې په اغېزمن ډول ترسره شي.[150]

## ایتلافي ځواکونه

په لندن کنفرانس کې ګډونوالو د ایتلافي ځواکونو د زیاتولو اړتیا تصدیق کړه د دې لپاره چې د ANSF د روزنیزو اړتیاو سره مرسته وشي. د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له مخې، ۲۱ تیمونه چې هر یو یې د ۲۰ نه تر ۳۰ تنو روزونکي ولري د ANA لپاره پکار دي، او ANP داسې ۱۱۹ تیمونو ته اړتیا لري. برسېره پر دې، شاوخوا ۱۳۰۰ روزونکي د دې لپاره پکار دي چې په یو اداري ظرفیت کې د افسرانو د روزنې، د وسلو د روزنې، او د عملي د پوهنځي او د یاغیتوب ضد اکادمۍ لپاره کار وکړي.[151]

ایتلافي ځواکونو په هغو ۱۵۰۰۰ ځواکونو کې د پام وړ شمېر سرتېري ورکړي وو چې په دې درې میاشتنۍ کې یې په هلمند کې ګډ عملیات ترسره کړل. د مشترک عملیاتو د ایساف د سیمییزې قوماندې (جنوب) څخه خلک لرل، چې ځواکونه پکې د متحده ایالاتو، برتانیې، ډنمارک، ایسټونیا، او کاناډا څخه اخیستل شوي وو.[152]

په مرکزي هلمند کې له نظامي عملیاتو وروسته به داسې هڅې پیل شي چې په پاکو شویو سیمو کې د افغان دولت حضور قوي کړي. د دې هڅې ملاتړ به د هلمند د ولایتي بیا رغونې د تیم (PRT) لخوا کېږي. د پي ار تیمونو په اړه د اضافي معلوماتو لپاره، وګورئ د "حکومتداري، د قانون حاکمیت، او بشري حقونه" ضمني برخه.[153]

# په امنيت کې نوي پروګرامونه

## د ټولنې پر بنسټ امنيت

متحده ايالات په افغانستان کې د قومي ملېشو مرسته نه کوي؛ خو، دا د سيمييز امنيت او بياخپلولو په هڅو کې په بېلابېلو ظرفيتونو کې ونده لري. د دې دوو افغان پروګرامونو هدف د ټولنې پر بنسټ امنيت ته وده ورکول دي: د سيمييزې دفاع پروګرام (LDI) او د افغان ولس د تحفظ پروګرام (AP3). متحده ايالات د افغان دولت د داسې هڅو ملاتړ کوي چې د دې ډول په ځان متکي امنيتي ځواکونه جوړ کړي. دا همداراز د پخوانيو ياغيانو د بياخپلولو لپاره د پروګرامونو د افغان دولت لخوا د جوړو کړو پروګرامونو مرسته هم کوي.[154]

## د سيمييزې دفاع پروګرام

د LDI پروګرام، چې د کليو د شوراګانو لخوا تنظيمېږي او چلېږي، د دې لپاره جوړ شوی چې د کلي په کچه امنيتي ځواکونه جوړ کړي څو په داسې مهمو سيمو کې د امنيت په ساتلو کې مرسته وکړي چېرته چې د افغانستان مرکزي دولت او ايساف تراوسه اغېزمن کنټرول نلري. LDI د سيمييزو قوماندو جنوب، لويديځ، او ختيځ کې په پنځو ولايتونو کې ځايونه جوړ کړي دي؛ او دا اوس هم د تطبيق په لومړنيو مرحلو کې دی.[155]

## د افغان ولس د تحفظ ځواک

AP3 يو تجربوي پروګرام دی چې د افغان دولت لخوا په ۲۰۰۹ کې په وردک ولايت کې پيل شو. AP3 ياغيتوب سره د مقابلې پرينسپونه قالب، تصفيه، تحکيم، او تعمير تعقيبوي. د AP3 پرسونل په ټولنه کې د ټولو اتنيکي ډلو او قومونو استازي لري. دا پروګرام د کلي د شورا سره کار کوي چې د ټولنې د امنيت لپاره پرسونل ونوموي. د دې پروګرام هدف يو داسې په ځان پوره سيمييز ځواک جوړول او تطبيقول دي چې په مهمو مرکزونو او انفراسټرکچر باندې د بريدونو په مخنيوي سره د امنيتي چاپېريال د ښه کولو لپاره د ANSF سره ملګرتيا وکړي.[156]

د افغان ولس د تحفظ ځواک (APPF) د AP3 امنيتي ځواک دی. د مارچ ۳۱، ۲۰۱۰ سره سم، د APPF پلان شوي ۱۲۱۲ تنه پرسونل څخه ۱۰۱۰ تنه شته، کوم چې د "ساتونکو" په نامه هم پېژندل کېږي. د APPF پرسونل خپلې اونيزې روزنې او تجهيزات هم ترلاسه کوي. يوه روزنيزه هڅه په مارچ ۲۰۱۰ کې پيل شوې وه څو د دې ځواک هدف قوت ترلاسه کړای شي.[157]

د APPF هدف دا دی چې د انفراسټرکچر د هغو مهمو پروژو او مرکزونو تحفظ وکړي کوم چې د نړيوالو ادارو او خصوصي سکټور د سازمانونو لخوا کارول کېږي. APPF په ټولو ټاکل شويو سيمو کې د ساتونکيو چوکۍ لري او تر هغې پورې خپل ځايونه د ياغيانو له خطرې ساتي تر څو چې د ANP، ANA، او يا ايتلافي ځواکونو مرسته غوښتل کېدای شي. APPF په داسې چاپېريالونو کې د تحکيم د ځواک په توګه کارول کېدای شي چېرته چې ANSF او ايتلافي ځواکونو د قالب او تصفيې پړاوونه ترسره کړي وي او امنيت يې راوستی وي. دا ځواکونه خالص دفاعي دي او د ګرفتارۍ واک نلري؛ د دوی کار دا ندی او داسې روزنه نده ورکړای شوې چې جارحانه عمليات ترسره کړي. APPF د ANP لپاره د ځواک د زياتوونکي په توګه کار کوي؛ يو ځل چې په بشپړ ډول تطبيق شي، نو داسې امکان لري چې دا په سرتېرو امنيتي مسووليتونه کم کړي، او په دې يې وتوانوي چې د نويو سيمو د تصفيه کولو په لور وخوځېږي. د متحده ايالاتو ځانګړي ځواکونه دا مهال د دې هدف سره د APPF روزنه او سرپرستي کوي چې دا به بالاخره د ANP کنټرول ته ولېږدول شي.[158] APPF پلان لري چې په پای کې د هغو شخصي امنيتي شرکتونو ځای ونيسي چې دا مهال د دې مرکزونو ساتنه کوي.[159]

د DoD له مخې، بياني راپورونه وايي چې دا ځواک په دې توانېدلی چې په کومو سيمو کې کار کوي هلته د سرک د غاړې د ماينونو او راکټي بريدونه کم کړي. دغه راپورونه دا هم وايي چې د دې پرسونل لخوا برابر شوي اضافي امنيت د وردکو ولايت دولت په دې توانولی چې ښوونځي پرانزي، ولسي غونډې جوړې کړي، او هغو موټروانانو ته اضافي تحفظ وراندې کړي چې په سيمييزو سړکونو ځي. په پايله کې، اقتصادي فعاليت او د ګرځېدو ازادي زياته شوې.[160] د DoD له مخې، په وردکو کې راپورونو ښودلې چې په هغو سيمو کې د امنيت په اړه نظرونه ښه شوي په کومو کې چې APPF کار کوي.[161]

**د ۲۰۱۰ د فبرورۍ په ۲۰مه، د وردک او ورسره نږدې ولايتونو تر ۲۰۰ زيات افغانان د AP3 د کورس نه فارغ شول. دا کورس چې د کورنيو چارو د وزارت لخوا پرمخ بيول کېږي، د امنيتي پوستو ساتل، د وسلو کارول، او د پرسونل ساتل پکې شامل دي. د فارغانو دا ټولګی په وردکو کې د دې کورس شپږم دی.**

سرچينه: ايساف، مطبوعاتي اعلاميه، "محلي خلکو د افغان ولس د تحفظ پروګرام بشپړ کړ،" ۲۰۱۰/۲/۲۳.



**د APPF غړي په وردکو کې** د بنسټیزې روزنې نه فارغېږي. APPF د ټولنې د کچې یو دفاعي امنیتي ځواک دی چې د انفراسټرکچر د مهمو پروژو او مرکزونو ساتنه کوي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور، رابرټ موریس)

## بیاخپلونه

په لندن کنفرانس کې افغان ولسمشر حامد کرزي د بیاخپلونې د یو پروګرام خاکه وړاندې کړه چې هدف یې طالبانو او د هغوی د ټیټې کچې قوماندانانو سره د دیالوګ له لارې سولې ته وده ورکول وو.[162] د DoS له مخې، د "بیاخپلونې" مانا د سیمییزو یاغي قوماندانانو او د هغوی د پلویانو بېرته ټولنې ته راوستل دي، کوم چې زیاتره القاعده سره اړیکې او یا اورپکې سیاسي اجنډا نه لري د پیسو، یا ګټې لپاره، او یا په جبر د طالبانو په لور تللي.[163] د یوناما د ستراتیژۍ یوې مقالې دې ته اشاره کړې چې که ځینې یاغیان ښایي اساساً د اقتصادي لاملونو لپاره جنګېږي، نو د یو شمېر نورو امکان شته چې د نورو وجوهاتو لپاره جنګېږي، چې په هغوی کې شامل دي ایډیالوژي، خفګان، جنایي ارادې، او د سپکاوي احساس. یاغي ذهنیت د دې فکر څخه هم منځته راتللی شي چې دولت فاسد دی او د قانون د حاکمیت توان نلري، او همداراز د بهرني یرغل د قبضې، د افغانستان د کولتور، ارزښتونو، او مذهب د سپکاوي احساس له امله هم.[164]

د بیاخپلونې پروګرام به د هغو جګړه مارانو لپاره د تحفظ، عفوې، او مرستې لارې جوړې کړي چې کوم بې وسلې کېږي. دا به پخوانیو جګړه مارانو سره په روزګار ترلاسه کولو کې مرسته کوي او د نظارت او بنسټ پالنې نه د ایستلو د هغو هڅو مرسته به کوي چې د بې وسلې کېدنې په لور ځي.[165] د DoD له مخې، د شمالي ټلوالې په څېر ډلو سره د موجودې وفادارۍ له امله د بې وسلې کولو په ځواب کې د برابرو مراعاتو پېژندل یوه حساسه مسله ده.[166] د DoD له مخې، د مالي کال ۲۰۱۰ د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو د قانون سره سم، په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه د ایساف سره یو ځای د دې لپاره کار کوي چې د افغان دولت د بیاخپلونې د پروګرام لپاره مرسته برابر کړي. د پخوانیو جګړه مارانو په مرسته کې شامل دي د وظیفو روزنه، زده کړې، او بل ځای ته د تللو مرسته. دا پروګرام همداراز پلان لري چې سیمییز مشران د دې لپاره وکاروي چې د هغو خلکو اعتبار تصدیق کړي کوم چې غواړي یاغیتوب پرېږدي او په افغان ټولنه کې بیا داخل شي.[167]

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له مخې، ولسمشر کرزی د سولې د یوې داسې ملي جرګې فکر کوي چې د بیاخپلونې د دې پروګرام نظارت به کوي.[168] DoS ویلي چې هدف د ۲۰۱۰ تر نیمایي پورې د نړیوالې ټولنې په مرسته د بیاخپلونې یو منظور شوی پلان جوړول دي.[169]

DoS اټکل کړی چې بیاخپلونې لپاره به د بودیجو غوښتنه په راتلونکیو څو کلونو کې د یو کال لپاره له ۱۰۰ ملیونه ډالرو واوړي. د افغانستان او پاکستان د سیمییز ثبات د ستراتیژۍ له مخې، د متحده ایالاتو کانګرس د دې هڅو د مرستې لپاره د DoD د مالي کال ۲۰۱۰ د مرستو واک ورکړی. نړیوالو شریکوال، په ګډون د جاپان او انګلستان، هم د افغانستان په مشرۍ د بیاخپلونې د هڅو د مرستې لپاره یوې نوې نړیوالې بودیجې ته د پیسو ورکولو ژمنې کړې دي.[170] د لندن په کنفرانس کې، نړیوالې ټولنې د دې بودیجې لپاره تر ۱۴۰ ملیونه زیاتو ډالرو ژمنه وکړه. خو، برسېره پر بودیجو، د ملګرو ملتونو عمومي منشي ویلي چې د روغې جوړې او بیاخپلونې د هرې پروسې بریالیتوب به پراخه ملي ملاتړ ته اړتیا ولري.[171]

# حکومتداري، د قانون حکومت، او بشري حقوق

په دې درې میاشتنۍ کې متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د وړتیاوو په لوړولو باندې ډېر تاکید کړی ترڅو ښې حکومتدارۍ ته لاره هواره او د قانون واکمني څواکمنه کړي. د افغانستان د اسلامي جمهوریت سره د مرستې لپاره متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې د افغان حکومت د ادارو د څواکمنتیا لپاره د سرچینو په برابرولو پیل کړی دی. همداراز په دې درې میاشتني راپور کې متحده ایالاتو په افغانستان کې خپل ملکي حضور پراخول پیل کړل. دغه پراختیا د دې لپاره رامینځ ته کیږي چې د افغان دولت سره مرسته وشي چې خلکو ته بنسټیز خدمتونه ورسوي او د عامو خلکو باور په دولت باندې ډېر شي.

"موږ د هغه ننګونو څخه چې په مخکې یې لرو، بې خبره نه یوو...اما د دې جګړې له پیل کیدو راهیسې دا لومړی ځل دی چې دحکومت لخوا داسې یو بشپړ پروګرام رامینځ ته کیږي."

______دامریکې دمتحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره،
هیلري راډهام کلینټن

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، "د افغانستان او پاکستان د سیمییز ثبات ستراتیژي،" ۲۰۱۰\۲۱\۱.

## حکومتداري

له مخکیني درې میاشتني راپور راهیسې، متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې موافقه کړې چې خپله زیاته پاملرنه د افغان دولت د دولتي ادارو د وړتیاوو لوړولو ته متوجه کړي. دواړه خواوې به د افغان دولت سره مرسته وکړي چې افغانستان د بیا رغونې په نوښتونو کې ډېر مسوولیت په غاړه واخلي.[172] د افغانستان او پاکستان لپاره د سیمییز ثبات د ستراتیژۍ له مخې، متحده ایالات هوډ لري چې د افغان دولت سره د دولتي خدمتونو په رسولو کې مرسته وکړي، حساب ورکونه زیاته کړي او افغان وګړو لپاره داسې یوه زمینه برابره کړي چې د دولتي زورزیاتي په



**د امریکې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره** آغلې هیلري کلینټن د افغان میرمنو سره د لندن په کنفرانس کې د روغبړ په حال کې (د بهرنیو چارو وزارت انځور)

مقابل کې یې مصؤنیت زیات شي.[173]

## د متحده ایالاتو د حکومتدارۍ ستراتیژي

لکه څنګه چې افغانستان لپاره د متحده ایالاتو په نوې ستراتیژۍ کې ورڅخه یادونه شوې ده، د متحده ایالاتو پالیسي په دې خبره تاکید کوي چې د افغانستان د دولتي ادارو وړتیاوې لوړې کړي څو د حکومتدارۍ او د بیا رغوني مسوولیت افغان چارواکو ته انتقال کړای شي.[174] د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په پام کې لري چې خپله نوې ستراتیژي په افغانستان کې د ملکي حضور د زیاتولو له لارې او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزارتونو سره د مرستې له لارې پلي کړي. همداراز به متحده ایالات خپلې هڅې د ولایتونو او ولسوالیو په کچه هم پراخې کړي.[175]

د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتونو اداري (USAID) راپور ورکړی چې دوی هم د نوې ستراتیژۍ له مخې خپلو پالیسیو ته تغیر ورکړی دی. USAID به مخکې افغان دولتي کارکوونکي په مستقیم ډول د قراردادیانو او د پلي کوونکو موسساتو له لارې روزل، خو اوس د دغه اداري قراردادیان هڅه کوي چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د پرمختګ لپاره کار وکړي. USAID راپور ورکړی چې دغه اداره هڅه کوي ترڅو د روزني کمیسیون وړتیا لوړه کړي چې بیا به یاد کمیسیون د دولتي مامورینو د روزني بشپړ مسوولیت په غاړه واخلي. د کمیسیون غړیو ته زده کړه ورکول کیږي چې د افغان دولت د ملکي مامورینو لپاره د روزنیزو مرکزونو د برابرولو جوګه شي. انتظار کیږي چې کمیسیون به دغه مرکز په بشپړ ډول د دوو کلونو په ترڅ کې په خپلواک ډول پر مخ بوځي. USAID همدا راز راپور ورکوي چې امریکایي مشاورین د امریکایي قراردادیانو په ځای په زیاتیدونکي او مستقیم ډول د افغان دولت د وزارتونو سره کار کوي.[176]

### بشري سرمایه: د ملکي حضور پراختیا

د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د نوې ستراتیژۍ موخه په افغان دولت کې د ظرفیتونو لوړول او د ځواکمنو، شفافو اوحساب ورکوونکو ادارو رامینځ ته کول دي. د دې موخې د پلي کولو لپاره، د متحده ایالاتو دولت خپل ملکي حضور د افغانستان په وزارتونو او ولایتي مرکزونو کې زیاتوي.[177]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د ۲۰۰۹ کال د جنوري څخه تر ۲۰۱۰ کال تر مارچ پورې، متحده ایالاتو په افغانستان کې خپل ملکي حضور د ۳۲۰ کسانو څخه ۹۲۰ تنو ته لوړ کړی دی. د ملکي حضور د پوستونو د ډکولو وروسته به په افغانستان کې ۹۷٤ تنه ملکي کارکوونکي شتون ولري. همدغه راز یاد وزارت راپور ورکوي چې دغه تعداد به د ۲۰۱۰ کال د مې په میاشت کې بشپړ شي.[178] چوکاټ ۳.٤ د پلان شویو کسانو لست او متحده ایالاتو د مختلفو ادارو د سهم ښودنه کوي. نور سهم اخیستونکي وزارتونه د کورنی امنیت، مالیې، ترانسپورت، روغتیا او بشري خدماتو وزارتونه دي.

چوکاټ ۳.۴

**د ملکي حضور پراختیا د متحده ایالاتو د ادارې برخه اخیستنې**

| اداره | د پلان شوي پرسونل تعداد |
|---|---|
| د بهرنیو چارو وزارت | 423 |
| د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره | 333 |
| د عدلیې وزارت | 128 |
| د کرنې وزارت | 64 |

یادونه: د کورنیو چارو، مالیې، ترانسپورت ، روغتیا او بشري خدماتو وزارتونه به د ضرورت په وخت کې اضافي کارکوونکي راولیږي.
سرچینې: د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\٦\٤؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\٦\٤.

د ۲۰۱۰ کال د اپریل د میاشتې را پدېخوا د نویو ملکي کارکوونکو د زیاتیدا توقع کیدله څو د افغانستان په ختیځو او جنوبي سیمو کې د وړتیاوو د لوړولو په چاره کې برخه واخلي.[179] د بهرنیو چارو وزارت په پام کې لري چې د ملکي تخنیکي مشاورینو شمېر د افغان دولت په وزارتونو، د ولایاتونو په مرکزونو، او ولسوالیو کې زیات کړي. دغه مشاورین به په کابل، ولایاتو، ولسوالیو کې او په هغه سیمییزه کچه چې عادي افغانان ورسره ډیر سروکار لري د پرمختللو، بسیا، د لیدو وړ او حساب ورکوونکو دولتي ادارو د رامینځ ته کېدو سبب شي.[180]

## د ولایتي بیا رغوني ټیمونه

د ولایتي بیا رغوني ټیمونه (PRT) به د متحده ایالاتو او نړیوالي ټولني سره مرسته وکړي چې په افغانستان کې په ولایتي کچه خدمتونه عرضه کړي. د PRT ۲۶ ټیمونه د نړیوال سوله ساتي ځواک (ایساف) د غړیو هیوادونو له خوا پر مخ وړل کېږي: کاناډا، المان، هنګري، ایټالیا، لیتوانیا، هالنډ، نیوزیلانډ، ناروی، جنوبي کوریا، هسپانیه، سویډن، ترکیه، بریتانیا، او متحده ایالات په مختلفو ولایتونو کې د دغه ټیمونو رهبري په غاړه لري. اوسمهال ۱۲ د ولایتي بیا رغوني ټیمونه د متحده ایالاتونو د مشری لاندې په کار بوخت دي.[181] هرPRT درې مهمې دندې پرمخ بیايي.[182]

- په ولایتي کچه د افغان دولت د واکمنی او مشروعیت ځواکمنول
- په ملي، ولایتي، ولسوالی او سیمییزه کچه د حکومتداری پرمختیا او د بنسټونو جوړښت
- د افغان وګړو لپاره د اقتصادي او ټولنیز ثبات او امنیت رامینځته کول

په دې درې میاشتنی کې د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې دوی پلان لري د ولایتي بیا رغوني ټیمونو د پروګرامونو او پوځي پروژو ترمینځ همغږي زیاته کړي څو د پروژو د تکر او تکراري کېدو مخنیوی وشي. نوموړي وزارت راپور ورکړی چې دوی ملکي او پوځي پرسونل تشویقوي چې یو د بل سره یوځای کار وکړي، څو پروګرامونه د ایساف د ځنځیري قوماندې لاندې راولي او همغږي یې کړي او کومې ستونځې که شتون ولري حل یې کړي.[183]

د ولایتي بیا رغوني ټیمونه د موقعیت په نظر کې نیولو سره د مختلفو ستونځو لکه امنیت، د زده کړې ټیټې کچې، او د حکومتي چارواکو او ادارو د نه شتون سره مخامخ دي. د زونونو جغرافیایي لیرې والی هم د ډول ډول ستونځو د رامینځته کېدو سبب دی ځکه د سرچینو لیږد د زونونو وګړي د ستونځو سره مخامخ کوي.[184]

## د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په شلمه د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې په ټول افغانستان کې ۳۲ د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه په کار بوخت دي. د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخې پورته ذکر شوي ټیمونه د دې لپاره جوړ شوي چې کله ایتلافي ځواکونه په کومه ولسوالی کې تصفیوي عملیات ترسره کړي او له جنګیالیو څخه یې پاکه کړي، نو بیا په هماغه ساحه کې ثبات راولي. د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه، کوچني ټیمونه دي، چې له دریو څخه تر پنځو د بهرنیو چارو د وزارت، نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري (USAID) او نورو ادارو ملکي کارکوونکي پکې شامل دي. د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه اوس د مخکنیو استول شویو پوځي واحدونو سره یو ځای اوسیږي او کار کوي. د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکوي چې څومره چې شونتیا وي د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه افغان دولتي وزارتونه تشویقوي چې په خپلواک ډول د حکومتي خدمتونو د رسولو جوګه شي.[185] ۳.۲۷ انځور د زونونو په قوماندانیو کې د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه ښکاروي.

د بهرنیو چارو وزارت پلان لري چې د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه په راتلونکو میاشتو کې په نورو ولسوالیو کې لاهم زیات کړي. د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه په افغانستان کې لاندې پروژې ترسره کوي:[186]

- د پیسو لپاره د کار پروګرامونه
- کرنیز کوپراتیفونه او د بودیجو پروګرامونو
- د روزنیزو پروګرامونو او طبي وسایلو برابرول

انځور ۳.۲۷

د ولسوالی د ملاتړ ټیم
د سمبیزي قوماندې په ترتیب ځایونه




یادونه: RC = سیمییزه قومانده.
سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\6\4؛ ایساف، حقایق او شمیرنې، 2010\1\2.

- د دولتي ودانیو جوړول او بیارغونه
- د خوړو مرستندویه پروګرامونه
- د عامې روغتیا د کلینکونو ودانول
- د سړکونو جوړول او د ګرځنده تلیفونونو د بنسټونو جوړول

## نړیواله ستراتیژي

د لندن په کنفرانس کې چې د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په میاشت کې جوړ شوی و، نړیوالې ټولنې د افغانستان لپاره خپله ستراتیژي بیا نوې کړه. دغه نوې نړیواله ستراتیژي به د افغانستان د اسلامي جمهوریت په ملاتړ باندې تمرکز وکړي تر څو دولتي اداري وکولای شي چې د بیا رغونې د نوښتونو د رامینځته کولو جوګه شي او د امنیت او پرمختیایي پروګرامونو په زیاتیدو کې د پوره صلاحیت خاوند شي.[187]

افغان دولت هم ژمنه کړې ده چې د بیارغونې د موخو د لاس ته راوړلو لپاره د نوښتونو څخه کار واخلي. افغان دولت همدغه راز ژمنه وکړه چې د بیارغونې د پروژو د پلي کولو لپاره ځانګړي وړاندیزونه جوړ کړي او د کابل په نړیوال کنفرانس کې یې چې په همدې کال کې وروسته جوړیږي وړاندې کړي. د کنفرانس د پریکړه لیک له مخې د بیا رغونې نوي پروګرامونه به دموکراتیک اصول لکه حساب ورکونه، مساوات، بشري حقونه، ښه حکومتداري، اقتصادي پرمختیا او هغه مشترکه هیله چې په سوله او د اساسي قانون د سیوري لاندې اوسیدل دي په نظر کې ولري.[188]

افغان دولت همدغه راز ژمنه کړې ده چې د کنفرانس څخه وروسته به په لاندې ډول ذکرشویو ګڼ شمیر عملي ګامونو لاس پورې کړي:[189]

- د اداري فساد د کچې راټیټول د هغه ادارو په تقویې سره چې افغان دولت د رسمي ځواک نظارت وکړای شي.
- د سیمییزو ارګانونو او حکومتدارۍ د پالیسۍ جوړونه چې د هغې لپاره به بیا د کابل په کنفرانس کې قانون جوړ کړای شي.
- افغان محبسونو ته د ډیر مسوولیت سپارل او د دغه مرکزونو حالت د نړیوالو معیارونو او قوانینو سره برابرول.
- د کابل کنفرانس لپاره د پلان جوړول چې ډیر تمرکز به یې د دولتي ادارو پر همغږۍ او یو بل سره تړاو ورکولو باندې وشي، لکه د وزارتونو د کارونو د اغېزمنتیا لپاره دوی په یوه کرښه برابرول.

## د افغان ولسمشر کابینه

د ۲۰۱۰ کال د اپریل د شپږمې نیټې سره سم ولسمشر کرزی بشپړه کابینه نه لري. د کابینې د پنځه ویشتو پوستونو څخه یوازې څوارلسو یې وکولای شول چې د اعتماد رایه واخلي، لکه څنګه چې په انځور ۳.۲۸ کې لیدل کېدای شي.[190] د بهرنیو چارو وزارت د راپور پر بنسټ، د کابینې درې مهم پوستونه لکه د کورنیو چارو، دفاع او مالیې وزارتونو کې اصلاح غوښتونکي وزیران ګومارل شوي دي. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت فکر کوي چې دوی به د اداري فساد د له مینځه وړلو په برخه کې داسې هڅه او هاند وکړي چې نړیواله ټولنه پرې ټینګار کوي. دغه وزارت راپور ورکوي چې دغه وزیران د افغانستان د جغرافیایي جوړښت له پلوه د مختلفو سیمو څخه استازیتوب کوي.[191]

لکه څنګه چې د افغانستان د بیا رغونې د ځانګړي مفتش دفتر د ۲۰۱۰ کال د جنوري د میاشتې په راپور کې راغلي وو، ولسمشر کرزي دوه ځله د کابینې غړي ولسي جرګې ته وروپیژندل. د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په نولسمه نېټه کرزي په لومړي ځل د ۲٤ نوماندانو لست تسلیم کړ. په ۹ جنوري ۲۰۱۰ یې دوهم ځل ولسي جرګې ته ۱۷ کاندیدان ورمعرفي کړل. په هرځل ولسي جرګې یوازې ۷ کسانو ته د اعتماد رایې ورکړې.[192]

انځور ۳.۲۸

د ولسمشر کابينه




سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\6\2010؛ CIA، "افغانستان: د بهرنيو دولتونو د حکومت مشران او د کابينې غړي،" انلاين وکتل شو 4\13\2010.

## راتلونکې ټاکنې

ټاکل شوې وه چې د ټاکنو خپلواک کميسيون د ولسي جرګې ټاکنې د ۲۰۱۰ کال د مې په مياشت کې ترسره کړي. د ۲۰۱۰ کال د جنوري په درويشتمه نېټه ولسمشر کرزي يوه غونډه راغوښتلې وه چې پر ټاکنو بحث وکړي. د دغه غونډې په پای کې پريکړه وشوه چې دغه ټاکنې به د روان کال د سپتمبر په ۱۸مه نېټه ترسره شي، ځکه چې افغان دولت او نړيوالې ټولنې د لوژستيکي پيچلتياوو د شتون له امله نشو کولای چې دغه ټاکنې په چټکتيا سره ترسره کړي. د ملګرو ملتونو سرمنشي په ډاګه کړه چې دغه د نېټې بدلون د افغانستان د ټولټاکنو د قانون پر بنسټ مشروعيت لري، او دغه قانون په دې اړوند داسې وايي: کله چې لوژستيکي، امنيتي، او مالي ستونزې شتون و لري نو ټولټاکنې ځنډيږي.[193]

د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وينا، د پارلمان د ۲۴۹ کرسيو لپاره ټولټاکنې به د وروستنيو ولسمشريزو ټاکنو په پرتله ډيرې پيچلې وي.[194] د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت هم وايي چې د روان ۲۰۱۰ کال ټاکنې به يوه لويه ننګونه وي، او د ګڼ شمير کانديدانو شتون به کيدای شي دغه ستونځې لا هم زياتې کړي.[195] د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وينا که چيرې د افغانستان انتخاباتي اداري په شفافيت، ناپيلتوب، او خپلواک ډول کار وکړي، نو دغه ټاکنې به د افغانستان په سياسي پروسه کې يوه لويه لاس ته راوړنه وبلل شي.[196]

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۲۵ نېټه د ټاکنو خپلواک کميسيون د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د مياشتې ټاکنو لپاره يو مهال ويش خپور کړ. نوماندانو ته به د کانديدی په هکله معلومات د اپريل له ۱۳څخه تر ۱۹ پورې ورکړل شي. کميسيون پلان لري چې د کانديدانو نوم ليکنه د اپريل د شلمې څخه د مې تر ځلورمې ترسره کړي. هغه نوماندان چې په ټاکنو کې برخه واخلي بايد پخپله ځانونه د ټولټاکنو په کوم لنډمهالي دفتر کې ثبت کړي.[197] د بهرنيو چارو وزارت د مارچ له ۳۱ څخه هيله درلوده چې نوی پارلمان به خپل کار د روان کال په پای کې پيل کړي.[198] چوکاټ ۳.۲۹ د ټاکنو د ټولو پړاوونو په هکله د تاريخ په ذکر کولو سره معلومات ورکوي.

### په ټاکنو کې اصلاحات

په تيرو درې مياشتو کې نړيوالې ټولنې په افغان دولت غږ وکړ چې په ټاکنيزه پروسه کې ځينې اصلاحات رامينځته کړي تر څو له هغه پراخو درغليو څخه چې د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې رامينځ ته شوې وې، مخنيوی وکړي. د مثال په ډول، ملګرو ملتونو سپارښتنه کړې چې نړيواله ټولنه بايد په هغه پړاو کې شامله کړای شي چې د سياسي کانديدانو ارزونه کوي، ترڅو جوته شي چې کوم کانديد د ټاکنو له قانون څخه سرغړونه نه ده کړې.[199]چوکاټ ۳.۵ نور سپارښت شوي اصلاحات په ګوته کوي.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وينا د بشري حقونو څخه مشهور سرغړوونکو او د ناقانونه وسله والو ډلو غړيو وکولای شول چې د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې برخه واخلي. نوموړي زياته کړه چې دغه کانديدانو په افغانستان کې د ټاکنو په اړوند د خلکو باور له مينځ يوړ. د ملګرو ملتونو سرمنشي سپارښتنه کړې چې بايد داسې يو چاپيريال رامينځته شي چې ټاکنې په ازاده او عادلانه ډول ترسره شي، او دغه چاپيريال هغه وخت رامينځته کيدای شي چې

انځور ۳.۲۹

د ولسي جرګي د ټاکنو مهال ویش، 2010

| نېټه | پېښه |
|---|---|
| مارچ 25 | د ټاکنو د مهال ویش خپرول |
| اپریل 13-19 | د نوماندانو د نوم لیکنې د پړاو پیل کیدل |
| اپریل 20 - می4 | د کاندیدانو د رسمي نوماندۍ پیل کیدل |
| می 12 - 18 | د پارلماني کاندیدانو د نوم لړل خپرول، ستونزی، اصلاحات او شکایتونه |
| می -12 جون 18 | دشکایتونو اوریدنه او پریکړې |
| جون 11 | د شکایتو کمیسیون به د ټاکنو کمیسیون له پریکړو څخه خبر کړي |
| جون 12 - اګست 12 | د رای ورکوونکو نوم لیکنه |
| جون 12 - جون 21 | د نهايي لیست جوړول د ټاکنو د خپلواک کمسیون له لوري |
| جون 22 | د کاندیدانو د نهايي لیست خپراوی |
| جون 23 - سپتمبر 16 | د ټاکنیز کمپاین موده |
| 18 سپتمبر | د ټاکنو ورځ |
| 18 سپتمبر | د رایې د شمیرنو د پیل او پای نیټه |
| سپتمبر 19 - 25 | د رایی ورکونې د مرکزونو څخه د رایو انتقال اصلي مرکز ته |
| سپتمبر 21 - اکتوبر 8 | معلومات په کمپیوټر کې ثبتول او د لومړنیو شمیرنو خپرول |
| اکتوبر 9 | د ټاکنو د پایلو د یوې برخې اعلانول |
| اکتوبر 10 - 23 | د ټاکنو د پایلو د یوې برخې د اعلان څخه وروسته د شکایتونو اوریدنه |
| اکتوبر 24 | د شکایاتو د کمیسیون دوهم ځل پریکړه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته |
| اکتوبر 30 | د ټاکنو د نهايي پایلو اعلانول |




سرچینه: د ټاکنو خپلواک کمیسیون، "مهمې نیټې" انلاین وکتل شو 2010\5\4.

"پارلماني ټاکنې
چې ترسره کول یې د سپتمبرپه
اتلسمي نیټې
تعیین شویدي بې له شکه چې د
افغان حکومتي ادارو لپاره یوه بله
لویه ستونځه ګڼل کیږي
او د کال په دویمه نیمايي کې به یوه
ډیره اندازه سیاسي انرژي
په مصرف ورسوي."

- د ملګرو ملتونو سرمنشي
ښاغلی بان کي مون

سرچینه: د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۰\۱\۱۳، مخ ۱۵.

د ارزوني داسي یوه پروسه جوړه شي چې دغه ډول کاندیدان پکي وپیژندل او له انتخاباتي صحنې څخه وویستل شي.[200]

د ۲۰۰۹ کال د مارچ په میاشت کې د افغانستان د بیارغوني د ځانګړي عمومي پلټونکي دفتر د پلټنې یو لړ پروګرامونه په لاره واچول څو د متحده ایالاتو هغه مرستې چې د ولسمشرۍ او د ولایتي شوراګانو دټاکنو لپاره یې ورکړې وې وارزوي.[201] په راتلونکي درې میاشتني راپور کې به وروستني تفتیشي راپور چې په هغې کې به د مخکینیو ټاکنو څخه د زده کړې موضوع هم ذکر شوې وي خپور کړای شي.

### د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون

د ۲۰۱۰ کال د اپریل په ۱۷مه نیټه ولسمشر کرزي اعلان وکړ چې د ټاکنو د شکایتونو نوی کمیسیون او د دغه کمیسیون مشر یې ټاکلي دي. په هغه بیانیه کې چې نوي ټاکل شوي غړي پکې ذکر شوي وو، د ښاغلي کرزي ویاند د خپلې اداري په دغه هوډ باندې چې باید د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون یو افغان کمیسیون وي ډیر تاکید وکړ. خو د نړیوالي ټولني د ملاتړ د راجلبولو په خاطر ښاغلي کرزي ومنله چې د اوس لپاره په دغه پنځه کسیز کمیسیون کې دوه نړیوال غړي هم وټاکي. د شکایتونو په کمیسیون کې دوه نوي بهرني غړي چې یو یې د جنوبي افریقي او بل یې عراقي تبعه دی او په پخوا وخت کې یې په دغه برخه کې دنده ترسره کړې ده، د غړیو په ډول ټاکل شوي دي.[202] یو له دغه غړیو څخه باید هره پریکړه چې د کمیسیون د غړو له خوا ترسره کیږي منظوره کړي ترڅو بیا تصویب کړای شي.[203]

د شکایتونو کمیسیون د غړیو په ترکیب کې دغه بدلون د ټاکنو په قانون کې د تعدیلاتو څخه وروسته د فبروی په میاشت کې د یوه فرمان په ترڅ کې رامینځته شو. د دغه فرمان له مخې د کمیسیون ټول غړي باید د افغان ولسمشر لخوا و ټاکل شي.[204] د دغه فرمان له صادرېدو څخه د مخه به د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون غړي، د بشر د حقونو

د کميسيون (يو کميشنر) د ستري محکمې ( يو کميشنر) او د يوناما (درې کميشنرانو) لخوا ټاکل کېدل.[205]

د ټولټاکنو په قانون کې د بدلون په هکله، د ملګرو ملتونو سرمنشي په لاندې ټکو تاکيد وکړ: (د ټاکنو په پروسه کې د هرډول پريکړې څخه د مخه بايد يو پراخ چوکاټ رامينځته شي چې په هغې کې له سياسي پلوه د اپوزيسيون، مدني ټولنې او نورو غاړو سره مشورې ترسره شي، تر څو د ټاکنيزې پروسې خپلواکي او اعتبار حفظ شي.[206]

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په وروستيو کې ولسي جرګې د ولسمشر کرزي د دغه فرمان خلاف رايه ورکړه.[207] خو د مشرانو جرګې بيا د دغه فرمان چې د ټاکنو په قانون کې د بدلون په هکله صادر شوی و، ملاتړ وکړ. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي په وينا دغه رد کوونکو رايو د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د مياشتې د ټاکنو په وړاندې يو رکودي حالت رامينځته کړی دی.[208] د شکايتونو په کميسيون کې د دوو نړيوالو غړو د شاملولو د پريکړې څخه وروسته ملګرو ملتونو د نړيوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړه چې د دغه ټاکنو لپاره بوديجه او مالي امکانات برابر کړي.[209] د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکوي چې د ټولټاکنو په قانون کې د بدلون راتګ او هغه لانجې چې د دغه بدلون په پايله کې رامينځته شويدي، د راتلونکو ټاکنو لپاره د بشپړ ملاتړ راجلبول يې لا د وړاندې ځنډولي دي.[210]

**د ټاکنو د شکايتونو کميسيون (ECC) ټولو هغو ستونځو او شکايتونو ته چې د ټاکنو د پروسې په ترڅ کې رامينځته کيږي رسيدګي کوي. همدغه راز دغه کميسيون صلاحيت لري چې د درغليواو نورو سرغړونو په صورت کې تعزيرات وضع کړي او همداراز دغه کميسيون ته صلاحيت ورکړل شوی دی چې د کانديدو نوماندانو مشروعيت تر پوښتنې لاندې راولي.**

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوريت، "د ټاکنو د شکايتونو کميسيون،" انلاين وکتل شو ۲۰۱۰\۲۲\۳.

## په عامه اداره کې اصلاحات

د ۲۰۰۹ کال د نومبر په پرانيستونکې وينا کې حامد کرزي د خپلې ادارې لپاره يوه د هيلو ډکه اجنډا وړاندې کړه. نوموړي د ګاونډيو هيوادونو سره د ښو اړيکو، د طالب جنګيالو په ټولنه کې دبيا ادغام، اقتصادي پرمختګونو، او افغان ځواکونو ته د لازياتو مسووليتونو د سپارلو په اړوند تفصيلي خبرې وکړې. د متحده ايالاتو د نوې تګلارې پر بنسټ، د دغه اجنډا په برياليتوب سره د پلي کيدو مسووليت د افغان حکومت د وړتياوو پورې مربوط دی ترڅو حکومتداري بهتره او د پام وړ عامه خدمتونه خلکو ته ورسوي.[211]

### ملي شورا

د ۲۰۰٤ کال د ټاکنو د قانون له مخې ملي شورا د دوو جرګو څخه تشکيل شويده. د مشرانو جرګه چې ۱۰۲ او ولسي جرګه چې ۲٤۹ څوکۍ لري.[212] د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت په وينا چې دواړه جرګې اکثراً د غړيو د بې پروايۍ له امله نشي کولای چې خپل نصاب پوره کړي. ډېره ستونځمنه به وي چې وکولای شو هغه ورځې وشميرو چې کومې جرګې دې خپل نصاب پوره کړی وي ځکه د دغه جرګې يادداشتونه ډير ناکافي

چوکاټ ۳.۵

**د افغانستان په ټولټاکنو کې اصلاحات**

| سپارښت شوي اصلاحات | نېټه | رامينځته شوي اصلاحات |
|---|---|---|
| د ټاکنو د کميسيون د غړو ټاکل، چې د پوره خپلواکۍ، بې طرفۍ او اعتبار څخه برخمن شي. | 4/17/2010 | ښاغلي کرزي د ټاکنو د خپلواک کميسيون لپاره يو نوی مشر وټاکه. نړيوالې ټولنې د هغه د انتخاب ملاتړ وکړ. |
| د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون لپاره د نويو غړو ټاکل د نړيوالو غړو په شمول، او دغه ټاکنه بايد د مختلفو اړخونو په مشورې ترسره شي ترڅو په دغه بنسټ باندې اعتماد زيات شي. | 4/17/2010 | ولسمشر د شکايتونو د کميسيون نوي غړي وټاکل. د نړيوال ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره نوموړي دوه بهرني غړي هم په دغه کميسيون کې وګمارل. |
| د داسې اقداماتو رامينځته کول چې د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون صلاحيت او خپلواکي تضمين کړي. | 4/17/2010 | مخکې به د کميسيون غړي په ګډه د بشر د حقونو د کميسيون، ستري محکمې، يوناما لخوا ټاکل کيدل. دا ځل دغه غړي د ولسمشر لخوا د سياسي تصميم په ترڅ کې وګومارل شول. |
| د هغه کسانو پر ضد د اصلاحي عمل کړنه کوم چې د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې يې درغلي کړي وه. | 2/4/2010 | د ټاکنو خپلواک کميسيون به هغه ٦۰۰۰ کارکوونکي بيا په کار ونه ګماري په کومو ځايونو کې چې د ۲۰۰۹ کال په<br>انتخاباتو کې د ډيرو درغليو راپور ورکړل شوی و. |

سرچيني: د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د فغانستان شرايط او اغيزې يې د نړيوالې سولې او امنيت لپاره،" ۳.۱۰.۲۰۱۰ په کابل کې د مطبوعاتي کنفرانس متن چې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي ښاغلي ستيفن ډيميستورا لخوا ورکړل شوی و. کولای شی چې په انټرنيت يې هم وګورئ ښاغلي کرزي د انتخاباتو د کميسيون لپاره نوی مشر وټاکه ۲۰۱۰\٤\۱۹.

وي.[213]

د بهرنیو چارو د وزارت په وینا متحده ایالات د افغانستان د ملي شورا سره د پارلیماني مرستو د پروګرام له لارې مرسته کوي.[214] USAID هم راپور ورکوي چې دغه پروګرام د ملي شورا د بنسټیز، تخنیکي، او سیاسي پرمختګ لپاره ډېر اغیزمن دی. د پارلیماني مرستو د پروګرام د کړنو څخه په لاندې توګه یادونه کولای شو:[215]

- د ملي شورا د بنسټیزو وړتیاوو لوړول ترڅو د دغه شورا غړیو ته د تقنیني خدماتو په برخه کې پوره ملاتړ ترلاسه شي.
- دملي شورا د غړیو د وړتیاوو ظرفیتونه تقویه کول څو په خپلو تقنیني دندو او مسوولیتونو کې بریالي وي.
- د ملي شورا، اجرائیوي څواک، مدني ټولنې، نادولتي موسساتو او رسنیو ترمینځ د اړیکو رامینځته کول.
- مهمو پارلماني کمیسیونونو سره مهمي تخنیکي مرستې: لکه د نړیوالو چارو، تقنیني، اقتصادي، مالي او بودیجوي چارو کمیسیونونو سره.
- د عامه غونډو د دایرولو زیاتوالی چې عادي افغانان وکولای شي په هغو کې برخه واخلي او وکولای شي چې د خپلو ټاکل شویو استازو سره په مستقیم ډول خبرې اترې وکړي.

ټاکل شوي وه چې دغه پروګرام به د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په میاشت کې پای ته ورسېږي. د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې په دې درې میاشتني راپور کې د ملي شورا د غړیو او د دغه پروګرام د پرسونل ترمینځ خبرې روانې دي.[216] نوموړي وزارت د اهم وایي چې د امریکا سفارت د ملي شورا د غړیو سره په منظم ډول د ځینو بیا رغوونېزو نوښتونو په هکله په تماس کې وي.[217]



**افغان ولسمشر حامد کرزی** او د هلمند ولایت والي د مارجې د اوسیدونکو سره ګوري. د ۲۰۱۰ کال د مارچ میاشتې پورې دغه سیمه د طالبانو تر کنټرول لاندې وه. د متحده ایالاتو نوې ستراتیژي د افغان حکومت سره مرسته کوي چې په ټول هیواد کې ظرفیتونه لوړ کړي. (د ناټو انځور)

### د مشرانو جرګه

د مشرانو جرګې کرسۍ انتصابي دي. افغانستان ولسمشر د دغه جرګې یو پر دریمه برخه غړي انتصابوي. همدغه راز منتخبه ولایتي شورا یې یو پر دریمه برخه، او پاتې یوه پر دریمه برخه یې د ولسوالیو د شوراګانو لخوا ټاکل کېږي. لکه څنګه چې د دغه جرګې یو زیات شمېر غړي د ولسمشر لخوا ټاکل کېږي نو ډېرځله د ولسي جرګې د غړیو په پرتله، چې ټول یې انتخابي دي ولسمشر ته ډېر وفادار وي. خو د بهرنیو چارو د وزارت په وینا ډېره ستونځمنه به وي چې څوک دغه وفاداري تضمین کړي.[218]

### ولسي جرګه

د ولسي جرګې ټولې کرسۍ انتخابي دي. د دغه کرسیو لپاره ټولټاکنې به د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په میاشت کې کېږي.[219]

د مشرانو جرګې په څېر ولسي جرګه هم له بېلابېلو ډلو څخه جوړه ده او د ایتلاف جوړول پکې ستونځمن دي. خو د ایتلاف د جوړولو پرته ولسمشر نشي کولای چې د خپلې اداري اجنډا پرمخ بوځي.[220] خو بیا هم په ولسي جرګه کې یوه وړه ډله ولسمشر کرزي ته ژمنه او وفاداره پېژندل کېږي. د بهرنیو چارو د وزارت په وینا ښاغلي ولسمشر په ولسي جرګه کې خپل محبوبیت د لاسه ورکړی دی.[221]

## د سیمییزو ارګانونو د حکومت چلولو تګلاره

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په دوه ویشتمه نېټه افغان کابینې داسي یوه پالیسي تصویب کړې چې د هغې په ترڅ کې به د حساب ورکووني او د حکومت د ټاکل شویو چاراوکو کارونه لا ښه والي وموميي. د دې پالیسی له مخې به هر سیمییز دولتي ارګان، د خپلو کارونو د پرمخ بیولو لپاره له یو لیکل شوي طرزالعمل څخه کار اخلي. والیان او ولایتي شوراګانې به د دغه ارګانونو د کړنو څخه د څارنې د مسوولیت دنده په غاړه ولري. د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د سیمییزو ارګانونو لپاره د پالیسی جوړول لومړنی ښه ګام دی. دغه وزارت وایي چې موږ به

د سیمییزو ارګانونو له خپلواک ریاست او د ملکي خدماتو له ریاست څخه د دغه پالیسی په پلي کولو کې مرسته وکړو.[222]

لکه څنګه چې د سیګار د جنوری د میاشتي په راپورکي راغلي وو، د سیمییزو ارګانونو پالیسي وړاندیز لري چې ولسوالان هم باید د لیاقت پر بنا مقرر کړای شي.[223] او دغه موضوع د پالیسی له تصویب څخه مخکي هم طرح شوې وه: د سیمییزو ارګانونو خپلواک کمیسیون د ولسمشر یو فرمان ترلاسه کړی و چې په هغې کې راغلي وو چې د ولایت معاون او ولسوال باید د لیاقت په اساس د ملکي خدمتونو د کمیسیون د پروسي له لارې مقرر شي.[224]

## د عامه اداري د اصلاحاتو څخه د متحده ایالاتو ملاتړ

د متحده ایالاتو نوې ستراتیژي له افغان دولت سره په مرستي باندې تاکید کوي ترڅو دغه دولت د خدمتونو د رسولو جوګه شي.[225] د دې لپاره چې دولت وکولای شي د خپلې عامه اداري له لارې خلکو ته خدمتونه عرضه کړي، نو متحده ایالاتو یو لړ پروګرامونه لکه د والیانو د ښو کړنو پر بنسټ د مالي مرستې پروګرام، د ملکي تخنیکي مرستو پلان (CTAP)، او د افغانستان د ښاروالیو د ملاتړ پروګرام، په لاره اچولي دي.

### د والیانو د ښو کړنو پربنسټ بودیجه

د ۲۰۱۰ کال د جنوري د میاشتې په شلمه د متحده ایالاتو سفیر، افغان دولت او د نړیوالي ټولنې غړیو یوځای پرېکړه وکړه چې د والیانو د ښو کړنو پر بنسټ بودیجې یو صندوق پرانیزي. د دغه صندوق له لارې به هغه ولایتونه چې د حکومتي بودجې لخوا ورته کافي مالي امکانات برابر نه وي په لاندې شپږو برخو کې به ورسره مالي مرسته ترسره کېږي.[226]

- ترانسپورټیشن
- د عامه ودانیو ساتنه او څارنه
- معلوماتي او مخابراتي تکنالوژي
- د ورتیاو لوړول
- ټولنیزه توسعه
- د نقلیه واسطو، دفتري وسایلو، جنراتورونو او تېلو پیرودل

د USAID د راپور پر بنسټ، د مالي مرستو ورکول د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۲۱مه چې د افغان مالي نوي کال پیل دی، پیل شوي دي. له دې څخه د مخه چې مالي مرستې پیل شي، له والیانو څخه غوښتل شوي وو چې په دغه شپږو برخو کې د خپلو اړتیاو له مخې بودیجوي پلان جوړ او تسلیم کړي.[227]

ټول توکي چې د اخیستلو لپاره یې د والیانو د ښوکړنو پربنسټ د مالي مرستو د پروګرام څخه پیسي ورکول کېږي باید د داسې یو پلي کوونکي همکار شرکت لخوا ترسره شي چې د متحده ایالاتو د حکومت د مقرراتو رعایت کوي. USAID راپور ورکوي چې دغه مالي مرستې د ولایتي افسر لخوا چې د والي په دفتر کې کار کوي څارل کېږي. یوه ویېپانه شتون لري چې د میاشتنی بودیجې او لګښتونو راپور چې د هماغه ولایت د PRT سره همغږی شوي وي خپروي. د مالي مرستو د برابرولو په وروستی درې میاشتني راپور کې به یوه ارزونه ترسره شي چې لګښتونه د غور لاندې ونیسي.[228]

هر څو که ټولې خریداری د متحده ایالاتو د چینلونو له لارې ترسره شوي دي، خو د والیانو د ښو کړنو پربنسټ د مرستو پروګرام والیانو ته د لګښتونو په اړوند هیڅ ډول سپارښتني نه کوي. USAID راپور ورکوي چې د

PRT سره خبري شوي دي چې د دغه ولايتي ټيمونو پرسونل د واليانو سره د خريدارۍ په هکله خبرې اترې وکړي ترڅو دوه ګانګي رامينځته نشي، همدغه راز کله چې کومه پوښتنه موجوده وي نو د PRT کارکوونکي به ځواب ورته وايي.[229]

## د ملکي تخنيکي مرستو پلان

د USAID د راپور له مخې د دغه مرستو څخه موخه دا ده چې په افغانستان کې يو اغېزمن، وړ او حساب ورکوونکی دولت رامينځته شي، او د مشاورينو په استخدام کې افغان دولت ته کنټرول په لاس ورکړي.[230]

هر څو که هيله کېده چې دغه پروګرام د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په مياشت کې پيل شي، خو تمه کېږي چې افغان دولت به د مشاورينو استخدام د ۲۰۱۰ کال د اپريل په مياشت کې پيل کړي. USAID وايي چې اوسمهال دغه پوستونه اعلانېږي، او د ظرفيتونو د لوړولو پروګرامونه يې په لاره اچول شوي دي. د ۲۰۱۰ کال د مارچ د ۳۱مې نيټې راهيسې USAID د دغه پلان لپاره يو ميليون ډالر ورکړي دي. او ژمنه شوې ده چې په راتلونکي کال کې به ۲۹ ميليونه ډالره نور هم دغه پلان ته تخصيص شي.[231]

## د افغانستان د ښاروالیو د پیاوړي کولو پروګرام

USAID وايي د افغانستان د ښاروالیو د ملاتړ پروګرام موخه په ښاروالیو کې د وړتياوو د لوړولو او هغوی ته د سرچينو د برابرولو په برخه کې مرسته ده. د دغه پروګرام هدف دا دی چې د ښاروالانو او ښاروالیو څخه ملاتړ وکړي څو په لاندې بنسټيزو عامه برخو کې خدمتونه په ښه توګه وړاندې کړي.[232]

- د اوبو او برېښنا مديريت
- حفظ الصحه
- مصوون سړکونه
- د پارکونو او ښاري سيمو شنه کول
- د کثافاتو ځای په ځای کول
- د لښتيو پاکول
- د ځوانانو فعاليتونه

د ۲۰۱۰ کال د مارچ له ۳۱مې نېټې راهيسې د ښاروالیو د ملاتړ پروګرام ۱۱ ښاروالۍ د پوښښ لاندې راوستلې دي، لکه څنګه چې په انځور ۳.۳۰ کې ليدل کېږي. دغه پروګرام به د جولای په ۲۰۱۰ کې پای ته ورسېږي. د ښاروالیو لپاره نوی پروګرام لا د جوړېدو په حال کې دی او لا د پلي کېدو لپاره نه دې وړاندې شوی، خو USAID وايي چې دوی په نوي او زاړه پروګرام کې د کوم بنسټيز بدلون د راتګ تمه نه لري.[233]

انځور ۳.۳۰

د افغانستان ښاروونه چې د ښاروالیو د پیاوړي کولو په پروګرام کې دي



يادونه: په پروګرام کې شامل ښاروونه د ولاياتو مرکزونه دي.
سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2010.

## په افغانستان کې سرشمېرنه

په دې درې مياشتنې کې ملګرو ملتونو د جګړې څخه په راوتلو هيوادونو کې د سرشمېرنې د اهميت په هکله تاکيد کړی دی. ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې سرشمېرنه د يو هيواد پرمختيايي ستراتيژۍ په پلي کولو او اداري اصلاحاتو په راوستلو کې ډېره مهمه ونده لري.[234] د هيواد ۲۰۰۸ کال د ملي پرمختيا ستراتيژي هم د سرشمېرنو پر اهميت ټينګار کړی دی. سرشمېرنه به افغان دولت ته دا موقع په لاس ورکړي چې د اقتصاد او بيوزلۍ په اړوند خپلې اساسي کړنې ترسيم کړي.[235]

د ۲۰۰۹ کال د جون له مياشتې راپديخوا د متحده ايالاتو د سرشمېرنو بورډ چې د نړۍ د هر هيواد د وګړو په اړوند تخميني شمېرنه وړاندې کوي. د افغانستان د وګړو شمېره يې په ۲۰۱۰ کال کې ۲۹.۱ ميليونه تخمين کړې ده. دغه تخميني شمېرنه د ۱۹۷۹ کال د نامکملې سرشمېرنې پر بنسټ او د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ کال د قسمي سروې

پر بنسټ رامینځته شوې ده.[236] د افغانستان د وګړو بشپړه سرشمېرنه هیڅکله نه ده ترسره شوې.[237]

د افغانستان د مرکزي احصاییې اداره د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوق په مرسته د وګړو او د هستوګنځیو په اړوند د معلوماتو د احصاییې د اخیستنې مسووله ده.[238] د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۰ کال د اپریل په شپږمه راپور ورکړ چې هغه سرشمېرنه چې ټاکل شوې وه په ۲۰۱۰ کې ترسره شي ځنډېدلې ده. د دغه وزارت په وینا د سرشمېرنې فسخ دومره د حیرانتیا خبره نه ده: د ۲۰۰٤ کال راهیسې سرشمېرنه هرکال پلان شوې خوبیا بیرته لغو شوېده.[239]

## قضایي اصلاحات او د قانون حاکمیت

د افغان عدلي سیستم پراختیا، په هغې کې د اصلاحاتو راوستل او په هغې باندې د خلکو باور رامینځته کول د متحده ایالاتو د نوې ستراتیژۍ مهم توکي ګڼل کېږي. "د افغانستان د عدلي سیستم محدود، ځواب نه ویوونکی او بې اعتباره حالت د دې سبب شوی چې خلک د افغان دولت څخه شکایت وکړي او د طالبانو نوم نهاده والیانو ته د مراجعې لپاره زمینه برابره شي."[240] د متحده ایالاتو په نوې ستراتیژۍ کې دې خبرې ته هم اشاره شویده چې هر څومره چې د افغانستان عدلي سیستم کمزوری او په فساد کې ککړ وي په هماغه اندازه به د طالبانو عدلي سیستم خلکو ته د قبول وړ وي.[241]

د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا د اعتماد وړ عدلي او جزایي سیستمونو رامینته کول د پرمختګ نښه ګڼل کېږي. د اعتماد وړ عدلي او جزایي سیستم هغه دی چې بشري حقونو ته احترام ولري او ټولو افغانانو ته په اسانه د لاسرسي وړ وي.[242] د متحده ایالاتو د نړیوالو مخدره توکو او د قانون د تنفیذ د چارو بیورو د راپور پر بنسټ، د افغانستان په جزایي سیستم کې ګڼ شمېر وزارتونه او نورې مرجعې دخیل دی او په عدلي سیستم کې د مختلفو برخو مسوولیت په غاړه لري.[243]

- د کورنیو چارو وزارت: د پولیسو ځواک
- لویه ځارنوالي: ځارنوالان
- ستره محکمه: قاضیان
- د عدلیې وزارت: مدافع وکیلان او د زندانونو چارواکي

## د متحده ایالاتو پروګرامونه

په عدلي سیستم کې د متحده ایالاتو مرستې د افغان دولت سره "د وړاندوینې وړ او عادلانه محاکمو او د لانجو د هوارولو په میکانیزم باندې متمرکزې دي."[244] د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د نوې ستراتیژۍ هدف دا دی چې د ایساف مرستې د ملي پولیسو او د نشه یي توکو پر ضد پروګرامونو کې په لګښت ورسوي.[245]

USAID راپور ورکوي چې دوی په روان درې میاشتنې راپور کې د افغانستان په عرفي او غیررسمي عدلي سیستم باندې تر ۲۵ میلیونه ډالرو پورې لګښت وکړي. او دغه مالي مرسته به دعدلي سیستم لپاره د ۲۰۱۰ کال د اپریل له میاشتې څخه وروسته دلاسرسي وړ وي.[246]

### د متحده ایالاتو لخوا د عدلې سکټور د ملاتړ پروګرام

د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام (JSSP) چې د INL یا نړیوالو مخدره توکو او د قانون د تنفیذ د چارو بیورو د کنترول لاندې فعالیت کوي، د دې لپاره جوړ شوی دی چې په افغانستان کې عدلي جزایي سکتور ځواکمن او په عدلي سیستم کې د مسلکي خلکو ملاتړ وشي. په ۲۰۰۵ کال کې د دغه پروګرام له رامینځته کېدلو څخه را په دیخوا، د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام په کابل او څلورو نورو ولایتونو کې تر۶۰ ډیر امریکایي او افغاني مشاورینو په استخدام پراختیا موندلې ده.[247]

**د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکوي چې په هغو سیمو کې چې د افغان دولت د کنټرول څخه بهر دي، طالبان خپل قضایي سیستم پر مخ بیایي. د هغو کسانو لپاره چې محکوم شوي دي په تیرو کې د ګوتو غوڅول، وهل ټکول، د سر غوڅول او داسې نورې سزاوي ورکړل شوي. د ۲۰۰۹ کال په مې کې د طالبانو مشر یوه لایحه صادره کړه چې په هغې کې د محکمې د حکم څخه پرته د سر غوڅول منع شوي و، خو د راپور په وینا د طالبانو محاکمو د خلکو د سرونو غوڅولو ته ادامه ورکړې ده.**

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، "د بشرِ حقوقو د عملي کولو په اړه د ۲۰۰۹ کلنی راپور: افغانستان،" ۲۰۱۰\۱۱\۳.

په دې درې میاشتو کې د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام، د عدلي سیستم په اړوند خپلو ولایتي کنفرانسونو ته ادامه ورکړې ده، دغه کنفرانسونه د ځایي چارواکیو سره مرسته کوي ترڅو په خپلو ولایتونو کې د قانون حاکمیت پلي کړي. اړوندو ولایتي چارواکیو او مهمو وزارتونو ته د اساسي قانون او نورو اړوندو مسایلو په اړوند معلومات ورکوي. JSSP بیا موضوع د ولایتي اړوند چارواکو سره تعقیبوي او هغوی په دې قانع کوي چې په خپلو ولایتونو کې عدلي قضایي روزنیز پروګرامونه جوړ کړي. لندمهالي اغېز شیندونکي پروژې هم پرمخ بیول کیږي ترڅو ولایتي چارواکي په خپلو ولایتونو کې د قانون حاکمیت راولي. د بهرنیو چارو د وزارت په وینا چې د عدلي سیستم په اړوند ټول ولایتي کنفرانسونه د ولایتي بیا رغوني ټیمونو او د ایساف د رهبری سره په همغږی ترسره کېږي. په دې درې میاشتني راپور کې JSSP په بادغیس، هلمند، کنړ، پکتیا، پروان او وردکو کې ولایتي عدلي کنفرانسونه جوړ کړي دي.[248]

د ۲۰۱۰ کال د مارچ د میاشتې د ۳۱مې نېټې راهیسې، د عدلي سیستم د ملاتړ پروګرام یا JSSP په پنځه ساحوي تعلیمي مرکزونو کې فعال و. د بهرنیو چارو د وزارت له مخې، دوه اضافي د روزنې مرکزونه د JSSP د مرستې په انتظار دي، خو پرمختګ ورو شوی دی ځکه JSSP خپل تازه کاري احکام نه دي ترلاسه کړي. د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکوي چې ټولې اړوندې کړنې او اسناد یې پخپل وخت تسلیم کړيدي (د ۲۰۱۰ کال د فبروری د ۲۸مې نېټې څخه د مخه) خو INL نشي کولای چې خپل کاري دستور په رسمي بڼه د ترلاسه کولو څخه مخکې خپلې کړنې پیل کړي.[249]

همداراز JSSP په دې درې میاشتني راپور کې د جنډر په هکله د عامه پوهاوي ځانګه هم پرانیستله. د دغه ځانګې موخه د JSSP د کابل په دفتر کې د جنډر په اړوند د مهارتونو زیاتوالی دی.[250]



**د JSSP یو مشاور**، بښي لوري ته، د افغانستان د عدلي قضایي سیستم په اړوند د فراه ولایت د محاکمو د رئیس عبدالحنیف عبید سره خبرې کوي. (د ایساف انځور، د متحده ایالاتو هوایي ځواک ریلان کې البرایت)

## د جزايي اجراآتو قانون

د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د جزايي اجرااتو د قانون پلي کول به په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان د عدلي نظام د پرمختګ لپاره يو بنسټيز عمل وي. د کاركوونكو كموالى او د عدليې په وزارت کې د نوي وزير ټاکل د جزايي اجرااتو د قانون په پلي کېدو کې لږ ځنډ رامينځته کوي.[251]

نوي وزير د پاليسيو او تقنيني کړنو په ليکنو پيل کړى دى. د بهرنيو چارو د وزارت په وينا نوى وزير دومره د اصلاحاتو پلوي نه دى او د قوانينو بدلون ته دومره اهميت او ارزښت نه ورکوي.[252] د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د عدليې وزير د ښاغلي کرزي د فساد پر ضد د مبارزې فرمان تر ډېره وخته پورې ځنډولى و ترڅو چې ځينې خپل ځانګړي ټکي يې پکې ور زيات کړل. سربېره پر دې د نوموړي وزير د جزايي اجرااتو دغه نوى تسويد شوى قانون خوښ نه دى او وايي چې پخوانى قانون د اوسني په نسبت ډېر منطقي اجرايوي موضوعات درلودل.[253]

## د افغانستان د محکمې سيستم

د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د افغانستان د قضايي جلساتو پروسيجر د نړيوالو منل شويو معيارونو سره ډېر لږ ارخ لګوي او د عدالت پلي کېدل د هېواد په مختلف سيمو کې په مختلف ډول ترسره کېږي.[254] د افغانستان په اساسي قانون کې د منصفه هيئت يا ژورۍ په اړوند هيڅ نه دي راغلي نو ټولي محاكماتي فيصلې د قاضيانو لخوا ترسره کېږي. هر څو که مدعي او يا مدعي عليه حق لري چې د لومړنی محکمې پر پرېکړه د استيناف غوښتونکی شي، خو د همدغه وزارت په وينا چې ډير ځله د افغانستان په محکمو کې دغه حق هم نه ورکول کېږي. د مدافع وکيلانو کمښت د افغانستان محکمو ته ګرانه کړې ده چې د افغانستان د اساسي قانون د موادو مطابق چې هر تورن کس او يا مظنون ته د مدافع وکيل د نيولو حق ورکوي عمل وکړي.[255]

انځور ۳.۳۱ د افغانستان د محاکمو تفصيل بيانوي. د بهرنيو چارو د وزارت په وينا قضايي پرسونل د قضيو د پرمخ بيولو لپاره قانوني موده په پام کې نه نيسي نو بيا قضيې د ډيرې مودې لپاره بې له کومو اجرااتو پاتې وي. د ۲۰۱۰ کال د مارچ په مياشت کې د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړ چې اکثريت محاکم د قضيو په اړوند د ټاکلې مودې خيال نه ساتي.[256]

د افغانستان ستره محکمه د هيواد د محاکماتي نظام مسووليت په غاړه لري. د سترې محکمې غړي د افغانستان د جمهور رئيس لخوا د ولسي جرګې په تصويب سره ټاکل کېږي. د استيناف محکمې غړي د سترې محکمې لخوا پيشنهاد او د ولسمشر له منظورۍ وروسته په دندو ګومارل کېږي.[257]

د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د لايقه قضايي پرسونل کمښت لا هم د افغانستان د عدلي سيستم د پرمختګ په مخ کې لوى خنډ بلل کېږي. د قاضيانو او څارنوالانو د پام وړ کمښت د دې لامل ګرځېدلى دى چې د يو زيات شمېر نوي قوانينو او تعديلاتو پلي کول د خنډونو سره مخ شي.[258]

د بهرنيو چارو د وزارت د راپور (د هيواد د بشري حقونو په اړوند راپور) د سترې محکمې له خولې ليکلي دي چې په ۲۰۰۹ کال کې دوى يوازې ۷۷ قاضيان چې ۷ يې ښځې قاضيانې وې درلودل.[259] خو، په داسې حال کې چې په ۲۰۰۸ کال کې سترې محکمې راپور ورکړى و چې دوى ۱۶۵۲ قاضيان چې ۱۸۹ يې ښځې دي لري. داسې ويل کېږي چې اکثريت قضايي نماينده ګان حقوقي زده کړې نه لري.[260]

سيګار د عدلي سيستم په اړوند په درې برخو کې د تفتيش غوښتنه کړېده:[261]

- "د متحده ايالاتو د قضايي تامیناتو د مرستي پروګرام ، لا زيات ستراتيژيکو کړنو ته ضرورت لري،" دسمبر ۲۰۰۹
- "د توقيف د کړنلارو مستندکول به د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې د انصاف مرکز څخه له موخې سره سم کارولو کې مرسته وکړي" سپتمبر ۲۰۰۹

انځور ۳.۳۱

د افغانستان د محکمې کړنلاره




سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، د 2009 کال راپور
د هيواد د بشري حقوقو د حالت په اړه: افغانستان، 3\11\2010؛

- "د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې د انصاف مرکز په جوړولو کې د ځنډ لرې کولو لپاره اقداماتو ته اړتیا ده" اگست ۲۰۰۹

## د افغانستان د محابسو او د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې اصلاحات

د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخې د ۲۰۱۰ کال د مارچ د یوولسمې څخه را پدېخوا د عدلیې وزارت د محابسو او توقیف خانو عمومي ریاست په وینا چې په افغانستان کې ۳٤ محبسونه او د ولسوالیو په کچه ۲۰۳ نظارتخاني شتون لري. همدغه شان په ټول هیواد کې د ماشومانو د تربیت او اصلاح ۳۰ مرکزونه هم شتون لري. د ۲۰۱۰ کال د اپریل میاشتې د ۱۹مې نېټې راهیسې د بهرنیو چارو وزارت هیڅ ډول معلومات نلري چې ملي امنیت څومره اداري لري، او په دغه ادارو کې څومره زندانونه شتون لري.[262]

INL راپور ورکوي چې افغان حکومت د محبسونو د ښه والي لپاره اقدامات کړي دي، خو بیا هم په زندانونو کې حالت خراب دی.[263] د بهرنیو چارو د وزارت په وینا ډیری نظارتخانې چې د کورنیو چارو د وزارت د کنټرول لاندې دي ډیرې زړې، ډیرې د ګنې ګونې څخه ډکې، او د روغتیایي پلوه ډیرې کمزورې دي دغه زندانونه نړیوال معیارونه نشي پوره کولای. ځینې معمولي ستونځې یې په لاندې ډول دي:[264]

- ناکافي خواړه او اوبه
- روغتیایي خراب حالت
- ناکافي کمپلې
- انتاني یا مکروبي ناروغې

په زندانونو کې د حالاتو د ښه کېدلو لپاره نړیوالې ټولنې د متحده ایالاتو په مشرۍ د محابسو د سیستم د ملاتړ پروګرام (CSSP) له لارې د زندانونو ولایتي کارکوونکو لپاره روزنیز پروګرامونه په لاره اچولي دي.[265] په دې درې میاشتني راپور کې یوناما ولیدل چې دغه پروګرام د زندانونو د حالاتو په ښه والي کې مرسته کړې ده.[266]



**د متحده ایالاتو د پوځ یو بریدمن** په هلمند کې د یوه زنداني د ګوتو نښې اخلي. د متحده ایالاتو او نورو نړیوالو سرتېرې د افغانستان د زندانونو پرسونل ته د بایومتریک لکه د ګوتو د نښانو په شمول ټرېننګ ورکوي. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک انځور، کریستین جونس)

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د مارچ د راپور له مخې، عدلیې وزارت او د محابسو ریاست په دې هڅه کې دی چې د زندانونو حالات ښه او د نړیوالو معیارونو سره برابر کړل شي. د ۲۰۰٦ او ۲۰۰۹ کلونو ترمنځ د زندانیانو شمېر له ۹٦۰٤ څخه ۱٤۸۵۷ پورې لوړ شوی دی.[267] انځور ۳.۳۲ ښیې چې د هغه زندانیانوپه شمېر کې چې خپلو قضایي جلسو ته منتظر دي په ډېره لږه اندازه خو دوامداره ډول کمښت راغلی دی.

د افغانستان د حکومت ګڼ شمېر ستونځې یادې کړې دي چې د محبسونو د ودانیو په ښه والي کې ورسره مخامخ دی. چوکاټ ۳.٦ دغه ټولې ستونځې په ګوته کړې چې افغان حکومت ورسره د محابسو د سیستم په برخه کې مخامخ دی.

د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په میاشت کې د افغانستان مختلفو ادارو چې په جزایي عدلي برخه کې دخیل دي، د هغه زندانیانو په اړوند چې د بګرام (پروان) په محبس کې بندیان دي یوه تفاهمنامه لاسلیک کړه. د دغه تفاهمنامې پر اساس به د پروان د زندان بشپړ کنترول په ۲۰۱۲ کال کې افغان حکومت ته سپارل کېږي. په دغه وخت کې به افغان حکومت د ملي امنیت د زندانیانو، د تحقیقاتو، عدلي تعقیب او قضایي جلسو په برخه کې فعاله ونډه لري.[268] د ملګرو ملتونو سرمنشي په خپل دري میاشتني راپور کې په دې خبره ټینګار کړی چې باید د زندانیانو سره انساني چلند وشي او په عادلانه ډول یې محکمې ترسره کړای شي.[269]

انځور ۳.۳۲

د قیدیانو حالت، 2006-2009




سرچینې: د بهرنیو چارو وزارت، د 2009 کال راپور د هیواد د بشري حقوقو د حالت په اړه: افغانستان، 3\11\2010؛ د بهرنیو چارو وزارت، د 2008 کال راپور د هیواد د بشري حقوقو د حالت په اړه: افغانستان، 2\25\2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د 2007 کال راپور د هیواد د بشري حقوقو د حالت په اړه: افغانستان، 3\11\2008؛ د بهرنیو چارو وزارت، د 2006 کال راپور د هیواد د بشري حقوقو د حالت په اړه: افغانستان، 3\6\2007.

## د بندیانو او توقیف شویو کسانو سره چلند

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت په وینا، هر څو که د قانون د تنفیذ د سیستم په ټولو برخو کې د شکنجې په اړه راپورونه شته خو ډېری په دغه برخه کې د پولیسو نوم اخیستل کېږي.[270] د زندانیانو سره د چلند په هکله د ښځو چارو وزارت خپل تشویش څرګند کړی دی. د بهرنیو چارو د وزارت د راپور له مخې، د ښځو چارو وزارت وایي چې پولیس ډېری وخت د ښځو زندانیانو او توقیفیانو سره په زبر زنا لاس پورې کوي.[271] همداراز د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) د ماشوم زندانیانو سره د ناوړه چلند په اړوند راپور ورکړی او وایي چې دغه ماشومان د فزیکي ځورونې سره مخ دي. د سره صلیب نړیواله کمېټه هم د ماشومانو سره د ناوړه چلند خبره تاییدوي او دا هم زیاتوي چې په ټول ۲۰۰۹ کال کې د ماشومو زندانیانو سره بد سلوک شوی او د ډول ډول تهدیداتو سره مخامخ شویدي.[272]

## د متحده ایالاتو د زندانونو د سیستم د ملاتړ پروګرام

د متحده ایالاتو د زندانونو د ملاتړ پروګرام موخه د افغان دولت سره د زندانونو د مصوونیت، تنظیم او په عصري سیستم کې د زندانونو د سمبالولو په برخه کې چې په عدلي سیستم کې د بندیانو د بیا اصلاح او هستوګنې جوګه

چوکاټ ۳.٦

**د افغان زندانونو د اصلاحاتو په وړاندې پرتې ستونځې**

| دولتي اداره | ستونځې |
| --- | --- |
| د افغانستان اسلامي جمهوري دولت | بودیجوي کمښت |
| | په ډېری زندانونو کې د شدیدې ګڼې ګوڼې شتون |
| | د ظرفیتونو نه موجودیت |
| | په ډېری زندانونو کې د داسې ودانیو نه شتون چې جنایي او امنیتي بندیان جلا واوسېږي |
| متحده ایالات | د زندانونود سیستم د ملاتړ د پروګرام ستونځمنتیا ترڅو نورو ولایتونو ته وغځول شي |
| | امنیت |

سرچینې: د سیګار د ارزونې پوښتنې ته د INL ځواب، ۲۰۱۰\۱۹\٤.

په افغانستان کې د کولتوري نظره هغه ماشومان چې عمر يې د ۶ کلونو څخه کم وي د ميندو سره په زندانونو کې اوسېدل. د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکوي چې دغه حالت په وروستيو کلونو کې نه دی ليدل شوی. اوس مهال د بندي شويو ميندو ماشومان د ماشومانو په مرکز کې چې په کابل کې واقع دی ساتل کېږي، چې د يوې نادولتي موسسې چې ښځې د افغانستان د ښځو لپاره، په نامه يادېږي لخوا اداره کېږي.

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، "د بشر حقوقو د عملي کولو په اړه د ۲۰۰۹ کلنی راپور: افغانستان،" ۲۰۱۰/۳/۱۱، انلاين وکتل شو ۲۰۱۰/۳/۱۸.

کېدو وړ شي مرسته کول دي.[273] INL راپور ورکوي چې د CSSP ډېری پروګرامونه اوسمهال په متفرقه بڼه ترسره کيږي. د دغه پروګرام په ترڅ کې تراوسه په څلورو ښځينه زندانونو کې روزنيزې زده کړې ترسره شوي، په دوو ولايتي زندانونو کې صنعتي فعاليتونو ته وده ورکړل شوې او همدغه راز په دوو ولايتي زندانونو کې تعليمي او د بيا جوړونې کارونه ترسره شوي دي. په يو بل زندان کې هم د صنعتي فعاليتونو لپاره د يوې ودانۍ د ترميم پلان په لاره اچول شوی دی. INL راپور ورکوي چې په راتلونکې کې به CSSP خپلې هڅې او هاند پر صنعتي، مسلکي او تعليمي برخو باندې متمرکزې کړي. او همدغه راز به د زندانونو څانګړو اړتياوو ته مثبت ځواب ويل کيږي.[274]

سربيره پر ۳۳ کسانو چې په دغه برخه کې د هېواد په ټولو ولايتونو کې کار کوي، CSSP په دې دريو مياشتني راپور کې ۱۵ کارکوونکي غړي نور هم زيات کړل ترڅو د بنسټ پالنې څخه د راګرځولو، په ټولنه کې د بيا ادغام او د اصلاح په برخو کې کار وکړي او ډېر تمرکز به يې پر هغه زندانيانو وي چې د جګړې پورې اړوند مسايلو کې نيول شوي وي. د زندانونو د ملاتړ پروګرام په دې درې مياشتني راپور کې د ماشومانو د دارالتاديب لپاره هم مشاورين ګمارلي دي. INL راپور ورکوي چې دغه مشاورين د دې لپاره وګومارل شول چې CSSP غواړي خپل ملاتړ د ماشومانو د اصلاح او تربيت د مراکزو رياست څخه چې د عدليې وزارت په چوکاټ کې د دغه مرکزونو څخه نظارت کوي، زيات کړي.[275]

د زندانونو د ملاتړ پروګرام په محابسو کې د ثبت او راجستر کمپيوټري پروګرام په پلې کولو کې مرسته کوي. دغه سيستم به د محابسو د رياست سره مرسته وکړي ترڅو د بنديانو په هکله معلومات ولري، چې په دې کې به د دوی د جرم ډول هم شامل وي. د ۲۰۱۰ کال د اپريل د ۱۹مې نيټې راهيسې ۶۳۸۸ قضيې د دغه سيستم له لارې ارزول شوې دي.[276]

همداشان په دې درې مياشتني راپور کې د زندانانو د ملاتړ پروګرام CSSP د زندانونو سره د بايومتريک نوښت په برخه کې هم مرسته کوي چې دغه پروګرام د INL او متحده ايالاتو د تحقيقاتو د مرکزي ادارې لخوا پر مخ بيول کيږي. دغه نوښت د پلچرخي، هرات او سرپوزې په زندان کې په کندهار کې پيل شوی دی. د ۲۰۱۰ کال د اپريل د مياشتې د ۱۹ نيټې راهيسې ۶۷۰۰ بنديان او ۹۹ کارمندان په بايومتريک سيستم کې ثبت شويدي. CSSP د محابسو د رياست سره په لوژستيکي برخه او د تحقيقاتو مرکزي اداره ورسره د روزنيزو پروګرامونو او د روزنې په تخنيکي برخه کې مرسته کوي.[277]

## د فساد پرضد مبارزه

د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وينا اداري فساد په افغانستان کې د لويو ننګونو د جملې څخه يو شمېرل کيږي.[278]

USAID راپور ورکړی چې په افغانستان کې فساد په دوه برخو ويشل کيږي: اداري فساد د ټيټ رتبه چارواکو په کچه، او د لوړ رتبه چارواکو د هغوی د سياسي متحدينو او کورنيو په کچه.[279] د ټيټې کچې فساد د محدودو خدماتو له کبله رامينځته کيږي. د USAID په وينا کمه اندازه معاشونه د دې سبب کېږي چې د ټيټې کچې حکومتي مامورين د غيرقانوني عايداتو د لاس ته راوړلو لپاره هڅه وکړي.[280]

USAID راپور ورکوي چې د لوړې کچې اداري فاسد په ځانګړې په توګه د ساختماني او امنيتي صنعتونو کې شته دي. په دواړو صنعتونو کې، د پانګونې جوړښت د قراردادونو ملاتړ کوي چې محدود شمير اداري کار کوي. د قرارداد ورکول ډېر وخت د افغانستان د حکومت د لوړ پوړي چارواکيو يا ملي شورا لخوا کنټرول کيږي، چې هغه هم کيدای شي اداري فساد ته وده و رکړي.[281]

لکه څنګه چې د سيګار د جنورۍ د مياشتې په راپور کې راغلي وو، چې د نړيوال شفافيت اداري په ۲۰۰۹ کال کې افغانستان د فساد له نظره دويم بدترين هيواد شمېرلی و. (په دغه شمېرنه کې له ۱۸۰ هيوادونو څخه افغانستان

۱۷۹ وه)[282] او په ۲۰۰۸ کال کې افغانستان د ۱۸۰ ملکونو څخه ۱۷٦ موقف ترلاسه کړی و.[283] د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د نړیوال شفافیت اداره په یواځې توګه نشي کولای چې د فساد کچې د تعیین لپاره معیار وګرځي. هغه معلومات چې د ایشیا فونډیشن په واسطه د هغه افغانانو شمیره چې په خپل ورځني ژوند کې د فساد سره لاس او ګریوان دي په ۲۰۰٦ او ۲۰۰۹ کال کې ډیره اندازه ثابته پاتې شوې ده.[284]

د تفتیش او څیړنې هغه راپور چې د ځانګړي مفتش د دفتر لخوا د ۲۰۱۰ کال د اپریل په ۹ نیټه خپور شو په هغې کې د افغانستان د کنټرول او تفتیش د ریاست ځواک ارزول شوی و. دغه ریاست د حکومتي ارګانونو د مالي موضوعاتو د تفتیش دنده په غاړه لري. د ځانګړي پلټونکی دفتر د موندنو له مخې دغه ریاست د خپل قانون یا بنسټ لیک په پام کې نیولو سره دومره صلاحیت او خپلواکي نلري چې د افغانستان په کچه د یوې اغیزمنې عالي تفتیشتي ادارې موقف غوره کړي.[285] د ځانګړي پلټونکی د سپارښتنو او د تفتیشي موندنو لپاره دویمه برخه وګورئ.

د لندن په کنفرانس کې افغان حکومت ژمنه وکړه چې په ۲۰۱۰ کال کې به د فساد سره جدي مبارزه کوي. او په دغه برخه کې به خپلې هڅې لاپسې ګړندۍ کوي. د هڅو په ښه والي کې لاندې موضوعاتو ځای درلود:[286]

- د یوه فرمان صادرول چې د هغې په ترڅ کې به د فساد پر ضد عالي ادارې ته دا واک ورکول کیږي چې د په فساد ککړو چارواکو څخه پوښتنې ګرویږنې وکړي او په اړوند یې قانوني اجراات وکړي.
- د اداري فساد لپاره په قانوني چوکاټ کې د ځینو مراجعو جوړول لکه د لویو جرایمو عملیاتي ځواک همدغه راز د فساد پرضد خاص دیوان جوړول ترڅو په اوږده مهال کې د دغه ادارو استقلالیت تضمین شي.
- د ملکي خدمتونو د لوړ رتبه چارواکو د ګومارلو په برخه کې اغیزمنتیا تقویه کول او د ارزیابۍ دوره رامینځ ته کول، همدغه شان د ملکي خدمتونو په قانون کې د بدلونونو راوستل.
- د داسې قانوني اجنډا تصویب او خپلول چې د افغانستان قوانین د ملګرو ملتونو د فساد سره د مبارزې د کنوانسیون سره په یوه کرښه راولي. د اداري فساد سره د مبارزې د جزایي دیوان په شمول، چې تمه کیږي خپل احکام به د پانګې د ثبتولو او اعلان په اړوند زیات کړي.

د ۲۰۱۰ کال په مارچ کې ښاغلي کرزي یو فرمان صادر کړ چې په هغې کې یې سیاسي مداخله او د قضا تذلیل جرم وګانه. دغه فرمان د نظارت دعالي ادارې واکونه لکه څنګه چې یې ژمنه کړې وه هم زیات کړل.[287]

همدغه راز د لندن په کنفرانس کې افغان دولت موافقه وکړه چې د فساد په برخه کې افغان او بهرني متخصصین راوغواړي ترڅو د څارنې او ارزونې په ځانګړي ماموریت کې برخه واخلي. دغه ماموریت به په لومړي ځل د ۲۰۱۰ کال د اپریل په میاشت کې خپله څارونکې لیدنه پیل کړي. د دغه ماموریت موخه به د پو ښکاره او هدفمند پرمختګ لپاره معیارونه وټاکي او د افغانستان د ولسمشر، ملي شورا، د افغانستان د خلکو او همدغه راز نړیوالې ټولنې لپاره به د کورنیو او بهرنیو فعالیتونو په اړوند دوره یې راپور جوړوي.[288]

"ولسمشر کرزي په خپله پرانیستونکې وینا کې د فساد د کچې د راټیټولو په هکله ډیرې مهمې څرګندونې وکړې، او ویې ویل چې د دولت د مامورینو او ارګانونو، د شفافیت، مشروعیت او حساب ورکوونې له لارې به د فساد کچه راټیټه کړي. د هغه خبرې اوس باید د وینا سره سمون ولري."

___ د متحده ایالاتو د افغانستان او پاکستان د سیمییز ثبات ستراتیژي

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، "د افغانستان او پاکستان د سیمییز ثبات ستراتیژي" ۲۰۱۰۱۱۲۱، مخ ۷.

**د افغان حکومت د هغه ژمنو په ځواب کې چې د لندن په کنفرانس کې یې ترسره کړي، نړیوالې ټولنې هم ژمنه وکړه چې د فساد پر ضد مبارزې ملاتړ به کوي او لاندې دوه موضوعات یې هم پکې یاد کړل:**

- **د افغان حکومت لخوا وړاندیز شوې د فساد پرضد د مبارزې د ادارې سره، د پروسیجرونو د کتنې او د اداري فساد د بیلګو تحقیق چې غیر افغانان پکې ککړ وي، کارکول.**
- **د افغان حکومت سره کار کول ترڅو د قراردادونو پراوونه ښه والې د نړیوالو قراردادونو سره په کرښه شي.**

سرچینه: په افغانستان د لندن کنفرانس، "بیانیه" ۲۰۱۰۱۲۸۱۱.

## د فساد پر ضد د مبارزې څخه د متحده ایالاتو ملاتړ

د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د فساد پر ضد د مبارزې ستراتیژي د افغانستان د حکومت د فساد پر ضد د هڅې او هاند پر ملاتړ یو ځای د نړیوالې ټولنې سره په همغږي ډول تمرکز لري. په کابل کې د امریکې د سفارت په وینا اداري فساد د متحده ایالاتو د تروریزم پرضد مبارزه کمزورې کوي، امنیتي حالت، پرمختګ، او د قانون د واکمنۍ موخو ته ضرر رسوي، د افغان حکومت مشروعیت د ګواښ لاندې راولي او په افغانستان کې مخدره توکو د تجارت څخه ملاتړکوي.[289] چوکاټ ۳.۷ د دغه وړاندیز شوې ستراتیژۍ ٤ بنسټونه په ګوته کوي، او دغه ستراتیژي د فساد پرضد د بین المللي پالیسیو سره په مطابقت کې واقع ده.[290]

د متحده ایالاتو پخوانۍ مرستې په دغه برخه کې د فساد پر ضد د ګڼ شمېر ادارو د رامینځته کېدلو سبب شوې

چوکاټ ۳.۷

| د متحده ایالاتو لخوا د فساد پر ضد د مبارزې د ستراتیژۍ وړاندیز شوي بنسټونه | |
|---|---|
| **بنسټ** | **د بنسټ اهداف** |
| لومړی | افغان دولت سره د ادارو د شفافیت او حساب ورکولو په مورد کې مرسته ترڅو د فساد کچه راټیټه شي. |
| دویم | افغان دولت سره د مالي برخي په نظارت کې مرسته. |
| دریم | افغان حکومت سره مرسته ترڅو قضایي وړتیاوي لوړې شي او د تحقیق، تعقیب او مجازاتو په پروسه کې ښه والي راشي او په فساد ککړ چارواکي لیرې کړای شي. |
| څلورم | افغان دولت او مدني ټولنو سره د خلکو په پوهاوي کې مرسته ترڅو د خپل دولت په شفافیت او حساب ورکوونه کې برخه واخلي. |

سرچینه: د متحده ایالاتو سفارت، د امریکې د حکومت د فساد سره د مبارزې ستراتیژي ۲۰۰۹، مخونه. 10–11.

دي. لکه د لویو جرایمو عملیاتي ځواک، د لویې څارنوالی د فساد پر ضد څانګه او د اداري فساد پر ضد محاکماتي دیوان. د متحده ایالاتو حکومت همدغه راز هڅه وکړه چې د فساد پر ضد د عالي اداري چې ۲۰۰۸ کې رامینځته شوې ده ملاتړ وکړي.[291] د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکوي چې د امریکا حکومت په نظر کې لري چې د اداري فساد پر ضد څانګې، د لویو جرایمو د عملیاتو ځواک، د جزایي عدلي عملیاتي ځواک او د نظارت دعالي اداری سره د نورو ترڅنګ مرسته وکړي.[292]

د USAID په وینا، په اداري فساد کې ککړ دولتي چارواکي په افغانستان کې د مخدره توکو د تولید په برخه کې مهم رول لوبوي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۱۰/۸/۱۴.

### د اداري فساد پرضد مبارزې څانګه

د اداري فساد ضد څانګه د لویې څارنوالی په چوکاټ کې رامینځته شوې ده د متحده ایالاتو د نوې ستراتیژۍ له مخې، هغه موخې چې په دې څانګه پورې اړوندې دي په لاندې ډول ورڅخه یادونه کیږي. د لویې څارنوالی د تفتیشي او نظارتي وړتیاوو تقویه کول.[293] دغه څانګې ته ډیرې مرستې د INL لخوا ورکول کیږي. د ۲۰۱۰ کال د اپریل له شپږمې څخه INL له دغه څانګې سره د دوه قضیو په عدلي تعقیب کې مرسته کړې ده، چې دغه دواړه مرستې د مجرمینو د زنداني کیدو سبب شوې. همدغه راز INL د دغه څانګې سره د ۳۰ نورو صورت دعواګانو په څیړنه کې هم مرسته کوي. INL په نظر کې لري چې د دغه څانګې سره د معاشاتو، تخنیکي او اداري برخو کې مرسته وکړي.[294]

### د لویو جرایمو عملیاتي ځواک

د لویو جرایمو عملیاتي ځواک چې د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي، د همدغه وزارت، د ملي امنیت، او د اداري فساد پر ضد د دیوان د څانګړو تحقیق کوونکو څخه جوړ دی. دغه عملیاتي ځواک د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ راهیسې په کار پیل کړی دی. د بهرنیو چارو وزارت په وینا هر څو که دغه عملیاتي ځواک لا تراوسه کومه قضیه یا محکومیت نه دی ثبت کړی خو په ګڼ شمیر تحقیقاتي پروسو کې یې برخه اخیستلې او تراوسه یې یو شمیر مهمې ګرفتارۍ هم ترسره کړې دي.[295]

د متحده ایالاتو حکومت د لویو جرایمو عملیاتي ځواک هم د INL د عدلیې او دفاع وزارتونو له لارې حمایه کوي. INL تخنیکي، مالي او مشورتي ملاتړ ترسره کوي، او له نږدې څخه د د تحقیقاتو مرکزي اداره، عدلیې وزارت، او دفاع وزارت سره یوځای کار کوي ترڅو نورې اړتیاوې په نښه کړي.[296]

### د جنایي انصاف هدف ځواک

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په وینا دې ځواک ته هم INL مرستې ورکوي. دغه ځواک د مخدره توکو

په اړوند اداري فساد باندې تمرکز لري. دغه څواک د نیول شویو خلکو لپاره د عادلانه محاکمې د دایرېدو لپاره هم کار کوي. د دغه څواک لپاره د متحده ایالاتو ملاتړ ډېری مالي دي، دغه مالي مرستې د لوړ رتبه څارنوالانو او د قانون د تنفیذ تجربه لرونکو کاروکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په برابرولو کې لګول کېږي.[297]

**د نظارت لوی دفتر**

دغه اداره په ۲۰۰۸ کال کې د ولسمشر کرزي لخوا جوړه شوه ترڅو د فساد پر ضد د کورنیو هڅو څخه نظارت او همغږي یې کړي.[298] د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ پر بنسټ د نظارت عالي اداره د فساد د مخنیوي، د فساد پر ضد د مبارزې پلان او پلي کونکو هڅو او تحقیقاتي او عدلي تعقیبي فعالیتونو څخه نظارت کوي.[299]

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په میاشت کې سیګار یو تفتیشي راپور خپور کړ چې په هغې کې د نظارت د عالي اداري د بنسټیزې پرمختیا، وړتیاو او ظرفیتونو او همدغه راز دغه اداري لپاره د نړیوالې ټولنې او د متحده ایالاتو د مرستو ارزونه شوې وه.[300] د لا زیاتو معلوماتو لپاره کولای شئ د سیګار ویبپانه په دې پته ومومئ او د جنوري د میاشتې راپور ترلاسه کړئ www.sigar.mil .

په دې درې میاشتنی کې USAID راپور ورکړ چې دوی د نظارت د عالي اداري د ملاتړ لپاره په راتلونکو درې کلونو کې د ۳۰ میلیونه ډالرو په اندازه بودیجه نهایي کړې ده. او غواړې چې دغه پروګرام به د ۲۰۱۰ کال په نیمایي کې پیل کړي. دغه پروګرام به د نظارت د عالي اداري سره د لاندې کارونو په بشپړولو کې مرسته وکړي:[301]

- د بنسټیزو او پرمختیایي پلانونو رامینځته کول او پلي کول
- په هغو ساحو کې چې د لومړیتوب څخه برخمني دي، کار کول، لکه د پانګې د ثبت او تصدیق د شکایتونو د اورېدو برخه او دقضایاو د تعقیب څانګه
- په سیمییزه کچه حضور موندل
- د عامه پوهاوي کمپاین جوړول
- د نظارت د عالي اداري لپاره د فزیکي ځای په برابرولو کې مرسته

## بشری حقوق

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۱۱مه نېټه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د بشري حقونو په اړوند خپل کلني راپور خپور کړ، په دغه راپور کې څرګندونه شوې وه چې په افغانستان کې د بشري حقونو حالت لا اوس هم د اندیښنې وړ دی.[302] دغه راپور په افغانستان کې د بشري حقونو د سرغړاوي یو زیات شمیر بیلګې په ګوته کړې. په دغه سرغړونو کې د محکمې پرته وژنې، شکنجې، د محبسونو ناوړه حالاتو، د مجازاتو څخه د دولتي چارواکو معافیت، له محکمې څخه د مخه اوږدمهاله توقیف، دبیان د ازادۍ په مقابل کې محدودیتونو، دمذهبي ازادۍ په مقابل کې محدودیتونه، د ښځو په وړاندې ټولنیز تبعیض او تاوتریخوالی، د دین د بدلون په مقابل کې محدویتونه، په لړکیو باندې د تېري، پر ماشومانو د جنسي تیریو، د انسان قاچاق، د کارګرانو په حقونو باندې تېری، د ماشومانو کارول، د سرتېرو په توګه په وسلوالو ډلو کې د ماشومانو څخه ګټه اخیستل، شامل دي.[303]

## کډوال او په کور دننه بې ځایه شوي خلک (IDPs)

د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخې، افغانستان د نړۍ په هیوادونو کې لومړنی هیواد دی چې په تیرو ۳۰ کلونو کې یو زیات شمیر کډوال بیرته هیواد ته راستانه شوي دي. د ۲۰۰۲ کال راهیسې د ۵ میلیونو څخه زیات کډوال بیرته هیواد ته راستانه شویدي. ۴.۴ میلیونه راستنیدونکو کډوالو د ملګرو ملتونو د کډوالو لپاره د عالي کمیشنرۍ

(UNHCR) لخوا مرستې ترلاسه کړې دي.[304] د ۲۰۱۰ کال د اپریل د میاشتې د شلمې نیټې څخه د افغانستان څخه بهراوسیدونکو کډوالو شمېره هم د لاسرسي وړ وه.

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۲٤ نېټه پاکستاني حکومت د افغان کډوالو د تنظیم لپاره یوه نوې ستراتیژي جوړه کړه، د دغه ستراتیژۍ له مخې به په پاکستان کې مېشت کډوالو ته نوې پیژندپاڼې ویشل کېږي چې د ۲۰۱۲ کال پورې به د اعتبار وړ وي. نوې ستراتیژي د افغانانو په تدریجي ډول د راستنیدو تړون چې د پاکستان، افغنستان او UNHCR ترمینځ لاسلیک شوی و د نورو درې کلونو لپاره هم وغځاوه.[305]

په سبا ورځ یعنې د مارچ په ۲٥مه د پاکستان حکومت د زړو پیژندپاڼو چې د اعتبار موده یې ډېره لړه پاتې وه هم د ۱.۷ ملیونه افغانانو لپاره اوږده کړه د ملګرو ملتونو په وینا، پاکستان د ۲۰۰٦ کال راهیسې د کډوالو نوم لیکنه ترسره کوي او داسې یو هیواد دی چې د نړۍ تر ټولو لوی شمېر مهاجرین پکې هستوګن دي.[306]

ملګرو ملتونو د تخمین پر بنسټ په افغانستان کې ۲۹٦۰۰۰ وګړي په کور دننه بې ځایه شوي دي.  دغه بې ځایه کېدل لا اوس هم په ختیځو او سویلي سیمو کې د ناامنۍ او جګړو له امله دوام لري.[307] د ۲۰۱۰ کال په مارچ کې د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې تقریباً ٦۲۰۰۰ افغانان په ۲۰۰۹ کال کې تازه بې ځایه شوي دي.[308] چوکاټ ۳.۸ هغه لاملونه په ګوته کوي چې د لا زیاتو بې ځایه کېدنې سبب شوي دي.

## د جنس (جنډر) له نظره مساوات

د بهرنیو چارو وزارت د ښځو ځواکمنتیا د داسې یوې موضوع په ډول راپيژني چې په نه شلیدونکي ډول له نورو موضوعاتو سره لکه، د امنیت، د اقتصادي فرصتونو د بهترۍ، د ښې حکومتدارۍ او ټولنیزو پرمختیاوو پورې تړلې دي.[309] د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په ۲۹مه د بهرنیو چار وزارت د افغان ښځو لپاره یو نوی عملي پلان طرح کړ. دغه نوی پلان به په دغه زمینه کې موجوده پلانونه تقویه او نوي به هم پیل کړي. د ښځو د حالت د ښه کېدو لپاره باید د لاندې موخو ملاتړ وشي:[310]

- زده کړې او تعلیماتو ته د ښځو او انجونو د لاسرسي زیاتول
- د ښځو د امنیت او د هغه بنسټونو او ادارو ملاتړ چې د ښځو لپاره خدمتونه وړاندې کوي
- د ښځو د مشرۍ تقویه کول او په خصوصي او عامه سکتور کې د هغوی د رول پراختیا
- عدلي رسمي او غیر رسمي میکانیزمونو ته د ښځو د لاسرسي زیاتول او د موجوده قوانینو تنفیذ کوم چې د ښځو لپاره مساوي حقونه تضمینوي

چوکاټ ۳.۸

| هغه لاملونه چې په دې وروستیو کې د افغانانو د بې ځایه کېدو سبب شوي ، ۲۰۰۹ | |
|---|---|
| پیښه | د بې ځایه شوي خلکو شمیر |
| په سیمه کې د جګړو او تروریستي پېښو له امله | ٤٥۰۰۰ وګړي |
| قومي، توکمیز او د ځمکو په سر د لانجو له امله | ۹۹۰۰ وګړي |
| وچکالي | ۶۶۰۰ وګړي |
| په ننګرهار کې د زلزلې له امله (۲۰۰۹\۴\۱۷) | ٦٥۰ کورنۍ [a] |

a. د وګړو په هکله معلومات نه دي راټول شوي.

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، "د بشرِ حقوقو د عملي کولو په اړه د ۲۰۰۹ کلنی راپور: افغانستان،" ۱۳\۱۱\۲۰۱۰.

**کډوال:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي دفتر (UNHCR) د کډوالو لپاره هغه تعریف کاروي کوم چې په ۱۹٥۱ کال کې د کډوالو د کنونسیون لخوا وړاندې شوی دی: کډوال هغه څوک دی چې "د خپل قوم، دین، ملت او یا ځانګړي ټولنیز ګروپ او یا سیاسي عقیدې له امله په ویره کې وي او خپل هیواد څخه بهر ته ځي او له دغه ویرې څخه ځان نشي خلاصولای او په نارضایتۍ سره د خپل هیواد څخه د خپل خلاصون په هیله بل ځای ته کډه کیږي."

**د کور دننه بې ځایه شوي خلک:** UNHCR په کور دننه بې ځایه شوي خلک داسې تعریفوي: "د کډوالو په خلاف بې ځایه شوي خلک هغه څوک دي چې د خپل ځان د ژغورنې لپاره د نړیوالو سرحدونو څخه نه وي وتلای، خو په خپل هیواد کې پاتې وي. بې ځایه شوي خلک د خپل حکومت د سیورې لاندې په قانوني ډول اوسیږي حتې کې د دوی د بې ځایه کیدو سبب خپله حکومت هم وي لکه د نورو اتباعو، دوی خپل حقوق لري او د بشري حقونو د ژغورنې د قوانینو او نورو بشري نړیوالو قوانینو د حقه حقوقو څخه برخمن وي."

سرچیني: UNHCR، "کډوال،" انلاین وکتل شو ۲۰۱۰\۱۲\۱۳؛ UNHCR، "د کور دننه بې ځایه شوي خلک،" انلاین وکتل شو ۲۰۱۰\۱۲\۱۳.

- روغتیایي خدمتونو ته د ښځو او انجونو د لاسرسي زیاتول
- د موجوده فعالیتونو تقویه او ملاتړ، همدغه راز ښځو لپاره د اقتصادي پرمختګ د موقع برابرول
- د ښځو د سیاسي حضور ملاتړ او په دغه برخه کې د هغوی د ونډې زیاتول

د ښځو د نړیوالي ورځې (۸ مارچ ۲۰۱۰) د لمانځلو په مناسبت د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون یوه اعلامیه خپره کړه چې په هغې کې د افغان ښځو د حقونو په اړوند ډېر تشویشونه ذکر شوي وو. دغه اعلامیې تولې ستونځې د بې سوادی او د بشري حقونو څخه د خلکو ناخبری څخه رازیږیدلي ستونځې ګڼلي. د بشر د حقونو د کمیسیون د راپور له مخې ۶۰% انجوني د زده کړې څخه محرومې دي. دوی دا راپور هم ورکړی و چې په ۲۰۰۹ کال کې د بشر د حقونو دوه فعالي ښځې وژل شویدي او تراوسه د دغه وژنو په تور هیڅوک محکمې ته نه دي راکش کړل شوي.[311]

د INL په وینا د زندانونو د ملاتړ پروګرام په دې دري میاشتنی کې د محابسو د ریاست سره کار وکړ تر څو د زنداني ښځو لپاره ځانګړي مراسم په لاره واچوي لکه د ښځو د نړیوالي ورځ لمانځل.[312]

## په افغانستان کې دیني (مذهبي) ازادي

لکه څنګه چې د سیګار د ۲۰۱۰ کال د جنوری د میاشتې په راپور کې راغلي وو، د افغانستان اساسي قانون په صراحت سره بیانوي چې په افغانستان کې رسمي دین اسلام دی او د نورو ادیانو پیروان کولای شي خپل دیني مراسم د قانوني لاربښونو په رڼا کې په سوله او عامه عفت سره ترسره کړي. خو سره له دې اساسي قانون حکم کوي چې هیڅ قانون چې د اسلامي قوانینو اوعقایدو سره په تضاد کې واقع وي په افغانستان کې پلي کېدای او جوړېدای نه شي. د بهرنیو چارو د وزارت په وینا هغه قانوني حق چې غیر مسلمو ته د دوی د دیني چارو د ترسره کولو لپاره ورکړل شوی دی په عمل کې یې رعایت نه کېږي.[313]

د دولتي مکتوبونو نصاب د اسلامي عقایدو درلودونکی دی، د افغانستان د اساسي قانون د ۴۵ مادې پر بنسټ. غیر مسلم اتباع مکلف نه دي چې په اسلامي درسونو کې برخه واخلي، او د پلرني ادیانو تعلیم د قانون له پلوه ضروري نه دی. لکه څنګه چې غیرمسلماني کورنۍ د دوامداره ځوروني سره مخامخ دي نو دوی په ډیر احتیاط سره د خپلو عقایدو په هکله خبرې کوي. د ۲۰۱۰ کال د مارچ په میاشت کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې د پوهنې وزارت په دریو ولایاتو کې د هندو او سیک ماشومانو لپاره ځانګړي ښوونځې پرانیستل: غزني، هلمند، او ننګرهار.[314]



**افغان ښځې** چې په پنجشیر کې د کرنیز کاروبار د ودې د ټیم لخوا د زعفرانو حاصلاتو بسته بندي زده کوي. د ټیم لخوا ورته ټرینګ ورکول کېږي ترڅو ښځې پیاوړې او په خپلو پښو ودرېږي. ( د متحده ایالاتو د پوځ انځور، لیزا اشلي)

**د افغان حکومت په نظرهغه خلک چې په هیواد کې زیږیدلي وي مسلمانان دي. او د اسلامي قوانینو له نظره هر هغه څوک چې دین بدلوي، د مرګ په سزا باید محکوم شي.**

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، "د بشرِ حقوقو د عملي کولو په اړه د ۲۰۰۹ کلنی راپور: افغانستان،" ۲۰۱۰\۱۱\۳.

# اقتصادي او ټولنيز پرمختګ

د تېرو درې مياشتو په جريان کې، دوه مهمو پېښو د متحده ايالاتو د اقتصادي او ټولنيزو پروژو لپاره د پاليسی د جوړولو چوکاټ ته ځواکمنتيا وروبښله. د ۲۰۱۰ کال د جنوری په مياشت کې د افغانستان او پاکستان د ثبات لپاره سيمييزه ستراتيژي اعلان شوه، چې په دغه ستراتيژی کې په ملکي برخه کې د متحده ايالاتو د پرسونل زياتېدلو لپاره ځانګړي نوښتونه او بنسټونه لکه څنګه چې بارک اوباما يې ژمنه کړې وه رامينځته شول.[315] او همداراز د لندن په کنفرانس کې چې ۲۰۱۰ کال د جنوری په مياشت کې جوړ شوی و، ګډون کوونکو هيوادونو د متحده ايالاتو په شمول، د افغانستان سره خپلې ژمنې بيا تاييد او د اوږده مهال ملاتړ چې افغانستان په بشپړ ډول افغاني رهبريت ته وګرځول شي اعلان يې وکړ.[316]

مرسته کوونکو هيوادونو د افغانستان د اسلامي جمهوريت د هغه پلانونو څخه ملاتړ وکړ چې په ترڅ کې به يې کورني عايدات زيات شي، په کرنيزه، بشري منابعو، او د بنسټونو د جوړولو د کار پرمختګ به چټک شي. مرسته کوونکو هيوادونو په اصولو کې د افغان حکومت د هغه وړانديز څخه چې بايد تر ۵۰ په سلو کې مرستې د افغان حکومت له لارې ولګول شي تر څو د اصلاحاتو لپاره لا زيات ګامونه واخيستل او د فساد مخنيوی وشي، هم ملاتړ څرګند کړ.[317] د ماليې وزارت د راپور له مخې اوسمهال ۸۰ په سلو کې مرستې د مرکزي حکومت د پوهاوي څخه پرته د نورو ارګانونو له لارې په لګښت رسېږي.[318]

## اقتصادي وده

د متحده ايالاتو هغه موخې ته د رسېدو لپاره چې افغانانو ته د کار د زمينو برابرول دي، اقتصادي رشد يوه مهمه موضوع ګڼل کېږي د نړيوال وجهي صندوق (IMF) د وروستي راپور پر بنسټ د افغانستان ناخالص داخلي توليد به د کال په پای کې ۱۵ فيصده رشد وکړي. او ډېری رشد به د زراعتي محصولاتو په برخه کې رامينځته شي.[319] د ملګرو ملتونو د سرمنشي په درې مياشتني راپور کې چې د امنيت شورا ته يې وړاندې کړ نوموړي يادونه وکړه چې په اقتصادي رشد کې د نړيوالو مرسته کوونکو لخوا د سيمييزو توکو د پېرودلو کچه چې ٦١ په سلو کې ته لوړه شوې ده هم ډېر مهمه ونډه لري.[320]

د ۲۰۱۰ کال د جنوری په مياشت کې نړيوال وجهي صندوق اټکل وکړ چې د راتلونکو پنځه کلونو لپاره به په افغانستان کې اقتصادي رشد مثبت پاتې وي او په کال کې به ۷% رشد رامينځته کېږي. دغه موضوع لاندې حقايق په نظر کې نيسي:[321]

- اقتصادي ثبات دوام
- په امنيتي حالت، حکومتداری، او د وړتياوو د لوړېدلو په برخه کې ښه والی
- په مالي سکتور کې اصلاحات
- په لوړه کچه د مالياتو راټولول

د پاريس کلب د پور ورکوونکو يو غيررسمي غونډه ده چې په هغې کې پور ورکوونکي هيوادونه راټولېږي ترڅو د پوروړو هيوادونو د مالي ستونځو په حل کې مرسته وکړي. د دغه کلب ۱۹ دايمي غړي دا دي: بلجيم، کاناډا، اتريش، استراليا، ډنمارک، فنلنډ، فرانسه، جرمني، ايرلنډ، ايټاليا، جاپان، هالنډ، ناروی، روسيه، هسپانيه، سويډن، سويس، برېتانيا او متحده ايالات.

سرچينه: د پاريس کلب، "پوښتنې" انلاين وکتل شو ۲۰۱۰/۱۲/۱۴.

- د ځينو دولتي تصديو خصوصي کول
- د کانونو د راسپړلو په برخه کې د پرمختګ رامينځته کېدل

د اقتصادي رشد د ځواکمنتيا لپاره، افغانستان په يو لړ پروګرامونو کې چې د نړيوال وجهي صندوق، نړيوال بانک، اسيايي پراختيايي بانک او پاريس کلب لخوا يې مالي ملاتړ کېږي برخه اخلي. دغه موسسات د پورونو د بښلو، حکومت ته په لږې ګټې د پورونو ورکولو، او په مالي اداره کې د تخنيکي مرستو په برخو او داسې نورو کې مرستې برابروي. دغه موسسات د تشکيلاتي اصلاحاتو او د انکشافي مرستو د پايلو د اندازه ګيری لپاره معيارونه هم ټاکي.[322]

## د بيوزلۍ د کمولو او د پرمختګ د سهولتونو (PRGF) په رڼا کې مالي پاليسۍ

د ۲۰۰۶ کال د نيمايي څخه افغان دولت د اقتصادي رشد پروګرامونه د نړيوال وجهي صندوق د بيوزلۍ د کمولو او د پرمختګ د سهولتونو د پروګرام (PRGF) له لارې تطبيقوي.[323] لکه څنګه چې د نړيوال وجهي صندوق په شپږم راپور کې د PRGF سرليک لاندې ذکر شوي دي، افغانستان د ستونځمنو حالاتو په درلودو سره بيا هم اقتصادي پرمختګ کړی دی. انفلاسيون رامينځته کيدونکی و خو په ټيټه کچه پاتې شوی دی. مهم تشکيلاتي اصلاحات پلي شوي دي، پولي پاليسی برياليی وې، او د مالياتو راټولولو کې ښه والی راغلی دی.[324] نړيوال وجهي صندوق څرګندونه کړې ده چې هر څو که افغانستان د مالياتو په راټولولو کې پرمختګ کړی دی، خو بيا هم بايد ډېر کار وشي تر څو دغه ماليات هغې مالي نقطې ته ورسېږي چې د يو کال لپاره بسيا وکړي.[325] د افغانستان تقريباً ۹۰ په سلو کې ملي بوديجه د بهرنيو مرستو له لارې تامينيږي، نه د داخلي عوايد و له لارې چې د افغان دولت لخوا راټولېږي.[326] د نړيوال وجهي صندوق د راپور له مخې افغان دولت پلان درلود چې داخلي عوايد د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال په ترڅ کې د ناخالصه عوايدو ۸.۱ په سلو کې ته لوړ کړي چې په تقريبي ډول (۵۴۵ بيليونه افغانيو يا ۱.۱۳ بيليونه ډالرو ته رسېږي). دا د ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کال د ۷.۳٪ ناخالص کورنی عوايدو سره نيژدې د مقايسې وړ دي. همدغه ډول دغه عايدات د مخکنيو دوو کلونو سره د مقايسې وړ دي چې په هغه کلونو کې دغه عوايد په تقريبي ډول ۶.۹ فيصده وو. نړيوال وجهي صندوق يادونه کوي چې دغه موخې ته رسېدل د افغان دولت د توانايي پورې تړاو لري ترڅو د محصولاتو او ماليي نوی رژيم پلي کړي.[327]

د متحده ايالاتو د ماليې وزارت په وينا د افغانستان د عوايدو په راټولونه کې يو تغير رامينځته شوی دی. په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو کې د افغان دولت ۵۴٪ عوايد د ګمرکي محصولاتو له لارې ترلاسه کول. په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کې دغه اندازه ۳۴ % ته راښکته شوه او ۴۶٪ مجموعي عوايد په مستقيم ډول د شرکتونو، عوايدو او پانګونو څخه ترلاسه شوي دي. پاتې ۲۰٪ د ناټيکسه ماليو نه راته لکه د صنايعو ګټې، جوازنامې، او د هوانوردی فيسونه.[328]

هغه راپور چې د مقدمې په شکل کې جهاني بانک د لندن د کنفرانس لپاره ترتيب کړی و، په هغې کې راغلي وو چې د امنيت په برخه کې د افغان دولت زياتيدونکي لګښتونه د افغان دولت د لګښتونو ۴۰ په سلو کې تشکيلوي او په افغان بوديجه باندې ډېر فشار رامينځته کوي. د دغه اونورو فکتورنو په پايله کې نړيوال وجهي صندوق وړاندوينه کوي چې د افغانستان د حکومت لګښتونه او عوايد به د ۲۰۲۳ کاله پورې سره مساوي نشي.[329]

**PRGF:** د نړيوال وجهي صندوق هغه ځانګه ده چې د ډېرو بيوزلو هيوادونو سره د کوچنيو پورونو په برخه کې مرسته کوي، ترڅو پرمختګ وکړي او بيوزلي راکمه کړي.

سرچينه: نړيوال وجهي صندوق، حقايق پاڼه، "د پورونو کمول او د ودې اسانتيا (PRGF)"، ۲۰۰۹/۷.

## د پورونو بښنه

د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په شپږويشتمه د نړيوال بانک، د نړيوالي پرمختيا ټولني (IDA) او د نړيوال وجهي صندوق رييسه هيئتونو پرېکړه وکړه چې د افغانستان سره به د ۱.٦ ميلیارده ډالرو د پور د بښني په برخه کې مرسته کوي. د دغه هوکړه ليک د لاسليک په وخت کې د نړيوالي پرمختيا ټولني موافقه وکړه چې افغانستان يو لړ تشکيلاتي اصلاحات پلي کړيدي چې د زياتي کچې د پوروړو بېوزله هيوادونو د نوښت (HIPC) بشپړېدو نقطې ته هم رسېدلی دی.[330] د بشپړېدو نقطې ته رسېدل د هغه پروسې پای دی چې په پايله کې يې د ۹٦% هغه پورونو چې اوسني حکومت اخيستي دي، د لغو کېدو سبب کېږي.[331] د دغه پروسې د يوې برخې په ډول، د پاريس کلب ټولو پور ورکوونکو د متحده ايالاتو په شمول، چې افغانستان يې پوروړی و، د خپلو پورونو د ۱۰۰% بښلو اعلان وکړ.[332]

نړيوال وجهي صندوق (IMF) او نړيوالي پرمختيايي ټولني (IDA) په خپل ليک کې يادونه کړې وه چې افغان دولت د HICP اړونده تشکيلاتي اصلاحات پلي کړيدي نو ځکه د ۱.٦ ميلیارده ډالرو پور ورته معاف کوي، په دغه ليک کې اصلاحات په لاندې ډول ذکر شوي وو:[333]

- د يو با ثباته لوی اقتصادي چاپېريال ساتنه
- د عامه مالي اداري ځواکمنتيا
- د کانونو د راويستلو په سکټور کې اصلاحات راوستل
- په روغتيايي او تعليمي برخه کې شفافيت او حساب ورکوونه
- د پورونو د منيجمنټ تقويه کول
- د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژۍ سره د لګښتونو لومړيتوبونو ته مطابقت ورکول

نړيوال وجهي صندوق او نړيوالي پرمختيايي ټولني يادونه کړې وه چې افغان دولت لا د HICP (د زياتي کچې د پوروړو بېوزله هيوادونو د نوښت) موخو ته د تقاعد په اصلاحاتو او د خدماتو د رسوونې په څلورو وزارتونو کې نه دی رسېدلی.[334] دغه څلور وزارتونه، د کرنې او مالدارۍ، پوهنې، عامې روغتيا او د کليو د پراختيا وزارتونه دي. په ځانګړي ډول او داسې توقع هم نشته چې د دغه څلورو وزارتونو بشري منابعو رياستونه دې د ۲۰۱۰ کال پورې د استخدام له پلوه بشپړ او فعال شي. همدغه راز د معاشاتو او د رتبو دويم پړاو اصلاحات لا په دغه وزارتونو کې هيڅ پلان شوي هم نه دي چې په کوم ځانګړي وخت کې به ترسره شي او که نه؟ [335] همدغه راز په دغه راپور کې داسې نورو ننګونو ته هم اشاره وشوه لکه د ماليې وزارت د قرضو د منيجمنټ څانګه چې له دوو کارکوونکو څخه يې تشکيل پنځه و ته لوړ شوی، خو دغه کارکوونکي د متحده ايالاتو د ماليې وزارت د مشاورينو څخه مرسته ترلاسه کوي. او د دغه کارکوونکو ساتنه ډېره ستونځمنه ده.[336]

په اخر کې نړيوال وجهي صندوق او نړيوالي پرمختيايي ټولني د عامه مالي اداري، د عامه اداري اصلاحاتو د پروسو د پلي کيدلو د چټکتيا او د اداري فساد سره د مبارزې د زياتيدو غوښتنه وکړه.[337]

## د بوديجې د اجرا ځواکمنول

د لندن په کنفرانس کې مرسته کوونکو هيوادونو په اصولو کې ژمنه وکړه چې د خپلو مرستو ډېرې برخه به د افغان دولت د وزارتونو لارې په مصرف ورسوي که چېرې افغان دولت نور اصلاحات راولي او د اداري فساد سره مبارزه وکړي. د متحده ايالاتو د ثبات د ستراتيژۍ يوه موخه هم دا ده چې د ۲۰۱۰ کال د دسمبر د مياشتې پورې به د خپلو ټولو مرستو ٤۰% د افغان دولت د لارې او افغاني نادولتي موسسو له لارې مصرف کړي.[338]

**HIPC:** داسې يو پروګرام دی چې د نړيوال وجهي صندوق او د نړيوال بانک لخوا يوځای جوړ شوی، ترڅو د بېوزلو هيوادنو پورونه راکم کړي. خو په دې شرط چې دوی په مالي اصلاحاتو کې پياوړي تعقيبي تشکيل وښيي. د بشپړيدو نقطه هغه نقطې ته وايي چې يو هيواد د HIPC مرستې چې د پلي کيدو پورې مربوطې دي ترلاسه کوي.

سرچينې: IMF، معلومات پاڼه، "د ډېرو پوروړو هيوادونو لپاره د پورنو اسانتيا HIPC نوښت؛ ۲۰۱۰\۱۸\۲؛ IMF، "د نړيوال وجهي صندوق مالي فعاليتونه - تازه شوي مارچ ۱۱، ۲۰۱۰" انلاين وکتل شو ۲۰۱۰\۱٤\۳.

د هغه معلوماتي پاڼې پر بنسټ چې نړيوال بانک د لندن د کنفرانس لپاره جوړه کړې وه، راغلي وو چې د افغان دولت له لارې د ټولو مرستو مصرفول ځينې ستونځې هم لري. لويه ستونځه يې د افغان دولت د بوديجوي سيستم کمزورتيا ده او نشي کولای چې دومره مرستې راجلب او بيا يې په اغېزمن او کافي ډول په مصرف ورسوي: د افغان دولت د بوديجې لګښتونه چې ۹۰ په سلو کې يې د داخلي ناخالصه عوايدو څخه لاس ته راځي هر کال د نه لګښت د ستونځې سره مخامخ وي. په حقيقت کې د افغانستان د بوديجې د اجرا اندازه په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کې د ٥٤% څخه په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کې ٤۳% ته راټيته شوي ده.[339] همدغه راز د متحده ايالاتو د ماليي وزارت راپور ورکړی چې د افغان دولت د پرمختايي بوديجې لګښت هم يوه بله ځانګړې ستونځه ده. په حقيقت کې، ۹۰% عادي بوديجه او ٤۰% انکشافي بوديجه په خپل وخت لګول کېږي.[340]

نړيوال بانک د يوې بلې ستونځې څخه هم يادونه وکړه چې هغه هم د بوديجې په مصرفي سيستم کې د شفافيت او حساب ورکوونې نه شتون دی چې مرسته کوونکي هيوادونه يې دې ته اړ ايستلي دي چې په مستقيم ډول د افغان دولت له لارې د خپلو مرستو د مصرفولو په وړاندې مخالفت وکړي. نړيوال بانک داسې يو څو موضوعاتو ته اشاره وکړه چې د هغوی په پلي کېدو سره د شفافيت او حساب ورکوونه تقويه کېدای شي، دغه موضوعات په لاندې ډول دي:[341]

- د معاشاتو د اجرا په پروګرام کې د پرمختګونو رامينځته کول
- د کورني او بهرني تفتيشي عملياتو زياتوالی
- د قراردادونو او خريدارۍ پروسې ته بهبود ورښنل
- په ولايتي کچه د افغانستان د مالي سيستم د منيجمنټ پلي کول

د متحده ايالاتو ماليي وزارت په دې درې مياشتنۍ کې د افغانستان د محاسبې د مرکزي ادارې په تفتيشي عملياتو کې د کموالي او ځنډ خبر ورکړی دی. او د ماليي وزارت چارواکي په دې هڅه کې دي چې د دغه ادارې سره په تماس کې شي تر څو يې په کارونو کې بهبود رامينځته شي.[342] په دې درې مياشتنۍ کې د سيګار د محاسبې د مرکزي ادارې ارزونه بشپړه کړه، او دا يې وموندله چې د دغه ادارې د مقررۍ يا قانوني لايحې له مخې دغه اداره نشي کولای چې يوه خپلواکه او باصلاحيته محاسبه کوونکې اداره واوسي. د افغانستان د محاسبې د مرکزي ادارې د تفتيش په هکله معلومات د ځانګړي پلټونکی د راپور دويمه برخه وګورئ.

## د اقتصادي وړتياو لوړول

د مرسته کوونکو هيوادونو لخوا د افغان دولتي مامورينو يو منظم او يو شان روزنيزو پروګرام نه شتون د پرمختګ په مخکې لوی خنډ تشکيلوي. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستو مشن (يوناما) د ستراتيژۍ له مخې، د افغانستان د ملکي خدمتونو انستيتوت وړانديز کړی و چې د دولتي مامورينو د روزنې لپاره به يو واحد تعليمي نصاب په پنځه مهمو برخو کې جوړ کړي: مالي منيجمنټ، قراردادونه او خريداری، بشري منابع، د پروژو اداره يا منيجمنټ، او د پاليسيو د جوړولو په برخه کې. دغه انستيتوت وړانديز کړی و چې دغه نصاب به په ۳۲ ولايتو کې ۱٦۰۰۰ مامورينو ته تدريس کړي. د يوناما ستراتيژي پاڼې له ټولو نړيوالو مرسته کوونکو څخه غوښتنه کړې وه چې د دغه انستيتوت د نصاب څخه په خپلو روزنيزو پروګرامونو کې کار واخلي، نو په ټول هيواد کې به يو ډول نصاب ته وده او ټول مامورين به په يو ډول وروزل شي.[343]

د دې لپاره چې د يو منظم پروګرام اړتيا ته مثبت ځواب ويل شوې وي، USAID د ملکي خدمتونو د انستيتوت سره د ٨٤ ميليونه ډالرو يو قرارداد د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په ۲۲مه نېټه لاسليک کړ، ترڅو افغان مامورين په ټولو يادو شويو برخو کې وروزي.[344]

په تېرو درې مياشتو کې د ظرفيتونو د لوړولو اړوند يو بل کار د افغانستان د ګمرکاتو د ملي اکاډمۍ څخه د

لومړۍ دورې د ٤٨ کسانو فارغېدل وو. دغه اکاډمي د متحده ايالاتو، د کاناډا حکومت، نړيوال بانک، او اروپايي اتحاديې لخوا حمايت کېږي. دغه اکاډمي د ګمرکاتو په برخه کې يو ١٢ مياشتنى نصاب پر مخ بيايي او موخه يې دا ده چې د ١٥٠ څخه ٢٠٠ پورې مسلکي خلک وروزي ترڅو د افغانستان د ګمرکاتو په رياست کې وګومارل شي.[345]

## بانکداري

د افغانستان لپاره د متحده ايالاتو د ثبات د ستراتيژۍ يوه موخه دا ده چې مستحقو افغانانو ته د پور ورکولو لړۍ د پور ورکوونکو موسساتو، سوداګريزو بانکونو او د غير بانکي مالي سيستمونو له لارې پيل او پلي کړي. لکه څنګه چې نوموړې ستراتيژي په کرنيزه برخه باندې ډېر تاکيد کوي نو هغو نوښتونو ته لومړيتوب ورکوي چې د زراعتي محصولاتو د توليد، توزيع، پيردوني، زراعتي کوپراتيفونو، عرفي قرضه ورکوونکي او د مبايل له لارې بانکي سيستم ته په کليواله کچه پرمختګ رامينځته کړي.[346]

د ٢٠٠٦ کال د سپتمبر څخه د ٢٠٠٩ کال د دسمبر پورې USAID د کليو زراعتي پانګونې او په افغانستان کې د پانګونې د ملاتړ پروګرام سره مالي مرستې ترسره کړې دي. د USAID د راپور له مخې په دغه پروګرام کې تر ١٣٠ مليونه ډالره د کوچنيو قرضو په شکل په ټول هيواد کې، کوچنيو، متوسطو او لويو پانګوونکو ته ورکړل شوي دي.[347]

په تعقيب يې USAID ٦٠.٥ مليونه ډالره د پورورکوونکو موسساتو نړيوالي شورا ته ورکړي دي ترڅو په راتلونکو درې کلونو کې خپلې مالي مرستې د هيواد ختيځ او سويلي سيمو ته هم پراخې کړي. د دغه شورا په وينا د دغې پروګرام موخې دا دي چې کوچنيو او متوسطو سوداګرو، بزګرانو، د کم او يا متوسط عايد درلودونکو خلکو، او ښځو ته مالي خدمتونه وړاندې کړي. پورتنۍ شورا غواړي چې د دې پروګرام د يوې برخې په توګه د افغانستان لپاره د پانګونې او مالي کوپراتيفونو لومړنۍ ملي اسلامي ټولنه جوړه کړي.[348]

نور نړيوال مرسته کوونکي هم په کليوالو سيمو کې د پورونو ورکولو ملاتړ کوي. د مثال په ډول: په دې درې مياشتنى کې نړيوال بانک د ٣٠ ميليونه ډالرو د مرستې اعلان وکړ چې د نړيوالې پرمختيايي ادارې له لارې به د افغان دولت د کليوالي پانګونې د پرمختګ پروګرام ته ورکړل شي. دغه نوښت سره نور مرسته کوونکي هيوادونه بريتانيا (٢٣ مليونه ډالره) او ډنمارک (٢ مليونه ډالره) دي. د نړيوال بانک په وينا له دغه پروګرام څخه موخه د ١٣٠٠٠ پس انداز ګروپونه او ٦٥٠٠ تشبثاتي ګروپونه او ١٣٠٠ د کليو امانتي پورونو ټولنې جوړول دي چې د افغان بزګرانو سره مرسته وکړي.[349]

## کارموندنه: د افغان لومړۍ او د کار په بدل کې د پيسو پروګرام

د افغانستان د ثبات د ستراتيژۍ يوه برخه د افغانانو د وړتياو لوړول نه يوازې د افغانستان د ملي خدمتونو د تقوېې له لارې بلکې دوی ته د کار موندل هم دي چې په زياتيدونکي ډول د متحده ايالاتو د بيا رغونې د قراردادونو د (افغان لومړي نوښت) له لارې په ټول هيواد کې په کار ګومارل کېږي.[350] د USAID د اداري کارکوونکو په وينا د افغانانو استخدام د دغه ادارې د قراردادونو له لارې د پروسږکال څخه چې ٣٠٠٠ تنه وو د ٢٠١٠ کال د اپريل پورې ٢٦٠٠٠ کسانو ته رسيدلي دي.[351]

برسېره پر دې USAID د بيا رغونې هغه کوچنۍ پروژو سره هم مالي مرسته کوي چې په هغې کې خطر ته مخامخ افغانان په کار ګومارل کېږي. د هغه ارزونې له مخې چې په دې وروستيو کې د خطر او خطر ته مخامخ خلکو په اړوند شوې ده، په ١٣٨٦ هجري لمريز کال کې په ټول هيواد کې٢٨٠٠٠٠ کسانو د پيسو په مقابل کې د کار او د خوړو په مقابل کې د کار په پروژو کې برخه اخيستې ده. ٢٢٤٠٠٠ نورو افغانانو يا د کار په بدل کې خوراک يا د خوراکي مرستې په پروګرام کې برخه اخيستي ده.[352]

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د USAID د افغانستان لپاره د زراعتي محصولاتو د زیاتېدو ځانګه د پیسو په مقابل کې د کار د پروګرام لوی ملاتړ کوونکی دی.[353] د دغه پروګرامونو لپاره بودیجه جاري ده خو د ۲۰۱۰ کال د مارچ په میاشت کې د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې دغه بودیجه ۳۶ میلیونه ډالره وه.[354] همدغه راز دغه وزارت راپور ورکوي چې د ۲۰۱۰ کال د می د میاشتې پورې به ۲۸۵۱۳ کسانو ته په کندهار او هلمند کې به د دغه پروګرام له لارې د ورځې ۵-۶ ډالره پورې ورکړل شي.[355] برسېره پر دې د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکوي چې د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ د ۱۶ نېټې پورې د نورو پرمختیايي پروګرامونو له لارې د بدخشان، بادغیس، بلخ، کونړ، لغمان او ننګرهار په ولایتونو کې ۸۸۱۰ کسانو ته د لنډمهال لپاره کارونه برابر شوي دي. همدغه راز ۲۱۷۲ کسانو ته په فراه او ارزګان کې.[356]

هر څو که دغه پروګرامونه په لنډمهاله ډول خلکو ته د حل لارې مومي، خو ځیني چارواکو د هغه کسانو لپاره د اوږده مهال د پروژو غوښتنه کړېده کوم چې خپلو لوړو زده کړو ته دوام نشي ورکولای، تر څو مهارتونه او کسبونه زده کړي. د یوناما ستراتیژي پاڼي د افغان دولت څخه غوښتنه کړې ده چې د مسلکي زده کړو لپاره د یو لومړیتوب په ډول یو پلان جوړ کړي. او زیاته کړې یې ده چې د افغانستان اوسني دولتي مسلکي ښوونځي یواځې د څو زره شاګردانو د روزنې ظرفیت درلودونکي دي.[357]

## د بنسټيزو خدمتونو عرضه کول

د خدمتونو د ښې عرضې لپاره افغان دولت اعلان کړی چې د خدماتو د عرضې ۱۳ وزارتونه به په درېو کټګوریو کې تنظیم او اصلاحات به پکې راولي: ۱- زراعت او د کلیو پراختیا ۲- د بشري منابعو پرمختیا، او ۳- د بنسټونو او اقتصادي پرمختګ په برخو کې. هره کټګوري به یو مشر وزیر لري او د مالیې وزارت لخوا به یې مالي ملاتړ کیږي. د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا د هرې کټګورۍ لپاره ځانګړي پلانونه طرح شوي دي چې د روان کال په وروستیو کې به د کابل په کنفرانس کې وړاندې شي.[358]

په روانه درې میاشتنۍ کې USAID د افغان دولت سره یوه تفاهمنامه لاسلیک کړه چې د افغان دولت د ولسوالیو د پرمختیايي پروګرام لپاره پکې د ۲۰ میلیونه ډالرو د مرستې ژمنه شوې ده.[359] د وزارتونو ترمنځ د دغه نوښت څخه موخه دا ده چې په سیمییزه کچه حکومت وکړای شي چې بنسټیز خدمتونه لکه، روغتیايي، تعلیمي، زراعتي او داسې نور په اغېزمن ډول خلکو ته ورسوي. دغه مالي مرسته به د مالیې وزارت سره د معاشونو په ورکولو او عملیاتي لګښتونو کې مرسته وکړي.[360]

## انرژي

د متحده ایالاتو د ثبات د ستراتیژۍ موخه د انرژۍ په برخه کې دا ده چې د ۲۰۱۳ کال پورې ۱۵۰۰ میګا واټه برق د تولید او انتقال له لارې پوره کړي (د ۲۰۰۹ کال په اپریل کې ۳۸۹ میګا واټه برېښنا شتون درلود).[361] د دې لپاره چې دغه موخې ته ورسېږو، نو ډېر تاکید د انرژۍ د کورنیو بنسټونو په بیا احیا باندې شوی دی لکه، د کجکي او درونټې بندونه همدا شان د شبرغان د ګازو تولیدي دستګاه. همدغه راز د ۳۰۰ ټولنو لپاره د نوي کیدونکی انرژي څخه ګټه اخیستل.[362] چوکاټ ۳.۹ د انرژۍ د بنسټونو د بیا ترمیم لپاره د تخمین شویو لګښتونو اندازه ښايي.

### د برېښنا تولید

په دې درې میاشتنۍ راپور کې زیاتره تمرکز په افغانستان کې په زیاتیدونکي ډول د وارداتي برېښنا په اړوند د نویو معلوماتو په هکله شتون درلود، خو افغان دولت غواړي چې د خپلو سیمییزو امکاناتو څخه د انرژۍ په تولید کې کار واخلي.

چوکاټ ۳.۹

**د انرژي د توليد د بنسټونو د ټاکل شويو پروژو حالت**

| نوم | د کار ډول او موخه | تخمين شوی لګښت | حالت | مالکيت او څارنه |
|---|---|---|---|---|
| د کجکي بند | د کجکي د اوبو او برېښنا د بند بيا رغونه او د ظرفيت لوړونه يې، د کندهار او هلمند لپاره د برېښنا د توليد يو مهم بند ګڼل کېږي. | د CERP د مالي مرستي د لګښت په هکله نظريات شتون لري تر څو د دغه سيمي امنيت د حالاتو تر ښه کېدو پوري وساتي. | د ۲۰۰۹ کال په لسمه مياشت يې کار د امنيتي ملحوظاتو له امله درېدل کله چې حالات ښه شي بيا به کار پيل شي. | عامه شتمني ده، او اوسمهال د افغانستان د برېښنا شرکت ملکيت دی، د ترميم لپاره يې په کال کې ۶۰۰۰۰۰ ډالر لګښت راځي. |
| د درونټي بند | بايد د برېښنا توليد يې ۳،۸۵ ميګا واټه ته ورسېږي بايد پخوانۍ زړې پرزې يې تبديلي شي او افغان کارکوونکو ته يې د استعمال لپاره روزنه ورکړل شي. | $9,863,222 | د کار د بشپړېدو اصلي تاريخ يې ۲۰۱۰\۳۱\۱ و خو ۲۰۱۰\۳۱\۱۰ وغځول شو. | عامه شتمني ده، او اوسمهال د افغانستان د برېښنا شرکت ملکيت دی، د ترميم لپاره يې په کال کې ۴۵۰۰۰۰ ډالر لګښت راځي. |
| د شبرغان د ګازو دستګاه | د مطالعاتو له مخې د ۱۰۰-۱۵۰ ميګا واټو د توليد د امکان د لومړي خصوصي د برق توليدي دستګاه به په جوزجان کې جوړه شي. | $5,375,100 | ټاکل شوېده چې د ۲۰۱۱ کال د شپږمې مياشتي پورې بې کار بشپړ شي. | خصوصي شرکت به وي که چيرې او کله جوړ شي. |

الف. د دې پروژې په اړه د بحث لپاره، د سيګار د جنوري ۲۰۱۰ دري مياشتنی راپور وګورئ.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۶\۴.

### د وروستيو توليداتو په هکله معلومات

د افغانستان د برېښنا د معلوماتو مرکز څخه لاس ته راغلي وروستني معلومات داسې ښيي چې وارداتي برېښنا ته تمايل زيات شوی دی. د اوبو د بندونو څخه د داخلي برېښنا توليد د ۲۰۰۶ کال څخه تر ۲۰۰۹ پورې په منظم ډول کمښت موندلی دی. او په همدغه موده کې وارداتي برېښنا زياتوالي موندلی دی. لکه څنګه چې په انځور ۳.۳۳ کې ليدل کېږي وارداتي برېښنا د هيواد سمه نيمه برخه برېښنا تشکيلوي.[363]

### په سيمييزه کچه د انرژي په برخه کې همکاري

په وارداتي برېښنا باندې د زياتيدونکي اعتماد په نظر کې نيولو سره افغانستان بايد د برېښنا د همکارۍ په اړوند د

انځور ۳.۳۳

د 2006 څخه تر 2009 پورې د کورنی برېښنا توليد او وارداتي برېښنا (سلنه)




سرچينه: USAID، د افغانستان د انرژی د معلوماتو مرکز، "د برېښنا د توليد او رسولو احصاييې،" انلاين وکتل شو 2010\22\3.

خپلو ګاونډيو سره اړيکې ولري. د مثال په ډول، په دې درې مياشتنۍ کې د ناټو نشريې خبر ورکړ چې افغانستان او تاجکستان د انرژۍ په هکله يو دوه اړخيز تړون ليک لاسليک کړي چې د هغې له مخې به دواړه هيوادونه د برقي کيبل له لارې يو بل سره وصل شي.[364] د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په مياشت کې د ۲۲۰ کيلو واټو په اندازه د انرژۍ په کيبل باندې کار پيل شو چې د تاجکستان څخه به افغانستان ته برېښنا لېږدوي.[365] افغانستان د مرکزي او جنوبي اسيا ترمينځ په سوداګريز لېږد را لېږد پروژه کې هم شامل دی (CASA-1000) چې د دغې پروژې دلارې په قرغزستان او تاجکستان وکړای شي تر څو افغانستان او پاکستان ته برېښنا ولېږدوي.[366] برسېره پر دې، ازبکستان غواړي چې د دې کال په وروستيو کې د خپلې برېښنا صادرات افغانستان ته ۱۵ % نور هم زيات کړي.[367]

## طبعي ګاز، تېل او نور نفتي مواد

په تېرو درې مياشتو کې د سوداګرۍ اوصنايعو وزارت اعلان وکړ چې د دولتي ګازو او نفتو تصدي به خصوصي سکتور ته ورکړي.[368] څه موده مخکې نړيوال وجهي صندوق، د ماليې وزارت او د افغانستان بانک د يو ليک په ترڅ کې يادونه کړې وه چې دغه تصدي به د تفتيش لاندې ونيسي.[369] د سوداګرۍ او صنايعو وزارت پروسږکال يو خپلواک تفتيشي هيئت وګوماره چې دغه تصدي تفتيش او راپور يې حکومت ته تسليم کړي.[370]

په يوه بله پرمختيا کې په دې درې مياشتنې راپور کې اسيايي پراختيايي بانک د سن ګاز د کمپنۍ سره د ۸ ميليونه ډالرو د پانګونې خبر اعلان کړي، دغه شرکت يوخصوصي شرکت دی چې غواړي په ټول افغانستان کې د مايع ګازو او نفتو زيرمتونونه او د توزيع شبکې جوړې کړي. سن ګاز غواړي چې د ۲۰۱۹ کال پورې په افغانستان کې ۵۸.۲ ميليونه ډالره پانګونه وکړي ترڅو د ذخايرو او د بيا ډکولو مرکزونه د افغانستان په پنځه ښارونو کې رامينځته کړي. دغه موخې ته د رسېدو لپاره سن ګاز غواړي چې د ترکمنستان او ازبکستان څخه مايع ګاز او نفت وارد کړي. دغه چاره به د ټانکرونو پواسطه ترسره شي ځکه د پايپ لاين غزول د اقتصادي پلوه ممکن نه دی.[371]

مايع ګاز
يا (LPG) په عمومي ډول پروپان ګازته ويل کيږي. او په طبعي ډول د ګازاتو اکثريت مخلوطونه کله چې په متوسط ډول د لوړ فشار سره مخامخ شي نو اوبلن ډول ته بدليږي. مايع نفت او ګاز د طبعي ګازونو سره د نفتو په ذخايرو کې ګډيږي. دا ګاز په نړۍ کې د دوهم نفتي توکي په بڼه کارول کيږي.

سرچينه: د اقتصاد وزارت، د انرژي توانايي او بيا کاريدونکي انرژي دفتر، "يوازي ابتدايي: مايع نفت او ګاز،" ۲۰۰۳\۸، مخ ۱.

# ترانسپورټيشن

د ترانسپورټيشن په برخه کې مهم تغيرات د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې د رادار د سيستم نصبول، دهوانوردۍ د مهمو بنسټونو سپارل افغان دولت ته او د حلقوي سړک او د اورګاډي د سيمييزې کچې د پټلۍ جوړول دي.

## ملکي هوايي چلند

په کابل کې د متحده ايالاتو د سفارت د راپور له مخې په ۲۰۰۱ کال کې به کابل ته د ورځې شل پروازه کېدل چې د ۲۰۱۰ کال په فبرورۍ کې دغه پروازونه په ورځ کې ۳۰۰ ته رسيدلي دي. او په روان کال کې د هوايي ترافيکو په برخه کې د زياتوالي توقع کېدای شي. په دې درې مياشتنۍ کې د افغانستان د هوايي ډګر د وړتياوو د پراخوالي لپاره د USAID په مرسته د متحده ايالاتو د فدرالي هوايي چلند د ادارې لخوا يو عصري رادار سيستم ولګول شو. دغه رادار به په محلي پروازنو باندې کنټرول دوه چنده کړي همدغه راز به وکړای شي چې په اونۍ کې اوه ورځې په ۲٤ ساعته ډول په هرډول خرابه هوا کې هم کار وکړي. همدغه راز د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکوي چې د هوايي کنټرول ۱۱ کارکوونکو او ٦ تخنيکي افغانانو ته روزنه ورکړل شوې ده. د متحده ايالاتو د فدرالي هوايي چلند د ادارې مرستيال په ډاګه کړه چې د متحده ايالاتو حکومت به په دغه برخه کې د افغانانو روزلو ته د ۲۰۱۱ کال پورې ادامه ورکړي.[372]

د دې درې مياشتنۍ په جريان کې د ايساف ځواکونو د هوايي ډګر جنوبي برخو مراکز د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند وزارت ته وسپارل.[373] همدغه راز د ۳۰ ميليونه ډالرو په لګښت، ۳۰۰۰ متره ځغاست کرښه د مزار



**د متحده ايالاتو سفير** ښاغلې ايکن بيرې چې د عصري رادار د سيستم د ليدلو لپاره کابل نړيوال هوايي ډګر ته تللی دی. (انځور په کابل کې د متحده ايالاتو د سفارت)

شريف په هوايي ډګر کې پرانيستل شوه. د ناټو په مرسته دغه رغول شوي کرښه اوس د نړيوالو پراوزونو لپاره اماده ده. دغه هوايي ډګر به د ناټو د ځواکونو لپاره د يوه مرکز په حيث وکارول شي. چارواکي هيله لري چې دغه هوايي ډګر به سيمييزې سوداګرۍ او اقتصادي پرمختګ سره هم مرسته وکړي.[374]

## د حلقوي سړک په هکله تازه معلومات

د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د متحده ايالاتو حکومت په حلقوي سړک باندې تر اوسه ۵۰۵ ميليونه ډالره لګولي دي. نورو مرسته کوونکو تقريباً ۷۴۳ ميليونه ډالر لګولي دي.[375] چوکاټ ۳.۱۰ د حلقوي سړک د پاتې برخې د بشپړولو او رغولو لپاره تازه معلومات وړاندې کوي. متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت په وينا افغان دولت د حلقوي سړک لپاره لاندې بوديجه بېله کړېده: تقريباً ۸ ميليونه ډالره د معمولي ترميم، ۳۴ ميليونه د دوره يي ترميم او ۳ ميليونه ډالره د بيړني ترميم لپاره.[376]

چوکاټ ۳.۱۰

**حلقوي سړک: د پاتي لويو برخو لپاره د مرسته کوونکو لخوا ورکړ شوي پيسو باندې ترميمونه**

| سړک | مرسته کوونکي | ژمنه شوی رقم | اوسنی حالت |
|---|---|---|---|
| آرمليک تر لامان (۵۰ کيلومتره) | د پرمختيا لپاره د سعودي بوديجه | ۳۰ ميليونه ډالر؛ ۱٦.۵ ميليونه نورو ته اړتيا شته. | قرارداد ورکړل شوی؛ د بشپړيدو موده به تقريباً ۱۸ مياشتي وي. |
| دوشي تر پلخمري (۵۰ کيلومتره) | اسلامي پرمختيايي بانک | ۲۰ ميليونه ډالر | د بشپړيدو تاريخ يې د ۲۰۱۱ کال شپږمه مياشت تعين شوی ده |
| لامان تر بالامرغاب (۱۴۳ کيلومتره) | اسيايي پرمختيايي بانک | ۱۳۴ ميليونه ډالر | د ۲۰۱۳ کال د شپږمې او اومې مياشتي پورې يې د بشپړيدو کار پلان شوی دی |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۶\۴.

## د اورګاډي پټلی

په افغانستان کې په سيمييزه کچه د اورګاډي پټلی په جوړيدو دي يا يې هم جوړيدل په پلان کې دي. په انځور ۳.۳۴ کې کتلای شئ. د يوناما د ستراتيژي پاڼې پر بنسټ، چين د عينکو د مس د قرارداد په وخت کې ژمنه کړېده چې د افغانستان د شمال څخه به جلال اباد ته د اوسپنې پټلی غځوي. يوه پټلی د اسلام قلعه څخه هرات ته د جوړيدو په حال کې ده. خو د نوور پټليو سره يې د وصل کولو لپاره مرستې ته اړتيا ده: هرات د مزار شريف سره، جلال آباد د تورخم سره او چمن د کندهار سره. د دغه اوسپنو د کرښو په بشپړيدو سره به په افغانستان کې د مالونو د ليږد د خدماتو بيه راښکته شي. همدغه راز به دغه کرښې د دې سبب شي چې د منرالونو د منابعو کانونه راوسپړل شي. لکه د باميانو د اوسپنې کان.[377]

په دې درې مياشتنی کې په کابل کې د متحده ايالاتو سفير ښاغلي ايکن بيري اعلان وکړ چې متحده ايالات به د حيرتانو څخه مزار ته د ريل د کرښې د غځولو لپاره د ۵ ميليونو ډالرو مرسته وکړي.[378] دغه کرښې جوړيدل د اسيايي بانک د مرکزي اسيا د اقتصادي همکارۍ د پروګرام يوه برخه ده. چې هدف يې د افغانستان او ګاونډيو هيوادونو سره د مواصلاتي لارو جوړول دي.[379]

انځور ۳.۳۴

د اورګاډي د پټلی د جوړولو حالت




يادونه: کيدای شي د اورګادي نوري پټلی جوړول هم پلان شوي وي.
سرچينه: يوناما، د افغان رهبري لپاره د انتقال ستراتيژي، د کايي آيدي ليکنه، 2010\6\3، مخ 21.

## د ترانسپورټيشن نور بنسټونه

په دې درې مياشتنی کې سيګار د توخ د پله د کار د قرارداد تفتيش بشپړ کړ. د دغه پله د جوړېدو د کار لپاره د

قوماندان د بیرني ځواب د پروګرام لخوا مالي مرسته شوې وه. د لا زياتو معلوماتو لپاره دويمه برخه وګورئ.

## مخابرات

په دې درې مياشتني راپور کې دوه د عامه ډيپلوماسۍ سندونه خپاره شول چې په مخابراتي ستراتيژۍ باندې به اغيزه ولري. د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د عامه ډيپلوماسۍ لپاره يو سند او د دفاع وزارت بل سند خپور کړ.[380] په دغه ستراتيژيکو سندونو کې په دې خبره ټينګارشوی چې بايد مينځ لاري غږونه د بنسټ پالو پرضد ځواکمن شي اوبايد سيمه ايز مشران په مخابراتي تجهيزاتو او مهارتونو او پوهې سمبال شي ترڅو د خپلو سيمو د ځواکمنتيا په لاره کې کار وکړي.[381]

په افغانستان کې، په سيمه ايزه کچه مخابراتي آسانتياوو ته دخلکو لاسرسی زياتول، د بنسټونو جوړول، روزني، او د خلکو قناعت حاصلول د متحده ايالاتو د عامه ډيپلوماسۍ د ستراتيژۍ توکي بلل کيږي. په دې درې مياشتني راپور کې په کونړ او ننګرهار کې د راډيو نوي سټيشنونوپه کار پيل وکړ. د USAID او آيساف لخوا يې مالي مرسته شوېده، په دغه راډيو ګانو کې افغاني مديران ټاکل کيږي او په سيمه ايزه ژبه يکې افغاني خپروني کيږي. د دغه پروګرام له مخې ځايي خلکو ته راډيوګانې هم ورکول کيږي ترڅو نشرات تعقيب کړي.[382]

په يو ه بله اړونده پرمختيا کې، USAID راپور ورکړ چې ۸ ميليونه افغانان خپل خبرونه د انټرنيوز له لارې چې يوه غيرانتفاعي مطبوعاتي موسسه ده او د USAID لخوا تمويليږي ترلاسه کوي. انټرنيوز د خپلو نورو خدمتونو په څنګ کې نړيوالو خپلواکو رسنيو لپاره روزنيز پروګرامونه، تجهيزات او تخنيکي مرستې هم برابروي.[383]

نړيوال مرستندويان په نظر کې لري چې د مخابراتي تکنالوژۍ سره مرسته د پرمختيا د تقويې سبب کيږي. د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په ۱۷، يونيسکو اود ايټاليا حکومت د يوې نوې پروژې اعلان وکړ چې په هغې کې به تعليمي تربيتي راډيو تلويزيون سره مرسته وشي ترڅو ښوونکي وروزي، د دغه تلويزيون سره به مرسته وشي ترڅو د لرې فاصلې څخه د زده کړو د برابرولو جوګه شي. او دا هغه څه دي چې د پوهنې د وزارت د ملي پرمختيا په ستراتيژيک پلان کې ورڅخه يادونه شوې وه.[384]

## ښوونه او روزنه



**کوچنۍ زده کوونکي** چې د فراه ولايت د دريمي ناحيې د نجونو په ښوونځي کې. په دغه ښوونځي کې ۱۷ خيمې وهل شويدي او ودانۍ او کتابونه نه لري. ډير شمير افغاني ښوونځي لا هم ودانۍ او درسي کتابونه نه لري. (د متحده ايالاتو د هوايي ځواک انځور، تراسي ډيمارکو)

کرچه ښوونې او روزنې ته د لاسرسي په برخه کې په زياتيدونکي ډول پرمختګ رامينځ ته شوی دی، خو بيا هم د جنورۍ په مياشت کې د پوهنې وزارت راپور ورکړ چې په افغانستان کې ۵ ميليونه ماشومان ښوونځي ته دتګ څخه لا اوس هم محروم دي.[385] په فبرورۍ کې نړيوال بانک خبرورکړ چې يوازې ۴۰ فيصده مکتوبه ودانۍ لري.[386] د پوهنې وزارت په وينا درسي کتابونه هم کم دي.[387]

هغه معلومات چې د NRVA سروې په ترڅ کې لاس ته راغلي دي د زده کړو په برخه کې د ننګونوپه شتون باندې تاکيد کوي. ددغه سروې له مخې، يوازې ۷۱% ، ۲۵ کلنو افغانانو يو ډول نه يوډول رسمي زده کړه ترلاسه کړيدي. او ۴۸% د ۷ څخه تر ۱۲ کلونو په شاوخو کې ماشومان (۲.۳ ميليونه) لومړنيو ښوونځيوته نه دي تللي. نو په پايله يې دا شوه چې يوازې ۲۶ فيصده افغان ليک او لوست کولای شي.[388]

لکه څنګه چې د ځانګړي پلټونکی په مخکيني راپور کې ورڅخه يادونه شوې وه، چې اورپکي په دولتي ښوونځيو بريدونه کوي او په پايله کې يې ښوونځيو ته د ماشومانو په لار کې لوی خنډ رامينځ ته کيږي. د افغانستان د پوهنې د وزارت په وينا په تيرو دوه کلونو کې تقريباً ۴۵۳ ښوونځي د امنيتي ستونزو له امله يا تړلي او يا تخريب شويدي.[389] د هغه اعلاميې له مخې چې د ولسمشرۍ له دفتر څخه په فبرورۍ کې خپره شوې وه، په

هلمند کې د آيساف د عملياتو څخه وروسته ۲۵ ښوونځي د زده کوونکو پرمخ بيا پرانيستل شوي وو.[390]

په يوبل مثبت يادښت کې راغلي دي چې USAID د افغان ښوونکو د روزنې د پروګرام څخه يو ه اروزنه شويده چې په پايله کې يې دامعلومه شويده چې د ۲۰۰۶ کال د جنوري د مياشتې راهيسې ۵۰۰۰۰ ښوونکي روزل شويدي.[391] د لا زياتو معلوماتو لپاره ٤ برخه وګورئ. همدغه راز په افغانستان کې د لوړو زده کړو په برابرولو کې هم پرمختګ رامينځ ته شوېدی. د متحده آيا لاتو د بهرنيو چارو دوزارت په وينا، په افغانستان کې ٤٨ د لوړو زده کړو موسسې فعاليت لري، چې په طبي، حقوقي، ښووني او روزنې، د تجارت اداره، بشري علومو، تخنيکي او فني برخو کې د تدريس زميني برابروي. انځور ۳.۳۵ د دولتي او خصوصي تحصيلي موسساتو په هکله توضيحات بيانوي، خو د دغه ټولو تحصيلي موسساتو اکثريت برخه په کابل کې فعاليت لري.[392]

## روغتيايي خدمتونه

د افغانستان د ۲۰۱۰ کال د پوليو د واکسين کول کمپاين د ۲۰۱۰ کال د فبروري په ۱۴ نيټه پيل شو. په لومړيو کې دهلمند ولايت د نادعلي او مارجې ولسوالى د آيساف د عملياتو له امله پاتې شوي وي.[393] خو د مارچ په مياشت کې د معافيت دغه پروګرام په مارجه او نادعلي کې هم پلې شو.[394] د NRVA د وروستي سروې له مخې ۳۷% ماشومانو چې عمرونه يې له ۱۲ونه تر ۲۳ مياشتو پوري دي، د واکسين بشپړ دوز يې پوره کړی دی.[395] چې په دغه واکسينونو کې د نري رنځ، ګوزڼ، ديفتري، شني ټوخلې، تيتانوس، او شرى شامل دي. د ملګرو ملتونو د راپور په وينا افغانستان د نړی له هغه څلورو هيوادونو له جملې څخه دی چې لا تراوسه پکې د ګوزڼ ناروغي شتون لري.[396] د دغه معافيتي کمپاين د روغتيا د نړيوال سازمان، يونيسف، او د روغتيا د وزارت لخوا چې ډيرى مرسته يې د متحده ايالاتو څخه ترلاسه کړي وه، ترسره شو.[397]

له بل پلوه USAID په دوامداره ډول د توبرکلوز يا نري رنځ د کنټرول د پروګرام لپاره د عامې روغتيا له وزارت او نورو اړونده مراجعوسره ٥.١٨ مليونه ډالره مرسته کوي.[398] په دې درې مياشتنې راپور کې د بهرنيو چارو د وزارت په وينا دغه د توبرکلوز د کنټرول پروګرام څو همغږي کوونکي د شپږو نا امنو ولايتونو څخه انتخاب او د توبرکلوز د تشخيص، تداوي او کنټرول په برخه کې يې د روزنې لاندې ونيول.[399] په همدغه ډول دغه پروګرام د توبرکلو د کنټرول لپاره په همدې درې مياشتنې راپور کې مواد راټول کړي او په ټولو ولايتونو کې يې توزيع کوي.[400]

د۲۰۱۰ کال د مارچ د مياشتې د ناټو د نشريې له مخې ، د عامې روغتيا وزارت د ۹ راډيو او تلويزيوني چينلونو سره هوکړه ليک لاسليک کړ چې د هغې په ترځ کې به دغه چينلونه د يو کال لپاره روغتيايي معلومات خپروي.[401] دغه پروګرام د GAVI د متحدينو لخوا چې يو عامه-خصوصي اتحاد يې رامينځ ته کړې او نړيوال روغتيايي سازمان، يونيسف، نړيوال بانک، د بيل ميليندا ګيټس بنياد، غړي هيوادونه، او نورمرسته کوونکي پکې شامل دي.[402] د عامې روغتيا وزارت په وينا، د عامې روغتيا د اړيکو دا کمپاين د نيژدې ۳۴ مليونو پروګرام يوه برخه ده، چې څلور کاله به چليږي او په افغانستان کې د واکسين د پوښښ د دوامدارى زياتوالي په پام کې لري.[403] متحده ايالات يو له هغو شپږو سيمييزو مرستندويه هيوادونو څخه ده چې له ۲۰۰۱ کال نه تر ۲۰۰۹ کال پورې يې ۵۶۰ مليونه ډالره مرسته ورکړي ده.[404]

USAID هم د روغتيايي اړيکو په پروګرام کې يوه جاري بودجه چې ۳٤.۷ ميليونه ډالره کيږي، لري. په دې درى مياشتنې کې، د بهرنيو چارو وزارت په وينا، دې پروګرام په لومړی ځل په کابل کې د نارينه لپاره ځانګړی کلينيک پرانيست. برسيره پر دی دغه وزارت راپور ورکړ چې نوموړي پروګرام د متحده ايالاتو په مرسته د روغتيايي معلوماتو په هکله په دويم پړاو کې د مور او ماشوم د روغتيا او نورو روغتيايي معلوماتو په هکله په

انځور ۳.۳۵

د لوړو زده کړو ښوونځي، شخصي او دولتي




سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\6\4.

**متحده ايالات د يونيسيف په شمول ډيرو نړيوالو موسساتو سره مرستندويه هيواد دی. ولسمشر اوباما**
**د خپلې بودجې د اعلان په ترځ کې کانګرس څخه وغوښتتل چې د ١٠٩.٤ ميليونه ډالر د نړيوال روغتيايي سازمان او ١٢٨ ميليونه ډالره د يونيسيف لپاره منظور کړي.**

سرچينه: د ملګرو ملتونو لپاره د متحده ايالاتو ټولنه، "د ملګرو ملتونو او متحده ايالاتو د بودجې تازه حال: ولشمشر اوباما د مالي کال ۲۰۱۱ بوديجه کانګرس ته وړاندې کړه،" ۲۰۱۰\۲\۲، انلاين وکتل شو ۲۰۱۰\۹\۴.



**يو افغان ډاکټر** د زابل په يوه شفاخانه کې د ناروغ شهرت ثبتوي. د متحده ايالاتو حکومت د افغانستان د روغتيا د وزارت سره د ظرفيتونو د لوړولو په برخه کې مرسته کوي ترڅو روغتيايي مراقبت پايلې تجزيه او تحليل کړي. (د متحده ايالاتو د هوايي ځواک انځور، کيني هولستون)

۷ ولايتونو کې په ۱٦۱ جوماتونو کې خبرې وکړي.[405]

د وړتياوو د لوړولو او افغان حکومت ته د کنټرول د سپارلو په موخه متحده ايالات د روغتيايي پاملرنې د پروژې منجمنټ د روغتيا وزارت ته انتقالوي. په دې درې مياشتنې راپور کې د مثال په ډول د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړ چې دوی د روغتيايي برخې د معلوماتو ډيټابيس د روغتيا وزارت ته وسپاره ترڅو دغه وزارت وکړای شي چې ترڅو د صحي مراقبت پايلې تجزيه او تعقيب کړي. برسيره پر دې د بهرنيو چارو وزارت په ۱۳ ولايتونوکي هم د روغتيايي خدمتونو د عرضې نا دولتي موسساتو سره د قراردادونو اداره (منجمنټ) د روغتيا وزارت ته تسليم کړ. همدغه راز USAID د عامې روغتيا د وزارت سره د راتلونکو پنځه کلونو د ستراتيژيک پلان په جوړولو کې چې د وزارت لپاره به د اينده پلانونو د تطبيق يوه سرچينه وي، مرسته وکړه.[406]

USAID د روغتيايي خدمتونو د ملاتړ د پروژې (HSSP) څخه هم ملاتړ کوي. د بهرنيو چارو د وزارت په وينا په دې درې مياشتنې راپور کې يې د ټولنې د روغتيايي تعليماتو نصاب د نرسانو او قابلو لپاره تکميل کړي.[407] همدغه راز د متحده ايالاتو حکومت د روغتيا د نړيوال سازمان سره د ناروغيو څخه د مخکې خبرواوي له پروګرام څخه د ۲ ميليونه ډالرو مرستې ورکولو په ترڅ کې ملاتړ وکړ، چې په پايله کې يې په افغانستان کې د ساري مرضونو ۳٤ ناڅاپي خپراوي پيښې کشف او د خپرېدو مخنيوی شوي.[408]

په روغتيايي برخه کې بله پرمختيا د فبروری په مياشت کې د افغانستان د ملي عامې روغتيا ټولنې مينځ ته راتګ و. چې هدف يې په عامه روغتيا باندې د ريسرچ کول او دعامې روغتيا د وزارت سره تخنيکي مرستې دي.[409]

## صنعت

په دې درې مياشتني راپور کې د صنعت په برخه کې مهمې پرمختياوې په لاندې ډول وې:

- کافي بارانونو او د واورې ويلي کېدو د افغانستان د ژمنيو او پسرلنيو غنمو حاصلاتو ښه کېدو ته ډېره ښه زمينه برابره کړه، په ځانګړي ډول په ختيځ او شمال کې.
- دافغانستان کانديډيل د استخراجي صنايعو د شفافيت نوښت (EITI) غړيتوب ته
- د متحده ايالاتو په مرسته د افغان حکومت ټول قوانين، مقررات، ګمرکي پروسيجرونه، او په سوداګرۍ پورې اړوند نور ميکانيزمونه ساده اواغيزمن کول.

## زراعت

لکه څنګه چې د ځانګړي پلټونکی د جنوري په راپور کې ورڅخه يادونه شوې وه، د افغانستان د زراعتي محصولاتو په توليد کې اقليم يولوی نقش لوبوي. ګرچه حالات توپير کوي خو د جون څخه تر اکتوبر پورې تقريباً هيڅ اورښت موجود نه وي.[410] د بارانونو او واورو وريدل په دسمبر کې پيل او د مى د مياشتې پورې دوام کوي.[411] د ۲۰۱۰ کال د جنوري په مياشت کې د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ اداري راپور ورکړ چې افغانستان د يوه غير معمولي وچ ژمي سره چې د وچکالی تشويش رامينځ ته کوي مخامخ دی.[412] خو په فبرورې کې د اورښت نورماله اندازه او په ځينو سيمو کې د شديدې واورې اورښت دغه تشويشونه ترېوې اندازې رفع کړل.[413]

د ۲۰۱۰ کال د اپريل په لومړۍ نيټه نړيوالو معلوماتواود ملګرو ملتونود د خوړو او کرنې اداري FAO د مخه خبراوې سيستم راپور ورکړ چې په جنوبي ، شمالي او ختيځو سيمو کې د غنمو کښت د ښې هوا د شتون له امله په ښېړيدو دي.[414] همدغه راز دغنمو د ژمني کښت لپاره هم د هيواد په ډيرو سيمو کې هوا مناسبه وه.[415] د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان راپور ورکړ چې د تيرکال د غنمو حاصلات په هيواد کې ډېر لوړ و او په نرخ کې يې ډېر کمښت راوستلی و خو د ۲۰۰۷ کال ريکارډ ته ونه رسيدل.[416] انځور ۳.۳۶ په افغانستان کې د هوا او زراعتي خصوصياتو په هکله معلومات ورکوي:

### په کرنيزو پرمختياوو کې چټکتيا

د افغانستان د ثبات لپاره د متحده ايالاتو ستراتيژي په زراعتي برخه کې دوه لومړيتوبونو ته له ټولو څخه ډېر

انځور ۳.۳۶

زراعت: موسمي کليزه او مهمې پيښې




سرچينه: FEWS، افغانستان: موسمي اقليم او د مهمو پيښو وختونه، انلاين وکتل شو 3\17\2010.

اهميت ورکول شوی وو: ۱- په زراعتي برخه کې د کارموندنې او عايداتو زياتوالي، ۲- په افغان حکومت کې د زراعت اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارت په تقويه کولو سره د ډاډ راپيداکول. همدغه راز دغه ستراتيژۍ د زراعتي پيداوار د زياتولو، د زراعتي ځنځير د ارزښت بيا راټوکول، د سربندونو جوړولو او د اوبو لګولو د بنسټونو د بيا رغونې لپاره لاندې شپږ نوښتونه وړانديز کړيدي:[417]

- د ۸۹ زراعتي مختصيصينو استول د ۲۰۱۰ کال په لومړيو کې (٦٤ يې د متحده ايالاتو دزراعت د وزارت او ۲۵ يې د USAID څخه)
- بزګرانو ته په ۱۸ولاياتو کې دميو ه جاتو او خستو نيالګي، د انګورو تاکونو لپاره د تضمين ورکول
- د افغاني تخنيکي کارکوونکو څخه چې په اوبو لګولو کې ماهرين وي يو ټيم جوړول ترڅو د لنډمهالو پروژو په ځانګړي ډول د CERP څخه نظارت وکړي.
- د بزګرانو او د مارکيټونو ترمينځ تړاو پيداکول د زراعتي تجارت او د پورونو د ورکولو په ذريعه، همدغه راز د ميوه جاتو د ساتنې، مصؤونيت، بسته بندۍ، ځای په ځای کولو، پروسس او انتقال لپاره د ظرفيتونو تقويه کول. او مهم اقدام د ۲۰۱۰ کال د کښت د موسم څخه دمخه د زراعتي کريډيټونو ورکول دي.
- د بزګرانو سره د زراعتي خدماتو په رسولو کې تخنيکي مرستې.
- د تيټ شويو يا تخريب شويو سربندونو جوړول ترڅو اوبو لګولو په برخه کې ښه والې رامينځ ته شي.



**افغان کروندګر ځمکې برابروي** لکه چې په جنوبې سيمو کې هوا مخ په توديدو ده. په دې درې مياشتنۍ کې، د باران او واورې په کافي اندازه اورښت نيژدې په ټول هيواد کې د پسرلې د موسم کرنې لپاره وړ او مناسب شرايط برابر کړل. (د متحده ايالاتو د هوايي ځواک انځور، کيني هولستون)

د زراعتي دوامداره عايداتو لپاره د کوکنارو په ځای د بديل کښت برابرول متحده ايالات د ارزښت لرونکو محصولاتو د کرلو سپارښتنه کوي، لکه ميوه، خستې او انګور.[418] دې هدف ته درسيدلو لپاره USAID په دې درې مياشتنې راپور کې د ځلورو کلونو لپاره د ۳۰.٤ ميليونو ډالرو د بسپنې خبر ورکړ، دغه پروژه يوې انجو چې Roots of Peace نوميږي ورکړل شوې ده. د دغه مرستو د لارې به له بزګرانو سره کار وشي چې د غله جاتو او کوکنارو په ځای د لوړ ارزښت حاصلات وکړي، لکه منې، انګور، انار، ګيلاس، او بادام چې دغه فعاليت به لومړی د هيواد په خيتځو او سويلي سيمو کې ترسره شي. په سويل هلمند، کندهار، اروزګان او زابل کې به پروګرام د تاکونو په جوړولو تمرکز وکړي، او د بزګرانو عايدات به په دوه کلونو کې دوه چنده شي. بزګران به په دغه برخه کې خپله ٤.٥ ميليونه ډالره سهم واخلي ترڅو د باغونو او تاکونو پيسې بيرته ورکړي.[419]

دا او نور داسې نوښتونه چې د متحده ايالاتو د ثبات په ستراتيژۍ کې راغلي دي، د افغان حکومت د هغه موخې سره چې افغانستان په لسو کلونو کې بيرته د غله جاتو او ميوه جاتواو خستو په يو صادرونکي هيواد بدلول غواړي، مرسته کوي.[420] لکه څنګه چې د يوناما په ستراتيژي پانه کې ورڅخه يادونه شوې ده، که افغانستان غواړي چې په سيمه ايزه کچه خپلو صادراتو ته وده ورکړي بايد د پاکستان سره يوه تجارتي تړون لاسليک کړي. د پاکستان-افغانستان ترمينځ دغه ترانزيتي –تجارتي تړون به دافغان بزګرانو سره مرسته وکړي ترڅو خپل محصولات په آزادانه ډول سيمه ايزو بازارونو ته ورسوي. پاکستان د افغاني محصولاتو لپاره يوازې د مارکيټ حيثيت نلري بلکې سيمه ايزمارکيټ ته درسيدو لپاره ورڅخه يوې ښې ترانزيتي لارې په حيث هم کار اخيستل کيږي.[421] د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ د مياشتې پورې د متحده ايالاتو د ځانګړي استازي ښاغلي هولبروک په وينا تراوسه کوم تړون نه دی رامينځ ته شوی.[422]

د زراعت په برخه کې بل مهم پرمختګ دادی چې ازبکستان خپل سرحد د افغانستان سره د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په اتمه نيټه بيا پرانيسته، دغه سرحد د خنزير د والګي(H1N1) له امله د ٥ مياشتو لپاره تړلی و.[423]

د ۲۰۱۰ کال د فبروري په مياشت کې د افغانستان د ميوه جاتو د پروسس لومړنې شرکت، اميد بهار لميټيد، په کابل کې د بريتانيې د انارو د جوس د کمپنۍ سره يو نړيوال قرارداد لاسليک کړ. د غه کمپنۍ به ۵۰۰ ټنه انار اخلي اوهمدغه راز به ۵۰۰ ټنه نوره تازه ميوه هم په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کال کې رانيسي، دغه فابريکه د USAID په مرسته جوړه شوېده.

سرچينه: پوميګريټ، مطبوعاتي اعلاميه، "د بريتانيې د انارو د جوس شرکت د نړۍ تر ټولو لومړۍ شراکت د افغانستان د ميوو فابريکې سره اعلان کړ،" ۲۰۱۰\۱۲.

او په اخر کې دا چې د سيمې اکثر هيوادونه د يو بل د اوبو په محدودو منابعو پورې تړلي دي. د متحده ايالاتو ځانګړي استازي ښاغلي هولبروک راپور ورکړ چې د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۲ نيټه د بهرنيو چارو وزارت د

اوبو د منابعو د ارزوني لپاره يوعملياتي ځواک په کار وګماره ترڅو د افغانستان او ګاونډيانو سره يې اوبو ته د لاسرسي په مورد کې کار وکړي.[424]

## د کانونو استخراج

لکه څنګه چې د سيګار د ۲۰۱۰ کال د جنوري د مياشتي په راپور کې ذکر شوي وو، د افغانستان کانونو سکتور د ممکنه پرمختګ لپاره يوه مهمه برخه ګڼل کيږي. د نوې ثبات ستراتيژۍ يوه موخه د دغه سکتور تقويه کول دي، دغه ستراتيژي يادونه کوي چې د امريکې متحده ايالاتو ۵ مشاورين نوملي دي ترڅو د افغانستان د کانونو د وزارت سره د نوې مقرري په جوړولو کې مرسته وکړي.[425]

د کانونو په برخه کې د پانګې د راجلبولو لپاره په دې درې مياشتني راپور کې افغانستان د EITI د غړيتوب لپاره کانديد شوی و.[426] افغانستان ته دوه کاله وخت ورکړل شوی چې د EITI د غړيتوب لپاره د ۲۰۱۲ په فبروري پورې شرايط پوره کړي.[427]

د کانونو پورې بله اړونده موضوع په دې درې مياشتني راپور کې د ا وه چې د عينکو د مسو د چينايي کمپنۍ جينانګسي مشر رسنيو ته وويل چې د عينکو د مسو کان راسپرل د ۲۰۱۲ کال څخه تقريباً ۲۰۱۳ يا ۲۰۱٤ ته وځنډيل.[428] همدغه راز د کانونو وزارت خپل مشورتي خدمات مزايدې ته وړاندې کړل ترڅو د چينايي کمپنۍ سره د عينکو د مسو قرارداد د موضوع نظارت وکړي.[429] دغه وزارت همدغه راز د هرات د سيمنټو د فابريکې لپاره د مزايدې وخت هم تمديد کړي، او د حاجي ګګ د اوسپنې د کان (چې په نړۍ کې د اوسپنې او فلزي ټيګو غني ترينه ذخاير لري) فسخ کړي. او د نفتو او ګازو د پاره د تخفيف موضوعات هم و ځنډول ځکه چې د مزايدې او د قرار داد د پروسې په بشپړتيا کې ستونزې موجودې وې.[430]

د متحده ايالاتو د بهرنيو خصوصي پانګونو شرکت (OPIC) هم د کانونو د سکتور په برخه کې په فعال ډول همکاري کوي. د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په ۱۹ ياد شوي شرکت د پور يو قراردادي تړون لاسليک کړ چې دهغې له مخې به ۱۵.۸ ميليونه ډالره د افغانستان په لوېديځ کې د کانونو په راويستلو کې ولګيږي. دغه قرارداد د يوه افغاني شرکت سره چې د لسو کلونو لپاره يې د کورني مصرف او صادراتو لپاره د مرمر د ډبرو استخراج په اجاره نيولی دی، لاسليک شوی دی.[431]

**EITI:** د نړيوال ستندرد يوه ټولنه ده چې غړي يې د نفتو ګاز او کانونو په برخه کې شفافيت ته متعهد دي غړيو هيوادونو ژمنه کړې ده چې د استخراج کوونکي کمپنی ټول معلومات، ماليات، او امتيازات به نشروي. او ژمن دي چې ټول فيس به دولت ته سپاري.

سرچينې: "EITI ،EITI څه شی دی؟" انلاين وکتل شو ۲۰۱۰\۱۱۷\۳؛ EITI، "د EITI لومړيتوبونه او معيارونه،" انلاين وکتل شو ۲۰۱۰\۱۱۷\۳.

## د خصوصي سکتور پرمختګ

د افغانستان لپاره د ثبات ستراتيژۍ له مخې په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ لپاره د خصوصي با ارزښته افغاني سکتورنو تقويه يو ډيره مهمه موضوع بلل کيږي.[432] د کار او داقتصادي فرصتونو د موندنې لپاره دغه ستراتيژي په پنځه برخو کې چې د لوړ ارزښت محصولات دي تاکيد کوي. قاليني، انګور، قيمتي کاڼي، مرمر او کشميره په دغه محصولاتو کې شامل دي.[433]

څنګه چې د سيګار د جنوري په راپور کې ورڅخه يادونه شوې وه، د USAID د کان څخه بازار ته پروګرام د دې لپاره جوړ شوی دی چې د افغانستان د مرمرو او قيمتي کاڼو صنعت ته پراختيا ورکړي.[434] چوکاټ ۳.۱۱ هغه لوی نوښتونه چې د دغه پروګرام څخه ملاتړ کوي په لنډ ډول ذکر کوي.

د ۲۰۱۰ کال د ۱۲- ۱٦نيټې پورې په هرات کې د افغانستان کوچنيو او متوسطو تشبثاتو د پروګرام او د افغانستان د سوداګرۍ خونو د رياست لخوا نه د مرمر ډبرو په هکله دويم نړيوال کنفرانس په لاره اچول شوی و ترڅو په افغانستان کې د مرمرو صنعت ته پراختيا او بيا ژوند ور وبښل شي. دغه کنفرانس ته نړيوال پانګوونکي او افغاني کان ويستونکي او د صنعتونو متخصيصين، نړيوال او سيمه ايز سوداګر او حکومتي مشران راغوښتل شوي وو ترڅو د افغانستان د مرمرو په صنعت کې پانګوونه وکړي.[435] د ډبرو د صنعت د ماهرينو په وينا افغانستان د ځينو لوړ کيفيت لرونکو مرمرو مرکز ګڼل کيږي.[436]

چوکاټ ۳.۱۱

**هغه پروګرامونه چې د (کانو څخه مارکيټ ته) نوښت څخه ملاتړ کوي**

| کانو څخه مارکيټ ته نوښت کې فعالیت | موده | ټوليزه بوديجه[الف] | د پروګرام نوم |
|---|---|---|---|
| د مرمرو او قيمتي کانو د اتحاديې د وړتياوو لوړول، د خصوصي او عامه سکتور د شراکت تسهيلول، او د مرمرو او قيمتي کانود سوداګرو لپاره په بهر کې دمارکيټ موندل | 10/26/2006–10/30/2011 | $89,003,159 | د افغانستان د کوچنيو او متوسطو تشبثاتو پرمختيا (ASMED) |
| د پالیسيو او اوږدمهاله پانګوونو په برخه کې د تخنيکي مرستو برابرول او په هيواد کې دننه د کانونو د وزارت لپاره د مشاورينو موندل | 8/15/2010–8/15/2011 | $92,452,859 | د اقتصادي پرمختګ او حکومتدارۍ نوښت (EGGI) |
| د کانونو د وزارت لپاره په هيواد کې د سترو مشاورينو ګمارل او همدغه راز په نفتي او کانونو په برخه کې د مشاورينو ګمارل. اوس مهال اقتصادي او حقوقي مشاورين په کار ګماري. | 3/1/2006–2/28/2011 | $84,337,180 | د بشري منابعو او لوژستيکي ملاتړ (HRLS) |

الف. د بوديجي شميره د مرستي ټوله اندازه ښيي، چې له هغې څخه له کانونو څخه مارکيټ ته يوازې يوه برخه ښيي.

سرچينې: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۶\۱۴؛ USAID\۲۰۱۰\۹\۱۴ انلاين وکتل شو افغانستان، افغانستان د کوچنيو اومنځنيو تشبثاتو پرمختيا، .

برسيره پر دی د دريم کال لپاره د افغانستان قالينو جوړوونکو او سوداګرو وکړای شول چې خپلې قاليني د نړی د فرش پوښوونکي صنعت د سوداګری په لوی صنعتي نمايش کې په دموتيکس کې ننداری ته کيږدي. د قالينو د صنعت دغي نندارتون ته افغان سوداګر د USAID په مالي او لوژستيکي مرسته ورداخل شول او په نندارتون کې يې ګډون وکړ.[437]

متحده ايالات په دې تاکيد کوي چې بايد قراردادونه د افغانانو سره وشي، نو د ASMED لخوانه د خريدارۍ په اړوند د ۲۰۱۰ کال د مارچ په مياشت کې په کندهار کې يو کنفرانس راغوښتل شوی و. په دغه کنفرانس کې د نږدې ۷۰ افغاني سوداګرو استاز ګډون کړی وو چې د ائتلافي ځواکونو او د ملکي پرسونل د سره د قرارداد کولو لپاره ليوال وو.[438] OPIC هم دخصوصي سکتور د پرمختګ سره د قرضو د لارې مرسته کوي او هغه موسساتوڅخه چې د کوچنيو او متوسطو تشبثاتو لپاره مالي مرستي برابروي ملاتړ کوي. د مثال په ډول د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۳۱ نيټه د بورد په ميټينګ کې پريکړه وشوه چې افغان پرمختيايي مالي لميټيد ته به ۳۰ ميلونه ډالره پور ورکړل شي ترڅو په افغانستان کې د کوچنيو او متوسط تشبثاتو سره د پورونو د خدماتو په پراختيا کې مرسته وکړي. افغان پرمختيايي مالي لميټيد په ۲۰۰۸ کال کې د OPIC لخوا تاسيس شو، او د پورته ذکر شويو تشبثاتو د موندلو او هغوی سره د پورونو د خدمتونو په وړاندې کولو کې يې په بريالیتوب سره ريکارډ ټينګ کړ.[439] همدغه راز OPIC په کابل کې د ګراند هوټل سره هم د ۶۰ ميليونو ډالرو د پور مرسته وکړه، چې اوسمهال د کار لاندی دی. OPIC په اپريل کې راپور ورکړ چې دغه ودانيزې چارې پلان شوي وې او په بودجه کې يې شتون درلود.[440]

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۹ نيټه د ماليي او سوداګرۍ وزارت د متحده ايالاتو دحکومت په مرسته د ۶۳ ميليونه ډالره يو پروګرام په لاره واچاوه چې د هغې په ترڅ کې به په افغانستان کې د سوداګرۍ په اړه ټول قوانين، مقررات، لوايح ، ګمرکي پروسيجرونه، او د سوداګرۍ پورې اړوند نور ميکانيزمونه ساده کړای شي. دغه د USAID په مرسته جوړ شوي پروګرام دافغانستان لپاره سوداګرۍ او شراکت د آسانتيا مرکز په نامه ياديږي، او د افغانانو سره به مرسته وکړي چې د سوداګرۍ په برخه کې نړيوال معيارونه خپل کړي اود صادراتو لپاره د کيفيت د کنټرول منل شوي ضروري معيارونه پلي کړي.[441]

د بنسټيز انفراسټرکچر نه شتون، په افغانستان کې د خصوصي سکتور د پرمختګ مخه نيسي. د ناټو د نشريې پر اساس په کندهار کې د ۹۰ فابريکو فعاليت د برېښنا د نه شتون له امله په ټپه ودريده او د برېښنا د نه شتون لامل هم د کجکي د بند د نه ترميم له امله و.[442] لکه څنګه چې د سيګار د جنوري ۲۰۱۰ په راپور کې يادونه شوي وه، د کجکي بند د جوړښتيز ترميم کارونه د امنيتي ملحوظاتو له امله ځنډول شوي دي.

# د قيمتي کانو توليد: د ممکنه پرمختګ سرچينه

د نړيوال بانک په وينا، افغانستان د قيمتي او نيمه قيمتي کانو د منابعو څخه ډک يو غني هيواد دی.[443] نوموړی بانک وايي چي ددغه ډبرو او نورو منرالونو استخراج کيدای شي د افغانستان لپاره د پرمختګ يوه سرچينه جوړه شي.[444] د افغانستان د قيمتي ډبرو يوه ارزونه چي په ۲۰۰۷ کال کي د USAID لپاره د نړيوالو متخصصينو لخوا ترسره شوي وه، داسي ښيي چي د افغانستان ، سور رنګي ياقوت، شنه زمرد، آبي ياقوت، اصلي لاجورد، اونورې نيمه قيمتي ډبري د خپل لوړ کيفيت له امله په نړۍ کي شهرت لري.[445] د ليکونکو په وينا هغه قيمتي ډبري چي په افغانستان کي موندل کيږي د نړۍ په ډيرو تاريخي کليکسيونو کي هم ليدل کيږي، لکه د بريتانيا د تاج جواهرات، د روسيي شاهي تاج، او په تاج محل کي.[446] انځور ۳.۳۷ په افغانستان کي د قيمتي ډبرو د توليد ځايونه په نښه کوي.

دنړيوال بانک د راپور له مخي افغانستان هيڅکله نه دی توانيدلای چي د دغه سرچينو په اقتصادي ګټو ويوهيږي.[447] ګرچه قيمتي ډبرې په افغانستان کي له کانونو څخه راويستل کيږي خو د فعاليت ځنځير يي چي په ارزښت کي يې زياتوالي راولي ، لکه تنظيمول، پرې کول، پاليش کول او صادرول يي بيخي کم دی.[448] د افغانستان د قيمتي ډبرو يوه زياته برخه په کوچنيو سوداګرو باندي په نورو هيوادونو لکه پاکستان کي خرڅيږي. چي بيا هلته پرې کيږي، تنظيمږي پروسس کيږي او صادريږي او قيمت يي يو اندازه لوړيږي هم.[449] دغه مسئله افغان کان کيندونکي، صنعتکاران، پروسس کوونکي، سوداګر او افغان حکومت د ضروري عايداتو او کاري فرصتونو څخه بې برخي کوي.[450]

## د لاجوردو ۶۵۰۰ کلن سوداګريز تاريخ

ګرچه اوسمهال د قيمتي ډبرو توليد په افغانستان کي کم شوی خو بايد په ياد ولرو چي دغه توليد کومه نوي خبره نه ده. د افغانستان د ډيرو مهمو او ښو نيمه قيمتي ډبرو څخه يو هم لاجورد دي چي د ميلاد څخه ۵۰۰۰ کاله مخکي هم د کانونو څخه استخراجيدل.[451] په حقيقت کي داسي فکر کيږي چي په بدخشان کي د لاجورد کان د نړۍ د لرغونو کانونو څخه دی.[452]

انځور ۳.۳۷

د قيمتي کانو ستري ذخيري




سرچينه: د کانو وزارت. د افغانستان جيولوژيکي سروي، په افغانستان کې کانونه: د افغانستان قيمتي کانې، مخ 1، انلاين وکتل شو 2010\12\4.

په افغانستان کې د لاجوردو سوداګري ٦٥٠٠ کلنه سابقه لري.[453] د بدخشان د لاجوردو د سوداګرۍ پاتې شوني لا اوس هم په بین النهرین ، مصر او هند کې لیدل کیږي.[454] هغه ګاڼې چې د افغاني لاجوردو څخه جوړې شوې دي او د مدیتراني د سیمې څخه د ښخو شوو جسدونو د خزانو او لرغونو مدنیتونو لکه د سومریانو او دمصر د فرعونیانو د مقبرو څخه لاس ته راغلي دي، د دې حقیقت شاهدي ورکوي.[455] وروسته کله چې سکندر مقدوني باختر ونیو چې اوس د افغانستان شمالي برخه جوړوي نو د افغانستان لاجورد یې اروپا ته یوړل.[456] او مارکوپولو چې کله په دیارلسمه پیړۍ کې د وریښمو په سویلي لاره سفر کاوه نو د افغانستان د لاجوردو دښکلا په هکله یې هم څرګندونې کړي وې.[457]

## د لاجوردو کارونه

لاجورد د ګاڼې په شکل همدغه راز د کور د اسبابو په بڼه هم کارول کیږي. د بلې خوا لاجورد د یوه آبي رنګ چې د ultramarine په نامه یادیږي بنسټ تشکیلوي. د لرغون پیژندونکو د نظریاتو پر اساس د افغانستان لاجورد د اروپا د منځنیو پیریو په خلیدونکو خطي نسخو، مهندسي تزئیناتو او د لرګو په مجسمو کې کارول شوي دي.[458] د قیمتي ډبرو د ټولنې په وینا میده شوي لاجورد لعابي آبي رنګ لپاره هم استعمال شویدي، او په پخوانیو زمانو کې روغني رنګ ډیر کم کارول کیده نو دا هیڅ ممکنه نه وه چې داسې یو روښانه آبي رنګ دې تولید شي، خو په ١٩ پیړۍ کې کله چې مصنوعي رنګونه جوړ کړل شول نو دغه کار ممکن شو.[459] هغه آبي رنګ چې د لاجوردو څخه لاسته راتللو د خپلې ځلا او ښکلا له امله یې ډیر شهرت درلوده ، دغه رنګ اوسمهال هم د لرغونو آثارو په تازه کولو او نویو کولو کې کارول کیږي.[460]

## د لاجوردو اونورو قیمتي ډبرو استخراج

لکه څنګه چې ٦٥٠٠ کاله مخکې وو، اوس هم د بدخشان لاجورد په نړۍ کې له بهترینو لاجوردو څخه شمیرل کیږي.[461] په بدخشان کې د سرسنګ

> "داسې یو بل هیواد هم شته [افغانستان] چې دهغې په غرونو کې هم لاجورد موندل کیدای شي. دا په نړۍ کې بهترینه ډول لاجورد دي."
>
> ___مارکوپولو (١٢٧١ میلادي)

سرچینه: د عراق د څیړنې لپاره بریتانیې انستیتوت، عراق ٣٠ کال، ١ ګڼه (پسرلی ١٩٦٨)، لاجورد: د تجارت لومړي پړاوونه، د جیونجینا هیرمان لیکنه، مخ ٢٢، انلاین وکتل شو ١١\٢٠١٠\٢٠١٠.

**لاجورد:** داسې یوه ډبره ده چې پوخ اسماني رنګ لري، او طلایي سلفایدي خطونه پکې دي چې ځلیدونکی رنګ ورکوي. ډیرې د ډبرو په قطار کې شمیرل کیږي نه د منرالونو، او د افغانستان لاجورد د ماهرینو په وینا په نړۍ کې بهترینه لاجورد دي.

سرچینې: د کانونو د اریکو شرکت، د کانونو جورنال (لندن) ځانګړي ګڼه: افغانستان،" ٢٠٠٦\٨، مخ ٩، د رنګه قیمتي کاڼو نړیواله ټولنه، "لاجورد،" انلاین وکتل شو ٢٥\١٢\٢٠١٠.

آبي غر د زرهاوو کلونو راپه دیخوا لاجورد تولیدوي. دغه کان د سمندر څخه په ٣٥٠٠ متره ارتفاع کې پروت دی.[462] د ډیرې خرابې هوا له امله دغه کان د جون څخه تر سپتمبره پورې د لاسرسي وړ وي.[463]

د کانونو د ماهرینو په نظر په افغانستان کې د قیمتي ډبرو کانونه د ماهرو خلکو لخوا په ابتدائي شکل را ویستل کیږي.[464] یوه طریقه یې داده چې هغه ډبرې چې لاجورد پکې وي، لوړه درجه حرارت ورکول کیږي او بیا پرې سړې اوبه شیندل کیږي. کله چې پرې اوبه وشیندل شوې نو په هغې کې یو ټکان رامینځ ته کیږي چې بیا د ډبرې د ماتیدو سبب کیږي.[465] د متحده ایالاتو حکومت او نور نړیوال مرستندویان د کانونو له وزارت سره کار کوي چې د کان کیندلو نوې لارې په کار واچوي چې خوندیتوب زیات کړي او همدا رنګه په دې برخه کې تولید لوړ کړي.[466]



**د زمردو** یو پالش شوې ټوټه. یاقوت یوه ګرانبیه کاڼې دي چې په افغانستان کې پیدا کیږي له پیریو راپدیخوا، افغاني زمرد د نړۍ په تر ټولو غوره کارونو کې کارول شوي دي.

## د افغانستان د قيمتي کاڼو په صنعت کې د متحده ايالاتو ملاتړ

د افغانستان لپاره د ثبات د ستراتيژۍ يوه موخه داوه چې د افغانستان د (کانونو څخه بازارته) پروګرام تقويه کړای شي، د قيمتي کاڼو د ارزښت زنځير دافغانانو لپاره د کارموندنې او عايداتو سرچينه جوړيدای شي.[467]
چوکاټ ۳.۱۲ د USAID هغه نوښتونه په ګوته کوي چې د قيمتي ډبرو د صنعت د ملاتړ لپاره يې ترسره کړيدي. دغه نوښتونه د کوچنيو او متوسطو تشبثاتو د ملاتړ لپاره پکار اچول شوي ترڅو د قيمتي ډبرو د پرې کولو، پالش کولو او بازارموندلو پروسه عصري کړای شي.

د کانونو څخه مارکيټ ته پروګرام د يوې برخې په ډول USAID او ASMED وکړای شول ترڅو د افغانستان د قيمتي ډبرو کاروباريان د جواهراتو د تبادلې ننداړتون ته چې د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په ۲-۷ د آريزونا په تکسون کې جوړ شوی و بوزي.[468] دغه ننداړتو ن په زرګونو نړيوال کاروباريان ، راټولوونکي او علاقمندان د متحده ايالاتو ټولې نړۍ څخه راجلب کړي. برسيره پر دې افغان برخه اخيستونکو د مسو کان، لابراتوار، او د متحده ايالاتو د کانونو د استخراج ماشين آلات وليدل. برخه والو وويل چې دغسې ليدنې د افغانستان د صادراتو د ظرفيتونو دلوړولو لپاره ډيرې مهمې دي.[469]





**ياقوت،** هغه قيمتي منرالونو ياقوت دي چې د افغانستان په پنجشير دره کې پيدا کيږي، سره ياقوت هم په افغانستان کې د معدنياتو څخه راويستل کيږي. او ډيری يې د جګدلک ــګندمک په سيمه کې چې د کابل ولايت پورې اړونده ځای دی موندل کيږي.

**د ارزښت زنځير:** ټول هغه فعاليتونه چې د خامو موادو د لاس ته راتګ څخه وروسته د پلور له مرحلې وروسته ورڅخه ملاتړ کيږي، دغه فعاليت محصولاتو ته ارزښت هم ورکوي او ارزښت يې زياتوي هم.

سرچينه: فاينشيل تايمز ليکزيکون، انلاين وکتل شو ۲۰۱۰\۱۲\۱۴.

چوکاټ ۳.۱۲

**د USAID وروستنۍ پروژې چې په افغانستان کې يې د قيمتي ډبرو د صنعت د ملاتړ لپاره ترسره کړيدي**

| د USAID پروګرام | مرستي | د مرستو موخه |
| --- | --- | --- |
| ASMED | د جوهريانو لپاره لارښود (د قيمتي ډبرو روزنيز مرکز)، د کندوز ښار | د روزنيز مرکز لپاره د وسايلو او اسبابو اخيستل، فني روزنه ورکول او داسې کارمندان استخدامول چې په توليد او خرڅلاو کې مرسته وکړي. |
| ASMED | د افغانستان د قيمتي ډبرو د پرې کوونکو او جوهرياتو ټولنه | د روزنيز پروګرام برابرول چې د پرې کولو، پاليش، او د ګاڼې د جوړولو معيار د نړيوالو معيارونو سره برابرشي، د ننداړتونونو په جوړولو کې مرسته |
| ASMED | د قيمتي ډبرو بازار په جلال آباد کې | دغه مارکيت به ۲۰ کوچني او متوسطه تشبثاتي شرکتونه ولري، چې د افغانانو لخوا به پرمخ بيول کيږي، ډيری به هغه خلک وي چې په وروستيو کې له پاکستان څخه راګرځيدلي وي او د دوی سره به په کرايه کې مرسته وشي او د محاسبې خدمات به ورته د يو کال پورې برابر کړای شي. |
| ASMED | د مور هيله hope of mother/ | درې مياشتنۍ روزنه ، د نړيوال ماهر له لوري، د ۳۰ کاروباريانو لپاره چې کوچنۍ اويا متوسطه کاروبار لري ترڅو د قيمتي ډبرو د پالش او پرې کولو تخنيک زده کړي. |
| د نړيوالې پرمختيا اتحاد | دامريکايي-نورستاني وارداتي نړيوال شرکت (ANII) | د ۵٦۰۰۰۰ ډالو مرسته چې عامه-خصوصي شراکت او د ANII کمپنۍ کان کيندنه اوپروسس پرې بهتر کړای‌شي ۱۹ د پرې کولواو پاليش کولو ماشينونه، د ۱۰۰ کاروباريانو روزنه، په همدغه برخه کې د څلورو هوايي فشار راوړونکي پيرودنه، او د ۵۰ کان کيندونکو روزنه ترڅو دغه نوي تخنيکونه زده کړي. |

سرچيني: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۶\۱۴. USAID، د شخصي-دولتي تشبثاتو لپاره د تجارت نمونه، ۲۰۰۹\۱۶\۱۲، انلاين وکتل شو ۲۰۱۰\۱۲\۱۴.

# د مخدره موادو پرضد مبارزه

د ۲۰۰۲ کال راهیسي، د متحده ایالاتو حکومت د مخدره توکو سره د مبارزې لپاره ٤.۲٤ میلیارده ډالر تخصیص کړي دي.[470] د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په میاشت کې، متحده ایالاتو د مخدره توکو پرضد د مبارزې په موخه یوبله تګلاره غوره کړه چې پکې د زراعتي بدیل کښت په پروګرامونواو د نشه يي توکو پر مخنیوي باندې تمرکز کیږي. د نشه يي توکو د مخنیوي دغه نوې ستراتیژي، دوه اساسي موخې لري:[471]

- د اورپکی او د مخدره توکو د قاچاق د اړیکو ماتول د هغه مالي ملاتړ د کمولو له لارې چې د مخدره توکو د سوداګرۍ او تجارت له لارې اورپکی ته ورکول کیږي.
- د اداري فساد او د مخدره توکو د قاچاق ترمینځ د اړیکو له مینځ وړل د افغانستان د خلکو او د حکومت د اړیکو د ټینګښت له لارې.

د ۲۰۱۰ کال په مارچ کې د متحده ایالاتو د حکومتي حساب ورکووني اداري (GAO) راپور ورکړ چې د نشه يي توکو قاچاق د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د متحده ایالاتو هغو همغږو هڅو ته چې یو باثباته او با امنه افغانستان لپاره ترسره کیږي ضرر رسوي. همدغه راز د مخدره توکو قاچاق د متحده ایالاتو د تروریزم پرضد د مبارزې بریالیتوب ته هم لوی تهدید پیښوي.[472]

تمه کیږي چې د ۲۰۱۰ کال په ترڅ کې به د مخدره توکو پر ضد وزارت د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتیژي نوې کړي او په هغه هدفمندو پروګرامونو به کار وکړي چې په حقیقي ډول د مخدره توکو، د کښت، تولید، او قاچاق او استعمال مخه ونیسي دغه وزارت خپله ستراتیژي په وروستي ځل په ۲۰۰٦ کال کې تعدیل کړې وه.[473]

## حالت

په روانه درې میاشتني راپور کې هیڅ کوم نوی ولایت د نشه يي توکو څخه پاک حالت نه دی غوره کړی، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو پرضد سازمان یا (UNODC) په وینا هغه ولایتونه چې د نشه يي توکو څخه پاک حالت لري هم په خطر کې دي. لکه څنګه چې د سیګار د جنوري د میاشتې په راپورکې ورڅخه یادونه شوې وه، بغلان، کاپیسا او فاریاب د ۲۰۰۹ کال په وروستیو کې د نشه يي توکو څخه پاک حالت ته رسیدلی و.[474] د UNODC د نشه يي توکو ژمنی چټکې ارزوني دا په ډاګه کړه چې درې ولایتونه، بغلان، فاریاب او سرپل د نشه يي توکو څخه د پاک حالت په خطر کې واقع دي، که چیرې په دوامدار ه او په وخت مبارزه پکې ترسره نه شي. برعکس که چیرې په وخت د نشه يي توکو د له مینځه وړلو لپاره مبارزه وشي نو په پنځه نورو ولایتونو، بدخشان، کابل، کونړ، لغمان او ننګرهار به په ۲۰۱۰ کال کې د نشه يي توکو څخه پاک حالت غوره کړي او د دغه ډول ولایتونو شمیر به ۲۵ ته ورسیږي.[475] انځور ۳.۳۸ د کوکنارو د کښت څخه پاک ولایتونه او په حالاتو کې یې د بدلون د راتګ امکان ښیي.

**له کوکنارو پاك حالت:** يو ولايت هغه وخت له کوکنارو پاک ګڼل کیږي چې تر ۱۰۰ هکتاره لږ ځمکه د کوکنارو د کرلو لپاره کارول شوې وي.

سرچینه: UNODC، "د افغانستان د افیونو سروې: دسمبر ۲۰۰۹،" مخ ۲۸.

انځور ۳.۳۸

له کوکنارو څخه پاکو ولایاتو کې احتمالي بدلونونه، 2010




یادونې: کله چې تر 100 هکتاره لږ ځمکه د کوکنارو د کرلو له پاره کارول شوې وي، هغه ولایت له کوکنارو پاک ګڼل کیږي. بغلان، فاریاب، او سرپل ولایتونه کیدای شي له کوکنارو پاک ولایت حالت له لاسه ورکړي که چیرې په وخت سره له مینځه وړلو چارې ترسره نشي. بدخشان، کابل، کنړ، لغمان، او ننګرهار کیدای شي په وخت د کوکنارو له مینځه وړلو سره له کوکنارو پاک حیثیت ترلاسه کړي.

سرچینې: سیګار، د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی راپور، 1\20\2010، مخ 111؛ UNODC، افغانستان د تریاکو سروې 2010: د ژمي بیړنی ارزونه، 2\2010، مخ 2.

د ۲۰۱۰ کال د مارچ د میاشتې پورې د کوکنارو کښت د شپږو ولایتونو پورې محدو پاتې و. بادغیس، دایکندي، فراه، هلمند، کندهار او ارزګان په جنوب او جنوب غرب حوزه کې. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د راپور پر بنسټ، دغه ولایتونه په مجموعي ډول د ټول افغانستان دکوکنارو د کښت ۹۷% جوړوي.[476] د UNODC په وینا چې د کوکنارو کښت به په ۲۰۱۰ کال کې ثابت پاتې شي، حال دادی چې په دوه تیرو کلونو کې پکې ۳٦% کې کمښت راغلی و.[477] د UNODC د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د تریاکو د څارنې د راپور له مخې

د ترياکو قيمت د حاصلاتو په ځای کي او همدغه راز په تجارتي ساحه کي کمښت موندلی دی. د ۲۰۰۸ کال د دسمبر څخه د وچو ترياکو بيه ۳% راکمه شوې وه او په تجارتي ساحه کي يې قيمت ۱% او د تازه ترياکو بيه ۳% راښکته شوې وه. هر څو که د دغه غيرقانوني محصولاتو (لکه ترياکو) قيمت په کميدو دی، خو د UNODC د ترياکو د ژمنی چټکي اروزني دا هم ښکاره کړه چي د قانوني محصولاتو (لکه غنمو) قيمت هم په ډيرۍ چټکتيا سره په غورځيدو دی. د غنمو بيه ۴۳% راښکته شوې ده. دا بيا پخپله د کوکنارو د کرلو په لور د خلکو د جلبيدو سبب کيږي.[478]

په دې وروستيو کي چرسو هم د مخدره توکو د قاچاق پرضد مبارزې ته تهديد متوجه کړی دی. د UNODC د راپور له مخي د ترياکو په نسبت د چرسو قاچاق د تروريزم لپاره ډيرې مالي مرستي برابروي. په اپريل ۲۰۱۰ کي، UNODC د چرسو په اړه خپله لومړنی سروې خپره کړه. دغه سروې په پايله کي دا خبره واضح شوه چي د هيواد د ۳٤ ولاياتو څخه په ۱۷ کي د چرسو کرکيله ترسره کيږي، او د کال ۱۰۰۰۰ څخه تر ۲٤۰۰۰ هکټاره ځمکه کي کرل کيږي. ټوله اندازه چرس چي په ۲۰۰۹ کال کي کرل شويدي حاصلات يې ۱۵۰۰ الی ۳۵۰۰ متريک ټنو ته رسيږي[479]

## د نشه يي توکو د قاچاق سره مبارزه

د افغانستان او پاکستان د سيمه ايز ثبات د ستراتيژۍ له مخي چي په دې درې مياشتني راپور کي اعلان شويده متحده ايالاتو د مخدره توکو د سوداګرۍ دمخنيوي لپاره ځانګړي موضوعات مطرح کړي دي.[480]

- د مخدره توکو قاچاق وړونکو، د مخدره توکو د جوړيدو لپاره کيمياوي مواد او مالي جرياناتو مخنيوی کول.
- د اضافي پرسونل استول او د ملکي-پوځي همکاريو او همغږيو زياتول.
- د بزګرانو لپاره د زراعتي مرستو زياتول.
- په افغانستان کي د مخدره توکو پر ضد د نورو مبارزه کوونکو ادارو سره مرسته.
- د سيمه ايزو تبليغاتي ظرفيتونو تقويه.

متحده ايالات، نړيواله ټولنه، او افغان حکومت، د يو لړ ستونزو سره مخامخ دي چي په راتلونکو پاڼو کي يې تفصيل بيانيږي. لکه د مخدره توکو پرضد په عملياتو کي، د کوکنار په له مينځه وړلو او د کښت په مخنيوي کي، په بديلو پرمختيايي پروګرامونو کي، عدلي اصلاحاتو، د مخدره توکو د تقاضا په کمولو او د ظرفيتونو په لوړولو کي.

## د ايتلاف او افغان ملي امنيتي ځواکونو د مخدره توکو ضد عمليات

د متحده ايالاتو د دفاع وزارت په وينا، په دې درې مياشتني راپور کي ائتلافي او افغان ځواکونو ۵٦ پوځي او د قانون د تنفيذ عمليات ترسره کړي دي. د دغه عملياتو نيمايي د افغان ځواکونو او پاتي نيمايي د ايتلافي ځواکونو له خوا ترسره شويدي. ډيری عمليات د جنوبي زون د قوماندې لاندې سيمه، چيرته چي د مخدره توکو او تروريزم تر مينځ تړاو يو لوی تهديد رامينځ ته کړيدی ترسره شوي. د دغه عملياتو په پايله کي د لاندې ذکرشوي مواد نيول شوي او يا له مينځه وړل شويدي.[481]

- ۱٦.۳ متريک ټنه ترياک
- ۱۹۵ کيلوګرامه مورفين
- ۱.۲ متريک ټنه هيروين

- ۹.۸ متريک ټنه چرس
- ۱۰.۱ متريک ټنه کيمياوي مواد چې د پوډرو په جوړولو کې ورڅخه کار اخيستل کيږي

همدغه راز د ۲۰۱۰ کال د جنوري د لومړۍ نيټې څخه د مارچ تر ۳۱ د آيساف ځواکونو په مختلفو ولاياتو کې د مخدره توکو پر ضد يو شمير عمليات په لاره اچولي دي، او په پايله کې يې ډول ډول مخدره توکي او د مخدره توکو د توليد سامان آلات نيولي دي لکه څنګه چې پهانځور ۳.۳۹ کې ليدل کيږي. د دفاع وزارت په وينا، په دغه جريان کې د مخدره توکو پرضد افغاني ځواکونو او ائتلافي قواوو يو ګڼ شمير عمليات ترسره کړيدي. دي کار له دوی سره د لاسرسی او د ظرفيتونو په لوړاوي کې ډيره مرسته کړيده. دغه ډول زياتره هڅې به په راتلونکي کې هم په جنوبي او ختيځو سيمو کې چېرته چې د مخدره توکو د سوداګرۍ مرکزونه شتون لري دوام پيدا کړي.[482]
د دفاع وزارت د راپور له مخې، افغان ملي اردو د مارجي په عملياتو کې مهمه ونده درلودله چې دغه سيمه

انځور ۳.۳۹

د افغان او ايتلافي ځواکونو لخوا نيول شوي مخدره مواد
د مخدره موادو په وړاندې د مبارزې د 23 عملياتو پايله، جنوري-مارچ 2010




يادونه: دا ډيټا د مخدره موادو هغه نيول ښيي چې د ايساف په مطبوعاتي اعلاميو کې راغلي دي.

سرچينې: ايساف، مطبوعاتي اعلاميې، 1\3-4\29\2101، انلاين وکتل شو 4\6\2010.

د مخدره توکو له پلوه د طالبانو د عایداتو مرکز ګڼل کیده. د جنوبي زون د قوماندي لاندې سیمو کې ملي اردو او ائتلافي ځواکو د مشترکو عملیاتو په ترڅ کې ځو ځو ځله د مخدره توکو د نیولو خبر ورکړی دی. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت په وینا د افغان ملي پولیسو او افغان سرحدي پولیسو په مشترکو عملیاتو کې په هلمند اوکندهار کې یو ه زیاته اندازه چرس لاس ته راغلي دي.[483]

د ۲۰۱۰ کال په مارچ کې د ملګرو ملتونو سرمنشي راپور ورکړ چې افغانستان، ایران او پاکستان د مخدره توکو پرضد درې بریالي عملیات ترسره کړل، چې د رینبو ستراتیژی یوه برخه وه. په پایله کې یې ۴۰ قاچاق وړونکي ګرفتار او ۹۴۸ کیلوګرامه تریاک، ۳۵۱ کیلو ګرامه هیروئین او ۴۸۳ کیلو ګرامه چرس ونیول شول.[484]




**رینبو ستراتیژۍ:** د افغانستان د مخدره توکو د تدراک، قاچاق، او استعمال پرضد یو سیمه ایز ځواب دی.

سرچینه: UNODC، "UNODC په اروپا، لویدیځ او منځنی اسیا کې،" انلاین وکتل شو، ۲۰۱۰\۲۳\۳.

## د کوکنارو له مینځه وړل

د متحده ایالاتو نوی ستراتیژي د کوکنار له مینځه وړلو څخه په مخنیوي باندي تمرکز کوي څکه چې ډیره اغیزمنه ثابته شوي ده. د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د مخدره توکو له مینځه وړل ډیر ځله بزګرانو ته ضرر رسوي نه قاچاق وړونکو ته. د متحده ایالاتو نوی ستراتیژي د کوکنارو له مینځه وړلو څخه ډیر مخنیوي ته پاملرنه کوي.[485] د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا د مخدره توکو اغیزمن مخنیوی او د قاچاق پر ضد مبارزه به د ستراتیژی د بدلون له مخي د کوکنارو کښت او تولید په موثر ډول کم کړي.[486]

د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخي، د مخدره توکو پر ضد سیمه ایز چارواکي به د حکومت په مشری خپلو عملیاتوته دوام ورکوي. متحده ایالات به د مختلفو پروګرامونو له لاري لکه د بنه نوښت پربنسټ د ملاتړ



**د تراکتورنو قطار** د فراه د ولایت په دفتر کې د مخدره توکو د له مینځ وړلو د عملیاتو څخه د مخه ، نوی ستراتیژي په مخنیوي باندي تمرکز کوي. .
(د متحده ایالاتو هوایي ځواک انځور، دویم بریدمن کارل ویست)

د پروګرام په ډول همداسي ملاتړ کوونکي پاتي شي.[487] د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت له مخي چي د حکومت د مشرۍ لاندې د کوکنارو د له مینځه وړلو فرصتونه په کميدو دي ځکه د کوکنارو کښت د GAO د یو راپور له مخي په ډيرو نا آرامو اونا امنه سيمو کي تمرکز موندلی دی.[488] د متحده ايالاتو د نړيوالو مخدره توکو او د قانون د تنفيذ بيرو (INL) د ملګرو ملتونو د جرايمو او مخدره توکو سازمان (UNODC) د راپورنو له مخي ۲۰۱۰ کال د مارچ د ۲۳ نيتي پوري ۹۴۳ هکتاره ځمکه د واليانو د مشرۍ لاندې عملياتو کي په فراه ، هلمند او هرات کي د کوکنارو له شتون څخه پاکه شوې ده.[489]

د مارچ په نيمايي کي د ملګرو ملتونو د ملاتړ لاندې خبري سرويس راپور ورکړ چي افغان حکومت په غير رسمي ډول هوکړه کړې چي په مارجه کي د کوکنارو له مينځه وړل د بزګرانو د غوښتني سره سم ودروي.[490] لکه څنګه چي د IRIN لخوا راپور ورکړل شوی، چي له يو خوا د مارجي عملياتو د بزګرانو د معيشت وسايلو ته ضرر رسولی، نو د کوکنارو له مينځه وړل به سيمه ايزو بزګرانو ته چي غوارې په جګړه ځپلي سيمه کي بيرته سر راپورته کړي. يولوی ګذار وي.  د افغان حکومت په ځواب کي سيمه ايزو خلکو ژمنه کړيده چي راتلونکي کال ته به کوکنار نه کري. [491]

د GAO په وينا د يادولو وړ موضوعات لکه، امنيت، د سياسي ارادې نه شتون، او ناکافي امکانات، د کوکنارو په له مينځه وړلو هڅو باندې پوره اغيز شيندي. په ځانګړو ولايتونو کي ناامني د مخدره توکو د له مينځه وړلو مبارزه محدودوي. د دې لپاره چي د کوکنارو له مينځه وړونکو څخه ساتنه وشي نو دوی بايد د سيمه ايزو واليانو او امنيتي ځواکونو سره هوکړې ته ورسيږي. د سياسي ارادې نه شتون د حکومت په مشرۍ د مخدره توکو په له مينځه وړلو باندې ډيره اغيزه لري. GAO داسي مثالونه لري چي والي نه شواې کولای چي د هغه موافقي سره سم چي د متحده ايالاتو سره يې د کوکنارو د اهدافو د له مينځه وړول په هکله کړې وه، عمل وکړي.[492]

همدغه راز د متحده ايالاتو د حساب ورکووني اداري راپور ورکړی چي د واليانو لپاره محدود امکانات هغوی د کوکنارو د له مينځه وړلو څخه منع کوي.  نو له دې امله متحده ايالات او بريتانيا واليانو ته د عملياتو څخه د مخه پيسي ورکوي ترڅو پرې د مخدره توکو د له مينځه وړلو کار پيل کړي (د وسايلو خريداري يا کرايه کول، د نفتي موادو لګښتونه او داسي نور)[493]

## د متحده ايالاتو د مخدره توکو د مخنيوي هلې ځلې

د متحده ايالاتو د نوی ستراتيژۍ يو مهم نوښت دادی چي د مخدره توکو تجارت د قاچاق وړونکو د مخنيوي او د هغوی د شبکو ترمينځ د اړيکو د پرې کولو له لارې کم کړي.  د مخدره توکو د تجارت او قاچاق د مخنيوي لپاره ځانګړې هڅي ترسره کيږي چي ځيني يي په لاندې ډول دي:[494]

- د افغانستان څخه بهر ته د مخدره توکو د ليږد مخنيوی
- د مخدره توکو د توليد لپاره د کيمياوي موادو او د مالي مرستو د مخنيوي په موخه د هغوی افغانستان ته د راتګ څخه مخنيوی
- په مخدره- تروريستي شبکو باندې بريدونه او د مخدره توکو د بازارونو تړل

د AGO په وينا د متحده ايالاتود کوکنارو د قاچاق د مخنيوي د پروګرام هدف د مخدره توکو د قاچاق او پروسس کموالی دی چي د عملياتو په کولو او همدغه راز د افغاني قانون تطبيقوونکو ځواکونو د ظرفيتونو لوړول ترڅو د مخدره توکو د قاچاق سازمانونه تخريب او له مينځه يوسي.[495] په دغه عملياتو کي د مخدره توکو په لابراتوارونو بريدونه، د زيرمتونونو له مينځه وړل، د قاچاق وړونکو نيونه، د سرک د ناڅاپي بندولو عمليات، د کيمياوي مواود او نشه يي توکو نيونه او په پټه د مخدره توکو پيرودل شامل دي.[496]

**د GAO د راپور له مخې د ۲۰۰۵ کال څخه را په ديخوا ۱۵۵۰ تنه افغانان د مخدره توکو د قاچاق په تور محاکمه او په حبس محکوم شوي دي.**

سرچينه: GAO, GAO-10-291، "د افغانستان د مخدره توکيو کنټرول: د ستراتيژي بدلون او پرمختګ راپور ورکړ شو، خو داخلي اجرايوي اهداف او د عدلې اصلاحاتو د ارزونې هڅو ته اړتيا ليدل کيږي،" ۲۰۱۰\۳، مخ ۲۸.

GAO راپور ورکوي چې دمخدره توکو اجرایوي اداره (DEA) د متحده ایالاتو په مشرۍ د مخدره توکو د مخنیوي د عملیاتو مسووله اداره ده.[497] د مخدره توکو د مخنیوي د اغیزمنتیا د ملاتړ لپاره DEA په افغانستان کې خپل پرسونل چې د ۲۰۰۹ په جنوري کې ۱۳ کسه وو د ۲۰۰۹ د دسمبر پورې یې ۸۱ تنو ته ورساوه.[498]

د دې لپاره چې په دوامداره ډول د مخدره توکو د قاچاق مخنیوی وشي، د دفاع وزارت په کندهار کې یو مشترک مینځګړی عملیاتي ځواک رامینځ ته کړی دی. د GAO د راپور له مخې دغه عملیاتي ځواک لاندې دندې پرمخ وړي:[499]

- د همغږي کوونکي ملاتړ برابرول.
- د استخباراتي معلوماتو راټولول.
- د DEA د مخدره توکو د قاچاق د مخنیوونکي ماموریت او د آیساف د تروریزم ضد عملیاتو لپاره د هدفونو ټاکل او معرفي کول.

د مخنیوونکو فعالیتونو لپاره INL د افغانستان د مخدره توکو پرضد د افغانستان د ځانګړو پولیسو (CNPA) لکه د مخدره توکو د قاچاق د مخنیوي، دځانګړي تحقیقاتي، او تخنیکي تحقیقاتي واحدونو د ودانۍ لپاره عملیاتي اوحفاظتي ملاتړ برابروي. د INL په وینا مرکزي ودانۍ په کابل کې موقعیت لري. په دغه ملاتړ کې د خوړو، ساتنیز خدمتونه د ودانۍ امنیت ساتنه، او عمومي حفاظتي پروګرامونه شامل دي.[500]

## پرمختیایي بدیل پروګرامونه

د متحده ایالاتو د ثبات ستراتیژۍ یو نوی ملکي-پوځي پلان معرفي کړ چې بیا یې هم توله پاملرنه د زراعتي ځانګې د بیا رغوني لومړیتوبونو ته وه. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت په وینا زراعت د قانوني کارموندنې لپاره یوه ډېره چټکه لاره ده. او همدغه راز به د هغو مالي مرستو جریان چې د کوکنارو د کرکیلې څخه لاس ته راځي او په تروریستي کړنو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي هم کم کړي.[501] د افغانانو په مشرۍ د کارونو سرته رسولو د په پام کې نیولو سره دغه زراعتي نوې ستراتیژۍ په دې ټینګار کوي چې د پلان جوړوني په هره برخه کې د افغانانو سره همغږي رامینځ ته شي، چې په دې برخه کې هم د زراعت مالدارۍ او اوبو لګولو وزارت سره خبرې اومشوره شوې وه.[502]

د دغه ستراتیژۍ د جوړولو پر مبنا د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې USAID افغان بزګرانو ته په ۱۸ ولایتونو کې تضمینونه او دا وعده ورکوي چې د کوکنارو د کرکیلې په ځای به ورته (د میوو، د خستو د نیالګیو او د انګورو تاکونه) ورکوي. د بهرنیو چارو وزارت د اوبو د اداري لپاره د یو سیستم د جوړولو موضوع هم و څېرله ترڅو د قانوني زراعتي محصولاتو اندازه پرې زیاته کړي.[503] د ۲۰۱۰ کال په فبروري کې د USAID د ۳۰ میلیونه ډالرو په اندازه بودجه یوې امریکایي انجو Roots of peace ته ورکړه ترڅو د افغانستان په ختیځو او جنوبي سیمو کې د بزګرانو سره مرسته وکړي چې عایدات دوه برابره شي. نوموړې موسسه به د بزګرانو سره مرسته وکړي چې خپل د غله جاتو او کوکنارو کرکیله په داسې کرنیزو توکو بدله کړي چې ارزښت یې ډېر وي.[504] د دې نوښت په اړوند د لا زیاتو معلوماتو لپاره د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ برخه وګورئ.

د USAID په وینا د دغه پروژې مسؤول کس په هرو دوو اونیو کې د بدیل کښت د پرمختګ په هکله معلومات ورکوي. د مثال په ډول، دوی ګزارش ورکړ چې د ۲۰۱۰ کال د جنوري څخه د فبروري تر ۲۸ پورې، ۳۷۳۲۱ کورنیو د متحده ایالاتو د مرستو څخه ګټه اخیستې ده، او په دغه موده کې د ۵۱۵۰۰۰ ډالرو څخه زیاته بودجه د ټولنې د محصولاتو د زیاتولو په هکله په روزنیزو پروګرامونو لګېدلې دي. همدغه چارواکو راپور ورکړ چې بزګرانو ۲۳۲۵ هکټاره ځمکه درلوده چې ښې اوبه یې درلودې خو ټاکل شوې بزګرانو وکړای شول چې نوې ۳۵۸ هکټاره ځمکه هم د قانوني زراعتي توکو د کرلو لپاره آماده شي.[505]

"زموږ د ستراتیژۍ یوه بلهستره برخه دا ده چې د مخدره توکیو د قاچاق مخنیوي وشي، کوم چې طالبانو ته د پام وړ مالي سرچینې په اختیار کې ورکوي. د مخدره توکیو دا پیسې په هوا کې د اکسیجن په څیر ده چې دې ډلو ته د فعالیت اجازه ورکوي."

-- جنرال ډیویډ ایچ پیټروس

سرچینه: جنرال ډیویډ ایچ پیټروس، "د سنا د مجلس د وسلوالو خدمتونو د کمیټې په مخ کې بیان،" ۲۰۱۰\۶\۳.

د زراعتي –سوداګريز پرمختګ ټيم بزګرانو ته د کرکيلي لپاره د اغيزمنو تخنيکو چارو روزنيز پروګرامونه جوړوي. د متحده ايالاتو د د اردو په وينا د دی هڅو د زياتولو لپاره ختيځې، مرکزي او جنوبي قوماندانيو ته اته ټيمونه ليږل شويدي. د اردو د راپور له مخي په ۲۰۰۷ کال د پروګرام له پيل کيدلو راهيسي، "۱۷ ټيمونو ۱٤ ولايتونه د پوښښ لاندې نيولي او ۲۸۲ دوامداره زراعتي پروژې مخ ته بيايي چې افغانانو ته ۲۱ ميليونه ډالره عايدات په لاس ورغلي دي."[506]

USAID وايي چې د زراعتي پرمختيايي پروګرامونو د پرمخ بيولو لومړنی مرجع د زراعت وزرات ګڼل کيږي، په شمول د بديل زراعتي پرمختيايي پروګرام. کله چې ارتيا وي نو USAID د زراعت د وزرات سره د نويو پروګرامونو په جوړولو او د شته پروګرامونو په اصلاح کې لازمي مشورې سرته رسوي.[507]

د پرمختيايي بديلو پروګرامونو دوامداره کول د متحده ايالاتو د مخدره توکو سره د مبارزې مهم جز تشکيلوي. USAID د پروګرامونو تداوم نه، بلکې د هغوی د پايلو د تداوم څخه نظارت کوي. نو دغه هم يو دليل دی چې دغه موسسه د کوکنارو په ځای دغنمو کرکيله نه تشويقوي. ځکه په داسې کولو سره به بزګران په يو کال کې د کوکنارو د کرلو څخه منع او بل کال ته به بيرته د کوکنارو کرلو ته راوګرځي. نوځکه USAID د داسې پروګرامونو چې اوږد مهالي وي نه لنډمهالي ، په برخه کې پانګوونه کوي لکه د ونو او يا تاکونو په برخه کې.

د زراعت وزارت او USAID په دې نظر دي چې پورته ذکر شوې پانګوونه به د بزګرانو د هغه پريکړو مخه ونيسي چې هرکال يې د کوکنارو د کرلوپه هکله کوي.[508] دUSAID په وينا د شمال، ختيځ او لويديځ لپاره د اقتصادي پرمختګ بديلونه (IDEA-NEW) پروګرامونه د افغانستان او متحده ايالاتو د لومړنی پاليسی ملاتړ کوي. د IDEA-NEW پروژې ۹۷% کارکوونکي افغانان دي. برسيره پردی دغه پروګرامونه سيمه ايزې خريدارۍ ته اهميت ورکوي او د ۲۰۰۹ کال څخه راپه ديخوا يې ٤.۳ ميليونه مالونه د افغاني سوداګرو څخه پيرودلي دي.[509] چوکاټ ۳.۱۳ د دغه اقتصادي پرمختياي بديل پروګرامونو په هکله اضافي معلومات ورکوي.

## په عدلي برخه کې اصلاحات

د GAO د مارچ د راپور له مخي ، د متحده ايالاتو حکومت يو لړ فعاليتونه په لاره اچولي دي، چې د افغان حکومت د ګرفتارۍ، د عدلي تعقيب او د مجازاتو ظرفيت د مخدره توکو د قاچاق کوونکو په هکله لوړ کړي. د متحده ايالاتو مشاورينو ۳۲ څارنوالان او ۳۵ څیړونکي او د مخدره توکو پرضد د ديوان ١٤ افغان قاضيان د

چوکاټ ۳.۱۳

**د USAID د متبادل پرمختيا فعال پروګرامونه**

| د پروګرام نوم | مقصد | موده | په نظر کې نيول شوی لګښت |
|---|---|---|---|
| د زياتو زراعتي محصولاتو لپاره د افغانستان د مدرک پلس پروګرام (AVIPA) | د زراعتي محصولاتو زياتول ترڅو د کوکنارو د کښت مخه ونيول شي. | 8/2010–9/2009 | ۳۰۰ مليونه ډالر |
| د جنوب- لويديځ د بديل پرمختيا پروګرام يا (ADP/ SW) | د بديلو کښتونو برابرولو چې لومړی په فراه کې و، ځکه په تيرو دوه کلونو کې هلته کوکنار کرل ډير شوي دي. | 3/2011–4/2008 | ۷۵ مليونه ډالر |
| سوداګريزه باغواني او د زراعتي بازار موندني پروګرام (CHAMP) | د ۲٦۰۰۰ بزګرانو په مينځ کې د بيوزلی کمښت او په ناڅاپي ډول د شته انګورو د تاکونو د محصولاتو زياتول او د پخوانيو ځمکو د غنمو او کوکنارو بدلون په تاکونو او ميوه دارو ونو. | 1/2014–2/2010 | ۳۴.۹ مليونه ډالر |
| د شمال، ختيځ او لويديځ لپاره د اقتصادي پرمختګ بديلونه (IDEA-NEW) پروګرامونه | خلکو ته د امتيازاتو ورکول ترڅو د دوامداره زراعتي قانوني اقتصاد پرمختګ رامينځ ته شي. | 3/2014–3/2009 | ۱۵۰ مليونه ډالر |

سرچيني: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID ځواب، ۲۰۱۰\٦\۱۴؛ د سيګار د ارزوني پوښتني ته د GAO ځواب، ۲۰۱۰\۱۵\۴.

عدلي-جنايي عملياتي ځواک په چوکاټ کې روزلي دي. د متحده ایالاتو د عدليي وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې لپاره د قوانینو او پروسیجرونو په جوړولو کې مشورتي خدمتونه وړاندې کوي.[510]

د متحده ایالاتو د حکومت د هڅو د شتون سره سره، چې غواړي عدلي سکتور کې ښه والی راولي،GAO راپور ورکوي چې د متحده ایالاتو د عدليي وزارت او د بهرنیو چارو وزارت ته ستونزمنه ده چې معلومه کړي چې آیا دغه ارګانونه خپل وړاندیز شوي اهداف سرته رسوي که نه. ځکه د عملیاتي ځواک او د مخدره توکو پرضد دیوان چې د مخدره توکو پورې اړوند فساد پر ضد او د ټیټې، منځنۍ او لوړې کچې د قاچاق کوونکو پرضد فعالیت کوي، د قاچاق وړونکو د کټګوریو لپاره کوم خاص معیار لري او که نه؟ او حتی د قاچاق وړونکو د په کټګوریو تقسیمولو لپاره هیڅ کوم ځانګړي تعریف هم وجود نلري. د GAO په وینا دغه کټګورۍ د مخدره توکو د اندازې، د قاچاق وړونکو سیاسي تعلقاتو او آیا چې قاچاق وړونکی دولتي چارواکی دی که نه پورې اړوندې دي.[511]

## د مخدره توکو د تقاضا کمښت

INL راپور ورکوي چې د متحده ایالاتو حکومت به په نشه يي توکو د روږدو کسانو د علاج لپاره په روان کال کې۳۰ روغتیایی مرکزونو سره مالي مرسته وکړي او دا به د روږدو کسانو د علاج لپاره په هیواد کې یوه لویه مرسته وي. په دغه مرکزونوکې به يې ښځو ناروغانو ته چې بستري او غیربستري مریضان به ولري ځانګړې کیږي او په ځنګ کې به د ناروغو میرمنو د ماشومان لپاره هم یو مرکز شتون ولري. برسیره پردې به دوه مرکزونه د زړو خلکو لپاره د خدمتونو رسولو جوګه شي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره ددرې میاشتني راپور وارو مهمو پیښو د سرلیک لاندې ددې برخې په اخر کې وګورئ. INL تصمیم لري چې د مخدره توکو د تقاضا د کموالي لپاره ۱۵ په جوماتونو کې متمرکز تبلیغاتي پروګرامونه او د مراقبت مرکزونه جوړ کړي چې د ځايي اوسیدونکو لپاره به خدمتونه وړاندې کوي.[512]

- د بیوزله معتادینو لپاره د سرپناه برابرول او په بیړنیو حالاتو کې يې د علاج لپاره مرسته
- په انفرادي او ډله ایز ډول د مشورو ورکول
- د معتادینو د روغیدو څخه وروسته د مراقبت زمینه برابرول
- د مریضانو سره د ملاقات لپاره ودانۍ او همداشان د کورنیو د ملاتړ ګروپونه ترڅو معتادین صحتمند شي
- مخدره توکو ته د بیا راګرځیدنې څخه د مخنیوي خدمتونه
- د ښوونځیو او ټولنې غړیو ته د مخدره توکو په اړوند معلومات برابرول

د مخدره توکو د تقاضا د کمښت د اغیزمنتیا لپاره به INL د مخدره توکو د مخنیوي لپاره د کابل په لیسو کې تبلیغاتي پروګرام پلي کړي. د INL په وینا چې افغان حکومت ته د مشرۍ د سپارلو او همدغه راز د افغان حکومت سره د مخدره توکو پر ضد د مبارزې د جوړښتونو د وړتیاوو لوړولو لپاره د متحده آیالتو حکومت په نظر کې لري چې د مخدره توکو د علاج مسلکي اشخاصو لپاره روزنیز پروګرامونه جوړ کړي.[513]

په دې درې میاشتني راپور کې GAO راپور ورکړی دی چې ۱۲% څخه تر ٤۱% په ملي پولیسو کې استخدام شوي خلک له معایناتو څخه وروسته په نشه يي توکو روږدتیا مثبته ښوولی ده. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت وایي چې د مخدره توکو د تقاضا د کمښت پروګرام لا د کافي سرچینو له امله پولیسو ته متوجه نه دی. خوبیا هم GAO، د بهرنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت په پام کې لري چې د پولیسو سیمه ایزو مرکزونو کې د مخدره توکو د تداوی لپاره هم مرکزونه پرانیزي. د پورتنیو وزارتونو په وینا د افغانستان دکورنیو چارو او د عامې روغتیا وزارتونو په ګډه په کابل کې د مخدره توکو د معتادینو د علاج یو مرکز جوړ کړی چې لومړیتوب پکې پولیسو ته ورکول کیږي.[514]

د دې لپاره چې د ستونزې اصلي پراخوالی معلوم شي، UNODC په ۲۰۰۵ کال کې د مخدره توکو د استعمال په اړوند یوه سروې ترسره کړې وه، په دغه سروې کې تخمین شوې و چې په افغانستان کې ۹۲۰۰۰۰ کسان په نشه يي توکو روږدي دي چې تقريباً د ټول نفوس (۲۳.۸۵ ميليونو) ۳.۸ % و.[515] د GAO په وینا، UNODC غواړي چې دغه ډول سروې سږکال هم سرته ورسوي.[516] INL هم راپور ورکوي چې په ۲۰۱۰ کال کې به دوی یو بیله خپلواکه سروې په ټول هیوادې کې ترسره کړې چې د مخدره توکو د استعمال کچه پکې معلومه کړي او توکسيکولوژيکي نموني (ويښتان او يا تشو ميتيازو نموني) به هم راټولې کړي.[517]

## د ورتياوو لوړول

د افغانانو د لومړيتوب په هکله پلان، افغانانو ته د مشرتابه سپارل، د ظرفيتونو لوړول، په پروژو کې تداوم او سيمه ايزو قراردادونو او خريداری او داسې نور نوښتونه دي.[518] د لندن په کنفرانس کې نړيوالې ټولنې د دې موضوع اهميت په ډاګه کړ چې افغان حکومت بايد د خلکو اړتياوو ته په خپله رسيدګي وکړي او خپلې منابع او ارګانونه دې تقويه کړي.[519]

متحده ايالاتو د ظرفيتونو د لوړولو په خاطر د مخدره توکو پرضد د افغان پوليسو د ورتياو دلوړلو لپاره یوه زياته اندازه مرسته ترسره کړه. په مارچ کې GAO راپور ورکړ چې DEA د مخدره توکو پرضد د پوليسو سره د تحقيقاتو، قضيو جوړولو، او ګرفتاريو په اړوند مرسته کوي. نوموړې اداره پورته ذکر شويو پوليسو ته روزونکي برابروي، د دفاع وزارت د غه پوليس روزي، تجهيز کوي او تداوم يې ساتي. همدغه شان د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د مخدره توکو پرضد د پوليسو سره د مرکزونو په جوړولو کې هم مرسته کوي. د بهرنيو چارو وزارت د هغه ودانيو چې د دفاع وزارت د پروژو له لارې جوړې شويدي ترميمي لګښتونه ورکوي.[520]

د GAO د راپور پر بنسټ د مخدره توکو پرضد په پوليسو کې يوځينې کمزورتيا د انتظامي ورتياوو نه شتون دی. د دغه کمزورتيا د له مينځه وړلو لپاره د متحده ايالاتو د دفاع وزارت داسې درجه بندی جوړوي چې د دغه پوليسو څخه پکې د وظيفوي، لوژستيکي، مالي اداري، مديريتي او روزنيز ملاتړ وکړي.[521]

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د مياشتې راهيسې د دفاع وزارت څلور مشاورين د نړيوال جنايي تحقيقاتو د روزنيز مرستندويه پروګرام د عدلي څانګې څخه د افغانستان د مشترک امنيت څانګې (CSTC-A) ته را استولي دي. دغه مشاورين د مخدره توکو پر ضد د پوليسو روزنيزې اړتياوو، د اصلاحاتو د راوستلو لارې چارې، ارزوې او هڅه کوي چې د مخدره توکو پر ضد د پوليسو روزنيزې اړتياوې د نورو پوليسو د اړتياو و سره همغږې کړي.[522] د بهرنيو چارو د وزارت د راپور له مخې د مخدره توکو پر ضد د نوې ستراتيژۍ په چوکاټ کې به د ورتياوو دلوړولو پروګرامونه، د مخدره توکو پرضد د مبارزې، د کورنيو چارو وزارتونو، د مخدره توکو پرضد عدلي عملياتي ځواک، د لويو جرايمو پرضد عملياتي ځواک او د مخدره توکو پرضد ديوان ته هم وغزول شي.[523]

## ننګوني

هغه ګټه چې تروريستي ګروپونه يې د مخدره توکو د قاچاق څخه لاس ته راوړي نو د دغې رواني جګړې د اوږديدو سبب کيږي. د بهرنيو چارو د وزارت د راپور له مخې د افغانستان د مخدره توکو قاچاق کوونکو په ۲۰۰۹ کال کې د مخدره توکو د قاچاق څخه تقريباً ۱.۹ ميليارده ډالره لاس ته راوړي دي، چې د افغانستان د ناخالصه عايداتو يو پر پينځمې برخې سره مساوي دي.[524] برعلاوه، اداري فساد، کمزورې حکومت داري، او ناوړه امنيتي حالات د مخدره توکو پرضد د مبارزې د پرمختګ څخه مخنيوی کوي.[525]

## مخدره توکي او جګړه

د متحده ایالاتو د ټول حکومت اصلي موخه، لکه څنګه چې دبهرنیو چارو د وزارت په ستراتیژۍ کې بیا تاکید پرې شویدی، دا دی چې د جګړې او مخدره توکو د تړاو پر ضد مبارزه وشي او د طالبانو او د دولت ضد ځواکونو مالي سرچینې کمې کړای شي.[526] د مخدره توکو قاچاق د اورپکی لپاره یوه بنه مالي سرچینه ګرځیدلې ده د GAO د راپور له مخې، د مخدره توکو د قاچاق څخه په کال کې تقریباً ۳ میلیارده ډالر لاس ته راځي او د ۹۰ میلیونو څخه تر ۱۶۰ میلیونه یې د جګړې لپاره کارول کیږي.[527]

د بهرنیو چارو د وزارت په راپور کې چې د ۲۰۱۰ کال د نړیوالو مخدراتو د کنټرول د ستراتیژۍ په هکله یې درلوده راغلي وو چې ډیری کوکنار په ناامنه سیمو کې کرل کیږي. جګړه ماران اکثراً د مخدره توکو په سوداګرۍ او د بزګرانو په پریکړو باندې چې باید کوکنار وکري خپل اغیز لري. د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د مخدره توکو قاچاق جګړه مارو ګروپونو ته مالي عایدات او مادي ملاتړ (لکه موټرې، وسله او سرپناه) برابروي او په بدل کې یې دوی د کوکنارو د کښتونو او قاچاق څخه ساتنه کوي. جګړه ماران دغه وعده هم کوي چې د افغان دحکومت مخنیوی به کوي ترڅو د غه کښتونو ته ضرر ونه رسیږي.[528]

د دفاع وزارت د راپور پربنسټ ، مشترکه عملیاتي ځواک- متحد ګروپ د آیساف او نړیوالو قانون تنفیذ کوونکو ادارو لپاره عملیاتي او استخباراتي معلومات په تیرو دري میاشتو کي برابرول. د دفاع وزارت امر وکړ چې د عملیاتي ځواک سره د نورو تحلیلي ځواکونو په برخه کي ملاتړ وکړي ترڅو ظرفیتونه لوړ کړي. نور تحلیلي ځواک به د دغه مرکز توانایي زیاته کړي چې بیا په بنه توګه د ائتلافي ځواکونو لپاره چې د اورپکی په ضد عملیاتو کې برخه لري اهداف وټاکي.[529]

**مشترکه عملیاتي**
**هدف ځواک- Nexus:** دا ځواک چې د دفاع وزارت لخوا جوړ شوی دی مقصد یې دا دی چې د DEA د اینټردیکشن مشن لپاره د انسجام ملاتړ، استخبارات، او هدف بستي وړاندې کړي، او همدا رنګه د ایساف لپاره د یاغیانو په خلاف د عملیاتو لپاره کوم چې هغه یاغیان په نښه کوي چې د مخدره موادو له تجارت سره اړیکې لري.

سرچینه: GAO, GAO-10-291، "د افغانستان د مخدره توکیو کنټرول: د ستراتیژي بدلون او پرمختګ راپور ورکړ شو، خو داخلي اجرایوي اهداف او د عدلې اصلاحاتو د ارزونې هڅو ته اړتیا لیدل کیږي،" ۲۰۱۰\۳، مخ ۹.

## اداري فساد

سربیره پر دې چې د مخدره توکو قاچاق د جګړې لپاره کارول کیږي، د اداري فساد زیاتیدو ته هم لمن وهي. د UNODC وروستنۍ سروې په ډاګه کړې ده چې په ۲۰۰۹ کال کې افغانانو تقریباً ۲.۵ میلیارده ډالر په رشوت کې ورکړي دي.[530] او عام افغانان د اداري فساد ستونزه د امنیتي هغې څخه ډیره جدي ګڼي. دغه سروې دا خبره هم په ډاګه کوي چې اداري فساد ګڼ شمیر نورو جرمونو ته هم لاره پرانیزي چې اصلي فاعل ته یې ډیر کم ضرر رسیږي. په دغه جرایمو کې د مخدره توک قاچاق هم شامل دی.[531]

لکه څنګه چې د سیګار د جنوري د میاشتې په راپور کې راغلي و، چې د نړیوال شفافیت اداري په ۲۰۰۹ کال کې افغانستان د فساد له نظره دویم بدترین هیواد شمیرلی و. (په دغه شمیرنه کې ۱۷۹-۱۸۰ پورې هیوادونه شامل و) او په ۲۰۰۸ کال کې افغانستان د۱۸۰ ملکونو څخه ۱۷۶ موقف ترلاسه کړی و.[532] د بهرنیو چارو وزارت په وینا د ولسوالیو ډیرې چارواکي په خپله د مخدره توکو د قاچاقو څخه ګټه اخلي. ځانګړي فعالیتونه یې په لاندې ډول دي: د مخدره توکو قاچاقو ته د سهولتونو برابرول، او د هغې د عایداتو څخه ګټه اخیستل، همداشان د مخدره توک د قاچاق څخه د عاید لاس ته راوړل.[533]

د یوې هڅې په توګه چې د اداري فساد سره مبارزه بنه شي، د افغانستان د ګمرکاتو د نوې اکادمۍ (کابل) څخه چې د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په میاشت کې پیل شوې و لومړۍ دوره مسلکي (۵۵ کسان) د ۲۰۱۰ کال په مارچ کې فارغ شول. د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د نومړي اکادمي جوړول د مسلکي کارکوونکو د روزلو لپاره وه، او هدف یې دا و چې د ګمرکاتو عواید زیاد او د ناقانونه لارې د مالیاتو د راټولولو او په هغې کې د فساد د موجودیت مخنیوی وشي. د بهرنیو چارو وزارت د دغه اکادمي د ودانۍ د جوړول او پکي روزنه تمویلوي.[534]

## سرحدي ګزمه

د UNODC د جنوري د میاشتي د راپور له مخي د افغانستان د سرحدونو څخه د مخدره توکو د قاچاق مخنیوی یوه ډیره ستونزمنه دنده ده. د دغه ستونزمني دندي مسوولیت د افغانستان د سرحدي پولیسو په غاړه دی، خو دوی د خپلو دندو په ترسره کولو کي د ډیرو ننګوونو سره مخامخ دي، دا ځکه چي د دوی دنده طبیعتاً ستونزمنه ده، تنخوا ګاني یې د معیار څخه کمي، او د وظیفوي پرمختګ لپاره پکي هیلي ډیري کمي دي.[535]

په کابل کي د متحده ایالاتو د سفارت په چوکاټ کي د سرحدونو د اداري عملیاتي ځواک په کارکوونکو کي د متحده ایالاتو دفاع وزارت شپږ نور کارکوونکي هم ور زیات کړل. له دغه کارکوونکوڅخه به دری کندهار او دري د کابل نړیوال هوایي ډګر ته توظیف شي. دغه عملیاتي ځواک چي په نظارتي برخه کي دنده ترسره کوي د افغان حکومت د سرحدي ځواکونو لپاره د سرحداتو د کنترول په برخه کي روزنه او ملاتړ ورکوي. دا کار به د اداري فساد په کمولو کي مرسته وکړي او د قانون د تنفیذ فعالیتونو ته ملاتړ برابر کړي.[536]

د دي څخه برعلاوه د دفاع وزارت او د متحده ایالاتو مرکزي قوماندانی د امریکي په سفارت کي د داخلي امنیت ګمرکاتو او د سرحدونو د ساتني دیپارتمنت پراختیا لپاره مالي امکانات برابر کړي دي. د دفاع وزارت په وینا دغه پراخوالي به د سرحدونو او ګمرکاتو د نظارت په برخه کي د افغان حکومت د پروګرامونو سره مرسته وکړي.[537]

## امنیت

په جنوبي او ختیځو سیمو کي د امنیت او ثبات نه شتون د مخدره توکو سره د مبارزي په برخه کي ستر ګواښ متوجه کړی دی. د ۲۰۱۰ کال د فبروري په میاشت کي UNODC راپور ورکړ چي د حکومت ضد عناصر په شمالي زون کي هم خپل فعالیتونه پیل کړي دي – په خاص ډول کندوز کي.[538] د UNODC د سروي له مخي د کوکنارو کښت د امنیت د خرابتیا پوري نه شلیدونکي اړیکه لري، لکه څنګه چي په انځور ۳.۴۰ کي لیدل کیږي.[539]

## حکومتداري

د دي لپاره چي په اغیزمن ډول د مخدره توکو د تجارت سره مبارزه وشي یو موثر حکومتي سیستم ته اړتیا شته. د ۲۰۱۰ کال د فبروری په میاشت کي UNODC راپور ورکړ چي موثر حکومت د والیانو په رهبریت او کمال پوري همدغه راز د سیمي د امنیتي حالت پوري اړونده دی.[540] لکه څنګه چي د سیګار په مخکیني راپور کي راغلي و، ډیر تریاک د جنوبي او شرقي سیمو څخه سرچینه اخلي چیرته چي د حکومت کنترول کمزوری دی.[541] د هیواد په اکثره برخو کي د کمزوري کنترول له امله حکومتي چارواکي د ستونزو سره مخامخ دي، او یا هم د حکومت ضد عناصرو لخوا لیري کیږي. د افغانستان د مصوونیت انجو د راپور له مخي طالب جنګیالي د افغانستان نیمه برخه په واک کي لري. د افغانستان په کومو برخو کي چي حکومت کمزوری دی هلته د طالبانو مالیاتي سیستم او تش په نامه والیان او عدلي قضایي سیستم ډیر فعال دی.[542]

د ۲۰۱۰ کال په فبروري کي UNODC راپور ورکړ چي په جنوبي او ختیځو سیمو کي کمزوري حکومت ددی سبب شوی چي بزګران پریکړه وکړي چي کوکنار وکري. که چیري حکومت ځواکمن وي نو د بزګرانو په دغه پریکړه به ژور تاثیر پریوزي چي کوکنار ونه کري. په شمال کي د UNODC لخوا ترسره شوي سروې کي ٦١% خلکو ویل چي کوکنار ځکه نه کري چي غیر قانوني دي.[543]

### د غیرقانوني مخدره موادو کرل او قاچاق یو بل جدي تهدید دی چي له ترهګري او اداري فساد سره مخامخ تړلی او اوبدلی دی.

د افغانستان ولسمشر حامد کرزی

سرچینه: افغانستان د ولسمشر دفتر، د جلالتماب حامد کرزي د پرانیستي وینا غیر رسمي ژباړه، د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر، مخ ۶، انلاین وکتل شو ۲۰۱۰\۹\۴.

انځور ۳.۴۰

د کلي د امنیتي وضعیت په نسبت د کوکنارو کرل




یادونه: د امنیت درجه بندي هغه ده چې د UNODC لخوا ورکړ شوي دي.
سرچینه: UNODC، د افغانستان د کوکنارو سروي 2010: د ژمې بیړنۍ ارزونه، 2010\2، مخ 12.

## د پيسو سپيناوی

د ۲۰۱۰ کال دنړيوالو نشه يي توکو د کنترول د ستراتيژۍ په راپور کې، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړ چې په افغانستان کې د سپينو کيدونکو پيسو لويه سرچينه د نشه يي توکو د قاچاق پيسې دي. سربيره پر دې، محدود ظرفيتونه، محدود مهارتونه، دسرچينو نه شتون، او د سياسي ارادې نه شتون، د افغان حکومت وړتيا د مالي جرمونو په ضد ډيره کمه کړيده.[544] UNODC راپور ورکړی چې د هيروينو څخه لاس ته راغلي پيسې په کال کې ٥٥ ميليارده ډالره جوړوي.[545]

## د چرسو زياتيدونکي ګواښ

د UNODC د راپور له مخې د مخدره موادو سره د مبارزې په برخه کې د چرس کرکيله او توليد لويه ستونزه ده. د توليد له نظره افغانستان د نورو چرسو توليد کوونکو هيوادونو څخه وروسته دی، خو په کال کې تقريباً د لسو زرو څخه د ځلرويشتو زره هکتاره ځمکه کې چرس کرل کيږي.  خو د محصولاتو له نظره افغانستان د چرسو په توليد کې مخکښ هيواد دی، ځکه د يو هکتار ځمکې څخه په کال کې ١٤٥ کيلوګرام چرس لاس ته راځي. ددې له امله افغانستان په کال کې د ١٥٠٠ څخه ٣٥٠٠ ټنه چرسو په توليدلو سره په نړۍ کې د چرسو د توليد تر ټولو ستر هيواد شميرل کيدای شي.[546]

د چرسو حاصلات د ترياکو څخه ډير لوړ راتلای شي، په کال کې ٣٣٤١ ډالره د يوې هکتار ځمکې څخه او د همدغه اندازه ځمکې څخه ٢٠٠٥ ډالره د ترياکو په برخه کې لاس ته راځي. د چرسو څخه د زياتو حاصلاتو د لاس ته راتګ علت دادی چې د چرسو په راټولولو او پروسس کې ډير کم لګښت کيږي.  او که چيرې موږ دغه اندازه د مشروع کښت په برخه کې يعنې د غنمو په حصه کې وشميرو نو ديو هکتار ځمکې څخه ٩٦٠ ډالره لاس ته راځي، د ناقانونه بوټي د کرلو ګټه خو هرچاته ظاهره ده، لکه څنګه چې په انځور ٣.٤١ کې ښوول کيږي.[547]

د چرسو کښت هم په هغه سيمو کې چې امنيت يې خراب دی ترسره کيږي. د چرسو په هکله د UNODC سروې څرګندوي چې ٦٧% هغو خلکو چې په ٢٠٠٩ کې يې کوکنار کرلي وو، بيا يې چرس کرلي دي. په ٢٠٠٩ کال کې د چرسو عايد د افغانستان د ناخالصه داخلي عايد ٠.٤ تر ٠.٩ فيصده وو.[548] هغه پيسې چې د چرسو د کښت، توليد او قاچاق څخه لاس ته راځي د جګړيزو ګروپونو لخوا ترې ماليه اخيستل کيږي، چې د ترياکو څخه علاوه د دغه ګروپونو لپاره د عايد بله سرچينه جوړوي.[549]

انځور ٣.٤١

نامشروع او مشروع کرنېز حاصلات، کلنی خالص عايد (ډالر/هيکتار)




سرچينه: UNODC، د افغانستان د چرسو سروې 2009، 2010\4، مخ 6.

**چرس:** چې د چرسو په بوټي کې پيدا کيږي، له مخدرو موادو يو غنی بوټی دی.

سرچينه: DEA: "چرس"، انلاين وکتل شو، ۲۰۱۰\۱۱\۱۴.

# په افغانستان کې د مخدره توکيو استعمال

د GAO په وینا ټاکل شوي ده چې د ملګروملتونو د جرمونو او مخدره توکو سازمان یا UNODC غواړي چې په ۲۰۱۰ کال کې د مخدره توکو د استعمال په اړوند خپله اوومه سروي په لاره واچوي.[550] شپږ نوري سروي ګانې د ۱۹۹۸ او ۲۰۰۵ کلونو په ترڅ کې ترسره شوې وې. د UNODC په وینا د مخدره توکو استعمال د څوکلونو راهیسې په یوه لویه ستونزه بدله شوې ده.[551]

## حالت

INL په افغانستان کې د مخدره توکو داستعمالوونکو دقیقه شمیره نه شي ښوولی خو داسې راپور ورکوي چې دغه اداري د شوروي اتحاد د علم او فرهنګ په زره ودانی کې تر ۲۰۰ کسانو پورې لیدلي دي چې په فعال ډول معتاد دي. د بل پلوه ځینو قومي مشرانو INL ته ویلي دي چې ددوی سم نیمایي کلیوال په مخدره توکو اخته دي.[552]

INL د دې لپاره چې معلومه کړي چې د تریاکو لوګی د دویم ځل لپاره په هغو کورونو چې معتادین شتون لري د ماشومان لپاره څومره خطر پیښوي، د هغو کورنو چې تریاک پکې څکول کیږي دوه کوچنۍ سروې په لاره واچولې، او دریمه یې هم په لاره ده. دغه اداري د کورونو څخه د ویښتانو او تشو میتیازو نمونې د ماشومانو او لویانو څخه راټولې کړې، همدغه ډول یې د شیدو ورکوونکو میندو څخه د شیدو نمونې هم راواخیستلې. په لومړنی سروې کې ٦١% ماشومانو کې هم د تریاکو استعمال مثبت وښوول شو په دویمه سروې کې دغه شمیره ٧٤% ته ورسیدله. په ځینو ماشومانو په وینه کې د تریاکو اندازه ډیره لوړه وه یعني په امریکې کې د یوه اوسط هیروینې څخه ډیره.[553]

## اوسنی تداوي

د INL د راپور له مخې افغان حکومت وایي چې دوی په ټول هیواد کې د معتادینو د علاج لپاره ٤٠ مرکزونه لري. او INL ددغه مرکزونو څخه د ۲۸ سره مالي مرسته ترسره کوي. د ۲۰۱۰ کال په پیل کې به دغه شمیره ۳۰ ته ورسیږي.[554] انځور ۳.٤۲ کې یې لیدلی شئ چې د موقعیت او د کلني ظرفیت، او د معتادینو د علاج د مهارتونو له نظره یې تمرکز ښوول کیږي.

د افغانستان دولت د علاج د پاتي مرکزونو لپاره د عامې روغتیا وزارت له لارې ملاتړ برابروي. مشاورین د ناروغانو له کورونو څخه د ۳۰ ورځنی تداوي په جریان کې کتنه کوي، چې دي ډول تداوي بی اغیزي پیژندل کیږي او پایله یې په لوړه کچه بیا اخته کیدل دي. د عامې روغتیا وزارت نورې کړنی د دې سبب کیږي چې INL د اعتیاد او تداوي په اړه د کارکوونکو پوهه او تجربه تر پوښتنې لاندې راولي. د مثال په توګه ، د عامې روغتیا وزارت یوه لوړ پوړې چارواکي دهیروینو داستعمال دمتبادل په توګه د چرسو څکولو ته ترغیب ورکاوه، چې په یوه ډول یې د مخدره موادو استعمال ته وده ورکوله.[555]

د نشه یې توکو په ضد د مبارزې وزارت، د عامې روغتیا د وزارت څخه د علاج په برخه کې ډیر د اعتماد وړ دی. INL وایي چې د مخدره توکو په ضد د مبارزې وزارت په دې پوهیږي چې په مخدره توکو د معتادینو علاج په دوه برخو کې ډیر مهم دی، یو دا چې بشري سرمایه ژغوري او بله دا چې د تروریزم پر ضد مامورت پیاوړی کوي.[556] دکولمبو د پلان، د INL د تداوی د مرکزونو او نورو اړونده مراجعو نماینده ګان په کال کې یوځل سره غونډه کوي ترڅو د معتادینو د علاج په پروګرامونو کې اغیزمن او نور ضروري اصلاحات رامنځ ته کړي.[557]

## د علاج د بهتره کیدو لپاره هلې ځلې

INL اوس مهال د دریو کلونو د اغیزو پایلي ارزوي ترڅو د اوږد ه مهال د علاج بریالیتوبونه د هغې له مخې وارزوي. بریالیتوب په دې معنی دی چې د مخدره توکو په استعمال، استعمال ته بیاراګرځیدنه او جرمي فعالیتونو همدغه راز بیا بیا راګرځیدنه، په رګونو کې د مخدره توکو د استعمال راکمیدل چې د ایډس سبب کیږي، د روغتیایي حالت په ښه کولو کې د ډیرو مسلکي کارکوونکو استخدام، رامینځ ته شي. همدغه راز به INL یوه بله ساینسي مطالعه هم ترسره کړي چې د مخدره توکو د روږدتیا شدت څرګند کړي. دغه معلومات به د متحده ایالاتو، افغان حکومت او نورو مراجعو سره د مخدره توکو د علاج د پلان جوړوني په برخه کې مرسته وکړي.[558]

## د مخدره توکو د استعمال سره د مبارزې په مخکې خنډونه

د INL په وینا یو شمیر خنډونه شته دي چې په افغانستان کې د مخدره توکو د استعمال پرضد د هڅو مخنیوی کوي. د تریاکو انتشار او په هیواد کې د تریاکو تقریباً لږ څه ټیټې بیې دا آسانه کړیده چې هرڅوک ورته په آسانه لاسرسی پیدا کړي. برسیره پردی د روږدو کسانو د علاج کچه هم ډیره محدوده ده. هرکال یوازې ۱۰۲۱٦ کسان تداوي کیږي. د UNODC د ۲۰۰۵ کال د سروې له مخې په هیواد کې د نشه یې توکیو ۹۲۰۰۰۰ استعمالوونکي شتون لري. نو دا په دې معنی ده چې په کال کې یوازې ۱% روږدي کسان طبي مرستې لاس ته راوړي. همدغه راز د طبي دواګانو د کمبود له امله ډیر افغانان تریاک د درد د مینځه وړلو د یوې وسیلې په ډول

هم کاروي. INL دا خبره يادوي چې د نشه يي توکيو په اړه د مبارزې لپاره ملي کمپاين ته اړتيا ده. کمپاين بايد په کليوالو سيمو باندې متمرکز شي، ځکه دغه خلک په ډېر محدود ډول د راډيو اوټلويزيون څخه ګټه اخلي.[559]

## برياليتوبونه

د هيواد په کچه د روږدو کسانو لپاره د تداوی د سيستم پيل کيدل د INL لويه لاس ته راوړنه وه. د کولمبو د پلان ګډونکوونکي هيوادونو د شواهدو د شتون پربنسټ، د درملنې سيستمونه طرح کړل او په دغه برخه کې يې پراخ روزنيز پروګرامونه جوړ کړل چې څنګه وکولای شو د روږدو کسانو درملنه وکړو او د مخدره موادو روغتيايي مراکز څنګه په اغيزمن ډول فعال وساتو.[560]

INL همدغه راز راپور ورکړی چې د ماشومانو او ميرمنو لپاره هم د مرکزونو په تاسيس کې پرمختګ رامينځ ته شوی دی. د کلتوري او عنعنوي نظره د ښځو لپاره په روغتيايي مرکز کې پاتې کيدل ډېر مشکل وي خو د INL د راپور له مخې دوی دا وښودله چې په دغه برخه کې مرکزونه د کومې ستونزې سره نه دي مخامخ شوي. INL وايي چې ددغه لاس ته راغلو برياليتوبونو پر بنسټ دوی نور پلانونه جوړوي.[561]

انځور ۳.۴۲

. مخدره موادو د اعتياد لپاره د علاج مرکزونه، د ولايت د ظرفيت په اساس




يادونه: ظرفيت په کور کې علاج او په مرکز کې اوسيدونکو دواړه ښکاروي.
سرچينه: INL، د سيګار ارزونې ته ځواب، 4\20\2010.

**ښځې په یونیفورم کې**

د افغان ملي پولیسو یوه ښځینه پولیسه د ښځو د نړیوالې ورځې غونډې تر پیل کېدلو مخکې ولاړه ده. په افغان ملي پولیسو کې ښځې د خلکو د لا خدمت لپاره له ځواکونو سره مرسته کوي. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک انځور، لیري ایي رېډ)

# 4 د نورو ادارو نظارت



# د نورو ادارو نظارت

په هره درې میاشتنۍ راپور کې د افغانستان د بیا رغوونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی (سیګار) د نورو ادارو څخه د څارنیزو بشپړو اویا روانو فعالیتونو په هکله د معلومات غوښتنه کوي. لاندې ورکړل شوي سازمانونه په افغانستان کې د نظارت فعالیتونه سر ته رسوي او نتیجه یې سیګار ته ورکوي:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoD OIG)
- د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoS OIG)
- د دولت د احتساب دفتر (GAO)
- د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)
- د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر (USAID OIG)

هغه معلومات چې د پورته ذکر شویو ادارو څخه لاس ته راغلې په هماغه ډول په دې راپور کې ذکر شویدي خو ددی لپاره چې دهرې برخې سره توافق وکړي نو ځینې تغییرات پکې راوړل شوي دي: مخففات او لنډوني د بشپړو نومونو په ځای کارول شوی دی؛ معیاري لیکدود او املا او انشا کارول شوي؛ او د لومړی شخص پر ځای دریم شخص بیارغوني کارول شوي دي.

چوکاټ ۴.۱

**د متحده ایالاتو د نورو ادارو لخوا په نیژدې وختونو کې بشپړ شوي د نظارت فعالیتونه، د ۲۰۱۰ کال د مارچ له ۳۱ نیټې سره سم.**

| اداره | د راپور شمیر | د خپریدلو نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DoD OIG<br>DoS OIG-MERO | D-2010-042<br>MERO-A-10-6 | 2/9/2010 | د دفاع وزارت او د بهرنیو چارو وزارت تفتیش د دفاع وزارت پرمکلفیتونو، او د مالي مرستو د لګښت په اړوند چې د بهرنیو چارو وزارت<br>لخوا د افغان پولیسو روزنې آو څارنې لپاره ورکړل شوې وې. |
| DoD OIG | D-2010-034 | 1/8/2010 | د اردو په عمومي مالي وجوهاتو، نغدو پیسو، او نورو پولي پانګو باندې چې په جنوب غربي آسیا کې لګول شوې وې داخلي کنترول. |
| DoS OIG-MERO | MERO-A-10-03 | 3/12/2010 | په افغانستان او پاکستان کې د INL د هوایي وزر پروګرامونو اغیزمنتیا |
| GAO | GAO-10-509T | 3/23/2010 | عراق او افغانستان: اداري د قراردادونو ، مرستو، د همکارۍ تړونونو،<br>او اړوند کارکوونکو په منډ اخیستلو کې له ننګونو سره مخ دي. |
| GAO | GAO-10-551T | 3/17/2010 | د جنګیدونکي ملاتړ: د دفاع وزارت لخوا د دوامداره اقداماتو اړتیا ده چې د عملیاتو په ملاتړ کې د قراردادي ښه کړي. |
| GAO | GAO-10-291 | 3/9/2010 | د افغانستان د مخدره موادو کنټرول: د ستراتیژۍ بدلون او پرمختګ راپور ورکړ شو، خو داخلي اجرایوي اهداف او د عدلي اصلاحاتو د ارزونې هڅو ته اړتیا لیدل کیږي |
| USAID OIG | 5-306-10-007-P | 3/31/2010 | د USAID تفتیش/د افغانستان لپاره د بشري منابعو او لوژستیکي ملاتړ پروګرام. |
| USAID OIG | 5-306-10-006-P | 1/29/2010 | د USAID/افغانستان د ښوونکو لپاره د ښوونې او روزنې جوړولو د ملاتړ سیستم جوړولو پروژې پلټنه |

یادونه: MERO = د منځنی ختیځ منطقوي دفتر.

سرچینې: د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۴\۶؛ DoS OIG-MERO، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۴\۲؛ GAO، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۴\۱؛ USAAA، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۴\۲؛ USAID OIG، د سیګارد معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۴\۶؛

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

٤.١ جدول د بیا رغونې او امنیت پورې اړوندې ۸ نظارتي پروژې لیست کړي دي، چې د ګڼون کوونکو پروژو څخه یې په دې درې میاشتنې راپور کې نظارتي کړنې بشپړې شوې او راپور یې ورکړی دی.

### د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د دفاع وزارت او د بهرنیو چارو وزارت ګډه پلټنه، د دفاع وزارت پرمکلفیتونو، او د مالي مرستو د لګښت په اړوند چې د بهرنیو چارو وزارت لخوا د افغان پولیسو روزنې او څارنې لپاره ورکړل شوې وي.
(د دفاع وزارت د راپور شمیره D-2010-042, دبهرنیو چارو وزارت عمومي پلټونکی –میرو د راپور شمیره MERO-A-10-6) د۲۰۱۰ کال دفبروري ۹

د دفاع او بهرنیو چارو عمومي پلټونکی دا وموندله چې د بهرنیو چارو وزارت د پولیسو ملکي پروګرام قرار داد د دفاع وزارت هغه اړتیاوې چې د افغان پولیسو د روزنې لپاره یې درلودلې لکه د امنیت برابرول او د مخ پر زیاتیدونکي اوړیکی مخنیوې، نه وې بشپړې کړې. د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو دا وپتیله چې د دفاع وزارت باید د افغان پولیسو د روزنې د قرارداد مسوولیت په غاړه واخلي، په دغه روزنه کې د زون په کچه د مرکزونو لپاره روزنه، او د افغان پولیسو بنسټیزه روزنه، د پولیسو روزنه خپله د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې، او د دفاع وزارت د ښوونکو ځای پرځای کول د پولیسو د واحدونو سره د ولسوالیو په کچه په ټول افغانستان کې. د بهرنیو چارو د وزارت داخلي کنټرول موثر نه و. موږ د بهرنیو چارو د وزارت د افغان پولیسو د روزنې په قرارداد کې د څارنې په برخه کې کمزورتیاوې وموندلې. د بهرنیو چارو وزارت د حکومت په ملکیت باندې بشپړ نظارت نه درلوده، د فدرالي اکتسابي مقررې سره سم یې د قرار داد کاغدونه نه و ساتلي چې تل د هغه توکو سره چې تسلیمیږي د پرتلنې وړ وي. همدغه راز یې د داخلي کنټرول پروسیجر چې د هیواد د قراردادونو د استازو څخه غوښتنه کوي چې د قرار دادي بیلونه وګوري چې د قبول وړ، د تخصیص وړ او مناسب دي که نه، له دې نه مخکې چې پیسې ورکړل شي او یا تادیات د اعتبار وړ وګڼل شي.
د دفاع وزارت د عمومي تفتیش و نشو کړای چې معلومه کړې چې آیا د بهرنیو چارو وزارت په افغان امنیتي ځواکونو باندې هغه مالي مرستې چې د دفاع وزارت لخوا ورکړل شوې وې د کانګرس د موخې پر بنسټ ولګولې که نه. دغه تفتیش وموندله چې ۸۰ میلیونه ډالره احتمالي مالي ګټې لا هم پاتې وې. برسیره پر دې د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو د افغان ښځینه پولیسو د روزنې لپاره کافي امکانات برابر کړې.

د اردو په عمومي مالي وجوهاتو، نغدو پیسو، او نورو پولي پانګو باندې چې په جنوب غربي آسیا کې لګول شوې وې داخلي کنټرول.
(د راپور شمیره D-2010-234، د ۲۰۱۰ کال د جنوري په اتمه صادر شوی و)

په افغانستان او مصر کې د لګښتونو معاونیت په دفترونو کې داخلي کنټرول یا هیڅ شتون نه درلود اویا یې اغیزمن فعالیت نه کاوه ترڅو د لګښتونو مسوول ته په ۵۵۷۰ سټیشن کې راپور ورکړي. په ځانګړي ډول د لګښتونو د معاونیت دفتر هیڅ فزیکي کافي کنټرول نه درلود. برسیره پر دې د لګښتونو دفتر او مرستیال یې د پیسو د ساتنې د صلاحیت لپاره هیڅ ملاتړ نه درلود، او په نامناسب ډول ټاکل شوي وو. موږ دا هم وموندل چې د لګښتونو دفتر د ورځنیو حساب ورکوونې اظهارنامې غلطې جوړې کړې وې او په نامناسب ډول یې چکونه منلي او ساتلي وو. یو څو اړخیز امنیتي پروګرام او د کال د نیمایي لپاره یې د امنیتي کتنې ریکارد هم نه درلودل، او درې میاشتنی راپور

وار نغدي تصديقونه يې هم ناقص وو. او بالاخره په ۲۰۰۸ کال کې ځواکونو د سفر لپاره چې د CSTC-A د ملاتړ وکړي ، د حکومت د خريدارۍ د کارتونو په ځای يې نغدې پيسې کارولې وې.

## د نړيوالې پرمختيا لپاره متحده ايالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر

د USAID تفتيش/د افغانستان لپاره د بشري منابعو او لوژستيکي ملاتړ پروګرام.
(دراپور شميره 5-306-10-007-P، د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۳۱ صادر شويدی)

ددغه تفتيش څخه موخه داوه چې آيا دغه پرواګرام خپل اهداف پور کړي که نه، د دغه پروګرام هدف د USAID لپاره د بشري منابعو او لوژستيکي ملاتړ برابرول و تر څو ۱- د USAID لخوا حمايت شوي ودانيز قرار داد کوونکو څخه نظارت او ملاتړ وکړي ۲- او د همدغه ماموريت سره د افغانستان د وزارتونو سره مشورتي مرستې ترسره کړي. د دغه ملاتړ څخه موخه داوه چې هغه ودانۍ تفتيش کړای شي چې مخکې د USAID لخوا جوړې شوي وې. تفتيش دا وموندله چې دغه پروګرام د هغه پروسې په اړوند چې د هغې په ترڅ کې دا ثابته شوه چې د USAID لخوا جوړې شوې ودانې د زلزلې په مقابل کې مقاومت نه لري. او د تفتيش په وخت کې دا هم وموندل شول چې د ۳۵ ودانيو څخه ۱۵ يې چې د زلزلې مقاومت ورته سنجول شوې هم و د هستوګنې لپاره نا مصووني وې. تفتيش نوې ډير جدي موضوعات هم وموندل او سپارښتنه کوي چې هر څه ژر بايد د غه سپارښتنو ته پاملرنه وشي. ۱- د USAID لخوا جوړې شوې هغه ودانۍ چې د زلزلې له پلوه نامصووني دي بايد تخليه، ويجاړې اويا ترميم شي. ۲- د USAID لخوا هغه جوړې شوې ودانۍ چې دزلزلې په مقابل کې مقاومت لري بايد وپيژندل شي. ۳- د USAID لخوا د زراعتي پروګرامونو لپاره د جوړو شويو ودانيو نواقص بايد ونيول شي، کوم نواقص چې په مخکيني تفتيش کې پيژندل شوي وو. ٤- ډاډ بايد حاصل شي چې د دغه اداري ټولې ودانيزې پروژې د انجينرۍ د کيفيت د ډاډ د څارنې له پروګرام څخه تيرې شي. ٥- او د ۳.۹ ميليونه ډالرو په لګښت جوړ شوي معلوماتي مرکزونو د پاينت لپاره بايد ډاډ حاصل کړای شي.

د USAID/افغانستان د ښوونکو لپاره د ښوونې او روزنې جوړولو د ملاتړ سيستم جوړولو پروژې پلټنه
( د راپور شميره 5-306-10-006-P د ۲۰۱۰ کال د جنوري په ۲۹ صادر شوی)

دغه پروژه د دې لپاره رامينځ ته شوې وه چې: ۱- د تدريس ښه والي د کتلوي روزنې له لارې، په ځانګړې ډول د هغو ښوونکو لپاره چې د مخه په دندو ګمارل شوي دي. ۲- د هغه جوړښتونو او سيستمونو بنسټيز کول د پوهنې په وزارت کې چې د لوړ کيفيت د تدريس لامل ګرځي. د تفتيش موخه دا وه چې آيا دغه پروګرام خپل هدف چې د تعليمي کيفيت ښه والي او د پوهنې په وزارت کې د هغو سيستمونو بنسټيز کول چې د تدريس د کيفيت د لوړوالي لامل شي، رسيري که نه؟ تفتيش دا وموندله چې د پنځه کلنې پروژې په څلورم کال کې پروژه د خپل هدف لاس ته راړولو په لور پرمختګ کوي خو خپل هدف يې لاس ته نه دی راوړی. برسيره پر دی تفتيش وموندل چې ۱- دغه پروګرام بايد خپله تفاهمنانه د حکومتي ارګان سره چې د پوهنې وزارت دی د هغه نوښتونوا و بدلونونو په برخه کې چې پروژی د خپلې پاتې مودې لپاره پلان کړي دي، نوی کړي. ۲- د لوړارزښت بدلونونه د فرعي قرارداد کوونکوسره نه وو منظور شوي نو ځکه خو دغه اداره د فرعي قراردادونو د فسخې له امله مسووله وپيژندل شوه. ۳- د USAID د علايمو او نښو مقررات د پلې کوونکو پروژو لخوا نه وو عملي شوي، لکه داسې چې هغه ښوونکي چې روزل کيدل په دې نه پوهيدل چې د دوی روزنيز پروګرامونه د امريکايي ماليه ورکوونکو لخوا ترسره کيږي. خو د يو مثبت يادداشت په توګه دا خبره د يادولو وړ ده چې ددغه پروژې په ترڅ کې ۵۰۰۰۰ ښوونکي د روزنې لاندې نيول شوي وو.

## د نظارت روان فعالیتونه

د ۲۰۱۰ کال د مارچ د ۳۱ پورې ګډونکووکو ادارو راپور ورکړ چې ٤٠ د ودانیزو او امنیتي چارو پورې اړوندي نظارتي پروژې په کار اچول شوي دي. دغه څارنیز فعالیتونه په ٤.۲ جدول کې په لاندې ډول یادولای شو:

چوکاټ ۴.۲

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| **د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۳۱ سره سم، د متحده ایالاتو د نورو ادارو د نظارت روان فعالیتونه** | | | |
| DoD OIG | D2010-D000JB-0157.000 | 3/4/2010 | د افغان ملي اردو د تجهیزاتو د ترمیمي خدماتو د روزنې پروګرام قرارداد |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0165.000 | 2/22/2010 | د متحده ایالاتو د استخباراتي، او پوځي قوماندانی د ژبنې ملاتړ قرارداد کتنه |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0165.000 | 2/18/2010 | په افغانستان کې معلوماتي عملیات |
| DoD OIG | D2010-D000FL-0100.000 | 2/18/2010 | د قوماندانانو لپاره دبیړني ځواب پروګرام لپاره د پیسو د ورکولو داخلي کنټرول، په افغانستان کې د عملیاتو د ملاتړ لپاره پیسې ورکړل شوې وي |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0091.000 | 12/9/2009 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د ساتنې پروګرامونه |
| DoD OIG | D2009-D000LC-0237.000 | 6/11/2009 | د عراق د آزادۍ د عملیاتو او د تلپاتې آزادۍ عملیاتو په ملاتړ کې د هوایي کارګو ترانسپورټیشن قراردادونه |
| DoD OIG | D2007-D000FD-0198.001 | 10/10/2008 | د عراق او افغانستان لپاره د پلټنې څانګړی شوی بودیجه د بهرنیو نظامي خرڅلاو ترسټ بودیجې له لارې بیا اعلانول |
| DoD OIG | D2008-D000CD-0256.000 | 8/7/2008 | د دفاع وزارت د بدني زغرو قرارداد |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3008 | 3/2010 | د بهرنیو کارکوونکو د بررسی لپاره ، په کابل کې د متحده ایالاتو د پالیسیو او پروسیجرونو لنډه ارزونه |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3007 | 2/2010 | په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت ساتندویه ځواک (KESF) |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3004 | 2/2010 | د وګړو، کډوالو او مهاجرینو د بیرو د پروګرام د اغیزمنتیا ارزونه چې کډوال بیرته تولنې ته جذب او بیرته هستوګن کوي |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3002 | 2/2010 | د بهرنیو چارو وزارت قرارداد د PAE د کمپنی سره چې په کابل کې د سفارت عملیات او څارنه ورته سپارل شوي دي |
| DoS OIG-MERO | 10-MERO-3001 | 2/2010 | د بهرنیو چارو وزارت قرارداد د PAE د کمپنی سره چې په افغانستان کې د مخدره موادو پر وړاندې د افغان یونټ عملیات او څارنه ورته سپارل شوي دي |
| GAO | 320744 | 1/21/2010 | په افغانستان کې امنیتي چاپیریال |
| GAO | 320749 | 1/19/2010 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ستراتیژی چوکاټ |
| GAO | 120874 | 11/12/2009 | په افغانستان او عراق کې د قراردادونو ژمنه شوي ارزونه |
| GAO | 320723 | 10/27/2009 | په افغانستان کې د ملکي-پوځي کمپاین د پلانونو ارزونه |

(چوکاټ ۴.۲ (دوام لري)

**د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۳۱ سره سم، د متحده ایالاتو د نورو ادارو د نظارت روان فعالیتونه**

| اداره | د پروژې نمبر | د پيل نيټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| GAO | 351399 | 10/19/2009 | په افغانستان کې د عملياتي قرارداد د ملاتړ د دفاع وزارت له خوا نظارت |
| GAO | 351388 | 10/2/2009 | عراق او افغانستان کې د عملياتو د ملاتړ لپاره آماده او روزل شويو پوځيانو مهيا کول |
| GAO | 320712 | 9/2/2009 | د مسلکي افغان ملي اردو په جوړولو کې د امريکا هڅې |
| GAO | 351395 | 8/21/2009 | په افغانستان کې د امريکايي پوځي عملياتو لپاره لوژيستيکي ملاتړ |
| GAO | 351393 | 8/21/2009 | د عملياتو پر مهال د دفاع وزارت د روغتيايي ارتياوو مقررات |
| GAO | 351385 | 8/11/2009 | د حمايوي ټوليو لپاره جنګي مهارتونه |
| GAO | 351376 | 7/30/2009 | د هوايي جنګي ځواکونو او د هوايي حمايوي ځواکونو چمتوالی |
| GAO | 351387 | 7/30/2009 | د پوځ او سمندري ځواك د روزنې وړتيا |
| GAO | 320680 | 5/8/2009 | په افغانستان کې د څښلو اوبو، د فاضله اوبو او د اوبو خور پروژې |
| GAO | 351345 | 4/24/2009 | د احتمالي بهرنيو عملياتو د مالي وجوهاتو او لګښتونو راپور ورکول |
| GAO | 320662 | 3/16/2009 | په افغانستان کې د USAID د زراعت او متبادل پرمختيا پروژې |
| GAO | 120812 | 2/19/2009 | قراردادیان چې د قراردادونو د منجمنت يا د قراردادونو اداره په افغانستان او عراق کې ترسره کوي |
| USAAA | A-2010-ALL-0103.000 | 2/22/2010 | د پلورونکو په ادایانو يا تادياتو باندې کنترول دويمه برخه-افغانستان |
| USAAA | A-2010-ALL-0083.000 | 2/8/2010 | د لوژستيکي ملکي پياوړتيا پروګرام (LOGCAP) IV هغه عمليات چې د افغانستان د آزادولو د عملياتو څخه ملاتړ کوي |
| USAAA | A2009--ALL-0531.000 | 5/19/2009 | د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (CERP) - افغانستان |
| USAAA | A2009--ALL-0106.000 | 2/2/2009 | د عراق او افغانستان د عملياتو په ګډ قرار داد کې د عملياتو قراردادي -- جلال اباد (افغانستان) |
| USAAA | A-2008-ALL-0401.000 | 9/1/2008 | د عراق او افغانستان د عملياتو په ګډ قرار داد کې د عملياتو قراردادي --کندهار او سالارنو (افغانستان) |
| USAAA | A-2008-ALL-0320.000 | 1/28/2008 | د عراق او افغانستان د عملياتو په ګډ قرار داد کې د عملياتو قراردادي (بګرام) |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID/افغانستان د پرمختيا د بديل پروګرام د غځولو پلټنه، جنوب او لويديځ |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID د دريو پروژو د امنيتي لګښت کتنه، کوم چې د ايډين بورګ انټرنيشنل لخوا د ۱ جنوري تر ۳۱ دسمبر ۲۰۰۹ پورې اخيستل شوي دي |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | په USAID \افغانستان کې د شخصي امنيتي قراردادیانو د څارنې پلټنه |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | د USAID\افغانستان د ښوونځيو او کلينيکونو د ودانيو چې د ښوونځيو او کلينيکونو د جوړېدو او بيا رغونې د پروګرام لاندې جوړ شوي |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | په زراعت کې د مخ په زياتيدونکي توليد پروګرام لپاره د افغانستان هوډ، د USAID/افغانستان پلټنه |

سرچينې: د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۶\۴؛ DoS OIG-MERO، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۲\۴؛ GAO، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱\۴؛ USAAA، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۲\۴؛ USAID OIG, د سيګارد معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۶\۴؛

## د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د دفاع وزارت د احتمالي بهرنيو عملياتو (OCO) چې پخوا د تروريزم پر ضد د نړيوالي جګړي (GWOT) په نامه يادېده، په برخه کې د ډېرو ستونزو سره لاس او ګريوان دی. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د دغه ستونزو په پېژندلو سره لومړيتوبونه وټاکل او د دغه عملياتو لمن يي د دغه ستونزو په ځواب کې په جنوب لويديځه آسيا کې لا پسې پراخه کړه. ترکومه چې د دفاع وزارت خپلو (OCO) عملياتو او د ازادی راوستلو عملياتو (OEF) ته ادامه ورکوي نو پر هغو موضوعاتو به ډېر تمرکز کوي چې د دغه ماموريتونو لپاره مهم وي او داسي ډاډ به حاصلوي چې د امکاناتو څخه د خپلو جنګيالو د استعمال لپاره اغيزمنه ګټه پورته کړي.

د ۲۰۱۰ کال په دويم درې مياشتني راپور کي د دفاع وزارت عمومي پلټونکي دفتر عراق او افغانستان ته خپل نور پلټونکي هم واستول. دغه اضافي پرسونل د څارنيزو پروګرامونو د زياتيدو له امله چي قانون او کانګرس، د دفاع وزارت لوړ پوړو چارواکو او په عراق کي د دفاع وزارت د فعاليتونو د کمښت او په افغانستان کي د عملياتي چټکتيا زياتيدلو لپاره اړين دي ليږل شوي دي. ساحوي مسؤل په قطر، کويټ، عراق او افغانستان کي د نظارت او تحقيق د ملاتړ لپاره د پلټني په برخه کي د دغو دفترونو ورتيا اضافه کوي. برسيره پر دي، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر په پام کي لري چې جنوب ختيځې آسيا او افغانستان ته خپل نور کارکوونکي هم واستوي.

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی تر مشرۍ لاندې د جنوب غربي اسيا د ګډ پلان ګروپ د فدرالي او د DOD OCO تر منځ همغږي رامنځته کوي او موجود مسايل يي له منځه وړي. دغه ګروپ خپله دولسمه غونډه د ۲۰۱۰ کال په فبروري کي ترسره کړه او په پايله کي يي د جنوب ختيځې آسيا لپاره يو نوی شوې هر اړخيز څارنيز پلان د ۲۰۱۰ کال په وروستيو کي صادر کړ. دغه هر اړخيز پلان ته د خپلو قانوني واکونو څخه پورته هم پراختيا ورکړل شوه ترڅو د OFE او عراق د آزادی همدا ډول OCO د د دفاع وزارت د تفتيش د دفتر د دندو پورې اړوند او اړين دي. لکه قراردادونو اداره او منجمنټ، د تجهيزاتو جوړونه، مالي اداره، او دبيا رغووني د ملاتر هڅې. د همدغه ګروپ له لارې غږي هڅه کوي چې خپلې اړوندې نظارتي هڅې ، همغږې، شريکي او غيرمتعارضې کړي او خپل څارنيز کارو نه په شريکه ترسره کړي چې په دې هڅه کي به د جګړې د وخت د قراردادونو د کميسيون او د هغې ماموريت سره يو ځای کار وکړي.

د OEF پورې اړونده څارنيز بشپړ شوي او يا باقي پاتې اويا هم روان څارنيز فعاليتونه به د ودانيزو هڅو په برخه کي د خپلو کارکوونکو مصوونيت، د ځواکونو د ساتني پروګرام، د ملکيتونو حساب ورکوونه، د قراردادونو اداره، زغره وال ظرفيتونه، او د اموالو او وسايلو ترانسپورتيشن په ،برخه کي وساتي په عراق او افغانستان کي. په افغانستان او عراق کي د جنګ د وخت قراردادونو يو درخواست ته په ځواب کي د دفاع وزارت عمومي پلټونکی يو پلټنه پيل کړه چي موخه يي په کابل کي امريکايي ځواکونو ته د يو کمپاونډ جوړولو نه راولاړو مسايلو ته ځواب ويل وو. برسيره پر دي، د دفاع وزارت عمومي پلټونکي دفتر د کانګرس لخوا غوښتل شوی هغه تفتيش چي د بهرنيو چارو د وزارت د پلټونکي د عمومي دفتر سره يوځای يي غوښتنه شوي وه هم بشپړ کړ. او د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه يي پکي وارزوه، او دا هغه پيسي وې چي د دفاع وزارت د بهرنيو چارو وزارت ته د افغان پوليسو د روزني لپاره ورکړې وې.

### د نظارت فعاليتونه

د ۲۰۱۰ کال په دوهمه درې مياشتني راپور کي ، د دفاع وزارت د پلټرنکي عمومي دفتر ۴۲ رواني نظارتي کړني پرمخ بيولې او ۱۰ راپورونه يي خپاره کړل چي د OEF يا د آزادی لپاره عملياتو حمايت کوي. د دغو ۴۲ روانو پروژو له جملې ۸ چي په افغانستان کي د امنيت او بيا رغوني سره تړاو لري په دغه راپور کي ځای پر ځای شوي دي. د دغو ۱۰ روانو پروژو له جملې ۲ چي په افغانستان کي د امنيت او بيا رغوني سره تړاو لري په دغه راپور کي ځای پر ځای شوي دي.

د افغان ملي اردو د تجهیزاتو د ترمیمي خدماتو د روزنې د پروګرام قرارداد
د پروژې شمیره D2010-D000JB-0157.000 چې پیل یې د ۲۰۱۰ کال د مارچ په څلورمه شوی و)

د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر دا ډاډ لاس ته راوړل غواړي چې آیا د افغان ملي اردو د وسایطو د ترمیماتو په قرارداد کې د کیفیت د ډاډ او د کنټرول له نظره ضروري پروسیجرې وجود لري که نه. په ځانګړي ډول به موږ د اخبره معلومه کړي چې د حکومتي قراردادونو شرایط پلي شوي او د قراردادونو کافي مراقبت صورت موندلی که نه. برسیره پر دې د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر به دا هم معلومه کړي چې قرارداد کوونکي کمپنۍ د خپلو دندو په ترسره کولو کې زیات ځای ته ضرورت لري که نه او یا دا چې قراردادکوونکوي یو عادلانه او مناسبه غوښتنه د پرزو د بیرته ورکولو په هکله ترسره کړې که نه.

د متحده ایالاتو د استخباراتي، او پوځي قوماندانی د ژبني ملاتړ قرارداد.
(د پروژې شمیره: D2010-D000JA-0165.000 چې د ۲۰۱۰ کال د فبرورې په ۲۲ پیل شوې وه.)

د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر دا موضوع تعیینوي چې آیا د متحده ایالاتو اردو د استخباراتو او امنیتي قوماندانیو د ژبني ملاتړ قرار داد (W911W4-07-D-0010) کې دقیق امنیتي احکام موجود وو که نه.

په افغانستان کې معلوماتي عملیات
(د پروژې شمیره D2010-D000JA-0138.000 چې د ۲۰۱۰ کال په ۱۸ فبرورې پیل شویده)

د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر په افغانستان کې د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندانی او د متحده ایالاتو د ځواک توانایي د معلوماتي عملیاتو په برخه کې ارزوي. برسیره پر دې د دفاع وزارت د تفتیش عمومي دفتر به د دفاع وزارت هغه موسسات هم د ارزوني لاندې ونیسي چې مرکزي قوماندانی ته د معلوماتي عملیاتو په سرته رسولو کې مرسته کوي.

د قوماندانانو لپاره دبیړني ځواب پروګرام لپاره د پیسو د ورکولو داخلي کنټرول، په افغانستان کې د عملیاتو د ملاتړ لپاره پیسي ورکړل شوي وې
(دپروژې شمیره D2010-D000FL-0100.000 چې د ۲۰۱۰ کال د فبرورې په ۱۸ پیل شویده)

د دفاع وزارت د پلټونکي دفتر دا موضوع معلومول غواړي چې د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام لپار د پیسو د ورکولو د داخلي کنټرول لپاره چې کومې پیسې ورکړل شوې دي، او د دفاع وزارت د تادیاتو د سیستم له لارې پروسس شوېدي، کافي دې که نه. په ځانګړي ډول د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر به دا هم معلومه کړي چې دغه کنټرول به د کمپیوټر په واسطه پروسس شوي تادیاتو معلومات دقیق دي که نه دي او آیا د خپلواکه اهدافو لپاره کارول شوي دي که نه.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د ساتنې پروګرامونه
(د پروژې شمیره D2010-D000JA-0091.000 چې د ۲۰۰۹ کال په ۹ دسمبر پیل شوې وه)

د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر د ځواکونو د ساتنې پروګرام څخه ارزونه ترسره کوي د متحده ایالاتو د ځواکونو د اوسیدلو ځایونه او د پوځي ساحو اجازه نامې وګوري. په ځانګړي ډول دغه ارزونه د دغه پروګرام لپاره د امکاناتو څخه هم ارزنه کوي کومه چې قوماندانان یې د ودانیزو چارو لپاره د ځان سره لري او همداشان د تروریزم پرضد د مصوونیت. دغه تفتیش د بګرام او کندهار په هوایي اډه، د ایګرس په کمپ، او د کابل کمپونډ په نوي ودانی باندې تمرکز کوي.

د عراق د آزادي د عملياتو او آزادي د تلپاتي آزادي عملياتو په ملاتړ کي د هوايي کارګو
د پروژې شميره: D2009-D000LC-0237.000 چي د ۲۰۰۹ کال د جون په ۱۱ پيل شوي ده.

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر دا پريکړه کوي چي آيا د عراق د آزادي عمليات (OIF) او OEF په ملاتړ کي د هوايي کارګو ترانسپورټيشن قراردادونه د اړوند فدرالي او دفاع وزارت له مقرراتو سره سم اداره شوي او که نه. په ځانګړي توګه، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر به دا پريکړه کوي چي دا پريکړه چي له هوايي ټرانسپورټ څخه کار واخيستل شي عادلانه وه، او دا چي آيا د ليږدلو اوامر د اخيستونکو د انتخاب له معيارونو سره سم ورکړل شوي او که نه، او دا چي ليږل شوي کارګو د هوا له لاري د مقرراتو سره سم په ورکړل شوي وخت کي شوي وه او که نه.

دعراق او افغانستان لپاره د پلټني ځانګړی شوی بوديجه د بهرنيو نظامي خرڅلاو ټرسټ بوديجي له لاري بيا اعلانول
(د پروژې شميره: D2007-D000FD-0198.001 چي د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر په ۱۰ پيل شوېده)

د هغه مشاهداتو پر بنسټ چي د عملي پلټني په برخه کي چي په اصل کي د (D2007-D000FD-0198.000) پروژې لپاره اعلان شوی و د دفاع وزارت پلټونکي دفتر وموندله چي يوه بله پروژه هم بايد په جلا ډول تفتيش شي. د دفاع وزارت عمومي پلټونکی FMS ته د پيسو انتقال او په (D-2009-063) راپور کي په اداري فيس راټولولو تمرکز وکړو. د دفاع وزارت عمومي پلټونکی معلوموي چي ايا د عراق او افغانستان د امنيت او بيا رغوني لپاره ځانګړي شوي بوديجه په خارج کي د مبشته پوځيانو د صندوق له لاري اداره شوي او که څرنګه. ليکن د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دويمي اهداف په خارج کي د پوځيانو د صندوق له خوا په ځانګړي ډول محاسبه شوي، د مقاصدو لپاره کارول شوي او د دفاع وزارت په اقتصادي راپور کي ذکر کېدو ته راکم کړي دي.

د دفاع وزارت د بدني زغرو قرارداد
د پروژې شميره: D2008-D000CD-0256.000 چي د ۲۰۰۸ کال د آګست په ۷ پيل شوی)

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د بدني زغرو په اړوند قراردادونه او د قرار دادونو پراونه د دقت لاندي نيسي. ځانګړې موخه پکي داده چي آيا په دغه قراردادونو کي د قرارداديانو مخينه اوصلاحيتونه، د قراردادونو د ورکړې معيارونه، د کيفيت په اړه د ډاډ پروسه، او داسي نورې اړيکي چي د حکومت او قراردادیانو ترمينځ وي، ارزول شوي که نه. زموږ ارزونه د کيفيت د ډاډ په اړه ارزونه به د لومړۍ وسيلې د آزمايلو او د بدني زغرو د قبليدو په اړه وي. د دفاع وزارت د پلټونکي د دفتر راپور نمبر D-2010-029 چي د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ۲۱ خپور شوی و نو په هغې کي د دفاع وزارت د بدني زغروز قرار داد باندې هم بحث شوی و. خو دغه دفتر په پام کي لري چي د دغه قرارداد په اړوند نور راپوررونه هم خپاره کړي.

## د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر- د منځني ختيځ سيمييز دفتر

### د نظارت فعاليتونه

د بهرنيو کارکوونکو د بررسی لپاره ، په کابل کي د متحده ايالاتو په سفارت کي د پالیسیو او پروسیجرونو لنډه ارزونه

(د پروژې شمیره 10-MERO-3008 چې د ۲۰۱۰ کال د مارچ په میاشت کې پیل شوی دی)

اهداف: د دې تفتیش د ترسره کولو لپاره موخې دادي: ۱ – د هغه پالیسیو او پروسیجرونو ارزونه چې د د بهرنیوکارکوونکو د خدماتو د څېرونکو (FSN-I) لخوا د هغو افغانانو په اړوند چې په سیمه ایز ډول د استخدام څخه مخکې د شخصي امنیت لپاره د آزمایښت لاندې نیول کېږي، ارزونه، ۲- د بهرنیو کارکوونکو د خدماتو د دوسیو څېړنه، ۳- د بهرنیو کارکوونکو د ارزوني اسناد چې په سفارت کې د کارکولو څخه د مخه د FSN-I لخوا ارزیابي کېږي. ٤- په سفارت کې د کارکوونکو د دوستۍ او خپلوۍ د درجې معلومول.

په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت ساتندویه ځواک (KESF)

(د پروژې شمیره: 10-MERO-3007 چې د ۲۰۱۰ کال په فبرورۍ کې پیل شویده)

اهداف: په کابل کې د سفارت د امنیتي ځواک د قرارداد د ټولو احکامو او شرایطو د لنډیز ارزونه. ځانګړې موخې پکې په دې ډول دي: ۱- د قرارداد شرایط او احکام، ۲- آیا د قرارداد په عملي کولو کې ټول اقدامات شوي او ټولې موخې لاس ته راغلي، ۳- ذکر شوي دیپارتمنټ قرارداد په څومره ښه ډول اجرا کړې ددې لپاره چې ترڅو په کابل- افغانستان کې د شمالي امریکې د زغرو ګروپ څخه دقیق نظارت ترسره شي. ٤- ایا قرارداد په اغیزمن ډول عملي کېږي، ٥- آیا قرارداد د FAR 52.222.50 ماده لرې که نه چې نوموړې ماده اجازه ورکوي چې کله قراردادي یا فرعي قراردادي په جدي قاچاقي مسائیلو کې دخیل شي نو بیا داسې اداري پروسې شته چې په قرارداد کې بدلونونه او یا نور اقدامات ترسره شي. ٦- آیا د شمالي امریکې زغروال ګروپ د خپلو ساتونکو لپاره د ژوند مصؤون چاپیریال برابر کړی او آیا د بهرنیو چارو وزارت په قرارداد کې د څارنې لپاره او یا د نورو کړنو لپاره څه ذکر کړي که نه.

د وګړو، کډوالو او مهاجرینو د بیرو د پروګرام د اغیزمنتیا ارزونه چې کډوال بیرته ټولنې ته جذب او بیرته هستوګن کوي

(د پروژې شمیره: -10-MERO3004 چې د ۲۰۱۰ کال په فبرورۍ کې پیل شویده)

اهداف: د دې تفتیش د ترسره کولو لپاره موخې دادي: ۱- د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي اداري، د سره صلیب د نړیوالې کمیټې او نورو نادولتي موسساتو سره هوکړه لیکونه، ۲- آیا مرستې ټاکل شویو موخوته رسیدلي، ۳- ایا د پروګرام د اجرا اقدامات ترسره شوي او موخې لاس ته راغلي، ٤- په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت او د ولایتي بیا رغوونې ټیمونو اغیزمنتیا د افغانانو د بشري اړتیاوو د همغږۍ کولو لپاره.

د بهرنیو چارو وزارت قرارداد د PAE د کمپنۍ سره چې په کابل کې د سفارت عملیات او څارنه ورته سپارل شوي دي

(د پروژې شمیره: -10-MERO3002 چې د ۲۰۱۰ کال په فبرورۍ کې پیل شویده)

اهداف: د دې تفتیش د ترسره کولو لپاره موخې دادي: ۱- د قرارداد د شرایط او احکام او د هغې د عملي کیدلو ترتیب، ۲- د ۲۰۰۵-۲۰۰۹ پورې د هر مالي کال هغه پیسو اندازه چې د بهرنیو چارو د وزارت لخوا د سفارت د ترمیم او فعال ساتلو لپاره لګول شوي دي.۳- په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت لپاره د ترمیم او فعال ساتلو په کار کې د PAE اغیزمنتیا،٤- د PAE کنترول د متحده آیالتو د سفارت د تجهیزاتو او ملکیت په اړه، لکه د

هغوی موجودي، ثبتول او دهغوی څخه ساتنه، چې ایا وسایل شمیرل شوي وو، او آیا هغه ستونزې چې په حساب ورکوونه کې رامینځ ته کیږي پام ورته شوی و، ٥- ذکر شوي دیپارتمنت قرارداد په څومره ښه ډول اجرا کړی ددي لپاره چې ترڅو په کابل- افغانستان کې PAE څخه دقیقه نظارت ترسره شي ٦-آیا د PAE قرارداد د FAR 52.222.50 ماده لري که نه چې نوموړې ماده اجازه ورکوي چې کله قراردادي یا فرعي قراردادي په جدي قاچاقي مسائیلو کې دخیل شي نو بیا داسي اداري پروسي شته چې په قرارداد کې بدلونونه او یا نور اقدامات ترسره شي، ٧- څنګه د بهرنیو چارو وزارت کولای شي چې ډاډ حاصل کړي چې ټول لګښتونه په ښه ډول ترسره او تخصیص شوي دي.

د بهرنیو چارو وزارت قرارداد د PAE د کمپنی سره چې په افغانستان کې د مخدره موادو پر وړاندې د افغان یونټ عملیات او څارنه ورته سپارل شوي دي

(د پروژې شمیره: -10-MERO3001 چې د ۲۰۱۰ کال په فبروری کې پیل شویده)

اهداف: د دې تفتیش د ترسره کولو لپاره موخې دادي: ١- د قرارداد د شرایط او احکام او د هغې د عملي کیدلو ترتیب، ٢- د ٢٠٠٥-٢٠٠٩ پورې د هر مالي کال هغه پیسو اندازه چې د بهرنیو چارو د وزارت لخوا د سفارت د ترمیم او فعال ساتلو لپاره لګول شوي دي.٣- په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت لپاره د ترمیم او فعال ساتلو په کار کې د PAE اغیزمنتیا،٤- د PAE کنترول د متحده ایالاتو د سفارت د تجهیزاتو او ملکیت په اړه، لکه د
هغوی موجودي، ثبتول او دهغوی څخه ساتنه، چې ایا وسایل شمیرل شوي وو، او آیا هغه ستونزې چې په حساب ورکوونه کې رامینځ ته کیږي پام ورته شوی و، ٥- ذکر شوي دیپارتمنت قرارداد په څومره ښه ډول اجرا کړی ددي لپاره چې ترڅو په کابل- افغانستان کې PAE څخه دقیقه نظارت ترسره شي ٦-آیا د PAE قرارداد د FAR 52.222.50 ماده لري که نه چې نوموړې ماده اجازه ورکوي چې کله قراردادي یا فرعي قراردادي په جدي قاچاقي مسائیلو کې دخیل شي نو بیا داسي اداري پروسي شته چې په قرارداد کې بدلونونه او یا نور اقدامات ترسره شي، ٧- څنګه د بهرنیو چارو وزارت کولای شي چې ډاډ حاصل کړي چې ټول لګښتونه په ښه ډول ترسره او تخصیص شوي دي.

## د حکومت د احتساب دفتر

په تیره دري میاشتني راپور کې د حکومت د حساب ورکوني دفتر دوه ځله کانګرس ته د ځواب ویلو لپاره حاضر او په افغانستان کې یې د مخدره توکو د کنترول په اړوند یو راپور هم خپور کړ.

- په لومړي ځل یې د استازو د مجلس د پوځي خدمتونو د کمیسیون د څیړنې او څارنې کمیټې ته خپلې موندنې واوړولې. په دغه ځل یې لاندې موضوعاتو ته شاره وکړه:١- چې څنګه د معلوماتو کموالی دغه اداره د قراردادونو، مالي مرستو، کوپراتیفي هوکړه لیکونو، او اړونده پرسونل په اړه څارنیز فعالیتونه د خنډ سره مخامخ کوي. ٢- د دغه اداری د دوامداره هڅې چې د لیږلو څخه د مخه د عملیاتو تعقیب کوونکي د چارو همګامي (SPOT) پلي کړي. ٣- د GAO مخکیني سپارت چې د SPOT پلي کول دي.

- په دوهم ځل یې د استازو د مجلس د تخصیص د کمیسیون د دفاع کمټیي ته خپلې موندې واورولې. لاندې موضوعاتو ته یې اشاره وکړه: ۱- هغه ستونزې چې د دفاع وزارت ورسره په عراق او افغانستان کې د قراردادونو د ادارې او څارنې په برخه کې مخامخ دی، ۲- د دفاع وزارت د پرمختګ چې د قراردادونو په اړوند یې په ټول وزارت کې د ادارې او څارنې عملیات بنسټیز کړي دي (GAO-10-55IT)
- د حکومت د حساب ورکوونکي دفتر په خپل راپور کې چې په افغانستان کې یې د نشه یې توکو د کنټرول په اړه خپور کړې ، یادونه کړې ده چې د متحده ایالاتو د نشه یې توکو پر ضد په ستراتیژۍ کې چې کوم بدلون راغلی او د مخدره توکو د له مینځه وړلو څخه یې پر مخنیوي او زراعتي مرستو باندې ډیر تاکید شوی دی. خو په هرډول، GAO په بشپړ ډول د پرمختګ د پراختیا ارونه څکه ونشوای کولای چې د اجرایي اقداماتو او د موقوتو اجرااتو اهداف چې د افغانانو وړتیاوې تعیین کړي، شتون نه درلود. برسېره پر دې، د حکومت د حساب ورکووني دفتر د امنیت ، سیاسي ارادې او په افغان حکومت کې د وړتیاوو نه شتون د مخدره توکو سره د مبارزې هڅې د یو لړ ستونزو سره مخامخ کړي دي. دغه دفتر همدغه راز راپور ورکړ چې په نشه یې توکو روږدتیا په افغان ملي پولیسو کې هم ډیره عامه ده. همدغه راز GAO راپور ورکړ چې د متحده ایالاتو مختلفو ادارو د مخدره موادو سره د مبارزې په سیمو کې په مستقیم ډول د پروګرام پرمختګ، د متحده ایالتو د څارنې، قراردادي راپور ورکوونې، د دریمګړي تصدیق له لارې پروګرام ارزولي او مستند کړي دی. ددې لپاره چې د مخدره توکو د له مینځه وړلو ، مخنیوي کولو او د عامه پوهاوي پروګرام کې ښه والي راشي. خو GAO دا یادونه هم کړې ده چې د بهرنیو چارو وزارت د خپلو عدلي اصلاحاتو پروګرام په رسمي ښه نه دې ثبت کړی. همدغه راز د حکومت د حساب ورکووني دفتر د دفاع وزارت او بهرنیو چارو وزارت ته ګڼ شمیر سپارښتنې هم کړې دي ترڅو د متحده ایالاتو د مخدره توکو پر ضد پروګرام او د عدلي اصلاحاتو په هڅو کې ښه والې راشي (GAO-10291).

برسیره پر دې د حکومت د حساب ورکووني دفتر د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د نوې ستراتیژۍ په چوکاټ کې دوه نور فعالیتونه هم پیل کړل، په افغانستان کې امنیتي حالت، او په افغانستان کې د متحده آیالتونو د ملکي حضور د زیاتولو هڅې.

### د نظارت فعالیتونه

په افغانستان کې امنیتي چاپیریال
(د پروژې شمیره 320744 چې د ۲۰۱۰ کال د جنوري په ۲۱ پیل شوی ده)

د غه ارزونه به په افغانستان کې د امنیتي حالت په هکله نوي معلومات برابر کړي.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ چوکاټ
(د پروژې شمیره 320749 چې د ۲۰۱۰ کال د جنوري په ۱۹ پیل شوی ده)

دغه ارزونه به په ټولیز ډول د افغانستان لپاره د متحده ایالاتود ستراتیژۍ چوکاټ او همدغه راز د مهمو پلانونو د اسنادو لړلیک او په هغې کې د بدلونونو لړلیک برابر کړي.
په افغانستان او عراق کې د قراردادونو ژمنه شوې ارزونه

(د پروژې شمیره 120874 چې د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۲ پیل شوی ده)

دغه ارزونه د قراردادونو په شمیر او ارزښت، د قراردادیانو په شمیر چې په کوم هیواد کې کارکوي، او د هغو قراردادیانو شمیره چې وژل یا ټپي کیږي، تمرکز کوي.

په افغانستان کې د ملکي-پوځي کمپاین د پلانونو ارزونه
(د پروژې شمیره 320723 چې د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په ۲۷نیټه پیل شوی ده)

دغه ارزونه په افغانستان کې ډول ډول پوځي، ملکي او مشترک کمپاینونه د څارنې لاندې نیسي.

په افغانستان کې د عملیاتي قرارداد د ملاتړ د دفاع وزارت له خوا نظارت
(د پروژې شمیره 351399 چې د ۲۰۰۹ کال د اکتوبرپه ۱۹ پیل شوی ده)

دا کتنه دفاع وزارت ته د کافي شمېرې روزل شوي پرسونل د مهیا کولو قابلیت ورکوي. هغه ننګوني چې د نظارت پر مهال ورسره د دفاع وزارت مخ کیږي او هغه درسونه چې د عراق او افغانستان نه اخیستل شوي.

عراق او افغانستان کې د عملیاتو د ملاتړ لپاره آماده او روزل شویو پوځیانو مهیا کول
